داميرکروړ سوري دولس سوه پنځوسم تلين

١٥٤ - ١٤٠٤ هق

# تذکرة الشعرا

مؤلفين :

سراج الدين سعيد او مولوي صالح محمد هوتك

د خير محمد بختاني په زيار

١٣٦٦

د امیرکروړ سوری دولس سوه پنځوسم تلین

۱۵۴ - ۱۴۰۴ ه ق

# تذکرة الشعراء

مولفین

سراج الدین سعید

او

صالح محمد هوتک

سریزه ، تدوین او یادونې

د

خیرندوی پښتانی خدمتگار

تعلیقات

د

ز . ه

۱۳۶۶

PROPERTY OF ACKU 5815

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00005815 5

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | تذکرة الشعراء |
| خپروونکی | : | دهیوادو رڅپانه |
| دنشراتو نومره | : | ۱۵۷ |
| د چاپ شمیر | : | ۱۰۰۰ توکه |
| د چاپ ځای | : | دولتی مطبعه ( مانو تایپ ) |
| دچاپ پیل | : | ۱۳۶۳ ه ش |
| دچاپ پای | : | ۱۳۶۶ ه ش |


ACKU

سریزه

# تذکرة الشعراء

او

# لیکوالان یې

په ۱۳۶۱ هـ ش کال، د اپریل د ثور انقلاب د بریالي پړاو په پنځمه کالیزه په مناسبت، له دوو همې نه تر لسمې هجري پېړۍ پورې د پښتو د شعر د سیمینار بند و بست کېده. سیمینار د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د علومو اکاډمۍ له خوا د هیواد د ټولو علمي او فرهنګي موسسو په مرسته کېده. د «هیواد» دوه رڅپانې د مسئول سرمحرر او د پښتو ژبې او ادب د یوه خدمتګار په حیثیت، ما ته د سیمینار د علمي مشورتي کمیسیون د غړیتوب ویاړ را په برخه شوی و. د سیمینار د علمي آثارو د ټاکلو او منلو په یوه علمي کمیټه کښې، مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی

پیشنهاد کړی و چه زمونږ په ملی آرشیف کښې د پښتو دشاعرانو یوه خطی تذکره شته چه تر اوسه لانه ده چاپ شوې او بایدددې سیمینار په مناسبت چاپ شی .نو موږ پو هاند دتذکرې دمحتوا په باره کښې دمعلوماتو دو ر کولو سره نظریه و ر کړې وه چه خرنګه چه د «هیواد» و رځپانه د پښتو ژبې او ادب دخدمت سابقه لری،نو ښایی چه دغه کتاب ددې و رځپانې له خوا چاپ شی او «خدمتګار» هغه چاپ ته برابر کړی ،مقدمه او تعلیقات پرې و لیکی. دلوی استاد پیشنهاد درایو په اتفاق تصویب شو .سا هم دخان له خوا او هم د «هیواد» دو رځپانې د مسئول په توګه دې علمی ـ ادبی خدمت ته تیار ی و ښود .نو ځکه مې و روسته په دې باره کښې د ا . د . ج د انقلابی شورا د رئیسه هیئت د دار الانشاء منظور ی هم و اخسته له ملی آرشیف سره رسمی مفاهمه وشوه . د «تذکرة الشعراء» خطی نسخه د کار لپاره ماته وسپارل شوه .دادمرحوم سراج الدین سعید او مرحوم مولوی صالح محمد ګډتالیف دی . زما د «هیواد» دو رځپانې کار و نه بیخی ډیر او وخت تنګ و . ښاغلی محترم محمدنبی سعیدوفایی ، دمرحوم سراج الدین سعید مشر زو ی ، دمهربانۍ له مخه حاضر شو چه کتاب رانقل کړی. زه ترې دزړه له کومې منته کوم .نقل مې له اصله سره مقابله کړه .دمتن د هر شاعر له معرفی او دشعر له نمونې نه مې و روسته ،لازمې یادونې او تعلیقات پرې و لیکل د کتاب انتقادی متن چاپ ته تیار شو .

تذکرة الشعراء د ۱۹۷ تنو پخوانیو پښتنو شاعرانو لنډه تذکره ده . له هر شاعر سره د هغه دشعر نمونه هم شته .داتذکره په هغه وخت کی لیکل شوې دمچه د پښتنو شاعرانو پخوانی تذکره ، دمحمدابن داء و دهو تك «پټه خزانه»لازمونږ دهیواد دلیکوالو پو هانو لاسو نو ته نه وه و رغلې ، نو ځکه داد زیات اهمیت و ړ تذکره ده .

ددې خبرې سپينول څه گران غوندې دي چه دا تذكره د مخه ليكل شوې ده او كه « پښتانه شعراء » ؟ دا له هغې څخه اخستل شوې يا هغه له دې څخه او يا دا چه هر يو بيل بيل كارونه دي ؟

په دې تذكره كښې اكثر راغلي شاعران د پښتانه شعراء په څلورو واړو ټوكونو كښې او ځينې يې د «ادبي ستورى» په دواړو ټوكونو كښې معرفي شوي دي له يو څو تنو پرته د نورو ټولو په باره كښې په « فرهنگ زبان و ادبيات پشتو » كښې لنډې يادونې شوي دي . داسې ښكاري چه د پښتانه شعراء د دوولس ټوكونو ليكوالان له دې تذكرې څخه او ددې تذكرې له هغو څخه ، يو تر بله سره خبرو .او بنايي چه د ځينو علمي يا اداري مصلحتونو له مخه، چه ما ته معلوم نه دي ،په هغه وخت كښې هغه كار هم شوى دى او داهم، مگر دواړه كارونه يو تر بله سره فرق لري او درج شوي معلومات هم يو د بل په نسبت زياتي كمې لري. په پښتانه شعراء كې بحثونه نسبتاً مفصل دي ،معلومات زيات دي

د شاعرانو په شاعرى هم تبصرې شوي دي .د شعرونو زياتې نمونې راغلې دي او په ډيرو برخو كښې ماخذونه هم ښودل شوي دي . په تذكرة الشعراء كښې د شاعرانو پيژندنه په لنډه توگه شوې ده .شعرونه هم كم او لنډ دي .خو په ځينو برخو كښې داسې نوي معلومات ترسترگو كيږي چه هغه په پښتانه شعراء يا نورو تذكرو كښې نشته . كله كله شعرونه هم نور او نوي دي .

د پښتانه شعراء د دريم او څلورم ټوك ،د ادبي ستورى د دواړو ټوكونو او د فرهنگ زبان و ادبيات پشتو د مولفانو كارونه له دې تذكرې سره هيڅ ډول ذهني ارتباط او سابقه نه لري او يو له بل نه ماوراء او مستقل كارونه دي. په تذكرة الشعراء كښې داسې شاعران هم معرفي شوي دي چه په نورو تذكرو كښې د هغو هيڅ تذكر نه دى راغلى او بيخي نوي دي .

په‌دې کتاب کښې دهر شاعر د پېژندنې په پای کښې ،دا (خدمتگار ) يو څه لنډې يادونې هم ليکلې دی .په دې لړ کښې داخبره ساضرو رې گڼلې‌ده چه‌دهر شاعر په‌باره کښې و ښيم چه‌دهغه‌پېژندنه په کومه چاپي تذکره کښې شوې‌ده او که نه ؟ نورې ضرورې يادونې ، په‌تيره بيا دشاعر دبيوگرافي په برخه کښې‌رسې هم‌ليکلې دی ، له‌سفصلو حاشيو ،پرتلو او څيړنو څخه‌سې‌قصداًډه کړې‌ده څکه‌چه يو خو دابيل کاردی او بل‌داچه زما وخت هم لنډتنگ‌دی او له‌دې‌څخه هم‌دار يدم چه‌تر نيايې لمسی غټه نه‌شی .

په‌شعرونو کښې که کومه غلطي‌يابې‌وزنی په‌نظر راغلې‌ده ،هغه‌مې‌دچاپي منابعو له‌مخه‌سمه کړې‌ده ، له‌خانه سې څه‌خو شخطي پکښې‌نه‌ده کړې .څه‌چه‌ډير ارزښت لری هغه‌دکتاب داصلي متن چاپول دی . دې کتاب‌سره دپښتو ادبياتو په‌چاپي ذخيره ،په تيره‌بيا دشاعرانو په‌تذکرو کښې يوه بله‌اضافه کيږی چه داوسنيو او راتلونکو ادب څيړونکو او دادبياتو دتاريخ ليکونکو ته‌په کار يږی زه‌نور څه‌نه وايم‌اوگران اوښاغلي لوستونکی ددې اثر له‌سولفانو سره اشنا کوم :

## سراج‌الدين‌سعيد:

مرحوم سراج‌الدين سعيد دملاسنهاج‌الدين آخوند زوی او دملاعبن الدين لمسی دی . ددوی کورنی‌دننگرهار درو داتو داو لسوالی دسزينې‌په‌ايسارك کښې‌يوه درنه‌مشهوره کورنی‌ده‌چه‌ددينی علو سو دخدستو نو لامله‌خلکو کښې محبوبيت لری .ددوی کلی (آخوندکلی) نومېږی .

سراج‌الدين سعيد د ۱۳۱۹ ه ق دمحرم‌الحرام په‌مياشت‌دکابل‌ښار په‌دهافغا-

نانو کښې زیږیدلی دی . په دې وخت کښې دهغه پلار په کابل کښې رسمي وظیفه درلوده .

سراج الدین سعید لومړنۍ زده کړه په کابل کښې د خپل پلار تر نظر لاندې کړې ده . بیا پلار دی ننګرهار ته خپلې پلرنۍ سیمې ته استولی دی چه هلته هم ددیني علومو زده کړه وکړي او هم داولس له دود دستور ، اخلاقو ، عاداتو او راشه درشه سره بلد شي . ده هلته دایسارك په زاړه کلي کښې له ملا احمدجان څخه : فقهي ، حدیث ، تفسیر او همدارنګه صرف ، نحو ، منطق ، ددیني علومو ادب او بلاغت درسونه وویل . ملا احمدجان دهغې سیمې ددیني علومو نومور عالم او مدرس و ، چه دننګرهار دا ګڼ شمیر طالب العلمان ددیني علومو دزده کړې لپاره ورته راتلل . سراج الدین سعید هلته له هغه سره هم درس وایه او هم دخپل کور و کلي دخلکو له اجتماعي ، اقتصادي او کولتوري ژوند سره اشنا کیده . دولس کاله وروسته کابل ته راغی . په دې وخت کښې شپاړس کلن و . له مرحوم شاه محمد کندهاري سره یې دخارجه چارو په وزارت کښې دشاګرد په توګه په کار پیل وکړ .

(په هغه وخت کښې مکتبونه دومره نه وو . باسواده ځوانان په رسمي ادارو کښې یو څه موده دشاګرد په توګه کار کاوه . له کارونو سره تر بلدتیا وروسته په رسمي وظایفو مقرریدل .)

له نومړي څخه یې دلیکوالۍ چارې هم زده کولې . وروسته هغه خپله لور هم سعید ته په نکاح ور کړه . په دې وخت کښې سعید له قاري عبدالله ملك الشعراء څخه هم دادبي علومو زده کړه کوله .

د س . سعید لومړنۍ رسمي وظیفه دکابل دعربي مدرسې دلیك او املاء معلمي وه . څه موده وروسته بیا دخارجه چارو دوزارت دسرحدي چارو دمامور په



ACKU

توګه وټاکل شو . په همغه وخت کښې چه علي احمدخان دافغانستان او برتانیې ترمنځ دجګړې دستارکې او دافغانستان داستقلال په باره کښې دخبرو لپاره هندته تللی و . س . سعید دهغو لیکونو داستولو مسئول او موظف وچه دافغاني حکومت له خوا علي احمد خان ته لیږل کېدل . همدارنګه کله چه دپورتنیو خبرو لپاره محمود بېګ طرزي موظف شوی و ، س . سعید به دهغه لیکونه هم موظفو مقاماتو ته او دمقاماتو رسمي لیکونه هغه ته استول . نوموړی یو کال په دې وظیفه کښې پاته و . بیا داماناالله شاه دفتر ته وبلل شو او دوزیرانو د شورا په دارالانشاء کښې مامور یت او وظیفه ورپه غاړه شو . دې وظیفې یې څو کاله دوام وموند . کله چه داماناالله شاه قدرت مخ په خوړه شو او کله چه دحبیب الله (دسقاو دزوی ) طرفدارانو دکلات په سیمه یرغل وکړاو دکندهار دحکومت واګې علي احمدخان ته وسپارل شوې ، نو س . سعید دهغه دمنشي په حیث مقرر شو له علي احمدخان سره یې ایکې یوه ورځ کار وکړ بیا ترې پښته شو . له څېنو ملګرو سره له کندهارنه دریګ په لار چمن ته ، له هغه ځایه کویټې ته او بیا کراچۍ ته ولاړ . هلته یې دوه میاشتې تېرې کړې او بیا ایران ته ولاړ . کله چه دا غتشاش دوره تېره شوه بېرته هیواد ته راستون شو او ددولت دمامور په توګه یې په کار پیل وکړ .

په ۱۳۴۲ هـ ش کال د ده درسمي وظیفو ۲۳ کاله تېر وو او د لوړی سعین لوړی رتبې ته رسېدلی و . دهمدې کال دقوس په میاشت وفات او دکابل د شهدای صالحین په هدیره کښې په درناوی خاورو ته وسپارل شو .

مرحوم سراج الدین سعید ، سربېره پر دینې علومو دخپل وخت د اجتماعي پوهنو پراخه مطالعه هم درلوده . په پښتو او دری ژبو دخواږه او روان قلم خاوند و . په عربي ، ترکي او اردو ژبو به پوهیده او له انګریزي نه یې هم



ACKU

استفاده کوله. ددههمزولو همعصرو افغاني پوهانو او لیکوالو ورته دیوه پوه او فاضل انسان په حیث په درانه نظر کتل.

د «اوسني لیکوال» د کتاب مولف د س. سعید له وفات نه یو دوه کاله دمخه دهغه په باره کښې لیکلي دي:

«ښاغلی سعید یو سخي، خوش صحبته، خنده رویه او آشنا پرسته سړی دی. مجلس ښه تودولای شي. له بدنیت کیني او حسد سره آشنا نه دی.»

«ښاغلی سعید شعر نه وایي خو نثر یې ډیر پوخ دی. د پښتو ژبې د نهضت او پرمخ تګ ټینګ طرفدار دی او په دې لاره کښې د ده نظر یه دا ده چه په پښتو کښې باید ښه نثرونه و لیکل شي او د پښتو لیکوالو ترمنځ دادبي وحدت روحیه ټینګه شي او پښتانه لیکوال زیارو باسي چه د پښتو سوچه او زاړه لغات را ژوندي کا.»

د س. سعید د لیکنو او آثارو په باره کښې به دده له هغې افتو بیوګرافۍ نه څو کرښې و ړاندې کړو چه (اوسني لیکوال ـ دوهم ټوک ۱۳۴۱) کښې چاپ شوې دي.

«له عربي، ترکي، اردو څخه په فارسي او پښتو ښه ترجمه کړای شم خو د دغو ژبو په محاوره کښې سړنی نه یم. زه دوه کتابونه په فارسي او ځیني افسانې په پښتو د ځانه سره لرم چه ساته لا تر اوسه دهغو دچاپ او خپرولو موقع په لاس را غلې نه ده. زما زیاتې مقالې په فارسي او پښتو په «اصلاح» او «انیس» اونورو اخبارو کښې چاپ شوې دي او ځینې مقالې او افسانې د «کابل» په مجله او په ځینو سالنامو کښې شته دي.»

«که څه هم زه پخپله چندیاني سړی نه یم او عقلي خیر مې لکه ظاهري قیافه د کتلو وړ نه ده، خو بیا هم زما لیکنې انتقادې خواوې ډیرې لري. نو ځکه لکه شړل شوی مامور څو کاله ورته په خپلو اخبارو کښې ځای نه ورکوي.»

په دې کښې شک نشته چه په دې لیکنه کښې س. سعید د خان د پوهې او کړه وړه په باره کښې له کمینې نه کار اخلی. مګر د هغه وخت د شاهي دولت د مطبوعاتو وضع څرګندوي چه انتقادي لیکنو ته لکه شړل شوي ساسوریتو په شان چاپه اخبارونو کښې ځای نه ورکاوه. له دې طنزي عباراتو نه، چه دا د س. سعید د لیکلو شیوه ده، دا هم څرګندیږي چه هغه کسان چه په ټولنیزو نیمګړتیاو باندې بې پرده رڼا رونو انتقادونه کول هم له کار او وظیفې څخه شړل کیدل او هم په ژباړونو کښې د هغو په باره کښې داسې خبرې کیدلې چه «چندان سړی نه دی. نه عقل لري او نه یې قواره د کتلو ده...».

د س. سعید یو ګټور اثر، د هغه «تذکرة الشعراء» کتاب دی چه له مرحوم مولوی صالح محمد سره یې په ګډه لیکلی دی. خو د هغه په باره کښې یې نه پخپله څه یادونه کړې ده، نه د «اوسني لیکوال» لیکوال او نه کوم بل لیکوال. هغه نور تالیفات هم لري، لکه دری ژبه کښې: (۱) پرسش و پاسخ (۲) اصول تربیت او نور.

لکه څرنګه چه س. سعید پخپله لیکلي او ما پخپله لیدلي او لوستلي دي د نوموړي لیکوال زیاتې اجتماعي مقالې، ادبي نثرونه او افسانې (داستانونه) د هیواد په مطبوعاتو، په تیره بیا په «کابل» مجله او «کابل کالنی» کښې چاپ شوي دي. څومره به ښه وي که ځمونږ ځوان ادب خپرونکی نسل هغه راټول او له څیړنو او تبصرو سره چاپ کړي.

## مولوی صالح محمد:

مرحوم مولوی صالح محمد د فیض محمد زوی په خټه هوتک په ۱۳۰۶ ه ق کال په کندهار کښې زیږیدلی دی. د پلار له خوا د ملي تاجرانو کورنۍ ته نسبت لري چه د هغې کورنۍ له ځینو غړو سره د ژبې او ادب شوق او علاقه ثابته ده. مور یې د مشهور مولوی عبدالرؤف لور او د کندهار له مشهورې علمي

ACKU

کورنۍ خخه ده . نوموړی د خپل نیکه او ماما گانو : مولوی عبدالواسع او مولوی عبدالرب تر پالنې لاندې په کندهار او کابل کښې وروزل شو دی پښتانه کلن و چې له کندهاره کابل ته راغی او د چوب فروشۍ د مدرسې په استوگنځی کښې له خپل نیکه مولوی عبدالرؤف سره او سېده هغه د نوموړی مدرسې مدرس او د قاضیانو ممتحن و . کله چه حبیبیه مدرسه (اوسنی لیسه) جوړه شوه نو دی یې په لومړنیو شاگردانو کښې شامل شو . د ابتدائیه دورې تر بشپړولو وروسته د دغې مدرسې د پښتو ښوونکی شو . شپږ کاله وروسته د کابل ښار د لومړنیو ښوونځیو د مدیریت مرستیال مقرر شو . په دغو وختو کښې به یې پښتو مقالې او شعرونه په سراج الاخبار افغانیه کښې خپرېدل. په دې جریده کښې په همدې وختونو کښې د پښتو آثارو خپرېدل پیل شوی وو . صالح محمد پښتو برخې له خوانو همکارانو څخه و.

په ۱۲۹۸ هـ ش کال دده دیوې منظومې د خپرېدو په اثر د برتانوی هند داستعماری حکومت په سیاست کښې تاوجنه فضا پیدا شوه هغه حکومت نه غوښتل چه د غسې موضوعات ، په تېره بیا چه په پښتو ژبه وی ، د افغانستان له سرحداتو و اوړی او د هند دنیمې وچې داوسېدونکو پښتنو ذهنیت د استعماری حکومت په ضد واړوی . د افغانستان امیر ته د هغه حکومت د شکایت آمیزه لیك په اثر په سراج الاخبار کښې دیو څه مودې لپاره پښتو مضامین بند شو او د ځوان شاعر صالح محمد شعرونه پکښې تر یو کاله پورې ونه لیدل شو و .

د افغانستان د استقلال تر حاصلېدو وروسته مولوی صالح محمد په ۱۲۹۹ هـ ش کال د کندهار د پوهنې د مدیر په توگه و گومارل شو . دده په همت په کندهار کښې د لومړی ځل لپاره ښوونځی تاسیس شو . د ۱۳۰۰ هـ ش د سرطان په پنځمه د «طلوع افغان» جریده تاسیس شوه او دی یې مسئول چلوونکی هم شو .



ACKU

دیو څو ګڼو تر خپریدلو وروسته دنوموړی جریدې دچلولو چارې عبدالعزیز الکوزی ته وسپارل شوې او مولوی صالح محمد یوازې دپوهنې اداري ته پاته شو . په کندهار کښې دپښتو انجمن تر جوړیدو او دطلوع افغان تر پښتو کیدو وروسته دنوموړی ادبي فعالیت زیات شو . په ۱۳۱۲ ه ش کال د کابل دادبي انجمن دپښتو برخې آمر او دپښتو مبصر په حیث وټاکل شو . کله چه په ۱۳۱۶ ه ش کال د (زیری) جریده تاسیس شوه او په هغه کښې دوه کاله خپریدله دهغې دچلولو دنده هم ده ته وسپارله شوه. څه موده وروسته له رسمي وظیفې څخه متقاعد شو . په دغو وختونو کښې دحج سفر ته ولاړ. په ۱۳۳۰ ه ش کال د کندهار دښار دخلکو له خوا دملی شورا دنهمې دورې په وکالت انتخاب او دملی شورا په انتخاباتو کښې دغې دورې لپاره دملی شورا دریاست لومړی معین شو . په لسمه دوره کښې هم د کندهار دخلکو له خوا په ملی شورا کښې وکیل شو . په دې دوره کښې دملی شورا په پارلماني هیئت کښې شوروی اتحاد ته دوستانه سفر هم وکړ .

مولوی صالح محمد د ۱۳۳۹ ه ش دسنبلې په څلورمه ، په کابل کښې داویا کالو په عمر وفات او په کندهار کښې ، په خپله پلرنۍ هدیره ، دحضرتجي زیارت ته نژدې په درناوی خاوروته وسپارل شو .

نوموړی ددینی علومو عالم او مولوی و . له اسلامی علومو : تفسیر حدیث تصوف او اجتماعی او اخلاقي کتابونو سره یې ډیره علاقه وه . دپښتو ژبې شاعر ،لیکوال ،معلم او ددرسی کتابونو مؤلف و . په فارسی او عربی ښه پوهیده .

ACKU

دده زیات لیکلی اثار د پښتو ژبې درسي کتابونه دي. نور يې اجتماعي مقالې يې هم لیکلي دي. په شاعري کښې يې هم اجتماعي مضامین خوښول. عشقي غزلې او سندرې يې نه دي لیکلي. تقریباً ټول شعرونه يې پر اجتماعي موضوعاتو دي چه اکثراً د لنډ بحر په مثنوي لیکل شوي دي. دده په مقالو او شعرونو کښې اسلامي اوملي روحیه ځرګنده ده او داسلامي احکامو او روایاتو په اساس دي*

دده د آثارو په باره کښې مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبي داسې لیکلي دي:

«دمولوي صالح محمد اکثر کتابونه او لیکنې تعلیمي او تدریسي دي او دی په خپل وخت کښې یو موفق معلم او د معارفو د کارو چلوونکی و. او دیوه غښتلي او پوه سړي په ډول خلکو هم پېژندلی و.»

«يې له تدریسي اثارو دې ډیر شاعرانه منظوم ادبي تخلیقات هم لري چه ده په یو کتاب کښې سره راټول کړي دي.»

---

* ـ په کابل مجله کښې دمولوي صالح محمد په باره کښې دمولوي عبدالخالق واسعي مقاله خپره شوې چه په «اوسني لیکوال ـ دوهم ټوک» کښې هم رانقل شوې ده. په دې مقاله کښې مولوي صالح محمد دملي شورا په دولسمه او دیارلسمه دوره کښې او زما «پښتانه شعراء شلورم ټوک» کښې په یوولسمه او پیایوولسمه دوره کښې وکیل ښودل شوی دي. دې دواړو دورو داعدادو په لیکنه کښې دلیکني یاچاپ غلطي پیښه شوې ده. سمه خبره دنوموړي مولوي د «پښتو مثنوي» په مقاله کښې پوهاند عبدالحی حبیبي لیکلې ده. هغه داده چه نوموړی په نهمه او لسمه دوره کښې وکیل شوی دی. دلته مو نېرتیر وتیر وتنو ته په اشاره دغه سمه لیکنه راواخیستله ..

(ع. ب. خدمتګار)

یوولس

« دده دشعر او نظم الفاظ او تراکیب او تعبیر و نه ټول ساده، خواږه، او روان دی. په وینا کښې یې ابهام، پیچیده ګی او تکلف نشته. هر دطبقه سړی په یو هیدلای شی. خو شعری او ادبی خوږتوب هم لری او سهل ممتنع ګڼل کېدای شی او د اوسنی پښتو په نثر او خوږو منظوماتو کښې د ریدای شی.»

« د موضوع له پلوه هم په اجتماعی او حالی ذخیره لری. یعنی هغه څه وای چه په ژوند ټولنه او اجتماعی ګروکښې دلوستونکی په کار ورځی . . .

د مرحوم عبد الخالق واسعی تبصره هم دغسې ده:

« . . . دنوموړی مرحوم په خپاره شوی او طبع شوی آثارو کښې غزلیات نه دی لیدل شوی، بلکه دده زیاتره نشر شوی آثار اخلاقی او اجتماعی یا اصلاحی رنګ لری او اشعار یې زیاتره په همدغو دروچو کاټو کښې دی. دده د کلام یو بارز او هر چاته په زړه پوری او مقبول خصوصیت دادی چه دهر ډول تکلف او تصنع څخه پاک او دومره په زړه پوری دی چه هر لوستونکی یې خپل کلام او خپلې خبرې بولی. دهغو کلماتو او عباراتو څخه کار اخستل شوی دی چه هر چاته آشنا او داسی ورته ښکاری لکه دده تر خولې چه را او تلی وی. »

سربیره پر زیاتو مقالو او شعرونو له نوموړی څخه دغه تالیفات پاته دی

۱- دپښتو لومړنی درسی کتاب (لومړی کتاب دپښتو - ۱۳۳۵ هـ ق - کابل)

۲- دپښتو دوهم درسی کتاب.

۳- دپښتو دریم درسی کتاب.

۴- دپښتو صرف و نحو.

۵- پښتو ژبه لومړی ټوک - ۱۳۱۶ هـ ش چاپ - کابل.

۷- خودآموز پښتو - لومړی ټوک - د ۱۳۱۳ هـ ش چاپ - کندهار.

دولس

۸ـ خو دآسو ز پښتو ـ دو هم ټوک ـ د ۱۳۱۳ ه ش چاپ ـ کندهار .

۹ـ پښتو پښو یه .

۱۰ـ عزیزی تفسیر پښتو ترجمه ـ ناچاپ .

۱۱ـ پښتو ښئوی ـ د پوهاند عبد الحی حبیبی په سریزه ـ د ۱۳۵۰ ه ـ ش چاپ کابل .

۱۲ـ پاشلي وینا وې ، په‌عروضی و زنونو دشعر مجموعه ـ ناچاپ .

۱۳ـ تذکرة‌الشعراء ـ له مرحوم سراج الدين سعيد سره ګډ‌تاليف .

## د تذکرة‌الشعراء خطی نسخه :

داخطی‌نسخه په ۲۹۳ پاڼو د ۲۱ × ۱۷ سم په اندازه ،په سپین‌عادی کاغذ لیکل‌شوې ده . لیکنې د کاغذ په یو مخ دی او بل‌مخ یې سپین‌دی . لیك دوه دخلو یښت پنځوس کاله‌مخکښې زمانې دی‌چه‌له‌اوسنی لیك دو دسره ډیر لږفر ق لري . کتاب‌پخپله دمولفانو په‌قلم‌لیکل شوی دی . ځینې برخې‌یې‌په نسخ او ځینې‌یې په‌نستعلیق‌دی چه‌نسخ یې دمولوی صالح‌محمد او نستعلیق‌یې دسراج‌الدین سعید په‌قلم‌دی .او داسی ښکاری چه هر یو خپل کار په‌بیلو بیلو پاڼو کښې اول په‌خپل قلم‌لیکلی‌دی .او بیایې په‌آخره کښې‌سره ترتیب کړی او په‌یو مجلد کښې ګنډلی‌دی .پر کتاب دلیکلو نیټه‌نه‌ده لیکل شوې .اغلباً دا د ۱۳۲۰ ه ش کال دشاو خوا کاردی . دانسخه دافغانستان دموکراتیك جمهوریت دکولتور ددولتی کمیټی پوری‌مربوط‌په‌سلی آرشیف کښې خوندی او دآرشیف دفهرست تر ۱۶۷ بر ۳لمبر لاندې ثبت ده .

* * *

زه له نوموړي آرشيف نه دزړه له کومې تشکر کوم چه يې د امير کروړ د ميمنار له فيصلې او دافغانستان دديموکراتيک جمهوريت دعلومو داکادمۍ له غوښتنې سرسم ماته داموقع راکړه چه دنوموړي خطي نسخې متن رانقل کړم ښاغلي محترم زلمي هيوادمل ته په ډير اخلاص کوروداني وايم چه د يادښتونو دليکلو په وخت کښې يې له خپلې کورنۍ کتابخانې څخه زما دضرورت وړماخذونه راسپارلي دي او هم يې د کتاب دچاپ اهتمام په غاړه اخستي دی . له نوموړي څخه داتوقع په ځای ښکاري چه دسهر بانۍ له مخه يې د کتاب موضوعي فهرست او تعليقات هم ترتيب کړي . ښايي چه له دې درکه اوس لا زما شکريه ومنې .

د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا د رئيسه هيئت د دار الانشاء دمقام او د «هيواد» دورځپاڼې دمحترمې ادارې مننه په ډير احترام اداکوم چه دهغوی په مننت او لگښت دا اثر چاپيږي او د پښتو ژبې او ادب علاقه مند انوته وړاندې کيږي .

و يارډې وی دافغانستان دخلکو دموکراتيک حزب او دولت ته چه دفرهنگي پاليسۍ له مخه يې دهيواد دټولو وروڼو خلکو او اولسونو د ژبو او فرهنگ دغوړيدو لپاره هر راز امکانات ميسر وي .

په درناوی .

کابل ـ خيرخانه

د ۱۳۶۳ دجدی ۲۹ مه

د ۱۹۸۵ د جنوری ۱۸ مه

**خير ندوی عبدالله بختاني خدمتگار**

# فهرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| ـ بیتنیکه | ۱ |
| ـ تا یمنی | ۳ |
| ـ ملکیار غرشین | ۵ |
| ـ قطب‌الدین بختیار | ۷ |
| ـ اسماعیل سړه بنی | ۹ |
| ـ اکبر زمینداوری | ۱ |
| ـ شیخ عیسی مشوانی | ۱۲ |
| ـ ملاالف | ۱۳ |
| ـ مرزاخان انصاری | ۱۵ |
| ـ دولت‌الله لوانی | ۱۷ |


پښتو نخلس

| | |
|---|---|
| ـ اسیر | ۱۹ |
| ـ عبدالکریم | ۲۰ |
| ـ عبدالحلیم | ۲۱ |
| ـ خوشحال ختک | ۲۲ |
| ـ اشرف خان هجری | ۲۵ |
| ـ عبدالقادر ختک | ۲۸ |
| ـ سکندرخان | ۳۱ |
| ـ صدر خان | ۳۳ |
| ـ خواجه محمد بنگښ | ۳۵ |
| ـ رحمن بابا | ۳۶ |
| ـ یونس | ۳۹ |
| ـ عیسی اخند زاده | ۴۱ |
| ـ شیر محمد هوتک | ۴۳ |
| ـ شیر محمد ننگرهاری | ۴۴ |
| ـ شاه حسین هوتک | ۴۶ |
| ـ بابوجان | ۴۸ |
| ـ فیاض | ۵۰ |
| ـ مسعود | ۵۱ |
| ـ دراز خان موسی زی | ۵۲ |
| ـ افضل خان ختک | ۵۳ |




ACKU

- مسعود گل ۱۳۰
- عظیم ۱۳۲
- ملاحسن ۱۳۴
- صالح محمد داوی ۱۳۶
- رحمت ۱۳۷
- میا نعیم ۱۳۸
- عبدالنبی ۱۴۰
- زبر دست ۱۴۲
- گل محمد ۱۴۳
- سپینه ۱۴۵
- گل محمد کاکړ ۱۴۶
- پر دل خان ۱۴۷
- مهر دل خان ۱۴۸
- حنان ۱۴۹
- صدیق ۱۵۱
- فیض الله ۱۵۳
- عزیز خان ۱۵۴
- مراد علی صاحب ۱۵۵
- سلیم ۱۵۷
- نورالدین ۱۵۹
- شمس‌الدین کاکړ ۱۶۲




ACKU

| | |
|---|---|
| ـ حسين | ۹۵ |
| ـ ابو القاسم | ۹۶ |
| ـ صديق | ۹۸ |
| ـ غفور | ۱۰۰ |
| ـ فتح علی | ۱۰۱ |
| ـ صمد | ۱۰۳ |
| ـ عبدالرشيد | ۱۰۵ |
| ـ عبدالرحيم هوتك | ۱۰۷ |
| ـ سعادت خان | ۱۰۹ |
| ـ احمدشاه بابا | ۱۱۰ |
| ـ تيمورشاه | ۱۱۳ |
| ـ پير محمد كاكړ | ۱۱۶ |
| ـ ابراهيم خان | ۱۱۷ |
| ـ اخوند گدا | ۱۱۹ |
| ـ جان محمد | ۱۲۰ |
| ـ عبدالكريم كاكړ | ۱۲۱ |
| ـ برهان خان | ۱۲۲ |
| ـ الپوری حافظ | ۱۲۴ |
| ـ قاسم علی | ۱۲۶ |
| ـ خواجه رزق‌الله | ۱۲۷ |
| ـ فرح الدين | ۱۲۹ |

- مسعود گل ۱۳۰
- عظیم ۱۳۲
- ملاحسن ۱۳۴
- صالح محمد داوی ۱۳۶
- رحمت ۱۳۷
- میا نعیم ۱۳۸
- عبدالنبی ۱۴۰
- زبر دست ۱۴۲
- گل محمد ۱۴۳
- سپینه ۱۴۵
- گل محمد کاکړ ۱۴۶
- پر دل خان ۱۴۷
- مهر دل خان ۱۴۸
- حنان ۱۴۹
- صدیق ۱۵۱
- فیض الله ۱۵۳
- عزیز خان ۱۵۴
- مراد علی صاحب ۱۵۵
- سلیم ۱۵۷
- نورالدین ۱۵۹
- شمس الدین کاکړ ۱۶۲


نولس

ACKU

| | |
|---|---|
| ـ حبیب‌الله کاکړ | ۱٦۴ |
| ـ عبدا لمجید کاکړ | ۱٦٦ |
| ـ نو رشالی | ۱٦۷ |
| ـ و لی محمد | ۱٦۸ |
| ـ نیازی | ۱٦۹ |
| ـ گجر | ۱۷۰ |
| ـ محمد و لی | ۱۷۳ |
| ـ حضر ت‌علی | ۱۷۴ |
| ـ گل‌محمد | ۱۷٦ |
| ـ عبدالله | ۱۷۷ |
| ـ سیداحمد | ۱۸۷ |
| ـ صالح محمد | ۱۷۹ |
| ـ کمال | ۱۸۰ |
| ـ برخو ردار | ۱۸۱ |
| ـصفت‌خان | ۱۸۲ |
| ـ جمعه | ۱۸۳ |
| ـ دو ستم | ۱۸۴ |
| ـ میر هز ار | ۱۸۵ |
| ـ کر یم | ۱۸٦ |
| ـ حمید گل | ۱۸۸ |
| ـ نو اب خان | ۱۸۹ |


ACKU

| | |
|---|---|
| ـ طالب گل | ۱۹۰ |
| ـ علی جان | ۱۹۱ |
| ـ غریبی | ۱۹۲ |
| ـ پایاب | ۱۹۳ |
| ـ مقصود گل | ۱۹۴ |
| ـ اکبر شاه | ۱۹۶ |
| ـ علی خان | ۱۹۷ |
| ـ میرافضل | ۱۹۸ |
| ـ شاه گل | ۱۹۹ |
| ـ عیسی | ۲۰۰ |
| ـ عبدالغفار | ۲۰۱ |
| ـ امانت | ۲۰۲ |
| ـ بهرام | ۲۰۳ |
| ـ محمدجی | ۲۰۴ |
| ـ برامت | ۲۰۵ |
| ـ میران | ۲۰۶ |
| ـ اکرم جان | ۲۰۷ |
| ـ احمدگل | ۲۰۸ |
| ـ میرا | ۲۱۰ |
| ـ توکل | ۲۱۱ |
| ـ محمود | ۲۱۲ |


یوو پشت

ACKU

| | |
|---|---|
| ـ مجید شاه | ۲۱۳ |
| ـ میر عبدالله | ۲۱۴ |
| ـ میارجب | ۲۱۵ |
| ـ محمد خان | ۲۱٦ |
| ـ شیر محمد | ۲۱۷ |
| ـ حاجی‌عبدالله | ۲۱۸ |
| ـ سوراج | ۲۱۹ |
| ـ حسن‌خان | ۲۲۱ |
| ـ ارسلا | ۲۲۲ |
| ـ محمدیار | ۲۲۳ |
| ـ محمداعظم | ۲۲۳ |
| ـ عبدالرحمن | ۲۲٦ |
| ـ نور صاحب | ۲۲۷ |
| ـ عنوان‌الدین | ۲۳۰ |
| ـ عجم | ۲۳۱ |
| ـ زاهدخان | ۲۳۲ |
| ـ ملاله | ۲۳۳ |
| ـ غلام | ۲۳۰ |
| ـ خدای رحم | ۲۳۵ |
| ـ محب‌الدین | ۲۳٦ |
| ـ شهنواز | ۲۳۷ |

- شاه افضل ۲۳۸
- عبدالله نورزی ۲۳۹
- نوروز ۲۴۰
- غلام محمد پوپلزی ۲۴۱
- میر احمد شاه ۲۴۲
- طالب ۲۴۳
- ملاشیر محمد ۲۴۴
- عبدالودود ستریانی ۲۴۵
- خواجه محمد ۲۴۶
- عبدالرحمن ۲۴۷
- ایوب ۲۴۸
- ملازاهد ۲۴۹
- محمد دین ۲۵۰
- سید کمال ۲۵۲
- محمد اکرم ۲۵۳
- خدا بخش ۲۵۴
- شاه عالم ۲۵۵
- خیری ۲۵۶
- اعظم الدین ۲۵۷


درویشت

ACKU

| | |
|---|---|
| ـ نظر محمد | ۲۵۸ |
| ـ عجب‌خان | ۲۵۹ |
| ـ احمد | ۲۶۰ |
| ـ ملا شرف | ۲۶۱ |
| ـ میر یحیی | ۲۶۲ |
| ـ شاه پسند | ۲۶۳ |
| ـ نعمت‌الله | ۲۶۴ |
| ـ ملا احمد جان | ۲۶۶ |
| ـ سید حسن | ۲۶۸ |
| ـ صالح محمد | ۲۶۹ |
| ـ رحمت | ۲۷۱ |
| ـ سید محسن | ۲۷۲ |
| ـ فضل ربی | ۲۷۳ |
| ـ ابراهیم شاه | ۲۷۴ |
| ـ سید محمود | ۲۷۶ |
| ـ غلام‌محی‌الدین | ۲۷۷ |
| ـ عبدالرسول | ۲۷۸ |
| ـ عبدالعلی مستغنی | ۲۷۹ |
| ـ احمد اخوندخیل | ۲۸۰ |
| ـ مآخذ | ۲۸۱ |
| ـ تعلیقات | ۲۸۳ |


هلیرشت

# بیټ نیکه

دملا محمد هوتك دپټې خزانې مولف

دملا لمحقیس عبدالرشید زوی دی چه د (۳۰۰ او ۴۰۰ ه) ترمینځ ژوندی و. دی د پښتنو لوی نیکه باله شي، سلیمان بن بارك خان یوه پاړکی دده خپله تذکرة اولا لیا کښې رانقل کړی دی. دا پاړکی دنخښې په ډول لاندې را نقل کیږي دادب او مدنیت له پلوه ډېره قیمتي پاړکی شمیرل کیږي. دی پرته له دې نه پښتنو کښې لوړ مقام لري.

هغه پاړکی

لویه خدایه لویه خدایه — ستا په مینه په هر ځایه

غرو لاړ دی درناوي کښې — تهو له ژوي په ځاري کښې

د لته وي دغر و لمنې — زمونږ کړ دی دی پکښې پلنې

دا وګړ ی ډیر کړی خدایه

لویه خدایه لویه خدایه



ACKU

دلته لږ زموږ او ربل دی　　　ووړ کورگی دي ووږ بو رجل دی
مینه ستا کښې موږ میشته یو　　　بل دچـا پـه مـلـه تـلـه نـه یـو
هسك او مځکه ئغښته ستاد ه　　　د سـړ و و ده لـــه تـــا ده
دا پالنه ستاد ه خدا یه
لو یه خدایه لو یه خدایه

دخدستګار یادو نې:

*دبیټ نیکه ذکر، په موجود و اسناد و کښې تر هر څه دمخه دسلیمان ماکو په تذکرة الاولیأ کښې راغلی دی. دپښتنو په نورو پخوانو تاریخو نو کښې هم بیټ او بیټنی او بیټن په شکلو نو یادو نی شته.

*دپښتانه شعراء دلومړی ټوك لومړی شاعربیټ نیکه دی چې نسبتاً مفصل بحث ور باندې شوی دی.

تردی وروسته دبیټ نیکه ذکر په نورو خیړنوکی هم راغلی دی.

*په پښتانه شعراء لومړی ټوك کښې دتذکرة الاولیا څو پاڼی زینگو گراف شوی دی، هلته دبیټ نیکه ذکر اود هغه دغه مناجات هم شته.

*هغه څو تنه شاعران چه په تذکرةالاولیأ کښې دهغو تذکرشته او پښتانه الشعراء لومړی ټوك کښې رااخیستل شوی دی، هغه په دې کتاب (تذکرة الشعراء) کښې هم په لنډدول معرفی شوی دی مگر ماخذ نه دی ښودل شوی په قوی احتمال په دې برخه کښې ددې کتاب دمولفانوماخذ به هم (تذکرة الأولیاء) وی.

# تایمنی

ددې شاعر نوم ندی ښکاره ده خپل تخلص تایمنی راوړی دی. دی دسلطان غیاث الدین غوري (۵۶۰ ه) معاصرو ،دده دابه له چه موږ ئی دنخښې په ډول لیکو په ملی لهجه ده چه د سلطان دیوه مشهور بن په ستاینه کښی ویلی د ابن په «زمین داور» کښی و .

تایمنی پخپله بدله کښی په یوه ساده ژبه ددې بن ستاینه کړی او طبیعی مناظر ئی په ښکلو الفاظو تصویر کړی بد له ئی حماسی رنګ لری تایمنی دپښتنو یوه مشهوره طایفه ده چه تر اوسه دغور په شاوخوا کښی پراته دي .

نن زه ږغېږم په صفت د سلطان
چه دی بادار غازي ملك د جهان

دفیرو ز کوه او غور رڼاله دده
هم دتیرو تو رو برښناله دده

چه توره و کاږی چړ تو ن کی خالی
غلیم ئی کله کړی په تو رمسیالی

غیاث الدین دغو ر زمړی عالیشان
داسلام دین دده په تو ره روښان

ماد« داور» په‌مخکښې‌ولید ارم    دادجنت په ځېردابڼښه خورم
د فیروزکوه‌په دودودان دی‌نا    ښکلی هرگل څه ښه‌خندان‌دی‌نا
د لته‌کړ ونگی‌دي‌ږغو نه‌کوي    او به بهیږي سرو دو نه کوي
هرسړی‌گوری چه‌ولاړ وي‌حیران    کړی ننداری دخداوندد‌بوستان

*   *   *

غیاث الدین دجهان نمردی نـا    عالم له ده ډیر بهره وردی نا
هندئی روښانه‌په اسلام کیء‌نا    له ځانی خوبښ‌خیر الانام کیء نا
چه‌ئی‌په‌غور کښی‌نیلی‌زین کیء‌نا    پر کافر انوئی ناورین کیء نا
تل دې بری‌وي دغازی‌پرمیدان    زه «تایمنی» ستاینه کړم‌دسلطان

**یادونې :**

* تایمنی د پښتانه شعراء دلوسړی تو‌ك څلورم شاعر دی . هلته هم داشعر راغلی دی چه په حاشیه کښی ورته لیکلی شوی دی :

«دابدله په ۱۰ ۱۳ ش کال دهلمند پرغاړو دیوسپین ږیری له‌خولې لیکل شوی ده » .

**لغتونه:**

-چړتون -چاړه تون -دتوری غلاف ،پوښ -تیکی.

خیر الانام -دخلکوغوره ،مطلب داسلام‌پیغمبر حضرت‌محمد(ص)دی .

*«له ځانی »د«له‌ځانه یی»مخفف.

*دلته «تایمنی»دشاعر تخلص گڼل شوی دی خوپه پښتانه‌شعراء کښی‌وایی:

«..مکر دانه ده‌ښکاره چه ددې شاعر تخلص تا یمنی واو که یې قوم و.»



ACKU

# ملکیار غرشین

داشاعر په قوم غرشین ،او په زهد او صلاح مشهور ؤ،چه سلطان شهاب‌الدین غوری پرملتان په (۵۱۷ ه) یرغل کاوه ،ملکیار هم ورسره ملگری و ، دی په دهلی کښی ښخ دی ،په یوه جگړه کښی چه دشهاب الدین لښکر ترشاسو ،ملکیار داپاړکی وویل او د مسلمانانو لښکر یی وپارول ، داپاړکی چه یو حماسی بږغ دی سلیمان ماکو پخپله تذکرة الاولیا کښی‌راوړی دی:

دملك یار غرشین پاړکی

ښتن مومل دی *اوس مو یرغل دی* هواد دبل دی

غازیانوگوریء ـ ښتن مؤمل دی

توری‌تیری کړیء ـ دښن مو پری کړیء ـسنگولی‌سری کړیء

ځله به تښتو

ښتن مومل‌دی

که تینگ کړو زړونه - پر بری یونه - چه زمری یونه

اسلام راځخه دی *ځښتن موسل دی

غاز یانو راشیء تول شاو خوا شیء - دشهاب په مـلا شیء

دښن مو غوځ کیء ـځښتن مو سل دی

یادونی:

*ملکیار غرشین د پښتانه شعر اء دلو سړی توك دریم شاعردی او پورتنی شعر یې هم هلته له تذکرة الاولیا څه نقل شوی دی .

دښن - دښمن

هواد ـدا کلمه دتـذکرة الاولیـاء پـه قلمـی نسـخه کـښې داسـی لیکل شوې چه که دوهم توری (ه) وی نو باید (اهواد )و لوستلی شی .

داد پښتو یوله هغو لرغونومتنونو څخه‌دی‌چه‌د (هیواد ) ذکرپکښی راغلی دی.

# قطب الدين بختیار

قطب الدین بختیار داحمد زوی د سوسی لمسی یو مشهو رعارف دی چه په (٥٧٥ هـ) کال زیږ یدلی دخپل عصر مشهو رستانه وېداولیا و تذکری او تاریخونه دده کرامات ډیر لیکلی . قطب الدین په (٦٣٣ هـ) دلمړی خورپه ۱۴ ورځ په دهلی کښی وفات شوی او مز ارئی دخلکو مرجع دی .

سلیمان ماکو چه دقطب الدین معاصر دی دده یوه پاړ کی را نقل کړی چه هغه دا لاندی پاړ کی دی سیلمان ماکووائی چه بختیار تل داسی سندري وایی :

سندره

ویرمی زړه سوری کړ ... راتـه و گوره ملـو کی
پـه بیلتون کـی دی و باسم ... له خوږ ښه زړ گی کو کی

را ته وگوره ملوکی

را ته وگوره ملوکی

دبیلتون‌او رو نه‌بل دي هر گړی مې زړگی سو زی

لیو نی یمه د سیتی سو ځم زه لکه پیلو ځي

راته وگوره ملو کی

راته وگوره ملو کی

غورولی‌دي‌اوربل دی اورزسا په زړگی بل دی

زه‌بختیارخاوري ایری سوم په اورسوی مې گوگل دی

راته وگوره ملوکی

راته وگوره ملوکی

یاود نی:

* قطب الدين بختيار دپښتانه شعراءد لوسری توك پنځم شاعر دی او هلته یو څه مفصله خبرنه پری شوی‌ده‌اودغه‌شعریی‌له‌تذکرة‌الاولیاڅخه‌نقل‌شوی‌دی

*پیلوځی ـ شونتی ،لیت ،چراغ چوب .

# اسماعیل سړه‌بنی

دپښتنو مشهور روحانی دشیخ بیټ نیکه زوی چه‌تر (۰۰۵ هـ)وروسته‌ژوندی و. پر کوه سلیمان ئی مزاردی .

په پښتنو کښې دی هم په‌زهد اوتقوی مشهور و،دده نوراشعارمونږ ته نه‌دی معلوم ،یوائې داڅو بیته ئی سلیمان ماکوپه خپله تذکرة الاولیاً کښې رانقل کړي.

تیښته وکړه له ابلیسه　　چه ابلیس لعین‌ښکاره شی
هلته ورکه پلوشه شي　　تول نړی توره تیا ره‌شي
سړی وران شي‌له ابلیسه　　غوڅ دپس په کتاره شي
که‌هرچا ابلیس خرڅ کړ　　نو یې هله ننداره‌شي
که‌سړی ابلیس‌ته پړشو　　نوپرکوریې دویرناره‌شي

**یادونې:**

* دلوسړی توک پښتانه شعراء ،دوهم شاعراسماعیل سړبنی دی‌چه‌هلته هم دده دغه شعرله تذکرة الاولیا څخه رانقل شوی دی.

*غوڅ دپس په کتاره شی .

په لوسړی توک پښتانه شعراء کښې دتذکرة الاولیا دقلمی‌نسخې په‌چاپ شوی‌پانو کښې،دامصرع دغسی‌ده .دلته (پس) کیدلی‌شی‌چه‌د(پخ) پرځای‌راغلی‌وی یاداچه (د پسه) وی یعنی په هغه کتاره چه پسه ور باندی حلا لیږی .

# اکبر زمینداوری

د پښتنو له پخوانو شاعرانو څخه یو اکبر دی، چه د تود تیمور په عصر په زمینداور کښی اوسیدی، لکه چه په یوه بیت کښی د تیمور له لاسه داسی شکوه کوي.

د مغولو تمر هسی په اور وسوم
چه به هیر پدی ماتم زمینداور کړم

څکه چه د تیمور پاچهی له (۷۷۱) تر (۸۰۷) هجری کاله پوری ده. نو موږ د اکبر د حیات دوره هم په دغه وخت کښی تخمین کولای شو، د اکبر اشعار عشقی او خواږه دي، دده د شعرونو څخه موږ دری بیتونه مثنوی، او یو غزل او یو پارکی را نقل کوو:

## داکبر غزله

چه‌مدام زه ستاوسخ و ته‌نظر وړم — دیلتون له بیرې زړه زیر و زبر وړم

که‌پر مادې حکم وشي چه‌خادم‌شه — دغه ستادنغرې سړ انګار پر سر وړم

چه جمال‌په‌سهراوسینه‌راښکاره‌کي — شین‌طوطي شم‌په‌هوا د سینی پرو ړم

چه‌ګټتار دې‌په‌سینه ‌اته و سي — نو بیاي سم کوتي کوتي‌دګو هرو ړم

که‌سې‌وژنې که‌سي پیرې‌رضاستاده — ستاو غشي‌ته مدام موخه ځیګر وړم

چه‌جمال‌دې‌په‌هجران‌کښې‌راپه‌یادشي — هغه دم په تنو رشمس و قمر و ړ م

ستادتور وځنوخیال‌ مسي‌طویل‌دی — تل په‌زړه کښې‌دغه‌فکرزه«اکبر»وړ م

دا کبر دملی بدلی ځځه:

اول‌خوته‌نجلی پر عشق باندې اقرارمسولي

اوردې‌راپوري کې‌ءنور کښینستي‌قراره سولي

هیڅ‌ګفتګوی‌له‌عشقه‌نکوې‌بیز ارمسولې — یووارخوووایه‌قرارچه‌دیارځنګ لرمځم

دا کبرمثنوي نه:

عشق که‌به دي کـه‌بلا دی — پیدا کړی زمو ږ مولادی

زه که‌سځ په اوښو سر کړم — زړه کباب‌صورت تنور کړ م

یادونې:

* اکبر زمینداوری دپښتانه شعراءلومړی تولګ شپږم شاعر دی

*دپښتانه‌شعراء‌په‌حاشیه کښې،داکبر‌په‌بیت کښې‌د(تمر)دکلمې‌په‌ارتباطلیکل شوی‌دی:

«تمر،دتیمور زړه املاده، چه‌په‌ترکي اوسپنې ته‌وایي.مطلب تیمورلنګ دی چه‌دمغولو اودګور کانی تبرلومړی باچادی »

# شیخ عیسی مشوانی

شیخ عیسی په قوم مشوانی و،چه‌تر (۹۰۰ ه) کال وروسته ژوندی‌اود شیرشاه سوری‌معاصرو. شیخ عیسی‌دهند په «دامله» کښی اوسید ی ء نعمت الله‌په مخزن افغانی کښی دده اشعار،فقط دغه دری‌بیته وانقل کوی‌اودده کرامات ښئی. وائی‌چه شیخ عیسی په‌پارسی او هندي‌ژبو هم شعروایه دشیخ عیسی فقط دغه دری‌بیتونه‌موږ ته‌رارسیدلی‌دي،نوراشعاراو دیوان ئی ندي رامعلوم .

دشیخ عیسی بیتونه:

پخپله کار کړی ،پخپل‌انکار کړی
جگ پر هوا یم ،کله می خوار کـړي
ته‌ښه قادرئی صفت دې‌دادی
کله می‌نور کړی، کلـه‌می‌ناز کړی
«عیسی »حیران دی په‌دی صفت کښی
کله می‌یار کړی ،کله‌اغیار کړی

یادونـه:
*شیخ عیسی مشوانی دپښتانه شعراءلومړی توك اووم شاعر دی.

# ملا الف

د کندهار له پښتو شاعرانو څخه دی، چه د کلات دا تغر په کلو کښې اوسیدی، دخپل عصر ښه عالم و. دی تر ۹۰۰ ه ق وروسته زیږیدلی، او یو جهاندیده او گرځنده سړی و. ملا الف یو کتاب د «بحر الادمان» په نامه نظم کړی، دا کتاب د محرم په څلورمه د (۱۰۱۹ ه) کال تمام شوی دی. دده اشعار دینی او اخلاقي او ددغه سبك لوسړی سو مس گڼل کیږي.

ملا الف په ملی لهجه ښې بدلې لری، سو یو دده پار کی لاندی راخلو

د ملاالف پارکی

بل که سړی یې خوته خلق مهدی کوه تل — شیرین زبان ځلاند جبین دی احمدی کوه تل
پر طبیعت د هر سړی برابری کوه تل — چه حسن خلق به دی په کار سی د میزانه سره

* * *

بل پر یتیم پر کونډه ښځه، شفقت لره ته — هم پر مسکین پر مسافر و مرحمت لره ته
اوخپل عیال په جامه پټ او په نعمت لره ته — غرض کړه خدای ظاهر کوه له بندگانه سره

یادونی:

* ملاالف هوتك دپښتانه شعراءدلوړی ټولګی له شاعرانو څخه دی

*په پښتانه شعراء کښی داشعرچه ورپسی دوه نوربندونه یی هم شته هم راغلی دی او «دبحر الایمان» له مثنوی څخه دنمونی په توګه (۱۱) بیتونه نورهم اخیستی دی .

*په پښتانه شعراء کښی ملاالف تراخونددرویزه لاهم دپښتو پخوانی لیکونکی بلل شوی دی .حال داچه دی تراخونددرویزه او بایزید روښان وروسته زیږیدلی او دژوند انه دزمانی له مخه دهغه معاصر دی .

په دې ډول :

لکه چه مخکښی وویل شو ملاالف تر(۹۵۰هـ،ق) وروسته زیږیدلی او په (۱۰۱۹هـق) کښی یی د«بحر الایمان» لیکنه پای ته رسولی ده .

-بایزیدروښان په (۹۳۱هـ،ق) کښی دملاالف ترزیږیدو شل کاله دمخه او اخون دورېزه په(۹۴۰هـ،ق) کښی دنوموړی ملاترزیږیدولس کاله دمخه زیږیدلی دی . همدا رنګه بایزیدروښان په (۹۸۰هـ،ق) کال کښی د دملاالف د «بحر الایمان» ترلیکنی څلویښت کاله د مخه او اخون درویزه په (۱۰۴۸) کښی یعنی د نوموړی کتاب تر لیکنی(۲۹) کاله وروسته وفات شوی دی .

# میرزاخان انصاری

دده‌نوم فتح‌خان و. دی په‌میرزاانصاری مشهوردی په‌قام یوسف زی‌تر
۹۵۰ ه وروسته زیږیدلی اوپه (۱۰۳۰) وفات شوی. میرزا دخیبرپه
خوا اوشاکی اومید ی‌ء او دپیر روښان سریداو ملگری‌و. میرزاد شعر
یوسردف دیوان لري اوعرفاني او تصوفي اشعار وائی. د ه‌لمری پلاپه
په‌ښتزعرفاني‌اوتصوفي مضامین و یلي‌دی. دده‌غزلیات او رباعیات ډیراو
غوره مضامین پکښې شته‌موږ دلته‌یوغزل اویوه رباعی وچونله.

دمیرزا پاړکي

خه‌عجب‌ئی سپینی گوتی | پرې د پاسه سره نو کونه
او پلوپه مخ نیولی | په کاته کښې طراری کا
دمیرزا زړه ئی تاراج کړ | له آزاره نه ویریږی
لا بتره ئی سزاده . | چه‌دشاه سره یاری کا

## غزل

| | |
|---|---|
| زه به‌څه وایم چه‌څه یم | نیست و هست‌واړه‌په‌ده‌یم |
| هر څه نیست می‌له هستی | د هستی معنی ئی زه یم |
| وصال یه‌هوا و رځم (۱) | دد ي لا سکان سرغه یم |
| دگه ذ ره‌دلمرپه مخ کښی | گاهی غو ته پراو به یم |
| له بـد انـو مـی بـدي ده | له‌نیـکا نو سره ښه یم |
| د نیـکبخت په بخره شهد | د کمبـخت په‌ځـان‌لشه یم |
| له‌هرچایم په هرڅه کښی | خـز ان نه لـرم تا زه یم |

**دخدمتگا رپادونی:**

*میرزاخان‌انصاری دپښتا نه شعراءلو سړی‌تولکلسم شاعر دی(۸۰-۸۷مخونه)

، *ددی‌شاعر نوم په‌نوروتذکرواوخیړنو کښی ,هم راغلی دی ، لکه :

-دروښان‌یاد - د۱۳۵۵ ه ش چاپ،په‌پښتو ادب کښی دروښانی آثارومقام دخیړندوی بختانی خدمتگار لیکنه (۹۷ -۹۸ مخونه)

-دپادری هیوز دکلید افغانی تعلیقات -میرزا -(۱۰۳ - ۱۰۵ مخونه)۱۳۵۶ ه،ش‌چاپ دخیړندوی بختانی خدمتگار لیکنه

-فرهنگ زبان وادبیات پښتو- زلمی هیوادمل - ۱۳۵۶چاپ (۲۰۵مخ)

دپورتنیو لیکنوله مخه میرزاخان انصاری د نورالدین زوی اودسراج - الدین بایزید روښان لمسی‌دی.

دمیرزاخان انصاری دیوان‌دري ځله‌چاپ شوی‌دی :

۱-دلاهور چاپ-۱۳۳۳ کال- د(دیوان‌میرزاهد افغانی محشی) په‌نامه.
۲-دپېښور چاپ -د ۱۹۵۹ م‌کال چاپ دهمیش خلیل په‌زیار اومقدمه.
۳-دکابل- پښتو ټولنی چاپ - ۱۳۵۳ ه،ش

---

(۱)ورځم‌د «غورځم» په‌وزن- دغورځم -الوزم- هواکوم‌په‌معنا .

# دولت الله لوانی

شیخ دولت الله د داد اوزوی په قوم لوڼ حسن خیل مورئي وردگه وه. دولت د (۱۰۰۰ هـ) په حدود کښې زيږيدلی ،او تر (۱۰۵۸ هـ) دده ژوندون يقيني دی. دولت په جلال آباد او او نورمشرقی خواو کښې استوگنه درلوده او د پير روښان او دهغه دزامنو ملگری و. دی یو سردف او سفصل ديوان، غزليات،قصايد رباعيات لری،دولت دميرزا انصاری ادبی شاگرد او دتصوف او عرفان د سبك سربی دی. دلته دده يوه غزله اويو بيت په دول غوره شو.

غزل

په سپين مخ و يښته زيب كاددلبر تور
تر كافور گلاب خوشبوی تر مشك عنبر تور
كه لښكر چاتمام تور ليدلی نه دی
د يار خط زلفی دې وگوري لښكر تور

د پیری په وخت یه کارددین په څوکړې

پەخوانی دی طلب نه کاپه سرتور

دعارف سومن یەسخ ترنمرروښان وي

د کافرمنافق مخ د زاغ ترپرتور

هغه زړه ترسنګ آهن سخت دی «دواته»

چەله غمه نی وانه غوندی څادرتور

بیت

پەدوه کونه باوروکړه سوجود هیڅ نشته بی‌له‌خدایه

داروستی بیت‌دده کلکه وحدة الوجودی عقیده راښئی .

دخدمتګار یادونی:

* دولت الله‌لوانی دپښتانه شعراء دلوسړی توك یوولسم شاعردی .

* سربیره پرنورو خیړنودولت‌لوانی‌پەباب کښی وګوری ء :

خیړندوی خدمتګار - دروښان یاد - په پښتوادب کښی دروښانی آثاروسقام دە۱۳۰۰ه ش چاپ (۹۸م مخ )

-خیړندوی‌خدمتګار بختانی -دپادری‌هیوز د کلیدافغانی‌تعلیقات ۱۳۰۶ هش چاپ .(۸۹- ۹۳مخونه )

-زلمی هیواد سل- فرهنګ‌زبان وادبیات‌پښتو- ۱۳۰۶ هش چاپ (۱۷۹- ۱۸۱ مخونه )

*ددولت‌لوانی‌دیوان‌په۱۳۰۳ هش کال،دکابل،پښتوټولنی‌له‌خواچاپ‌شوی‌دی.

# امیر

دی دپښتویو ښه عالم اومجو ددی دده بشپړ حال تر اوسه لاندی معلوم .
د ده یو منظوم کتاب چه په تجوید کی ئی لیکلی سو ړ لیدلی پدی کتاب کی تش
دده نوم او د کتاب دختم نیټه چه(۱۰۳۲ هق) کال دیسعلو سیږی دلته څو
بیته دنمونی په ډول ځنی رانقل شول :

| | |
|---|---|
| په نامه ستا پاك خدا یـه | دګمـرا هو را هنمایه |
| په هغه دې ستا قسم وي | هغه نوم چه‌ستا اعظم وی |
| ستاپه کل و اړه اسمونه | چه‌ته‌ئی وړی‌نوسونه |
| ستا په واړه فرشتګـا نو | مقر بو واصلانو |
| ستا په کل پیغـمبرا نـو | په‌خاصانو مرسلانو |

دخدمتګاریادونی:

*امیر دپښتانه شعراء دلوسړی توك ۲٦ مشاعر دی .
تجوید دقرآن کریم دسم لوستو علم‌دی‌او مجو د ددې علم عالم ته‌وا یی.

# عبدالکریم

دمعروف اخوند درویزه زوی ،او په کریمداد مشهور دی. کریمداد (۱۰۰۰) هجری و روسته زیږیدلی،او په (۱۰۷۲ هجری) وفات شوی دی
عبدالکریم دخپل پلار په دود نیم عروضی اشعار ویلي ، او د اخوند درویزه مخزن الاسلام ئی تکمیل کړی دی .
که څه هم عبدالکریم دپښتو پخوانی نثر لیکونکی ګڼل کیږي،مګر کله کله عروضی اشعار هم وائي،او سبک ئی دینی او دوغط دی.
موږ دده دکلام یوه نمونه را نقل کوو .

دعبدالکریم بدله

ته دایم ورته حضور شه		له جملې غفلت دور شه
ستاد اخپل صورت تیاره دی		تیاره واخله کل یونور شه
کل امکان داوچ وابنه کړه		ته ددی وبنسو تنور شه
ای طالبه که طلب کړې		پر شاه وسوخه چور چور شه

دصورت پرده کړه څیرې
دمعنی په سر مستور شه

یادونی:

عبدالکریم دپښتنا نه شعراء لوسری تو ک ۲۸ م شاعر دی (۱۳۷-۱۳۸-مخونه) عبدالکریم سر بیره پر پښتو پهدری ژبه کتبی هم لیکوال و .
دده دیو فقهی اثر قلمی نسخه چه د پخو په باره کښی ده ماسره هم شته.

ACKU

# عبدالحلیم

دعبدالله زوی داخوند درویزه لمسی و، چه تر (۱۰۰۰ هـ) وروسته او سید ی ء عبدالحلیم داخوند درو یزه په مخزن کښې ځنې متفی نثرونه دخپل نیکه پرسبک لیکلي دي، او د ده دغه عروضی شعر هم سو رنه را را رسیدلی دي، چه د نمونې پهتوگه ئې اخلو:

غزل

چه ځای تلري ځا ئي، دا کلي جهان ئې سرای دی

پر هر ځای چه شپه پر را غده، هم هغه سرای دده ځای دی

له مشرق مغرب کښې گرزي، غریب نهوي بي پروا دی

پر هر اوري چه ورد روسي، هغه ملک دده دخدای دی

چه لو کښلري بي خدایه، ځای ئې نهوي په تنها وي

نهگدای و رته سه وایه، چه پا دشاه دده گدای دی

چه د زړه پهستر گو وینی، د راحت طلب کوینه

د عارف راحت بلا کښې تل دایم پههوی و هوای دی

داد «حلیم» هم امید وار دی، ستا و فضل حقانی ته

چه حلیم دعا رفانو، نیمگړ دانو خاکپای دی

یادونه:

*عبدالحلیم دپښتانه شعراء لومړی ټوک ۹۲ شاعردی او دغه شعر هلته هم له قلمی (مخزن الاسلام) څخه نقل شوی دی.

# خوشحال ختک

خوشحال خان د پښتو لوی شاعر او ادیب دی، دی د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړی کړوسی و، د ربیع الثانی په میاشت (۱۰۲۲ ه، ۱۶۱۳ ع) د ختکو په اکوړه کې زیږیدلی.

خوشحال پس له پلاره د قوم مشر او د ده مشر توب د شاه جهان له طرفه ومنل شو، مگر د اورنگ زیب په وخت تر څلور کلو پورې د هلی او رنتهیور کې بندي و. وروسته له خلاصیدو او رنگ زیب ته ئې د جنگ اعلان ورکیء خو واره ئې د اورنگ زیب لښکر ماتې کړې، او د پښتو استقلال ئې وساتیء خو په عمر د ۷۸ کالو په ۲۸ د ربیع الاول (۱۱۰۰ ه)

وفات سو. دی موئف، فیلسوف توریالی او د پښتو دژبی لوی شاعر بلل کیږي :

خوشحال هر رنګ اشعار: حماسی، اخلاقی، اجتماعی فلسفی هجو-لري . دلته یوه غزله او دري رباعی دده دنمونی په ډول غوره شول.

## د خوشحال غزله

که گذر په خیرآبادو کړی نسیمه ... یادی گشت و شی دسرای دسند په سیمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه ... ورسره زما د لوری ځو تسلیمه
اباسیند وته نارې وکړه په زوره ... ولنډ ی ته وینا وایه حلیمه
گوندی وي چه پیامی ستاسی جام روزی شی ... په گنگا جمنا به نه وا ولم قدیمه
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې ... ترې توبه که وا رځم که وي له نعیمه
خدایه زړه سي په وصال د هغوخوش کړې ... داچه اوس و رځنی لیرې وی دوه نیمه

همیشه به په هندنه اوسی خوشحاله
عاقبت به عاصی وځي له جحیمه

## رباعیات

د وطن ونی چندڼ اگر دي ... خاوری ئی واړه مشک و عنبر دي
که سرای ونوروته سنگر دی ... کانی ئی واړه ماته سره زر دی

* * * *

وگړی واړه کارونه خپل کا ... سردان هغه دي چه کار دبل کا
ځو کټ چه آرام گټی دنیکو نام گټی ... دخوږو زړونو دارو به تل کا

* * *



PROPERTY OF ACKU 5815

ادب چه نه وی په سپین په تور کښې عزت به نه وي په هغه کور کښې
دولت به درومي له هغه حلقه چه سر دتل وي په شر او شور کښې

یادونې :

خوشحال ختک د پښتانه شعراءلو سړی نوکت ۳۰ م شاعر دی او س د خوشحال خان ختک په شاعری او ژوندانه باندې په کابل ، پېښور او خارجي هیو ادونو کښې ډیر کار شوی دی .

دری ځله په کابل کښې بین المللی سیمینا رونه و رباندې سوی دي . دد خیل آثا رچاپ شوی دی چه تولو محققانو ته معلوم دی . ز په دې برخه کښې په همدې اشاره کفایت کوم ، ځکه چه زیاته شرح حاشیه تر اصلي متنه بیخې او ږدوی .

# اشرف خان هجري

دخوشحال خان مشر زوی، او تخلص ئی (هجری) دي، دی په ۱۰۹۳ هجری دغولو دلښکر په لاس کښیو تلی، او دعمر ترپا یه له گران وطنه ورك او په بیجاپور او دکن کښې بندی ؤ.

اشرف خان یو نفیس دیوان درلود، چه اوس ئي ځینی بدلي پاته دي اشرف خان لکه خپل پلار په پښتو ژبه خواږه عشقي او اخلاقي شعرونه ویلی دي، او ځینی وطنی بدلی هم لري، چه خپل وطن په ارمان یاد وي، دلته مونږ دده یوه بدله او یو څو بیتونه دنخښې په توگه رااخلو :

## بدله

همیشه دې یار ژړاوي په دنیا روغ — چه ئې نل نه وي له درده زړه زما روغ
پوه به درد د عشق بدل په دوانه کا — هرګز به شه له دې غمه زړه د چا روغ
ته د خوږو زړو له حاله څه خبر ئې — زه د عشق له غمه زړه کښم د تا روغ
نبایسته که جفا کا څه ملامت دي — چه خالق ئې کوردزړه کا له جفا روغ
په ازل چه ئې جدا د نبیو ورکړه — بیا ئې زړه کا د درد منو له وفا روغ

نن ئې زړه په عنایت د بوسې خوش کړه
په وعده به «هجری» نه شي د فردا روغ

## دوطن یاد

بې وطنه تنها پروت یم په غربت کښې
نن له اسره همدم د صنم غم دی
د هوا داشنا په ستر ګو لمده نه شي
که په خوب راته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد رارسوي منت ئې تم دی

یادونې :

*اشرف خان هجري د پښتانه شعراء لومړی ټوک شپږم پرشم شاعر دی (۱۶۹-۱۷۳مخونه) .

* اشرف خان دخوشحال خان دو هم زوی دی. دخوشحال خان لومړنی اولاد (اکبر) نومیده او په اوه ورځنی کښې مړشوی دی.

* اشرف خان په ۱۰۴۴هجري دخټکو په اکوړه کښې زیږیدلی او په (۱۱۰۶هجري) کښې وفات شوی دی .

* (دیوان اشرفخان هجری) په ۱۹۵۸ میلادی کال په پېښور کښې د ښاغلی همیش خلیل په مقدمه او زیار چاپ شوی دی .

* د هجری په باره کښې د زیاتو معلوماتو دپاره وګورئ :

دکلید افغانی تعلیقات د خیرندوی بختانی خدمتګار په قلم ـ د ۱۳۵۶ هجری شمسی چاپ ۸۶ – ۸۸ مخونه .

# عبدالقادر خان ختڼک

عبدالقادر خان دخوشحال خان زوی دی دپښتو ژبی یو پیاوړی شاعر او ناستو لیکونکی بلل کیږي ، عبدالقادر خان دپښتو ژبی ته لوړلوړ خدمتونه کړیدي، ده دخپل پلار په شان په خپله کورنی او اولس کښی دخانی اومشر توب مقاصد درلود . تر ۱۱۱۴ ه پورې دده ژوند یقینی دی لکه چه وائی:

سن زرسل د جدائی خورلس د پاسه
داغزل مي په بیاض باندی رقم کړ

عبدالقادر خان دیوسف زلیخا کتاب په ۱۱۱۲ ه کښی پښتو کړی گلستان ئی هم له فارسی څخه په پښتو لیکلی دي .عبدالقادر دشعر پوره دیوان لري .

دعبدالقادر خان د کلام نمونې

## غزل

خدای به زړ پریشان یاران سره یوځای کا    بدخواهان به سروهی هم به های های کا
په جهان کښې نوي نوي بازی کیږي ،    لا یوه تمامه نه بله بر پای کا
دبهار د ګل وګشت کولي نشم    خېلې او ښې راته مڅکه ګل ولای کا
تل به وار د رقیب جوړ راباندې نه وي    زموږ وار به هم پرې سازښي که خدای کا
داد نیاراته ښکاره قمار خانه شوه    هرڅو ډیر که وګټې آخر ئې بای کا
بزرګي په وزرنه ده په ښه خوی ده    بوم به کله په وزرو ځان همای کا
زخمي شو یدې هرلور عبدالقادره    څوک اوه او ه ځیني آه آه ځیني وای وای کا

ربا عي

باران وریږي څخوا کې ښاخي    نسیم راو الوت سنبل پرې ناځي
اسباب دعیش وازه سو جوړ ديي    ساقي نه ګوروچه دي را پاځي

یادونې :

عبد القادرخان ختک دپښتانه شعراء دلوړي تو ک او دیرشم شاعر دی (۱۷۳–۱۸۳ مخونه

*عبدالقادر خان ختک په(۱۰۶۳ ه) کښې زیږیدلی دی .

*(دعبدالقادر خان ختک دیوان) په ۱۳۱۷ ه ، ش کال په کندهار کښې

دپوهاند عبدالحی حبیبی په مقدمه او زیار او په ۱۹۶۷م کال په پیښور



ACKU

کښې د همش خلیل په ترتیب اوڅدو ین او حدیقه ختهک (دیوان عبدالقادر خان ختک په ۱۹۶۹) کال په پیښو ر کښې دسید انو ارا لحق په مقدمه او زیار چاپ شوی دی .

*دعبدالقادر خان ختک (یوسف زلیخا) یو ځل په کابل او بل ځل په پیښو ر کښې چاپ شوی دی .

*دعبدالقادر خان ختک په باره کښې تفصیل وګوری ء په :

د کلید افغانی تعلیقات ـ د ۱۳۵۶ هـ ش چاپ ـ کابل ـ ۱۰۶ ـ ۱۰۸ مخونه

# سکندر خان

سکندر خان د خوشحال خان زوی او د پښتو په شاعرانو کښې ښه مقام لري، ده «د مهر او مشتري» په نامه یوه قصه په پښتو نظم کړېده چه اوس ئې نسخه نشته.

دسکندر خان دغه یوه بدله موږ ته را رسېدلې ده، نور دیوان ئې ورک دی.

غزل

مغني گوتي په زير ږدي په بم هم — هم ساقي شته، هم بهار و صنم هم
ستا د عشق د غشي هسې ځای پرهار دی — چه ر يښه پرې ايښووی نشي مرهم هم
ستا د زلفو مار چيچلي نه رغيږي — په ستانو په زيارتو نو په دم هم
تا چه مخ و ر ته ښکاره کړ ليونی شو — پاس د غرونو په سر گرځي په دم هم
هغه راز د محبت چه پر... له تا دی — زړه خبر ورځني نه شو قلم هم
د خوښي پياله په لاس کښې زن زما دی — درد ز حمت را څخه و تښتيده غم هم
په لذت دې د سرو شونډو کوثر هيڅ کړ — د حيات او به لا هم د زمزم هم

که ناستې د يار د کوي په خاورو موسې
باغ د بهار د «سکندر» دی ارم هم

یادونې :

*سکندخان د پښتانه شعراء لوسړی توک اته‌دریرشم شاعر دی(۱۸۳-۱۸۵) مخونه

د سکندر خان ختک د زیږ یدو نیټه (۱۰۶۸ هـ کال) اټکل کیږی شی، دتفصیل دپاره وګوری ؛ :

د ګلید افغانی تعلیقات-دخیږ ندوی ډ ختانی خدمتګار لیکنه - کابل د-۱۳۶۵ هـش چاپ ۱۰۹-۱۱۲ مخونه .

*دسکندر خان ختک دیوان ددوست محمد کامل په‌زیار اومقدمه په۱۹۵۲ م کال په‌پېښنو ر کښې چاپ شوی دی . .

*دسکندر خان (لیلی اومجنون) په۱۳۴ هـق په‌ډیلی اوبیاپه ۱۳۵۸ هـش دافغانستان دعلومو د اکادمۍ له‌خوا په کابل کښې چاپ شوی دی .

# صدر خان

صدرخان دخوشحال خان زوی ،او دپښتو ښهشاعر دی ، چه اشعاریې عشقي ، اوسبک ئي د خوشحال خان دی ،دده پهاشعاروکښې ښه سلاستپروت دی. دصدرخان دیوان ورک دی ، دده یو دوې بدلې زمونږ خخه شته، دابدله دده دوینا د نمونې په ډول لیکو:

بدله

ستاترلب لعل وگوهر هیڅ ستاتر زلفو مښک عنبر هیڅ
حجاب واچوه له مخه آفتاب محو کړه قمر هیڅ
خریدار چه ئې بې نیازوی دچشما نو در گوهر هیڅ
چه دعشق بدرقه نه وی په خو نخو اره لار سفر هیڅ
ستاتر قده، تر قامته صنوبر ،چنار، عرعر هیڅ
سنگین زړه دې نرم نه شو په ژړ ازما احقر هیڅ
دعشق یوسبق کافی دی نورد کل جهان دفتر هیڅ
ستا گفتار صدر خوشحاله
کان دکان کړه دشکر هیڅ

یاد ونی:

*صدرخان ختک دپښتانه شعراء لومړی ټوک نه دیرشم شاعر دی (۱۸۶-۱۸۸ مخونه)

*صدرخان ختک دخوشحال خان ختک زوی په ۱۰۶۳/۵ هـ ق یا ۱۰۰۷ هـ ق کښی زیږیدلی دی.

*دصدرخان ختک د (دلی اوشهی) منظومه قصه د ښاغلی خیال بخاری په مقدمه او د نوموړی (دآدم خان درخانی قصه) دښاغلی محمدنوازطایر په مقدمه په ۱۹۵۹م کال په پیښور کښی چاپ شوی ده. د تفصیل لپاره وګوری.

د کلید افغانی تعلیقات - دخیبر ندوی بختانی خدمتګار لیکنه کابل - د ۱۳۵۶ هـ ش چاپ

# خو اجه محمدبنگښ

*خو اجه محمد تر (۱۱۰۰ م) دمخه زیږ یدلي اوداو رنګ زیب معاصر و دي په قوم بنګښ دی ، او داتېک پر غاړو اوسید ی ، خو اجه محمد داشعار و دیوان لري چه زموږ سره نشته عشقي او عرفاني اشعارئي و یلي دي مو یو وه بدله دده را نقلو و :

که داماغوندی غریب پریوزی واورته ستاسنګین خاطربه نه‌شی کښته پورته
دعاشق له آه سرده نه و یر یږی ته هرګو ره دیر غرهئی و خپل زو رته
یاوفادې هیڅ زده کړی چیری نه‌ده یاخو نه‌ګوری له کبره وسر تو رته
ستاپه‌عشق کښي هسي‌چارې پرماوشوې چه‌له شرمه کتی نشم کلی کو رته
ګو تی‌تو رې کړې پرمائی کړی‌راپوری زه‌حیران یم ستا دسپینو ګوتو تو رته
نو رعا لم می همګی لیو نی بو لی دو اړه غو ږ می‌دی نیو لی و پیغور ته

داو رنګ په‌پادشا هی کښي‌مي نیاو نه‌شی
زه خواجه محمد به و وځم و بل لور ته

یادو نی :

*خو اجه محمد بنګښ (پښتانه شعراء لومړی ټو ک څلو یښتم شاعر دی (۱۸۸- ۱۹۱ مخو نه )

* د یوا ن خواجه محمد بنګښ ( په ۱۹٦٥ ) کا ل د پر یشا ن خټک په مقد مه په پیښو رکښي چا پ شوی دی .



ACKU

# رحمن بابا

رحمن بابا دپښتو خورا ښه اونومیالی شاعر ، په قوم سړبنی مهمند و دی په بهادر کلی کښې زیږ یدلی ، او د پیښور په هزارخانه کښې اوسیدی او هلته وفات شوی . د رحمن بابا تولد تر (۱۰۵۰ﻫ) وروسته دی تر (۱۱۲۰ﻫ) پوری هم لا ژوندی ؤ رحمن بابا یو دیوان لری چه د خوږ وبد لوړ ک دی دی په خپله شاعری کښې دیوه گوښی سبک خاوند دی چه ډیر و نورو شاعرانو ئی پیروي کړی ده . دا نومیالی شاعر ښه عشقی ، عرفاني ، اجتماعی اخلاقی اشعار لری او وینائی خورا سپیڅلی او خوږه ده . دلته دده له دیوانه څو بدلی د نخبې په ډول رانقل شوي :

## درحمن پدلی

په‌ښه‌خوی‌له‌بدخواها نو پې پر وایم    په نرمی لکه اوبه داور سزایم
وهر چانه په‌خپل شکل ځرگندیږم    آینې غوندی بی‌رویه بی‌ریا یم
قناعت می ترخرقې لاندې اطلس دی    پټ دټول جهان پادشاه ظاهر گدایم
دغنچې په‌ځیر په‌سل ژبو خاموش یم    لکه‌بوی هسی په‌پټه خوله‌گویایم
په‌ژړا می دخپل یار دیدن حاصل کړ    دشبنم په ځیر دگل سره یکتا یم
هم‌په داسپینو جامو به معلو میږم    لکه ابر هم گوهر یم هم دریا یم
دراز عمر می حاصل شه‌له‌راستی نه    لکه سرو مدام سبز و تازه پایم

که‌چالار دعاشقی وی ور که کړی
زه رحمن دگمر اهانو رهنما یم

***

سدام ناست یم و چ گوگل سترگی په نم کښی    عشق راوښود بحرو بر په خپل حرم کښی
ساچه زخم ستاد توری په خوله کښل کړ    نور می دالذت بیانه‌موندپه مرهم کښی
دی‌مجنون‌چه‌سر په پښو دلیلی کښېښو    سر بلند شو په‌عرب و په عجم کښی
زوروړ مدام غالب وي په کمزوریو    زه‌نور غمه‌خلاص یم‌ستاپه‌غم کښی
لکه‌زه‌چه‌مستغرق یم‌ستاپه‌غم کښی    بل به‌نه وي په جمله‌بنی آدم کښی
لکه مړچه‌دژوندیو په‌میان پروت‌وي    هسی بیل یم له عالمه په‌عالم کښی
هیڅ یو دم‌مي ددم‌گریو په‌دم نه‌شی    هم‌په‌داچه‌زمادم دی ستاپه دم کښی
نه‌می‌بی تاگفتگوی نه جستجوی شته    مرادمی‌ته‌ئی په‌هردم په هر قدم کښی
که‌نصیب‌می‌شی کوزغالی ستا دسپیو    و به‌نه کړم نور نظر په جام دجم کښی

ACKU

سره په‌وینو دسرو گلو په شیرزانگی        هزار زړونه ستادزلفوپه‌هرخم کښی

زه رحمن کناره خو بښوم له عالمه

یاره ستا کتو رسوا کړم په‌عالم کښی

**دخدمتگاریادونی :**

عبدالرحمن مومند دپښتو خوږژبی مشهور اومنلی شاعر عارف‌دی‌چه پښتانه‌یی دزیات منښت له‌مخه (رحمان‌بابا) بولی .

* درحمن باباپه‌ژوندانه اوآثارو پښتنو او خارجی لیکوالو زیاتی‌څیړنی کړی دی .

* درحمن‌بابا ددیوان قلمی نسخی‌ډیری‌دی او څوځله په کابل ،پیښور لاهور اوبمبئی کښی چاپ‌شوی‌دی. درحمن‌بابا ددیوان انتقادی متن په۱۳۵۶ هجری شمسی کال‌دپښتو ټولنی‌له‌خوا خپور شوی دی .

* درحمن‌بابا دژوکړی او مړینی نیټه‌په‌پښتانه شعراءلوسړی ټولوکښی هم‌پورتنی‌نیټه‌ده،دپښتانه‌شعراء لیکوال دیادری هیوزدلیکنی‌له مخه‌چی‌هغه دکلیدافغانی په‌مقدمه کښی‌لیکلی‌چه‌گویا رحمان‌باباپه‌زلمیتوب کښی له‌خوشحال خان ختک‌سره کتلی‌دی ،پاسنی‌نیټه‌دهغه‌دزوکړی اومړینی دپاره‌اټکل کړی‌ده .دلته‌باید ووایو چه‌د«کلیدافغانی» مولف هم داخبره دکوم قوی سندله مخه‌نه‌ده کړی .

محمدهوتک دپټی‌خزانی مولف‌درحمان‌باباپه‌باره کښی‌لیکی‌چی«عبدالرحمن بابا په سنه ۱۰۴۲ هجری پیدا شو» او«په سنه ۱۱۱۸ هجری وفات شو» پټه‌خزانه درحمن بابا دژوندانه اووفات زمانی‌ته نژدی په ۱۱۴۲ ه کال کښی بشپړه لیکل شوی‌ده نو ځکه دهغی‌روایت ترنورو قوی‌دی.

# یونس

یونس دخوشحال خان ختك معاصر اودرحمن بابا پیرو اوشاگرد دی. دده په اشعارو کښې د رحمن دکلام سلاست او متانتشته . یونس یوپوهعالم او په صرف،نحو ،معاني، بدیع ،طب،فقه،تفاسیر اونورو ادبی علوسو کښې ښهمعلومات درلوده .دده سسکن ښه‌ندی معلوم خو دده‌له اشعارو څخه دومره معلومیږي چه‌دخیبر په‌خوا او شا کښې اوسیدیٔ اوداتخمین کولاي‌شوچه تر (۱۱۱۸) وروسته‌لاژوندی‌و.دیونس‌اشعار اخلاقي،اجتماعي،عرفاني‌اوعشقي‌دي‌اوادبی صنایعو ډك دی .دده‌له دیوانه څو بدلی دنمونی‌په‌ډول را نقل کړی شوي :

دمیدان پهور ځ چه‌تیښه کاله جنگه  پاتی‌هیڅ نه شی‌باقی له‌نام وننگه
له میدا نه تیښه کاردی دزنانو  سرد به‌نه تښتی‌له غشي له تفنگه
چه‌دنورو په بریښنائی وارخطاشي  مورنی مه‌وی په هغه غلاتی لنگه
دضرو ر پهور ځ به‌تیښت‌لکه گیدړکا  چه‌همیش کاندي خوښی‌له‌نای‌وچنگه



ACKU

دعزت صدقه سر ،دسر د نیا ده    سرنی په شرم سرو رکا بیدر نکه

* *

نور څه مه‌وایه بې مینې راته ته    کړه ویل دناز نینی را ته ته
له یوی گوتی دیارسې ثاني ندي    داچه ستاپی محینی محینی را ته ته
کل‌آرام مې‌غنم رنگ دلارام یوور    څوبه ستائی بشری سپینې را ته ته
التفات مې‌د آسمان وماه ته لیږدی    بس کافی مې ماه ژ مینی را ته ته
دهجران تیاری‌مې کسي‌بې‌لیدو کړه    راشکا ره شه ماه جبینی را ته ته
که‌په‌رغم‌دتورو‌سپکوراشکاره کړې    تورې زلفې عنبر ینی‌را ته ته

بی‌وعدی به‌څه در نکړه یونسه
اوښې څه که زاړی وینی راته‌ته

**یا دونی:**

* یونس‌په ختم‌سوسی خیل کاکړ دی .په‌خیبر کښې اوسیده او په (یونس‌-خیبری ) هم‌مشهوردی .

* دپټی خزانی له‌لیکنو څخه راووځی چې‌یونس‌په(۱۱۰۰ هجری،قمری) کال زیږیدلی‌دی چه همدا دخوشحال ختک‌دوفات‌کال دی ..دپټی خزانی دلیکلو تر کاله ،یعنی ۱۱۴۲ هجری قمری پورې دنوسوړی ژوندیقینی‌دی اوښایی چې تردې وروسته یې‌هم ژوند دوام سوندلی وی .

* دیونس‌خیبری داشعارو دیوان په‌۱۳۰۶ هجری‌شمسی کال دخیږندوی عبدالله بختیانی خدمتګار په‌مقدمه اوزیار په کابل کښې چاپ شوی‌دی. دده ژوندانه او اشعارو په‌باره کښې‌په دې مقدمه کښې کافی څیړنه شوې‌ده.

# عیسی آخندزاده

دابیله هغه‌عیسی‌دی چه‌د مخه‌ئی ذکرشوی- داشاعر وروسته‌تر (۱۲۵۰ هجری ژوندی واو دپیښور دهزاره په‌دوه‌یال کی اوسیده .اشعار اوافکارئی واړه مذهبی اوصوفیانه دی.

د کلام نمونه‌ئی :

بدله

دشال میرمنی مکړه رټل

دشال میرمنی وایم یو حال غوږدې کښیږده په دی مقال
ستاپه‌یاری کی شوم بی‌مجال درب دپاره دارو فی الحال
ژوندون‌می‌گران‌شو ته‌کوی‌سوال
دشال میر منی مکړه رټل

په‌دواړه لاسه کوم سلام پسله سلامه ، دغه کلام
زمونږ په‌مینی خبرتمام په‌نن‌سبا کښی شومه، بدنام
هوښیاری ژرراشه یوځل
دشال میر منی مکړه رټل

یادونی :

* په‌دې کتاب کښې تر دې دمخه دشیخ عیسی( مشوانی) ذکر راغلی‌دی.
* دپښتانه شعراء لوسړی ټوک دری خلوېښتم شاعر هم (عیسی اخندزاده) دی مګر دا او هغه سره فرق لری. هغه‌د کندهار ‌ کاکړ او دد یوان خاوند شاعر دی .

* ددې شاعر دشعر سر داسی دی : (دشال میـرمنی مـه کـړه رټل) دا کیدی شی چه‌شاعر هغې میرمنی‌ته خطاب کړی‌وی چه شال‌یی په‌سروی او داهم کیدی‌شی چه‌مطلب‌یی ، دکونړ دشال دکلی اوسیدونکې میرمن‌وی.

# ملاشیر محمد هوتک

شیر محمد آخندپه‌قام هوتك اوپه ۱۰۹۲ هجری په قند هار کښې پیداشوی دی دخپلې زمانې دمشهورو علماو څخه حسابیږی په ځوانۍ کښې دهرات او دایران په‌مشهوروښارو کښې دتحصیل دپاره اوسیدلی اوو روسته دتحصیله په‌قندهار کښې اوسیدیء اوپه‌تعلیم اوتصنیف باندې بوخت و. شیرمحمد آخندپه فقهه تفسیر اصول او داسې‌نورو علمو کښې خوراتکړه و. آیات او احادیث‌ئې په‌ښه‌آسانه ژبه په‌نظم‌ترجمه کړی دي سره‌ددې‌په علمی‌تدریساتو او تالیفاتو مشغول و . ځینې ښه اشعار هم لری . دادی چه یو دهغو نه‌دنخښې‌په‌دول را نقل شو .

| | |
|---|---|
| نه دی جسم نه جوهر دی | نه عرض نـه مصـور دی |
| نه‌معدود دی نه‌محدود دی | نه‌معدوم دی نه‌مفقود دی |
| نـه بالادی نـه پائیـن دی | نه یسار دی نه یمین دی |
| بی له ځایه بـی مکـان دی | بې له‌وخته بې زمان دی |
| نه تغیر کانـه بـد لیـږی | نه له چا سره یو کیږی |
| که ملك که جن که بشر دی | له حیرته کورو کر دی |

یادونه :

* ملاشیر محمد هوتك دپښتانه شعراء لـومړی توک (۳۳ م) شـاعر دی چه هوری دده دوفات نیټه (۱۱۷۰هـ ق) کښل شوی‌ده .

* د(فرهنګ زبان وادبیات پښتو) دلیکنی له‌مخه‌ددې شاعر زیات آثار پاته دی ،لکه اسرار العارفین تجوید افغانی ،رساله میت ، شرح ابیات مستخلص اونور

# شیر محمد ننگرهاری

شیر محمد ننگرهار له خوا یو طالب العلم و، چه پر له (۱۱۰۰ ه) ژوندی او ددینی علومو په تحصیل بوخت و. ده ډیر دینی او اخلاقی اشعار ویلی دي خو موږته لږ را رسیدلی. د شیر محمد سوانح او د ژوندون وقایع ډیر نه دی ښرګند له دی، قطعی ښځه ئی شاعرانه تخیل اود ژوندون ډول ښه ښکاریږي.

یالیتنی کنت ترابا

یاګو شه وای له سره یو | پر آسمان باندې سحاب وای
یاعاشق وای پر مهر ویو | یا معشوق لکه آفتاب وای
چه نه دا شوی نه هغه شوای | شیر محمد کشکی تراب وای

یو اخلاقی بدله د شیر محمد

یو بیان به د رته وایم مختصر | نه ئی یاد لره دایم د زړه په سر
خدای اوسرګت همیشه یادلره مومنه | چه تر دانه نصیحت نشته بهتر
کته داو ظیفه و نیسی محکمه | په خپل زړه کښی به ئی بیاموی اثر
بل خوراک پوشاک حلال کوه غافله | له کلی حرامو و نیسه حذر
له دروغه له غیبته خان نگاه کړه | چه غیبت دی تر زنا دی لا بتر
دمؤمن آزارول هیڅکله مه کړه | چه مومن ازاروي خدای ئی سقر
پر مخلوق باندی زړه سوی کوه مومنه | هسی نه چه په خوله خوروپه زړه ئی سخر
ظالمی او نا حقی پر هیڅ چا مکړه | دظالمو به خدای و اړوی دفتر
داستاد مور او پلار خدمت دایم کړه | هم عورته دی خدمت کاد شوهر

تل د خدای پر نعمتو نوشکر وا یه     و بلاو ته ئی صبر کړه سپر
ځو ژ و ندي ئی‌ته طالب‌د علم اوسه     په‌طلب دعلم گرځه در په‌د ر

«شیر محمد» دامنگیر اوسه د علم
چه د ا علم ستا رهبر دی مقر ر

یادو نه :

ملا شیر محمد ننگر هاری د پښتانه شعر اءد لومړی ټو ک (۵۸) شاعر ان .

# شاه‌حسين هوتک

شاه‌حسين هوتک دحاجي ميرويس خان مرحوم زوی، اود ښاغلی ريالی شاهنشاه محمود هوتک کشر ورور و.

هغه وخت چه د ۱۱۳۵ په حدود وکښې شاه محمو د پر اصفهان يرغل کاوه شاه حسين په کندهار کښې ؤخوچه نادرشاه افشار قندهار محاصره کی هلته‌شاه حسين پاچاؤشاه حسين دنادرشاه‌په‌مقابله کښې‌ډيره‌ميړانه ښکاره کړه.

دا ميړني او زلمی پاچا لکه خپل پلار او ورور‌د پښتنو الي اومړ انی په صفتو متصف واوعلاوه پرهغه دانګيالي پاچا دسلی ژبی يوښه شاعر هم دی چه هم د توری او هم د قلم خاوند دی. ښی ښی بدلی بی ويلی دي دده شعرونه عشقی دي او خوږوالی پکښې ښکاره دی.

دغه يو ملی بدله بی د نمونی پر ډول پيدا او وليکله شوه نوردیوان او اشعار ئی ندي معلوم.

بدله

نن دی‌اوربل پرسپين تندی باندی‌راخپور کی * بل دي پرما اور کی

* * *

را شه دلبری ته زما دزړه کتره بی! هم ته ښا يسته يی

زړګي می وينی، ته دناز په ننداره بی! د ګل دسته بی

داستا په‌عشق کښې‌می‌پردی‌خپل کلی کور کی. بل دي پرما اور کی

* * *

تندی دبر يښی دسپوږمی‌په شان دی سخ دی پيزو اندی زانګی

که‌سي نصيب سوی زما بخت‌به لوړوی سخ دی تپ می د سانګی

دی پر هارونه می زړگی په عشق نسکور کیء        بل دې پر مااور کیء

*   *   *

دخدای دپاره یو وارگوره چه خورنگ سومه        په وینو رنگ سومه
دخپل پردی پیغورو نو وسوم دنگ سومه        په عشق کښې ملنگ سومه
داستا د عشق له تورهتو رسوم سخ می تورکیء        بل دې پر ما اور کیء

*   *   *

زه که پا چا حسین هوتک یم ستاگدایمه        په واویلا یمه
داستا له عشقه زه په دوه کونه رسوا یمه        تل په ژړا یمه
خپل او پردی می ستا دعشق د گورپیغور کیء        بل دې پر ما اور کیء

یادو نې :

دشاه حسین هوتک نسبتاً مفصله پېژندنه په پټه خزانه (د ۱۴۱/۲، ه،ق تالیف) کښې هم شوې ده. شاه حسین هوتک د پښتا نه شعرأ لومړی توک (۳۶) م شاعر دی چه هلته دوفات نیټه یې (۱۱۵۲) تخمیناً ښودل شوې ده.

سانگه ـ نیزه .

خورنگ ـ چورنگ ـ زخمی ، زهیر ،

# بابوجان لغمانی

دبابوجان حال لږ ډېر د رضوانی په شکرستان کی څه هم د راورټي په گلشن روه کی ښودل شوی. رضوانی د بابوجان لغمانی له دیوان څخه څو نمونی را اخیستی دی دا اشعار په کلاسیکی ډول د غزل او قصیدې په اسلوب لیکل شوي شکرستان نه دا معلومیږي چه دی یو بل دیوان هم لري بل یو قلمی دیوان چه د بابوجان په نامه دی کتل شوی چه نیم مقفی سبک لری دې نه دا معلومیږی چه دا دیوان او هغه چه نمونې ئې په شکرستان کی لیکل شوی بیل بیل دی ښائی دا دواړه آثار د گوښي گوښيو شاعرانو د بابوجان په نامه وي یا دیوه بابوجان چه د لته ئې ذکر کیږی.

د دې آثارو څخه دومره معلومیږي چه بابوجان د دینی علومو ښه ملا ؤ ځکه په دغه آثارو کښی د تفاسیرو د روایاتو اشاری شته د کلام له طوره او ډوله داسی څرگندیږی چه دا خند درویزه په پیړۍ کی وړاندې وروسته تیر شوی وی ، مونږ ئې له مقفی اشعارو څخه لاندی نمونې نقلوو:

سینه ستا کړه‌د دنیامینی لتاړه — دزړ سینه‌دی تمامه پسی‌لاړه

د د نیاله مینی هسې مبدل شوې — خه‌دروغ الابلادی کړه په غاړه

محرمان‌مستحقان‌دی نامحروم کړه — دحرام پوښتنه نکړی هر خه‌نغاړه

خغه مال‌به‌دې بلاشی سیا سرخه — لکه‌خوګ‌خنزیرپلنګ وو څی‌له‌چاړه

تابه بیاموبی‌په‌دوسره‌ډیر عالم کی — ستابشر به‌په سوسو نو کړی‌لتاړه

په‌ښکرو نو به‌دی وا خلی‌یوتر بله — هیڅ ذره‌به‌دې پری‌نه‌ږدی بی‌ګذاره

په‌صورت‌به دی داغونه که‌له‌اوره — په‌عذاب به‌دې بشره کاګرفتاره

انبیا له‌بخیلانو روی ګردان دی — عرض به‌نه کا دظالم بخیل‌دپاره

دبخیل په باب راغلی ایاتونه — عذابونه به‌پرسخت کاندی‌دوباره

یادونی :

* بابو جان لغمانی دپښتانه شعراء لوسړی تو ک (۳۷م) شاعر دی .

* ددې شاعر په‌باره کښی وګوری ء:

فرهنګ زبان وادبیات پښتو ـ زلمی هیوادمل د۱۳۵٦ ه ، ش چاپ ..

* دبابوجان داثارو قلمی‌نسخه (کتاب بابوجان) دلیننګراد دختیځ پیژندنی دموسسی دخطی‌نسخو په‌کتابخانه کښی‌شته . وګوری ء :

ـ ولادیمیر کوشیف ـ دختیځ پیژندنی دانستیتوت دپښتو ژبی دقلمی‌نسخو فهرست ـ مسکو ـ ۱۹۷٦ میلادی .دنوموړی کتابخانی په مجموعو کښی دده نورآثارلکه دعای سریانی اونور ، هم شته .

ACKU

# فیاض

فیاض دخوږی او روانی طبعی خاوندی ، دی‌د مغولو په دوره کی تیر شوی او ترعیسوی اوه لسم‌قرن پوری ژوندی ؤ . ده‌دبهرام او گل‌اندامی قصه‌په پښتو نظم کړیده داقصه هیوز په کلید افغانی کښې‌شایع کړی‌ده او بیله هم‌چاپ شویده داسی معلومیږی چه‌فیاض لړی سړی دی‌چه‌دپښتو په‌شعر کی‌ئی دروسان لیکلو سبک،پیدا کړی دی داقصه دشعر له پلوه خوږه او سلیسه ده، او پښتو شعرته بی یوښه خدمت کړی دی، دلته له‌دی قصی څخه څوبیته دمثال په ډول رااخلو :

یوساعت سره خوشحاله خندیدلی بیائی داخبری سنځ ته واچولی

سراسیاوی‌گل‌اندامی بهرام نوری په‌گریبان باندی ئی اوښی بهیدلی

شپه‌اوورځ ئی‌های‌فراق دریسی‌زورشو چه‌دی زلفی‌په‌سپین‌مخ دی‌غوړیدلی

دتصویر په یونظر په تامین شو چه‌دی‌پریکړی دبهرام‌دزړگی ولی

بهرام‌داوی‌ته‌غوږ کښیږده‌گل‌اندامی دی‌جواب غواړی‌له‌تانه دچین گلی

بادو نی :

* فیاض دپښتانه شعراء لومړی ټوك (۳۸ م) شاعر دی .

* فیاض په خته مندړ یوسفزی او دعبدالحمد مومند معاصر دی .زیات تفصیل لپاره وگوری‌ء :

دپادری هیوز د کلیدافغانی تعلیقات دخیرندونی عبدالله‌بختانی خدمتگار په قلم د۱۳۵٦ هجری ،شمسی چاپ - کابل .



ACKU

# مسعود

مسعود دعبدالله زوی دښهقلم خاوندی پهشعر کښې روانهطبعهلری. دده آثار چهسو ږته راپاته دی یوادبی اثر بی دآدم‌خان اودرخو قصهده چه په نثر ئی لیکلی اوځای‌ځای‌ئی له خپلی طبعی عروضی اشعار پکښې زیات کړی .مسعود داسلی قصه‌له‌تحریفه او تغیرهساتلی‌ده. دوهره ښکاری چه‌دی دآدم خان‌عصرته (۱۰۰۰ ه) نژدې واودآدم خان‌مرثیه‌ئی ویلی دلته ددی قصی‌نه‌چه‌ذکر ئی وشو خو بیته رااخلو :

ددرخانی حال په مینه کښې

| | |
|---|---|
| چه‌سینه‌ئی‌دآدم په‌اور کباب شوه | دحجاب میرمن‌درخانه‌بی‌حجاب شوه |
| دشب قدر په خیر پټه ده له‌خلقه | وعالم ته مخامخ لکه آفتاب شوه |
| ننگ‌ناموس‌عقل‌تمیز و رځخه‌لاړشو | مسئله‌ئی درسته هیره دکتاب‌شوه |
| دآدم شرابوهسی مستی ورکړه | خلقه‌ئی ونظرو ته سراب شوه |
| هسی تاود عاشقی ور ښکاره‌شو | لکه مار په‌سلاو هلی پیچ وتاب‌شوه |
| کوه‌قاف غوندی ساکنه وه قراره | دفلك‌په‌شان دایم په اضطراب شوه |
| همره ویر په‌دی‌درخانی‌باندی‌راغی | چه‌دزړه‌خونه‌ئی‌ډوبه په‌سیلاب‌شوه |

یادونه :

* مسعود دپښتانه شعراء لومړی ټوك (۳۹ م) شاعردی .



ACKU

# درازخان موسی زی

ددې شاعر نور احوال او دژوندون وخت او سوانح تر اوسه ښه ندی را ښکاره شوي دی دومره ویلای شو چه دی دپښتنو له پخوانو شاعرانو څخه دی . ددې شاعر دغه څو بیته موږ ته رارسیدلي دي چه دلته ئې را نقلو :

ته پر څه زما په زیار او زحمت خوښ نه ئې
ښایسته ترلمر سپوږمۍ زما حبیبه

که رقیب درته ویلي زما جفاوی
دادروغ دی پخوانی دده نصیبه

یوسف رویه عنبرمویه ملك خویه
پر ئتنه زمارنځ واخله طبیبه

یادونه :

* درازخان موسی زی دپښتانه شعراء لومړی ټوك (٥٠ م) شاعر دی .

# افضل خان ختټک

افضل خان د اشرف خان زوی د خوشحال خان لمسی دی ، هغه وخت چه خوشحال داو رنګ زیب لښکروسره په جګړه و بوخت و، سغلو افضل خان دیر غمل په دول کابل ته بیولی و ،ترسنه ۱۰۹۸ هجری دوه کاله دی په کابل کښی ؤ هله چه دده پلار اشرف خان هجری په هند کښی بندی او خوشحال خان په وفات رسید ،او افضل خان پدا کوړه کښی دقوم پهمشری و تاکل شو ،دده زوی کاظم خان شیدا په خپل دیوان کښی دوفات تاریخ ئی ۱۱۸۳ هجری ښوولی افضل خان دختټکو په کورنی کښی یو لائق مشر او عالم او ادیب و ، په نثر کښی ئی ښه مهارت درلود. دده دشعر دیوان مورخینو او مستشرقینو ندی را معلوم کړی مګر نثری اثار ئی شته تاریخ مرصع ،تاریخ اعثم کوفی ، علم خانه دانش یعنی کلیله دمنه دده ښه نثری اثار شمیرل کیږی اوده نثری آثار به ییـل وښول شی دلته خینی متفرق اشعار دده دنخښی په دول رانقلوو:

داآغاز دی په نامه دهغه خدای　　چه بیځایه دی،بی دهنشته بل خای
«په تخلقوا» وخلق ته رهنمون دی　　«فاستقم کما امرت» رهنمای

* * *

په ژړا ژړا دریاب دی یاسیلاب دی　　قرار و نه کړی یو دمځای دژړادی
ستر ګوتاسو په شماره څاڅکی راتوی کړل　　د آشنا د اشنا ئی د ردهم دا دی

* * *

صورت سی هر څو که ډیرز بون دی　　که سی دمز کی دلاندی یون دی
زه به په لوری داشنا خو زم　　که یون سی هر څو په شوا خون دی

نصیحت په غوږکې کله ځای نیولی د ننوډی
شنوا به پند تری اخلی، دا کتاب دزمانو دی
شکر داچه دانامه‌سی ترسرگ و ړاندی په‌انجام شوه
دانایان په‌دا پوهیږي چه‌جهان‌سرای دلنبودی

یادونه :

* افضل‌خان خټك دپښتانه شعراء لوسږی‌تولك (۱۵ م)شاعر دیء.

* تاریخ مرصع په‌۱۳۹۳ هجری قمری ۱۹۷۳ میلادی کال په‌پیښور کښی چاپ شوی دی .

* دافضل‌خان خټك په باره کښی دنورو معلوماتو دپاره وگوریء :

- د کلید افغانی د۱۳۵۶ هجری ،شمسی کال چاپ تعلیقات - ۲۲-۳-۲۳-۲-۲۵ مخونه .دخیږ ندوی عبدالله بختانی خدمتگار خیږنه اولیکنه .

# حمیدماشوخیل

حمیدپه ختیه ماشوخیل چه‌دمهمندو یوه پښه‌ده ،د پیښو ر په لته دځړبندپه کسلی کښې و . حمیدپه‌سنه ۱۱۳۷ هجری کښې ژوندی او سپین ږیری و ،حمید دپښتو دادب دلوړو استادانو او شعراو څخه‌و ، دده د کلام شهرت او خپورولی د خوشحال‌خان او رحمن باباپه‌شان دی .او په‌ادبیاتو کښې خانته‌بیل‌مخصوص سبک‌لري چه‌و هغه ته‌سو ږ (دحمیدسبك) و یلای شو .حمیدتر خوشحال‌خان او رحمان‌بابا و روسته دپښتو په‌شعرکي نوی‌سکتب پرانیستلی دی چه‌پس‌له‌ده ډیر ادبا دده پرلارتللی‌دی .دی په‌خپل‌شعر کښې داسی ادیبانه تلا زمات او استعاری راوړی‌دی‌چه‌بل‌خوك‌دده‌دشاعرانه‌تنا مبانو وهسکی‌خوکی‌ته‌نسی‌ختلای.
دایی ښاخ له‌گل‌سره په‌تلوارپری کړ کدله زړه سرهبی‌تر کولړسونو کیښ؟

بل‌ځای وائی

چه‌ریبی‌سی بی‌صرفی دزړگی ولی کېری وروځی دی دیار که‌لوردی‌دا؟
وحمیدته‌سوږ دپښتو دژبی بیدل و یلای سو ځکه چه‌ده دپښتو په‌ادب کښی یو نوی سبك‌او ابتکار او یوه‌بیله‌خپله ښه‌لار ځانته جوړ کړی ده .

حمیدبابایو ډیر ښکلی دیوان لري او علاوه پر هغه نور آثار هم لري لکه د(شـاه‌گدا) قصه‌او د(عزیز او شاهد ) قصه . د حمید ددیوان څخه یوه غزل:

خط‌پرمخ دصنم راغی، که‌سپوږمی‌شوه په‌هاله کښې
دایی‌غابښ په‌خوله کښی‌زیب که، که ژاله‌شوه‌په‌لاله

هسې رنګ سحر و جادو که، په نظر دشهلاستر ګو !

نه ئې سیال په هند کې شته دی، نه نانې په بنګاله کښې

لاله و نسبلی سرغی په سپت دام دسلو لو سو

هسې زه پریشانو زلفو، دښې یستم په ګشاله دبی

دا زما لاغمه شین زړه پکښې خیال دیار دشو نه‌و

هسې رنګ زیب و زینت که، لکه‌سې په شند پیاله کښې

ساویل عین کمه ګل دی، دغنچې په لمن نغښتی

که سې کوت یو ګل اندام و، پروت په‌سبزه دوشاله کښې

سرتر پایه تیغ دهجر، لکه‌نی‌سوری سوری کړم

ځکه یم مدام داهسې، په فریادو په ناله کښې

ده‌یار غوارې همره ژاړه، څودرځي عبد الحمیده!

داپه‌دا چه‌درسونده شی، په‌دریاب نه‌په ناله کښې

یادو نی:

* حمید ما شوخیل دپښتانه شعرأ لوسړی تو ک (۵۲م) شاعر دی.

* دحمید دیوان چه‌په(درا وسرجان) همشهرت‌لری‌زسو نږدمعلوماتوله مخه تراوسه شپږ ځله چاپ شوی دی: (۱) په‌بمبئی (۱۲۸۷ هق کال) کښې(۲) په‌بمبئی (۱۲۹۵هق ۱۸۷۵م کال) کښې، (۳)په لاهور(۱۹۱۳م) کال کښې، (۴) په کابل (۱۳۳۰هش کال) کښې(۵) په پیښور(۱۹۵۸م کال) کښې. (٦)په کابل (۱۳٦۱هش) کال کښې

* دحمید (دشاه وگدا قصه) یو ځل په بمبی او بل ځل په پېښو ر(۱۲۹۹ ه، ق) کښې چاپ شوی ده.

* دحمید یو بل اثر (نیرنگ عشق) یو ځل په هند کښې (۱۲۹۹ هق کال) کښې او بل ځل په کابل (۱۳۴۹ ه،ش) کال کښې چاپشوی دی .

* دحمید بو یل منظوم اثر شرعةالا سلام نو میږی چه یوه نیمگړی قلمـــی نسخه یې دافغانستان دعلوموا کادمۍ په کتابخانه کښې شته.

* دزیاتو معلو ماتو دپاره وگوری : د کلید افغانی تعیقات ـدخیر ندوی خدمتگار بختانی په قلم ۲ه-۵۳-۵۳-۵۵ مخونه- ۱۳۰۶ کال چاپ کابل او دحمید په دیوان مقدمه دزلمی هیوا دمل په قلم- کابل ۱۳۶۱ ه ش

ACKU

# خان گل

خان گل په قام خلیل وچه سنه ۱۱۰۵ کی دپښور په خواوکی اوسیدیء. چه له مشهورو شاعرانو څخه دی، اود حمید ماشوخیل سبك تللی اود هغه لو ړ شاعریی څخه زده کړه کړیده .

بدله

داحسینه پری سسته په خوا راغله ... که و ماځکی ته سپو ږمی دسمار اغله

په رو نتوب زما داوښو شبنم نه دی ... غو نچه خو له چه دگلر خ په خندا راغله

دجنو ن ځنځیر سی پر یو وټ و گردن ته ... چه په ز ړه سی ستاد زلفو سو داراغله

چه دی تیغ دغمز ی و اچاوه و څنګ ته ... ز ه هغه ساعت پر ی پوه شو م قضار اغله

چه ژ ړ ابه سی لمن لنده و ی ډیره ... که څر گنده سی په سترگو شنهار اغله

چه سی سترگی و لو یدی پر تا شهید ... پر ز ړه باندی باندی سی یوه بله بلار اغله

خان گل، گل دمضمو ن تو ل تر هسی حذ کړ

چه بلبله دپارسی په ژ ړا راغله

رباعی

ببل هر چاته ، داخبر و نه کا ... وخت دبهار شو ، غو تی گلو نه کا

پسر لی دهغو ، چه یار تر څنګ لری ... هیواد بیل شوی ، لارمانو نه کا

* * *

یادو نی :

* خانگل خلیل دپښتانه شعراء لو ړی توك (۵۳ م) شاعر دی .

* (دخانگل خلیل څوشعر و نه) دښاغلی زلمی هیوادمل په زیار اومقدمه په ۱۳۶۰ هجر ی، شمسی کال دافغانستان دعلومو دا کا دمی له خوا چاپشوی دی چه په هغه کښی دنو مو ړی شاعر شل پارچی شعر و نه راغلی دی .



ACKU

# قلندراپریدی

قلندراپریدی دی چه‌په‌اپریدوکی استیدیء. قلندردعبدالحمید معاصر دی چه‌په‌سنه ۱۱۰۰ هجری کی ژوندی و، دی‌پخپله دحمیدبابا معاصر توب‌او شاگردي منی .لکه‌چه‌وائی:

دپښتوژبی په‌شعر په‌داخپله زمانه کښی‌پری‌دي‌نښو قلندره‌بی‌حمیده بل‌حریف

قلندریوعاشق اومین شاعر و لکه چه پر(میرا) باندي عـاشق و دقلندراو میرا دعشق‌اومینی قصه‌په‌پښتنوکی مشهوره ده .

قلندرخپل دیوان لری : دکلام نمونه‌یی:

داپه‌خواب کښی‌راحضورشوددلبرمخ — که‌په‌ابرکښی‌ښکاره شود قمرمخ

چه‌یی ولیده د استا جوهر دغاښو — پټ‌له‌شرمه‌په‌خپل‌آب کښی کړگوهرمخ

له حیا دی غټ وسخ ته کتی نشم — کله‌لید په خوږوسترگوشی دنمرمخ

راپه‌یادچه‌دی‌دسروشونډوخواږه کړم — ټکوم لکه مگس عبث خپل سر مخ

که‌سی‌ورولی دورك اشنا تروره — ځکه نسم زه وتلوته درهبر مخ

قلندر دمیرا هلته عاشق بوله

که‌یی‌و نیوستابانوته‌دتیرمخ

یادونی :

* قلندراپریدی دپښتانه شعراء لومړی‌توك (۳۰۳) شاعردی .

* دقلندرپه‌باره کښی‌زیات‌تفصیل‌دپاره‌وگوریء دکلیدافغانی د۱۳۰٦ هجری، شمسی کال‌دچاپ‌تعلیقات ۷۹-۸۳ مخونه ـ دخیرندوی خدمتگاربختانی‌لیکنه. دقلندرديوان ، دزلمی هیوادمل په‌مقد مه اوتعلیقاتو په۱۳۰٦ هجری،شمسی کال چاپشوی دی .



ACKU

# میرا

میرا د قلندر مرشد او مین او دوست و، چه تفصیل ئې «د قلندر» په برخه کښې تیر شو، ښکاریږي چه قلندر د میرا سره عشق درلود، خو میرا هم د قلندر مینه په زړه کښې وه، مګر د قضا لاس دوی سره بیل کړي او په بیلتون ئې لړلي وه.

میرا هم د قلندر په مینه کښې داو ره ډکې ناري لري، چه دی هم تر (۱۱۰۰) هجري وروسته اوسیدئ، لاندې یو څو ناري د نموني په توګه لیکو:

چه قلندر مړ شو، او میرا ته له لیري دده د ګران یار د مرګ الهام و سو، نو را رهي سو، پر لارې یې دیوه بز ګره څخه د قلندر پوښتنه و کړه، هغه و رته و ویل چه قلندر یې پر هغه غونډۍ ښخ کې، میرا ناره پر و کړه:

کښېنت دي شين کيږه بيا ريبل کيږه غنم دي سڼ او خر وار کيږه
زما د يار احوال خو د ي را کيء بل په ايمان دي ډير فضل کيږه

چه پر غونډۍ راو خوت هوسۍ ئې ولیده نو ئې ناره پر و کړه:

هوسيه! و خوري دستر ګو توري پر لوړو لاړه ښکاريان په ګوري
ښکاريان لا کله د ګور بند يان شوه خزې ولاړې دي تشي توري

پر غونډۍ سر بیره د قلندر کوډله و لاړه وه، نو میرا دده په یاد داسې ناره و کړه:

که خا صه خاصه د لبره خاصه خيمه دي نجنۍ د لوړ د پا سه
ستا د اجل سپايان چه را غله د پرك يي و خوت خيمه پري با سه

تر دې وروسته ئې د قلندر پر قبر داسې ناري او غلبلي و کړي:

د سوات په سر کښې زما دلبر دی دی په ښايست کې شمس و قمر دی
يارانو راسيء کې ديدن کانديء ديار ديدن وي ء حج اکبر دی



ACKU

دمیرا و روستنی ناره

خدایه دا مځکه پاره‌پاره کی پردیس لالی زما راته ښکاره کی
په‌بیلتانه کی الوي مکوښسوم یووا ربی دید بیار اسره وکی

وائی‌چه‌تر دی ناری و روسته میر اهم دمینی په جذب او کشش مری، او د قلندرسره یو ځای ښخیږی :

یادونه :

* میرا دپښتانه شعراء لومړی توك (۵۵م) شاعر دی .

# غلام محمد

دغلام محمد دژوندانه پته چنداني ښه ندی معلوم اما دمسترر اورټي په قول چه دی دعیسوی په اوه لسم قرن کښی ژوندی و. د غلام محمد وینا ساده او عموماً مثنوی په ډول دي .دوالضحی سورت ده په نظم سره تفسیر کړی او هم نوری قصی اوحکایتونه ده په نظم سره راوستلی دی . دده دغه بیتونه دلته دنمونی په څیر و ولیکل شوه .

دکلام نمونه

هسی وائی دصدیق په خلافت کښی | یوسړی و ډوب تمام په معصیت کښی
ډیر فاسق زاني میخور ډک له عصیان و | نقل کړی ده له دی فانی جهان و
هغه شپه صدیق په خوب کښی ولیدلی | شاهانه تاج ئی په سر و ځلید لی
ابو بکر ځینی و کړ له پوښتنه | داعزت دی په څه بیا موندله ښتنه
ته په فسق اوفجور هر چرته سعروف وی | بیرون تللی له نیکیه له وقوف وی
غه سړی ورته عرض وکړای صدیقه | داخبر ربښتیا وتاته کړم تحقیقه
یوه ورځ هر گوره وړی بی قوت وم | کورته تللی دسړی خوړو په نیت وم
چه سړی می په لاسونه وا خیستله | هغه وخت فقیر پرسا ناره وکړله
غه سړی می هغه وخت فقیر له ورکړه | زه هم هسی وږی کښیناستم باور کړه
او هغه سړی دلی زسا په ښه شوه | راوستم ئی تردی ځایه هم می مله شوه

یاري خدای می راسعاف کړه گناهونه
رائی وبخښله وا ړه نعمتونه



ACKU

یادونی :

* غلام‌محمد دپښتانه شعراء لوسړی ټوك (۶۵م) شاعردی .

* همدغه‌شاعر د(غلام‌محمد ګگیانی) په‌نام دزلمی هیوادمل په‌تالیف(فرهنگ زبان وادبیات پښتو) ۳۶۲م مخ کښې‌معرفی شوی اودهغه تالیفات یی : (جنگلنامهٔ معراجنامه، تفسیر والضحی، دسیف‌الملوك قصه اودعزازیل‌قصه) ښودلی دی .



ACKU

# حمید گل

حمیدگل دپښتو دمشهو ر، شاعررحمان باباخو ر یی دی.چه پیښورته نږدی په پلوسه کی اوسیدی، رحمان بابا پهسنه ۱۱۰۰ ه ژ وندی و ونودی هم په دغه سنه کی ؤ حمیدگل پهملی لهجه ښې ښې بدلی و یلی دی،او دده بدلي په پیښنو ر ،قندهار ،فراه کی هم پښتانه وائی.دحمیدگل دغه بدله له خو را مشهو ره ده چه پښتنانه یې په لو ړ آوا ز وائی:

بدله

یا ټیک ستا پر جبین دی　　یـا ستر گه د سباده
یا جام دچین ماچین دی　　یاسپینه خوله زیباده
یـا عـطـر د گـلا بـو　　یـاستادسخ خولی دي
یـاتـوري دپـولا دو　　یا ستر گی دلیلی دي
یا کیف دی دشرابو.....　　یا بنگ دبنگا لی دي
یـا هجر سختر یـن دي　　یـاتـبـه یـا بـلاده
یا ستا خو ږ ی خبر ی　　یاقند د سمرقند دي
یا شونډې دې نادرې　　یادخرما و و خوندی
یـا پـو لا دی زغری　　یاستاداو ر بل بند دی

یا ستا کمیس گلگین دی
یـا د و ز یر قبا ده

یا ما شیت پنځلسی د ه　　یا ستاتندی روښانه
یاعرش لاندي کرسی ده　　یا ستا زرین دالانه

ACKU

یاستادلاس‌ترسی‌ده ....  یا تخت د سلیمانـه

یالاس دهیتبین دي

یا د موسی همسا ده

یاستاسترگی رنی‌دی ....  یاستو ری‌د آسمانه

یادکابل سنی دی ....  یاستا سپین زنخدانه

یاد طاوس بنی‌دې ....  یازلفی دېشان شانه

یا خوندی‌دانگبین‌دي

یاستا خوله سربا ده

یاباغ دښکلوګلو ....  یاستا ښکلی کاکل‌دی

آوازد"ی دبلبلو ....  یا زړه د حمیدګل دی

یاداسرغ ززین‌دی

یا هغه محبا باده.

دپښتانه شعرأ لوسړی تیوك (۵۸م) شاعرحمیدګل‌دپلوسی‌دی

* چه شعراو پیژند نه یی ددارمسترد پښتونخواشعر ها روبهارشخه اخستیل شوی ده.

# کاظم خان شیدا

کاظم‌خان دافضل‌خان ختټکزوی او دخوشحال خان ګروسی دی،چه‌په ۱۱۴۵ هجری کال زیږید لي ،او په‌زلمی‌توب کښې لمړی کشمیر او بیاسرهند ته تللی‌او ډیر عمر ئې په‌رامپور کښې له خپله ګرانه وطنه‌لیری په‌بیلتون تیر کړیدی. شیدا په‌پښتو کښې دیوه بشپړ دیوان خاوند دي،چه‌په(۱۱۸۱) هجری‌ئې دعمر پر (۳٦) کال خپل‌دیوان تمام کړیدی.تر (۱۱۹۱)هجری کال پوری لاشیدا ژوندی و ، تر دی تاریخ وراوروسته نو وفات شوی‌دی .

د شیدا شعر ډیر خوږ او خورا نازکخیال شاعر دی،دی‌دحمیددسبك مقلد ګڼل کیږی. او په‌پښتوئې دپارسی دسبك هندپر ډول ډیر غزلیات او قصائد اورباعیات، اونورنورله دشعر اقسا ، ویلی‌دی ـ لاندی دده له‌دیوانه یوڅو نمونی رااخلو .

غزل

کەساقی تلخه باده دریای شور کا | دفلك‌په‌جام بدست کله سیخور کا
آراسته دی تل محفل دخنده رویو | زمانه به‌دګل‌جام‌چه‌رنګ‌نسکور کا
چه‌په‌لاس کښې‌ئی‌تل‌چوب‌لکه‌شانه‌وی | بی‌افسونه به‌نیول دتورمنګور کا
دل تنګی کړم لکه ګل‌په خندا ورکه | کەسی‌بل دسبا بادپه‌خونه اور کا
چه‌په‌سرئی سبزآسمان زری دستار ږدی | عاقبت ئی لکه شمع بیاسرتور کا
لکه ګل کړي ګران یارتر دامنی | باددي خه‌لکه‌غبار په کتف‌سور کا

چه امید پخپل صورت دوفانشته
«شیدا»خوك دخان‌آشنایائی خسور کا

چه دهند سبزوخوړلی پان دی　　لعل و یاقوت ئی دواړه لبان دي
ز ر کی چه گر ځی دروه په غرونو　　ښایسته روغی په دغه شان دي

*　*　*

هغه چه اهل د وفاوي　　لکه عصا دصاحب عصاوي
په اعانت کښی تل یو دبل وی　　که ایستاده وی، که رهپیماوی

*　*　*

نشــو د ونــو رنــا د گــلو ده　　نوا په باغ کښی بیاد بلبلو ده
خوبان په رقص سطر بسر و د کاندي　　زما په لاس کښی مینادسلو ده

*　*　*

یادونې :

* کاظم خان شیدا دپښتانه شعراء لو سړی توك ۹۵ م شاعر دی .

* دشیدا دزیږیدو ذکرشوی نیته دپښتانه شعراء لوسړی توك له لیکنی سر برابره ده ،سگر دشیدا ددیوان دچاپی مقدمو له مخه، چه عبدالروف بینوا او همیش خلیل لیکلی دی ،شیدا د ۱۱۳۰ هجری،قمری په شاوخوا زیږیدلی دی.
تراوله پوري دشیدا دیوان دري ځله چاپ شوی دی :

(۱)ـ دعبدالروف بینوا په مقدمه ـ کابل ـ پښتو ټولنه ـ ۱۳۳۱ هجری شمسی.

(۲)ـ دهمیش خلیل په مقدمه ـ پیښور ـ ۱۹۶۵م .

(۳)ـ دډاکترسیدانورالحق په زیار، دهغه، سولاناعبدالقادر، امیر حمزه

شینواری او ډاکټر غلام جیلانی برق پهمقدمو لهاردو ترجمی او تشریح سره پیښ‌ور .

*ـ سربیره پرنوموړو مقدمو دزیات تفصیل لپاره وګورئ:

ـ دکلیدافغانی د۱۳۵۶ هجری، شمسی، کابل چاپ تعلیقات، دخیرندوی عبداللهبختانی خدمتګار لیکنه .



ACKU

# محمدی

محمدی دسیاعمر خمکنی زوی و، چه‌دپیښو ر په‌خو کنو کښې اوسیدی‌ءاود پښتو په شاعرانو کښې دخوږی او ښې‌طبع، او ښو اشعار و خاو نددی،محمدی د(۱۱۵۰) هجری په‌حدو دو کښې اوسیدی‌ء، او د کاظم‌خان شیدا معاصر و د محمدی داشعار و دیوان و رك،اوسو ږته‌ئی فقط یو څو بدلی‌پاته‌دی .

محمدی په‌شعر کښې دحمیدمهمندپر سبك ځی، او ناز کخیال شاعر دي،دده له اشعار و څخه‌دابدله رانقل کوو :

غزل

هیڅ په‌عقل په‌تدبیر نه‌دی نصیب　　چا ترلی په ز نځیر نه‌د ی نصیب
ستو ري‌و الوزي که‌هر څو لمر به‌نشی　　دپادشاه بخت دفقیر نه د ی نصیب
په‌سینه کښې می‌زړه نښه‌در ته تل‌دی　　د کړو ښو ستاتیر نه د ی نصیب
دتصو یر غنچه په باد گل‌شو ی‌نه‌ده　　چه‌هوس دزړه ز هیر نه‌د ی نصیب
ستادزلفو دري ډیر ډیر کار سم کړه　　لاد سپی غماز تعز یر نه دی‌نصیب
پتنگ هسی ځا ی د شمعی لمبې وسو　　چه‌د چاله‌خو لې‌ئی‌و یر نه‌دی‌نصیب
یادخه دو ږه‌ده‌په سو تې کښې را وړی　　د حباب د کو ر تعمیر نه دی نصیب
ستاپه‌زلفو کښې‌دابندزړه‌خواست‌له‌چا کړ　　چه خلا صی‌ددی اسیرنه دی‌نصیب
د ښوقلم ز ما په ا و ښو لو ند د ی　　لادغم دحال تحر یر نه‌د ی نصیب
کوم یو سیخ ده د لا له سینه د اغلی　　چه‌سر هم ئی د ضمیر نه‌د ی نصیب
محمدی‌او ښی‌می‌غم‌په مخ جاری کړ ی　　و د ریده ددې بهیرنه دی نصیب

ACKU

یادونې :

محمدی صاحبزاده د پښتانه شعرا لومړی ټوک (۰۶م) شاعر دی

محمدی صاحبزاده په ۱۱۰۹ ه،ق کښې زیږیدلی دی او په ۱۲۲۰ ه،ق کښې وفات شوی دی. دده تر نظر لاندې د پښتو ډیر دیوانونه د هغو خټخطاطانو لیکلی دی.

د محمدی صاحبزاده په باره کښې د زیات تفصیل لپاره وګورئ.

(۱) ـ خیږندوی عبدالله خدمتګار .

ـ د کلید افغانی تعلیقات ـ کابل (۱۳۵۶ ه) ش چاپ .

ـ پښتانه شعرا څلورم ټوک ـ میاځد عمر د څمکنو ـ کابل ـ د ۱۳۵۷ ه، ش چاپ کابل مجله ـ د ۱۳۵۵ ه، ش اوو

(۲) ـ عبدالحلیم اثر افغانی ـ روحانی رابطا و روحانی تړون ـ پښور ـ ۱۹۶۵ع .

(۳) ـ پوهاند عبدالشکور رشا د میاځد عمر د څمکنو ـ کابل ـ ۱۳۶۰ ه،ش

# علی خان خټک

دخوشحالخان د کورنۍ یو مشهور ادیب اورنگیالی خان دی چه د ۱۱۰۰ ھ کال و روسته هم ژوندی و، دی دمحمد افضل خان خټک زوی و دخوشحال خان کړوسی کیږی چه دخپل پلار دسرگه وروسته په خټکو کښې د پلار په ځای و دريد او ډیر موده په اکوړی کښې خان وو بیادتر برو د بدي او تریګنی په سبب له وطنه و رکډاو دسند په بله خوا کښې الونیاسو. علی خان دخپلی نو رې کورنۍ په خیر ښه نوموړی شاعر او ځانته ښکلی دیوان لری چه اوسنۍ نسخی ورکی دی او نه سیندی لی کیږی، سره ددې د پښتنوو روستی شاعرانو دده دشعر په رنګین تیاقائل او دی دخیال شاعر او پیاوړی ادیب بولي، لکه چه دقندهار منلی شاعر شمس الدین و ائی:

دعلي‌خان‌په‌رنگین‌شعرکه خبرشی هرغزل بی‌دی تنهادیوان دشعر دالا ندیني‌شعر دعلي‌خان‌ده‌ير و اشعار و څخه دی چه‌دلته دنخبني‌پر ډول وليکل‌سو:

د کلام نمونه

پیښو رسی ، همه‌گی پسی پره‌کا بیاسی‌نه مونديی‌رقيبه ددلبر مخ
که‌دزمکی مخ ئی لاندی‌تر قدم‌شی څو ک‌به بیاموسی‌له‌مخه‌ستابهتر مخ
چه له‌مخ سرمسیالی کا د دلبرو ځکه خپرشو تند رووونیو دقمر مخ
چه‌په دائی پایه نه‌نیمگړی کیږی شپېر ک غریب که‌نه‌گوری دنمر مخ
بي دستاله ښکلی مخه ستاپه‌مخ رو چه‌په‌کار د علیخان نه‌دی‌دیگر مخ

* * *

ستاجفاخوقبلوم دلی ترکومه ؟ دوفا زړه‌صبروم و لی‌تر کومه ؟
ده‌یرظلم حال دی‌نه وایم‌وچاته تول‌په‌زړه‌کښی خایوم‌ولی‌تر کومه؟
په سپیودستر گوزما و به داوښو رنځورزړه ته‌څخوم‌ولی‌تر کومه؟

یادونی:

علي‌خان خټک‌دپښتانه شعراء، لومړی‌تو ک (۶۱م) شاعردی.

دعلي‌خان‌دیوان دقاضی‌عبد السلام زیارتی په تحشیه په ۱۳۵۹ ه، ق کال په‌لاهور کښی‌او بیادسیدتقویم الحق کاکاخیل په مقدمه او تعلیقاتو په‌پیښور کښی‌چاپ شوی‌دی.

# خوشحال خان شهید

دلوی او مشهور خوشحال خان ختک له کورنۍ څخه یو بل نوموړکی ادیب او شاعر خوشحال شهیددی چه دسعدالله خان زوی او داشرفخان کړوسی ګڼل کیږی . دی په هغه وخت چه اعلیحضرت احمد شاه بابا لمړی پلا پیښور ته ـ لاړ خوشحال خان ئی پر هغه ځای حاکم ودراوه ، او وروسته دانګیسی دسرحدی په جګړه کښی داخل او هوری شهید شه .

ددې شاعر پرته ددغه څو بیتو چه په یو پارسو کتاب کښی چه په ۱۱٦٦ د ـ ختکو په اکوړه کښی لیکلی شوی دی موږ ته ندی معلوم نو دده دغه اشعار دنمونی پر ډول دلته لیکل کیږی:

د کلام نمونه

زه چه مست په لب د یار یم هیڅ حاجت د شراب نشته
اور د عشق سی زړه کباب کړو هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن سی وچ لرګی شو، رګ سی تار و رباندی پریوت
زیر و بم آواز تری خېږی، هیڅ حاجت د رباب نشته

پرپرهار نمک پاشی کړی، چه پرسش کوی له مانه
حال سی خود و ر نه معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم، نیش کړم په مز که باندی
خان سی ور کړ ستا په عشق کی، هیڅ حاجت د قصاب نشته

---

یادونې:

۱) خوشحال خان شهید د پښتانه شعراء لومړی توک (۲۶۲م) شاعر دی. هلته
د ده یو بل غزل هم شته.

۲) د «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» په روایت نوموړی د سعادت خان زوی او
د افضل خان نمسی دی او د ۱۱۶۶ ه، ق په شاو خوا کښې مړشوی دی......

# کاظم

د دې شاعر پر ته دیوی بدلی چه په کلید افغانی کښې لیکلی شوی ده نور دیوان او اشعار ئې چیری نظر ته ندی راغلی. کلام ئې روان، خوږ او تأثرناک دی. دی د مشهور ختک کاظم خان شیدا د معاصرینو څخه ... دی او د دی شاعر تصدیق پخپله کاظم خان شیدا هم کړی، لکه چه د خپل دیوان په مقدمه کښې د خپل تخلص د غوره کولو په نسبت داسی لیکی: «چه په دغه عصر کښې زما په نامه یو بل کاظم هم شته چه هغه هم شعر وائی، نو ددی له پاره چه زما شعر د هغه د شعر سره مشتبه او گډ نه شی نو ما د شیدا تخلص غوره کړ.»



ACKU

ددې‌شاعر د کلام نمونه هم دغه بدله ده چه دلته ولیکله شوه:

ستا په دو رگلستان شو له ماپاته

سیر د گلو د بوستان شو له ماپاته

په ژړا کښې چې زړه نرم لکه سوم شو

هغه سخت خاطر سندان شو له ماپاته

له قالبه سرو ر شو راتله نه کا

په کوخه کښې دیار خان شو له ماپاته

هسې شان شوم په هجران کښې بې طاقته

آه فریاد ناله افغان شو له ماپاته

د مجنون په دود مې خای په ویرانه شو

کورا و کلي خانمان شو له ماپاته

زه غنچه غوندې خندان ورځنې لاړم

آه افسوس «کاظم» گریان شو له ماپاته

یادونه:

---

کاظم د پښتانه شعراء لوسړی تو کی (۳۶۳م) شاعر ان چه هلته بې لنده پیژ ندنه

او د شعر نمونه دیادری هیوز له کلید افغانی څخه اخیستل شوې ده.



ACKU

# معز الله

معزالله د پښتو د ښه خوانو د ښو شاعرانو څخه بلل کېږي، دی د عبدالقادر خان خټک معاصر دی چه د (۱۱۰۰) هجری کال په شاوخوا کښې ژوندی ؤ د معزالله له اشعارو څخه داخبر ګندېږي چه دی یو عالم او ادیب سړی ؤ او په ادبیاتو کښې ئې ښه لاس درلود ، و یلائي خوږه او نریو تلا زماتو او ډیر و بدایعو ته که ده سره ددی چه په کلام کښې ئې ښه نزاکتونه او ادبیانه مزایا سته مګر سلاست او رواني هم لري

معز الله د پښتنو شاعرانو په تاریخي مشاعره کښې لویه برخه لري. ده په هغه مشاعره کښې چه د عبدالقادر خان په خواب یو مخوږه بدله ویلې ده چه موږ یې د نمونې په ډول دلته لیکو:

لیونی کړمه عالم ته مستادستر ګو افسون هسې
خدای زما تر لاسه راکړ دادولت د جنون هسې
څو رجفاله او سه نه دي دخوبانو په عاشقـــو
له ازله مقرر دی د دی قوم ترون هسې
که ومخ و ته ئې ګوری یو ه شمع کافـو ری ده
په کړوورو خوئي څیر شه د لـو ګی دی نمون هسې



ACKU

دعالم وسعت که کوری تردوه گامه زیاتی نه‌دی

لکه راغلی په پوښتنه تری‌به ووځی بیرون هسی

ثمره‌دنیک خوئی ده‌چه‌عیسی‌په‌آسمان وخوت

لابه‌ځی له‌بده‌خویه سخ په کښته قارون‌هسی

پرون‌ناست‌په‌تخت دپاسه‌تن‌برښه په‌تخته پروت‌دی

دفلک‌گردش ته گوره‌چه نن‌هسی پرون‌هسی

دازماداه دادخواه‌دی چه‌دحسن داسنگیر شو

ستا دمخ له خطه‌مابه معلومیږی مضمون هسی

روایت‌زمادقتل تاراوږی‌دی پوهیږم

چه‌دی‌خط‌په‌رخسار وکیښ‌ددی خطدی مضمون‌هسی

«معزالله» دی‌ځواب‌وکړ په‌پښتو عبدالقادره

اوس ثانی دستاپیدا شو په داد وریښتون هسی

یادونی:

معزالله‌دپښتانه شعراء دلومړی توک(۵۶م)شاعر دی.

دمعزالله‌دیوان‌دریځله‌په۱۹۵۷،۱۹۵۸،۱۹۶۱م کلونو،په‌پېښور کښی‌چاپ شوی دی.

معزالله‌دپښتو،ارد و اوفارسي ژبو شاعرو.

دمعزالله‌په‌باره‌کښی دزیاتو تفصیلاتو لپاره وگوریء:

-دپادری هیوز دکلیدافغانی تعلیقات-دخیرندوی پختانی خدمتگار په‌قلم-(۱۳۵۶ه)ش. چاپ.

-دمعزالله چاپی دیوان اودهغه ددری وارو چاپونو مقدمي،دهمیش‌خلیل ،خیال بخاری، مولاناعبدالقادر، منور خان افریدی لیکنی.

# عثمان

عثمان‌هم لەپخوانو شاعرانو خخەدی‌ـ پە کلیدافغانی کښی‌ددەدوی‌بدلی نقل‌سویدی.او لەبدلەئی هغەده چەدعبدالقادرخان اوخوشحال‌خان پەتاریخی مشاعرەکښی‌ئی ویلی‌ده.خرگندیږي چەدی‌دعبدالقادرحان معاصردی.ددەسبک عشقی اوشعر یی‌ساده اوروان‌دی تردیږزیاټ سوږتەدده دژوندون سوانح نەدی‌ښکاره فقطدونه ویلای سوچەعثمان دعبدالقادرخان ختیک‌معاصر اوښەـ شاعر دی.

دکــــــــلام‌نمــونــه

بي‌دخپل‌آشناله وصله تیرومەژوندون‌هسی

چەیەنەوي‌پە دنیاکښی بل محزون اوزبون‌هسی

لەاوله خوپیدایم وارەسرپە واویلایم

تروبه خەوچاته وایم چەنن هسی پرون هسی

تەسی‌تن‌جامەمەگورەلږسون‌دک لرمله‌اوره

دفانوس پەدودای وروره کړمدترکوبیلتون‌هسی

ستالەډیره ډیرەجورەملامی ماته شولەبغرگه

بل‌بەنه وي‌یکه زەیم‌زوږندسرپە زنگون‌هسی

دآشناله ډیرەغمه شومه سرپەغرپه سمه

هیڅوکسەشه لکه‌یمەبل‌بی صبروسکون‌هسی

حریف نه وینی حتمکه لاڼی ډیری وهی څکه

چه‌به‌هیڅ پښتون و نه کابل غزل په مضمون هسی

چه‌قلم‌می په‌سیاهی شو په کاغذباندی راهی‌شو

په«عثمان» دی‌آفرین وی چه‌پیداشو پښتون هسی

یادو نه:

عثمان‌د پښتانه‌شعراء دلو مړی‌توک (۶۶م) شاعر دئ چه هلته‌یی دشعر نمونه او پیژندنه له«کلیدافغانی» څخه اخستل‌شوې‌ده.

# اودل

دپښتو دپخوانو شاعرانو څخه یو اودل (عبدل)دی. اودل دخوشحال‌خان او ددهٔدزامنو معاصر او همسلکو، دیوان لري‌چه‌اوس‌ورک‌دی .دی دپیښور دشاعرانو څخه په اوسطه‌درجه کښی گڼل کیږی. دعبدالقادرخان دیوې‌غزلی جواب‌یې‌داسی ویلی دی:

غـــزل

لکه‌زه‌یم ستاپه‌غم کښی‌ډ ک‌له‌وینولړمون هسي
نه به ڀان نه‌به حناوی پرپه وینو درون هسی
ستادحسن سپاه جوړدی‌په داخطدې‌زره پوش‌شو
دعاشق‌کور به تالا کاددی خط دی مضمون هسی
په ازل به دیوانه وپه عالم به افسانه‌و
بل‌به‌څوک‌دده په خیرشی دانصیب دمضمون‌هسی
چه مین‌په دلربا شوم په‌مثال گل رعناشوم
په‌ظاهر ژیړی لیده‌شم اندرون یم‌پر خون هسی
خط‌په‌مخ دښایسته‌ووصف بندی یې‌وکړه ډیرشو
دښایست‌دکان به‌لوټ کاچه‌ئی‌وکړ شبخون‌هسی
عشق هاتی دی که‌زمری دی‌په هرچادده بری‌دی
شیخ زاهدپه‌پنجه‌واخلی نورپری کیږدی‌زنگون‌هسی

عشق دعقل سره ګوره څه جګړه کا زساو روره
طفل شرم و حیا غواړی عشق دی خو ښ په جنون هسی

څه افسون کا دیارشونډی چه کوی چاته خبری
دل ددی تری دواړه یوسی چه پری ډکړی افسون هسی

ستاجواب عبدالقادره! په ښه شان دی صدر کړی
هم او دل دی جواب و کړ چه پیدا شو پښتون هسی

یادونه :

* اودل دپښتانه شعرألوسړی تړوك (٦٧م) شاعردی چه هلته یې داشعرله «کلیدافغانی» څخه اخستل شوی دی.

# اشرف

(دا ،اشرف د(هجر ی )ختیک پر ته بل شاعر دی)

اشرف هم دهغو شاعرانو څخه دی چه دیوان یې دزمانې سیلیو وړی دی. دی دپښتو شاعرانو داوسطے طبقي څخه ګڼل کیږی .ددهشعر سلیس او روان معلو میږی چه‌دی دعبدالقادر خان دمعاصر ینو څخه دی.

دده دایوه غزل لاندې لیکل کیږی:

غزل

داشناله تازه خطه‌را معلوم شو مضمون هسی
دو صال دولت که‌تیر شو هم به‌تیر شي بیلتون هسی

عشق رهبر دعاشقا نو د اشنا په لورئی بیایی
لکه عشق دی‌بل به نه‌وی په دالار رهنمون‌هسی

که ژوند ون دی‌خوهغه‌دی‌چه دیار په یادتیـر یږی
چی بے یاده دیاردرومی په کار نه‌دی ژوندون هسی

په شتودرویو ستر ګو هر ګذاریے رسالګی
چه هیچیری خطا نه‌ځی دلبرونیوز نګون هسی

بےسو زنـه دشګانو دزلفینو لـه تارونـو
په‌آسان به‌رفونه‌شي زړه‌سی چاود دی درون هسی

دژ و ندون امید می نشته چه‌یوځو ګامه و پایم .
که‌همیش هسی ګر دش‌خوری‌لکه‌نن‌دی‌ګر دون هسی

خوك ئی شاه د درست جهان کړ څوك گدای کچکول په لاس کی

د هر چابخره جداده سوسی هسی قـار ون هسی

لکه بازو اخلی کوتره په منگول هسی ستاستر گو

زړه زمایے بی له تن یو و ړهم ئے عقل سکون هسی

چه تاو ے عبدالقادره کوم پښتون به یے خوشحاله

داشان و ائی (اشرف) و وی خدای پیدا کړ پښتون هسی

یادو نه:

* اشرف دپښتانه شعرأ لوسړی نوك (٦٨م) شاعر دی چه هلته یی داشعر له کلید افغانی خخه اخستل شوی دی.

*داشرف په باره کښی دزیات تفصیل لپاره و گوری :

د کلید افغانی تعلیقات، د خیړند وی بختانی خدمتگار لیکنه ـ د ١٣٥٦ هش چاپ

# علیم

علیم ښه شاعر دی او روانه طبع لري دکلید افغانی مؤلف ددهله دیوانه یوه بدله رانقل کړیده دیوان ئې نه پیدا کیږی ،په هغو کتانوبونو کښې چه اوس زموږ په لاس کښې هم د علیم په باب څه ندی لیکل شوی ځکه نوموږ په همدغه نمونه سره ئې چه په لاس کښې ئې لروسعر فی کوو ،علیم دپښتو شعر او وپه ښځنی دله کښې داخل دي:

دوفا طمع کوی له اعدا پوچه — په بتانو پسی کړی اقتدا پوچه
چه په گنج دحسن ناست دي هغه ښکلی — ورښکاریږی دعاشقوغوغا پوچه
سر یکار ئی شو همیش له جگر خونه — چه ئې شوه دیارپه درکی دعا پوچه
زه چه غوښ شوم دخوبانو په سری — اوس ئې زیر سه ده ددرددوا پوچه
چه دعشق په تجارت کښې بهرمندشی — هغه وگنې دهرڅه سودا پوچه
گل په وقت دصبحدم کښې پروانه کا — بلبلان که ورته کاندی ژړا پوچه
چه دعشق په سیخانه کښې مستانه شی — هغه گوری ودانی ددنیا پوچه
خوهمه دعشق په لارې کښې تورتم دی — صبوری ورپسی بیانئې رنا پوچه
همیشه کاندی گرفتن په قرارندی — اې علیمه ده دعمر بقا پوچه

یادونه :

*علیم دپښتانه شعرا لوسړی توك(۷۹م) شاعر دی چه له (کلیدافغانی) څخه اخیستل شوی دی

# کامگار

کامگار هم دهغو شاعرانو څخه دی چه سوړنۍ دپاد ري هیوز په سعرفی سره پیژنو دده دیوان تراوسه لاس ته نه دی راغلی.دده د کلام نه چه نمونی ئی په کلید افغانی کښی نقل شویدی دپښتو په شاعرانو په لمړی طبقه کښی شمیرو. دی په اسلوب کښی دحمیدماشوخیل پیرودی شعرئی خوږ اښه او دخوندورو کنایو استعارو او تشبیها تو ډکدی.

د کلام نمونه

نه به خوك له ناچاری وطن پریږدی — نه به روح هرگز په خوښه بدن پریږدی

که د زلفو په چین چین یو په چین ورشی — له خجلته به هوسی ختن پر یږدي

که ستا مخ یو خله ووینی په سترگو — بت پرست به نو رسجود دوطن پریږدی

دخوبانو دمخ هسی شان جذبه ده — په سیماب یی په طلب کښی وطن پریږدی

په خاما به سی بي غمه قرارشی — که سی سترگی دخوبانو دیدن پریږدی

دیوسف غوندې به خوځینی بیرون کا — که د زنی چاه ته زلفی رسن پریږدی

که دی ولیدی سرې شونډی جوهریانو — په یاقوت پسی به تله دیمن پریږدی

که دلبر په دا ښایست لاړشی چمن ته — دخوبی دعوی به گل د چمن پریږدی

دقیامت په شورو شر کښی گمان سه کړه
چه کامگار به دی له لاسه لمن پریږدی

---

(۱) وشن ـ بت.

یادونی:

*کامگار دپښتانه شعرا لوړی توک(۸۰م )شاعر دی .

*کامگار ختک دنامدار زوی داشرف خان هجری لمسی په۱۱۶۵ه،ق سړشوی دی. دشعر دیوان یی په۱۹۰۰م کال په پیښور د ښاغلی تنسیم-الحق کاکاخیل په‌مقدمه او تعلیقاتو او په ۱۳۵۸ه،ش کال په کابل کښی دښاغلی عبدالمتین متین په‌زیار او مقدمه‌چاپ شوی دی.

*ددی شاعر په‌باره کی وګوریء:

-دکلید افغانی تعلیقات دخیړندوی بختانی خدمتګار لیکنه -۱۳۵۶ه ش

- فرهنګ زبان و ادبیات پښتو - دزلمی هیواد مل لیکنه -۱۳۵۶ ه،ش

-دکامګار دچاپی دیوان مقدمی.

# فاضل

فاضل دپښتو پهشاعرانو کښې پهاوسطه طبقه کښې لمړی دی. دده کلام خوږوالی او سلاست لری . دادده یوه غزل ده :

یار پهستمو نو دخپل یارنه زهیر یږی — ستر گی دښو پهدرا ئهبارنهزهیر یږي
څو کبرولوبی دهوخوبانو خدای ورکړی — هیچیری یی زړه په عاشق خوارنه زهیر یږي
څهشو که تری سل ځله جار یږي پهساعت کښی
گل دبلبلانو په چغارنه زهیر یږي
څه رنگ یی بدرنگ کاچه پری ولوزی بیو خته
زړه دخزان گوره په بهار نه زهیر یږي
گرانی دی هرگوره نوی چاری نوآموزته
هرچهسدامسی خوری پهخمارنه زهیر یږی
زردی چه خبربه شي دسترو لهاحو اله
هرچه دو یشتلو په آزار نه زهیر یږي
سرغواړ لهخدایه خوانی ډیری دي «فاضله»
هرچهغم دسر کاپه دستارنه زهیر یږي

یادونی :

* فاضل دپښتانه شعراء دلومړی ټوك (۹٦م) شاعر دی .

* دفاضل پهباره کښی دزیاتو معلو ماتو لپاره وگوریء :

دپادری هیوز دکلید افغانی تعلیقات دخیبر ندوی بختانی خدمتکار لیکنه د ۱۳۵٦ هجری شمسی چاپ، دنوموړی تعلیقاتو له څیړنی سره سم دفاضل ژوندتر ۱۲۳۳ هجری قمری کال دمخهدی او نوموړی ددیوان خاوندشاعر دی .



ACKU

# مهين

دمهين ددیوان پته نشته ، فقط زموږ څخه ئی یوه بد له شته چه عجیب افکار لري اوداسی فکر مو ږد پښتو پهادب کښی اړ مو مو ، ځکه چه پښتانه سپیڅلی او بي دروه او بی و له خلق دي ، نو داسی تلقینات چه مهین ئی کوي د پښتنو په شعر کښی کوو ر ،نه لیدل کیږي ، ښائی چه پر مهین دپارسو ادب ډیره اغیزه کړیوي،او دابدلی ئی و یلی وی ،ځکه چه دپارسو په اشعارو کښیدغه ډول تلقینات ډیر دي حتیدسعدي غوندې فیلسوفپه کلام کښی.

غزل

بد سړی ته نصیحت وایه په و رو و رو
رنگ د اشنایی و رسره بیایه په و رووړو

نور ئی پهتدبیر دورکولو ځان بیدار کړه
بیخ و لی ئی و کاږه له ځایه پهورووور و

بل ځای ئی گرفتار په دښمنی کړه که دانائی
شکر نو ر دخدای په درگاه وایه پهورووړو

داتوره بلاوه خدای ژوندی ورځنی خلاص کړې
او س ئی تماشی کوه له ورایه په وروړو

ښه ئی په پوست نو زه له حاله ئی خبر شه
و ئي پوښته ښه ترالو رایه په و رو و رو

کو رمحنت همه پهدښمنی و رته تیار کړه
داطر فهئی و باسه له سر ایه په و رووړو

سر گ دي ددښمن لهلاسهشی یخ پر ی ځیگر کړه
و رشه خوله ئی ډ که کړه لایه پهو رووړو

پر یږد. فن فر یب «مهینه» نو رو ته چه کاندی
ته خو یگانه محبو به ستایه په و رو و رو



ACKU

یادونې :

* مهین دپښتانه شعراء لومړی ټوک (۷۳م) شاعردی چه له (کلیدافغانی) څخه اخستل شوی دی .

* دسوین پیژندنه ښاغلی همیش خلیل په ورکه خزانه دوهم ټوک کښې کړې ده او پنځه نور و شعرونه یی هم چاپ کړی دی.. دهغی له مخه مهین دپیښور داؤدزودنیی او سید ونکی و. د۱۰۸۰ هجری قمری په شاوخوا زیږیدلی او په ۱۱۲۷ هجری قمری کښی یی لدفارسی ژبی نه «تذکرة الابرار» نومی کتاب په پښتو نظم اړولی دی .

دتفصیل لپاره وګوری :

ـ په ورکه خزانه کښی دښاغلی همیش لیکنه ـ ۱۹۶۰.

ـ د کلید افغانی تعلیقات ، دخیرندوی خدمتګار لیکنه ـ ۱۳۵۶ هجری شمسی .

# ابراهیم

ابراهیم دتیرو نوموړکو شعراوو څخه دی .یادري هیوز په کلید افغانی کښې دده یوه بدله نقل کړیده. دده کلام روانی اري طرز ئی عشقی دی او دمتوسطی طبقې شاعرانو په ډله کې ګڼل کیږي دیوان یې ورک دی .

دده کلام نمونه

چه د عشق سودا په سر کړم کله سر دیم

سر پر یکړی په میدان کښې د عشق مردیم

دعشق نوم ځکه په ماباندې صبح شو

وچې شو ندې لندې ستر ګې ګونه زرد یم

که سی سرو سال د یار په مینه لاړشي

خدای دی نه کاچه پری ګرم یا پری سرد یم

تعلق هستی سی دوا ړه پسی شا کړل

جریده دعشق په لاز کی روان فردیم

لمن وا خله چه په ګرد آلوده نشی

خسته پروت د شاپه ور کښې لکه ګرد یم

بی دردان د عشق له سوزه خبر نه شول

«براهیم» ځکه منت بار د اهل درد یم

یادونی :

ابراهیم د پښتانه شعرا دلوسړی توک (۷۰م)شاعر دی چه له« کلید افغانی »څخه اخستل

دابراهیم په باب کې وګورئ ۴ کلید افغانی تعلیقات ، دخیر ندوی خدمتګار پښتیانی لیکنه د ۱۳۵۶ هـ، ش چاپ ـ کابل

# فضیل

پادري هیو ز په کلید افغاني کښې د فضیل یوه‌بد له را نقل کړ یده ، سو د په همد غه غزل سره دی پیژ نو . دده دیو ان او نو رحالات او س نشته سبک ئی ښه او عشقی کلام ئی ساده او رو ان دی.

دده د کلام نمو نه

سینی ستارا باندی و کړ اثر و روو رو
چه‌ئی و و یستم له‌خو اب او له خو ر و رو و رو

دم په‌دم می‌ستا د عشق جنون زیاتیږی
لیو نی د یو انه او س شوم او تر و روو رو

ننگ ناموس و ماته‌څه‌ښیی ناصحه
له‌ساپاتی شو د عقل د فتر و رو و رو

واړه ستا د مینی او ردی چه را لگي
مدام سول شی په سکروتو څما و روو رو

دغمزی په تیغ دي و و ژ لم دلبره
او س می‌و کاږه له‌زړه نه‌خنجر و روو رو



ACKU

سل افسونه سل منتره ئی خجل کړل

چه کوي را ته خبرې د لبر وروورو

دنارو فریاد (فضیله) حاجت نشته

ورد کړه (نوم)دیار په شام وسحر وروورو

یادونه:

فضیل د پښتانه‌شعرا دلومړی تو ك (۱۷م)شاعر دی چه‌له (کلیدافغانی)

څخه اخستل شوی دی .

# عصام

عصام هم د پښتو د شاعرانو څخه دی یادری میوزیه کلید افغانی کښی د نوله د بیانه یوه بند ـ له نقل کړیده ، نور احوال ئی ندي ښکاره ، کلام ئي ساده او سبک ئی عاشقانه دی. دی د متوسطو شاعرانو په طبقه کښی گڼل کیږي، او دیوان ئی ورك دی لاس ته نه راځی .

د کلام نمونه :

| | |
|---|---|
| په طبیب به څه کومه دشفاعرض | و دلبر ته کړم د مرگ د مد عاعرض |
| هیڅ احوال سی و دلبر و ته نه وائی | که همیش کوم په باد سبا عرض |
| که د سلو په خوله زر عرضونه وکړم | اثر نه کا ستا په زړه کښی زما عرض |
| او س به ستا په وړه کوبد تل عرضونه | شو عبث زما په حق د ماسوا عرض |
| خدای د پاره که سی و بولې یو ائی | چه به کړمه له رقیبه جدا عرض |

حیف دی ستا په داژ و ندون باندی عصامه

چه دی یار ته وشو سپك تر گیاعرض

یادونی :

* عصام د پښتانه شعراء لومړی ټوك (۳۷م) شاعر دی چه له ( کلیدافغانی) څخه اخستل شوی دی .

* دمحمد عصام دلیلی او مجنون داستان په ۱۲۹۳ هجری قمری کال په ډیلی کښی چاپ شوی دی .

* دمعلوماتو لپاره وگوریء :

ـ د کلید افغانی تعلیقات ، دشیرندوی بختانی خدمتگار لیکنه . د ۱۳۵۶ هجری شمسی چاپ .

# حسین

د پښتو شاعرانو له ستنو څخه دی ، د غزلو دیوان ئې ورک او فقط دوې بدلې ئې زمونږ څخه شته ، د حسین عشقي بدلې ښې دي ، چه لاندې ئې یوه نخښه راوړو :

غزل

خو بېخوده د ښېرو شونډو په مې نه شم
په نظر به د سرو سترګو سرې نه شم

د آشنا د سینې هسې خم خانه ده
چه دیدن سره ئې و رشم تری تلی نه شم

چیری نه چه له نظره شی دلبره
له دهشته دی ومخ ته کتی نه شم

په دربار د معشوقو کښې نه قبلیږم
څوله څپلو اشنا یا نو پردی نه شم

په کوهی د زنخدان کښې چه څوک پرېوزي
وائي داچه ختی نشم ختی نه شم

نوی سپاشت دشاه رکاب آسمان ئې آس دي
کنجوغه څکه دترکو نیوی نه شم

په مې هله د روغېږ په سینه بوله
که سپند څوندی ترمر ستالوګی نه شم

که دی نېت دیاری وي تر ما به راشی
زه حسین په څنکندن یم د ربلی نه شم

یادونې :

حسین د پښتانه شعر أدلو مړی توک (۷۲م) شاعر دی چه له (کلید افغانی) څخه اخستل شوی دی.

* دحسین په نامه شاعرانو په باره کښې زیاتو تفصیلاتو لپاره وګورئ.

- دپاډری هیوز د کلید افغانی تعلیقات د خیر ندوی بختانی خدمتګار ایکنه. د ۱۳۵٦ ه ، ش چاپ

- دیوان حسین چاپی نسخه او پرهغه د همیش خلیل مقدمه – ۱۹۵۸ م پیښور.

ACKU

# ابو القاسم

دابو القاسم دژوند سوانح تر اوسه له مو ږ په‌ دی یو ائحې دغه لاندینی بدله‌ یې له کلیدا افغانی څخه په‌ لاس راغلی ، سبک ئې عاشقانه او کلام ئې له اغلاطو (کذا) تش دی ابو القاسم ښه‌ شاعر دی د متأخرو شاعرانو په‌ طبقه کښې لمړی درجه‌ دی.

د کلام نمونه

دامی میاشت وه‌ چې می راغله په‌ خلوت کښې

که دیوه شوه راته بلـه پـه ظلمت کښې

دمحنت خاو رې می وا چوی ء په اوښو

اوس می گل زیږی په گل دځپل محنت کښې

پس له مرگه کـه می یار په قبر راشی

گلستان بـه می پیدا شـی پـه تربت کښې

قمر هـم زمـا لـه نـوره منـور شـو

هو مره نورئې خدای پیدا کړ په طلعت کښې

ساځپل ځان کرد آشناد کوځی خاورې

که هر څوک طعن کاندی په خدمت کښې

لـه کینی سی رقیب سپی دآشنا بـولي

ولي دی‌لقب ئی لاکړم په عزت کښی

دابو القاسم غـرض وصـال دیـار دی

خدای‌یی لابرکت کیږده په‌هست کښی

یادونی :

* ابو القاسم دپښتانه شعراءلوړی توک (۵۷م) شاعردی چه له(کلیدافغانی) څخه‌اخستل‌شوی دی .

* ددیوان ابوالقاسم خطی نسخه په‌بریتش موزیم‌کښی تر۲۸۲۶لمبر لاندې دقاسم،ابوالقاسم‌اوسیدابوالقاسم په‌باره‌کښی‌دزیات تفصیل لپاره‌وګوریء:

ـ دپادری هیوز د کلید افغانی تعیقات ـ دخیرندوی بختانی خدمتګار لیکنه .

# صديق

صديق هم زموږ د هغو شاعرانو څخه دی چه سوانح او پوره واقعات ئې نه دي معلوم. کلید افغانی کښې دوې بدلې دده له دیوانه څخه نقل شوي دي. یو پرجوشه رندمشربه شاعر دی په کلام کښې ئې دعشق او عرفان جلوه بریښي او د رحمن بابا له پیروانو څخه ګڼل کیږی :

دصدیق د کلام نمونه

نن مې ولیده په سترګو هغه یار مست
هم په لاريې نه کاته هغه میخوار مست

په مستي زما دیني واړه مست شوه
کوڅې مست محلتونه مست کوڅه بازار مست

شیخ زما د یار د لبو شراب نوش کړه
دی پر مست شو خرقه مسته هم زنار مست

دمستانو مجلس هسې مکان غواړي
چمن مست، عمارت مست نقش و نګار مست

دمستانو په مستي چه زړه نشاط کا
ویل مست کا کتل مست کاندي هر کار مست

پرندې سترګې چه راپورته چه مستي کړی
ما کا مست رو زګار مست در و دیوار مست

زه هم مست دلبر مې مست دګلو سیل کړو
ساقي مست صراحي مست هم لاله زار مست

په مستي زما په رقص فلک ګډ شو
مطرب مست، چغانه مست، دف و مزمار مست

دصدیق مستي یوازې د ځان نه دي
قلم مست قلمدان مست لړی اشعار مست



ACKU

یادونی :

صدیق د پښتانه شعراءد لومړی ټوک (۷۶م) شاعر دی چه له کلید افغانی څخه اخستل شوی دی .

* صدیق دپښتانه شعراء څلورم ټوک (۳۶۶م) شاعر دی چه د هغې مقالې په استناد چه پوهاند رښتین (کابل مجله ـ ۱۳۴۳ د چنگاښ د میاشتی گڼه) دصدیق پرخطی دیوان لیکلی را اخستل شوی دی . په پښتانه شعراء څلورم ټوک کی ویل شوی دی « د کلید افغانی او د پښتانه شعرا دلومړی ټوک صدیق که‌دغه شاعروی احتمال لری» اوس چه د صدیق دیوان چاپ شوی دی دا خبر داحتمال له‌چو کاته ووتله او په دیوان کښی د چاپ شوشعرو نوله مخه ، دپښتانه شعراء دلومړی ټوک اوڅلورم ټوک او د کلمد افغانی او ددې« تذکرة الشعراء » صدیق یوشاعر دی .

* دصدیق دیوان ، د سر محقق دوست په سریزه په ۱۳۵۸ ه،ش کال دافغانستان دعلومو اکادمی د ژبو او ادبیاتو د انستیتوت له خوا چاپ شوی دی .

* په‌ادبی ستوری لومړی ټوک کښی د صدیق یو بیت او یو غزل ملا بنایسته خان‌له جونگه را نقل شوی دی او د هغه صدیق کښل شوی دی مگر دابیت او دا غزل دصدیق په چاپی دیوان کی نشته .بو یه چه دابه‌همدا ددیوان خاوند صدیق‌وی او که‌بل‌شاعر ؟

# غفور

دغفور حال تر اوسه نه دی ښکاره شوی نه دی فقط دومره معلومه ده چه د کندهار د افغانو سره ئې اړه وه او هم ئې په کلیدِ افغاني کښې نقل شوی . دغفور په کلام کښې خوږ احساسات او نوی والی لیدل کیږي.

دی په روان صاف خوږه پیرایه او قریب الفهم تشبیهاتو سره خپله مدعا او څاروی کلام ئې خوږ ساده او متین دی .

د کلام نمونه

څکه پرته قدم د ښکلیو په دلبار کېږ     چه مخمور گرزی په حال کښې دخمار کېږ

د تورو پیکړو ښښتن خال سیاه کا     چه دلبر د زلفو تار کاپه عذار کېږ

کجی زلفی کج مژگان لویه فتنه دی     لاپی گوره چه دلبر کاندی دستار کېږ

دزړه فکر می دیار په لیده ورکشي     لکه جوړفکر د کورشي په بازار کېږ

درقیب له ویرې هسی یارته دروسم     لکه سات دچاپه پښه شی تېره خار کېږ

که دستار په تندي کج پردسه گرم نه یم     څو نه يې تل وی دبلبل په نوبهار کېږ

د کېږوورو څو غوخ کړی مدام ژاړی     ولی سخت وی دکیږې توری پرهار کېږ

که عاشق له هجره پرمخ پروت وی ښائی     روغ صورت دسیناتل وي په خونبار کېږ

که غفور له خلقو بیل شی بلکې بې ښتنه

تل آواز درو غو لگی په بیمار کېږ

بیرون ترنازه باید دشم درون پردزه په وینو     دیارغم برگ چنار کړم درون هسی بیرون هسی

راشه گوره سالاله کمال نه دی بی زواله     ددلبر له خط اووخته رامعلوم شو مضمون هسی

یادونه :

غفور دپښتانه شعراء تو مړی توك (۲۷۷م) شاعر دی چه له (کلیدافغانی) څخه اخستل شوی دی .

# فتح علی

فتح علی د کاظم، یونس اوصدیق غوندی په پښتنو شاعرانو کښې متوسط درجه‌لری دی‌ددیوان خاوندد‌ی خودیوان‌ئی اوس‌نه سوندل کیږي چی‌نمونی هیوزپه کلیدافغانی کښې‌ددهٔقطیوه‌بدله نقل کړیده چه‌سوږئی ددهٔد کلام دنمونې په‌ډول لاندی رانقلوو :

| | |
|---|---|
| چه‌راپیښ دیار بیلتون شو الغیاث | زما زړه‌له غمه خون شو الغیاث |
| د آهو په دود دهجرله دهشته | زماځای په‌سیره تون شو الغیاث |
| دوصال‌ساعت‌به‌څه‌گوری په‌سترگو | چه‌پیدا غماززبون شو الغیاث |
| اوس‌په‌عشق کښې‌دهجران‌له‌ډیره‌غمه | په‌عذاب‌زماژوندون شو الغیاث |
| دغمازد بد نیتی دسنگ له لاسه | ډک‌له‌ویټوسی لړمون‌شو الغیاث |
| په سبب دکا هلی دخپلی بخرې | په‌عتاب راته گردون شوالغیاث |
| فتح علی‌هوس په‌څه‌شکله کیدی‌شی | جام‌دبخت‌دې سر نگون شو الغیاث |

یادونی :

* فتح علی دپښتانه شعراء لومړی ټوك (۷۸م) شاعردی چه‌له (کلید افغانی) رااخستل‌شوی‌دی .

* دفتح علی‌یو شعر دملانبا یسته‌خان‌له‌قلمی جونگ‌نه‌په (ادبی ستوری) لومړی ټوك کښې هم رااخستل شوی‌دی .

* دلیننگراد دختیځ پیژندنی دموسسی دخطی نسخو په‌کتابخانه، کښې دبیلو دبیلو بیلو شاعرانو داشعارو په‌لړ کښې‌دفتح علی‌یو بل‌غزل هم‌شته چه‌داسی پیلیږی:

ستاغمو نه(سو)له‌گو گل زماچاپیر شو(کذا)

دکمی‌شان‌یی‌ښکاره نه‌شو لاډیر شو

او کسری داسی دی :

فتح علی‌داناپه‌ځای و رځنی‌ځار که

کج‌خو یه دفلك و اره برسیر شو

وگو ری‌ء:

- ولاد یمیر کوشیف - دختیځ پیژندنی دانستیتوت دقلمی نظسخو فهرست

مسکو - ۱۹۷٦- ۵۸ م مخ .

# صمد

ددی شاعر پرته ددغی یوی بدلی چه په کلیدافغانی کښی لیکلی شویده نور اشعارئی چیری ترنظر ندي راغلی ، سره د هغه صمد دد غه یو شعر نه سړی اټکلولی شی چه دي دپیښور دوړ کی دشاعرانو څخه غوره او سنلی شاعر دی.

د کلام نمونه

بی له یاره راښکاره ژوندون زبون شو
اشتیاق می د زړه سرگ وته افزون شو
وچ گوکل لکه بیابان داهار توسند
له دوه ستر گو می روان آب جیحون شو
بے آرام شوم دجهان په سره زسکه
دهوسی په دود می خوب په سیره تون شو
سر نشیب می سر دغم په گر داب دروی
سز او ارد عقوبت لکه قار ون شو
چه دعشق په مکتب ماد غم داستان لوست
هك حیران راته فرهاد و هم مجنون شو
دقلم په دودپه چا که ژبه قی کړم
د سرجان په طورو ینی می لړ سون شو
دحیرت گوتے په غاښ کړی طبیبانو
له قانون او له شفامی رنځ بیرون شو



ACKU

دآشنا ماتم چه پټ کړم لکه خاوری
سر سی هسك ترینه د طبق گردون شو
«دصمد» و یل بهولی شرین نهوي
چهدشاهفر یددعشق رنځ ئیطاعونشو

یادونه :

*صمد دپښتانه شعراد لوسړی توك (۱۸م) شاعر دی چهله کلید افغانی څخه اخیستل شوی دی.



ACKU

# ملاعبد الرشید

عبدالرشید دسلطان حسین زوی په ختهٔ قریش دملتان د یوې علمی او روحانی کورنی څخه دی چه تر ۱۱۲۸ هـ ژوندی ؤ. (کذا) عبدالرشید هم دخپلی زمانی ښه عالم او پوه ادیب بلل کیږي. ده دفقهی ابتدائی او عقایدو ضروري مسایل چه مبتدیانو لپاره ډیر مفیددی. د رشید بیان په نامه په پښتو سره نظم کړی چه طبعے ته رسیدلی دا کتاب ډیر شهرت او عمومیت لری سو ږ د رشید بیان دا څو بیتونه دلته د نمونی پر ډول لیکو.

د کلام نمونه

| | |
|---|---|
| چه محکم په لمانځه اوسی | له دنیا به دا یمان یوسي |
| هم به خدای پری رضامن شی | پری آسان به ځنکندن شی |
| تاریکی به تری رب دورکا | پری به قبر کلی نورکا |
| له صـر اطه به ئی تیرکا | تیر به دی دباد په خیرکا |
| ښایسته چی لکه لمر وی | دی به کل نورالبشر وي |
| لو ږه تنده به پری نه وی | نه ولاړ به په غارسه وی |
| هم روزی به ئی جنت شی | هم سیراب به په نعمت شي |
| دجنت په ښه قصو رو | تل به عیش کاندی له حورو |
| ښایسته ښه بـرا قونه | سرصع پری ښه زینونه |

ACKU

بې‌سیوی ښکلی باغو نه او ژیـړ پکښی گـلـو نه
دعسلو ډك حسو ضو نه دشر ابو ډك جامو نه
دخو شر نگو او از و نه چه‌یه ساز کړی سر ودو نه
دکو هر و محلو نه پکښی ناستی ښکلی جو نه
له‌هر قسمه نعمتو نه چه‌ئی نه شی حسا بو نه
خدای‌به‌ده و ته‌عطا کا ملایک به‌ئی ثنا کا
یادو نه:
ملاعبدالر شید د پښتانه شعرا دلرمړی تو ك (۸۳م) شاعردی. هلته‌درشید-البیان د تالیف نیټه د(۹ ۳ ۱ ۱ ه،ق) کال د محرم پنځم ښو د ل شو ی‌ده.

# عبدالرحیم هوتک

عبدالرحیم په‌خته هوتك‌او زوکړی دقندهار دښار دی، عبدالرحیم،دخپل عصر یو پیاوړی او نامتو عالم او دپښتنو دزړو ادباءاو پخو شعر اووښخه گڼل کیږی. کلام ئی‌ډیر پوخ او متین‌او په‌حین دستائت او پوخوالي کښې‌پوست‌او روان دی، عبدالرحیم‌خانته ..ردف او مرتب دیوان لري متاسفانه‌چی‌دیوان‌ئی تر اوسه چاپشوی‌ندی‌ـدده‌ښکلی‌دیوان څخه معلومیږی چه‌دهوتکو په‌عصر کښې دقندهار په‌زاړه ښار کښې اوسیده و روسته‌تر (۱۱۳۵) چه‌قندهار دایر اـ نیانو غو یمنه‌لاندی‌راغی(کذا)او نادر افشار په‌قندهار باندې‌مسلطشه‌دده‌دوطن‌نه سترگی پناکړی او بخاراته ولاړ اوتر پا یه پورې‌په بخارا کښې‌اوسیده . عبدالرحیم‌له‌خپل‌وطن‌سره‌دزړه مینه‌او محبت‌لری‌او په‌پردیسی کښې خپل‌وطن اودوطن یاران‌او همزولی‌یادوي.دا اشعار دعبدالرحیم‌له‌دیوان څخه‌دلته‌دنمونې پر ډول ولیکل شوه :

دسحر باده دآسناپه مقام ورشه
زمادپاره پکښې‌وگرځه کوتر شه

لوی‌وکم‌چه‌وي‌تول‌ووینه‌په‌ستر
په‌احوال سره دهر یوه‌خبر شه

هر یوه چه‌زماله‌حاله‌پوښتیدووی
په‌ژړا ورته‌په‌اوښکو کښې احمرشه

که‌خبری‌زمادپاره درته‌وکړی
مخ را کوږ کړه‌زماولوری‌ته چپر شه

دنسیم په‌زیاء دي ښه‌نښی «رحیمه»
ددلدار په کور پخپله قلند رشه

بهار راغي خلق دروسى و صحراته | رنگارنگ گلونه ذير دغره و خواته
لوی او کم دي په له گهبنادی هوس کا | ساله غمه ملاتړ لی وژړا ته
هرسړی یو کارلري مشغول په کاردی | دمجنون دي دوا ړه سترګی و لیلاته
دعاشق لهخپله یاره سره کاردی | بې له یاره کله ګوری و بل چاته

او یا کاله د «رحیم» په عشق کښي تیر شو
عقل، هو ښ ئی سداموی و دلر باته

یادونی :

* عبدالرحیم هوتك دپښتانه شعراء دلوسړی توك (۹۳م) شاعر دی .

* ددې شاعر ددیوان یو دقلمی نسخه دپيښور په پښتو اکادمی کښي او بلهد لیننگراد دختیځ پیژندنی په موسسه کښي شته .

* دعبد الرحیم هوتك او دهغه ددیوان دلیننگراد قلمی نسخی په باره کښي وګوری :

ـ ولادیمیر کوشیف ـ دخیړندوی عبدالله بختانی ترجمه ـ یو کندهاری شاعر په بخارا کښي ـ کابل مجله ـ د۱۳۴۷ هجری شمسی دسرطان ګڼه .

ـ ولادیمیر کوشیف ـ دختیځ پیژندنی دانستیتوت دپښتو ژبی قلمی نسخی مسکو - ۱۹۷٦ م .

# سعادت خان

سعادت‌خان دعبدالرحمن زوی او په‌اصل دهنددبهار.دصوبی دی‌چه‌پخپله په‌کابل او ننگرهار کښې استوگند درلوده کوم‌وخت‌چه دافشارونادرافشار په‌هندوستان حمله‌کوله‌دی‌ژوندي‌و.ده‌په(۱۱۵۰ هجری) کښې کیمیای‌سعادت نومي کتاب دمحیني خپلوانو په زیرمه دپښتو په‌نظم سره ترجمه کړی چه دیني اوطبی‌مضامین لري اوموږئی دغه بیتونه دنمونی پر ډول‌دلته‌لیکو:

دکلام نمونه

ربه ستاثنا به وایم　　　　خوژوندي په‌دې دنیایم

کل ثناده ستا لایقه　　　　اې‌دکل جهان خالقه

گواهی کړم چه‌احدیی　　　　لم‌یلد ولم‌یولدیی

شریک نه‌لری سبحانه　　　　مبرا یی له نقصانه

نه‌له‌چا یی‌پیداشوی　　　　نه‌په‌حکم دچا شوی

له‌هرعیب له هرنقصانه　　　　پاک‌یی‌ته پاکه سبحانه

یادونه:

* سعادت خان دپښتانه شعراء لومړی ټوک (۳۸م) شاعردی.

# احمدشاه بابا

ممدوح په ۱۱۳۰ هجری زوشوی دی .....اعلیحضرت احمدشاه‌تر۲۶ کالو پاچهی وروسته په‌شلمی‌درجب په‌سنه۱۱۸۶وفات شوی او قندهار کښې ښخ دی . احمدشاه‌بابا سره دټولی نوميالی توبه دعلم او فضلیت او تقوی خاوندا و يولوړ شاعر اجتماعی‌مصلح بلل کیږی .

دی‌دشعر یو مدون او سر دف‌پښتو دیوان لري‌چه تر دری‌ژرو بیتو پورې رسيږی. داديوان،بدلی، قطعات،رباعيات او نور قسم اشعار لری .دده‌په‌شعر کښې د لوړ فكر، هسك‌همت او دپښتو نوالی جذبات ښکاری۔ دی دخپل عصر پیاوړی اومو رالست شاعر دی.ويل‌ئی‌ساده اوسؤ ثر ،شعر ئی دادبي صنايعو او بدیعی‌فنو نو ډك دي دتصوف ددنيا څخه ډیر غریبزی او دوطن سینه‌ځنی څرگندیږی گران تشبیهو نه‌نه‌لری او په‌تصور او تخیل کښې دپښتو نوالی‌تر حدودو نه وزی .

داحمدشاه‌بابا د کلام نمونی

دوطن په‌مینه کښې

ستادعشق له‌وینو ډك‌شوه‌ځگرونه — ستاپه‌لاره کښې بايلی‌زلمی‌سرونه
تاته‌راسمه زړگی زمافارغ سی — بی‌له‌تاسی اندیښنی دزړه‌ماروته
كه‌هر څوسی‌ددنیاسلکونه‌ډیرسی — زمابه‌هیر نه‌سی داستاښکلی باغونه
ددهلی‌تخت‌هیرومه‌چه‌رایادکړم — زمادښکلی‌پښتونخوادغروسرونه

پە ملی وحدت کښې

تو لەیو دی کە غلجی‌دی کەاو دلی | ښە هغە چە ئی ښیښە د زړە صفادە
پښتانەدي تو لە لاس‌سرە یو کاندی | چەسو ئن‌غزا هرلوری شاو خوا دە

اجتماعی او اخلاقی اشعار

چەدیار پەدر درضا کا لەاخلاصە | پەدنیا کښی‌دغە هسی کاردسر ددی
یو دبل‌پەدرد او غم چیری‌خبر یږی | سگر هغەچەپە دردئی‌بیا همدرددی
یار هغەدی‌چەپەغم دیارشریك وی | چەپە غم‌ئی غمجن‌نە هغە نامرددی

دعلم تشویق

لەځلورو خوابەدردرتە ځلیږی | کەدعلم‌روښ‌څراغ تەدرتەبل کړی

بدله

زړە دیار پەفراق‌چوی‌هم‌لړسونە | بیار اسشی داشنا سختە بیلتونە
هرچەزیست‌روزگاردچامدام‌لەیاردی | بی‌لەیارەئی روزگار پەځان‌اورونە
کەژوندی‌دی‌هم‌هغەپەزړەبیاسړدی | څەطاقت دبیلتانە لە شوا خونە
ددنیاساعت خو هر رنگە تیریږی | نەتیریږی دیارهجر لکە غرونە
اې‌دلبرە تەچەخدای‌لکەعنقا کړی | وعنقاو تە دچارسی لاسو نە
چەاسیدسی ستاولوری‌تە پیداشی | لکەگل دپسرلی کړم هوسونە
چەلەخو بەو یښ شم‌گورم زەجدایم | پەژړادسترگو جوړشی‌دریابونە
احمدشاهە هغەتل پەزړە نولیږی | چەپر جوړداندیښنوشی ناتارونە

یادونې :

* احمدشاهبابا دپښتانه شعراء لوسړی توك (۵۸م) شاعر دی اوهلته نسبتاً مفصل بحث پرې شوی دی .

* دلوی احمدشاهبابا دیوان په۱۳۱۹ هجری، شمسي په کابل کښې او (دیوان احمدشاه ابدالی)په۱۹۶۳ میلادی کال په پیښور کښې چاپ شوی دی.

* داحمدشاهبابا په وخت او دده په تشویق او ملګرتیا دپښتو ډیر و شاعرانو او لیکوالو دپښتو ادب ذخیرې ته ډیرې قیمتي سرغلرې سپارلې دی .لکه د ځمکنو میاڅمد عمر صاحب د(احمدشاهباباسرشد)،حافظ برخوردار غزی،برهانخان،پیرمحمد کاکړ،مسعو دګل پاسنی،علي اکبر اورکزی، قابلاو رکزی، ملاعلماپریدی حبیب الله، ملالتار او نور .

* څرګنده ده چهاحمدشاهبابایوسیاسی اجتماعي شخصیتو ، دده په باره کښې دتاریخ په کتابونو کښې زیات تفصیلات شته چه مونږله هغو څخه تیریږو . یوازی دمراجعي لپاره دو ه اثرمنبیو چهدده په زمانه کښې او دده په امرلیکل شوی او مونږ پوری رسیدلی دی :

۱ـ شاهنامهاحمدیه،دحافظ برخوردار غزی منظوم اثرچهد(شاهنامهاحمدشاهابدالی) په نامه په۱۹۶۵م کال په پیښور کښې چاپ شوی ده .

۲ـ تاریخ احمدشاهی،دمحمودالحسیني المنشي لیکنهچه په۱۹۷۴م کال په مسکو کښې دخطي نسخې له مخه په افسیټ چاپ شوی دی .

* داحمدشاه بابا په باره کښې و ګورئ :

ـ دکلید افغاني تعلیقات ، د خیرندوی بختانی خدمتګار لیکنه ، د ۱۳۵۶ هجری، شمسي چاپ ـ کابل .



ACKU

# اعلیحضرت تیمور شاه

اعلیحضرت تیمور شاه داحمد شاه بابامشر زوی چه دپلار له وفاته وروسته په سنه ۱۱۸۶ھ په قندهار کښې پاچاشو او پایتخت ئې له قندهاره کابل ته را نقل کیء او ده (۲۲) کاله پاچاهي وکړه او په یکشنبه ۷د کوچني اختر (۱۲۰۷ھ) په کابل کښې مړ سو چه اوس ئې د کابل په باغ عمومی کښې مقبره ده. اعلیحضرت تیمور شاه لکه خپل ناموړی پلار ادیب او فاضل پاچاو. دی په پارسی کښې هم ښه شاعر دی او ځانته دیوان لری چه دیوان ئې په ۱۱۹۹ھ کښې مدون سوی. تیمور شاه په پښتو ملی ژبه اشعار ویلی دی چه متأسفانه دده د ر نگین اشعارو ځخه فقط دغه یدله لاسته را غلی چه دلته ئې لیکو:

نن مې پیاله تورو ستر گو سره جنگ دی — پر لبانو ئې دزړه دوینو رنگ دی
که پری کړی سر په لاس ورله راسم — لا په دائی باورنه سی زړه یې سنگ دی
ستاد حسن لښکر راغی ځان ئې بایلو — دعاشق دزړه میدان هرگوره تنگ دی
عشق و مشک پټول نه سی «تیمورشاهه» — چه پخپله ځان رسوا کاهغه رنگ دی

* * *

هی هی دیار صورت لکه گلونه — چه وهلی ئې پر مخ دي شنه خالونه
تیر سه عمر دوصال په انتظار کښې — اوس پرزړه سی د هجران لگی اورونه
په رخسار بانديې ئې زلفی تارپه تار کړی — د عاشقو اویزان په هر تار زړونه
د پتنگ په دود دیار په غمو وسوم — دبانبو ناوک ئې پر دی په زړه زخمونه
توکل دی په خپل خدای کړه تیمور شاهه — څه په کار دی د فانی دنیا کارونه



ACKU

یادونه :

* اعلیحضرت تیمورشاه د پښتانه شعراء لومړی توک (۸٦م) شاعر دی پهقلمی نسخه کښې دتیمور شاه د باچا کیدو نیټه (۱۲۸٦ھ) لیکل شوی دی چهدا دقلم سهوه وی نوځکه مونږ په متن کښې لهدې یادونی سره تصرف وکړاو نیټه موسمه کړه .

*تیمورشاه دژوندانه پهباره کښې زیات‌تفصیل بهدتاریخ په کتابونو کښې ولولیء له هغو څخه :

* تیمور شاه درانی ، د عزیزالدین وکیلی پوپلزی لیکنه ، کابل ـ ۱۳۴۸ ھ،ش

* د تیمورشاه درانی ددری او پښتو شعرونو دیوان په ۱۳۵٦ ھ، ش کښې چاپ شوی دی .



ACKU

# پیر محمد کاکړ

پیر محمد په خته کاکړ او ۱۱۲۰ ه ئی دولادت کال تخمینوو. دده د داشعارو څخه معلومیږی چه د ی په ږوب کښی (چه د کوږ کئ د لیکي څخه هغه خوا پروت دی) زوسوی دی. پیر محمد دلوي احمدشابابا معاصر او شهزاده سلیمان چه لږه موده وروسته تر احمد شاه پاچا سوی واستاذ ؤ. خپل دیوان ئی په سنه ۱۱۹۶ کښې تمام کړی. پیر محمد د خپل عصر دلویو ادبا وواو شعراـ وو څخه دی په کلام کښی ئی سلاست، بلاغت او متانت لیدل کیږی. ده د پخوانو شاعرانو ټوله د یوانونه په دقت غرګنده کړی.. دی مبتکر او نازک خیاله شاعر دی او اشعار ئی اخلاقی، عشقی، عرفانی دی. علاوه تر پښتو په عربی اوفارسی کښی هم شعر ویلی دی خو را نو میالی او عالم شاعر دي.

د پیر محمد د کلام نمونه

شنه خالونه چی د پاسه دجبین ږدی — دا زما پرزړداغونه آتشین ږدی

دعشق اورسی ویلوی د زړګی شمع — بیهوده‌می پرموم نقش دنګین ږدی

شین طوطی دی کړ محروم له‌شکرلبو — ومګس‌ته څو پیاله دانګبین ږدی

مادی خیال‌لره فرش کړی تورلیمه‌دی — ته بی نیازه‌قدم‌ولی پرزمین ږدي

او س‌نقاب له مخه و اخله په‌خندا شه — ترڅوغم‌می‌پرخسته‌خاطر حزین ږدی

په شپه‌حال د مهجورانو په یاد راوړه — په‌راحت‌چه‌سر له‌نازه‌پر بالین ږدی

ازرده به دي له جوره پیر محمدمی — چه اغیار سره بنادآن و این ږدی



ACKU

رباعيات

عزم د سيل زمان جانسا کا سيل پر لوری د گلستان کا
کەسره لبان پەخندا وسپړی چاک بەله غمه غنچه گريبان کا

* *

خزان خالی کړی د گلو ښاخه غم د بلبل کړه سينه سوراخه
خوبان لحد ته چه لتا لیږ دی ودان خو سه وای د دنیا کاخه

يادونی :

* پیر محمد کاکړ د پښتانه شعراء دلوسړی توک (۸۷م)شاعر دی .

* دپیر محمد کاکړ دیوان د ښاغلی عبد الرؤف بینوا په مقدمه ، مقابله او اهتمام په ۱۳۲۵ ﻫ ، ش کال په کابل کښی د پښتوټولنی لەخوااوپه ۱۳۰۳ ﻫ ق کال د کتابو نو د تاجر امیر محمد له خوا په ډیلی کښی چاپ شوی دی

* دپیر محمد کاکړ بل اثر " ( معرفةالافغانی ) چه د پښتو ژبی گرامر دی په ۱۳۴۲ ﻫ کال د کندهار د کتابو نو د تاجرانو له خوا په لاهور کښی چاپ شوی دی .

* د پیر محمد کاکړ پەباره کښی وگوریء :

ـ دده په دیوان دعبدالرؤف بینوا مقدمه .

ـ د کلید افغانی تعلیقات د شیر ندوی بختانی خدمتگار لیکنه ـ کابل ـ ۱۳۵٦ ﻫ، ش چاپ .

# ابراهیم خان

ابراهیم د نصرالله خان زوی په قوم کاکړ، د اعلیحضرت احمدشاه بابا په عصر کښې زیږیدلی. او تر (۱۲۰۸ ه) پورې ژوندی و. ابراهیم د خپل عصر د مشهور او نامتو ادیب ملا پیر محمد صاحب شاګرد او عقیدت مېندونکی و، لکه چه دی له ډېره اخلاصه چه له خپله استاده سره لری خپل منلی استاد په خپلو اشعارو کښې هم ستائی، اګر که د ابراهیم خان کاکړ اشعار ډېر دی او ځنې بدلې هم لری مګر زموږ لاسته فقط دغه څو بیتونه او رباعی ئې راغلی چه دلته د نمونې پر ډول ولیکل سوه.

د کلام نمونه:

زما استاد ملا پیر محمد و — چه پر لارد پاک احد و
دی ملا په هسی شان او — چه عالم ورته حیران و
سرو کارئې وله درسه — بل مدام دخدای له ترسه
په رسول چه وه راغلی ؟ — هغه تول وو ده منلی
یو و لاړ په شریعت و — بل قانع په مصیبت و
خصلتونه چه دده وه — په همزولو کښې ئې نه وه
مراتب ئې هو سره ډېر دی — تر حساب تر شماره تیر دي
که همواړه تمام کړم — پری ملال به خاص و عام کړم
بعضې بعضې سی ویلی — وعالم ته می ستا یلی
حاصل دا چه ښه سړی و — ښه سړی وښه نسړی و

ACKU

رباعیات :

په زړه سی اوردی ستاله اوربله    یا سی په کوردی،ځم لهاوربله
پهدرست جهان اورونه بل کړم    لولم بهساندی، کړم به کوربله

دبې بلبلوم بندی په ښارسوم    نن پهسیالانو ، بیاعتبارسوم
دونیسیبس ده چهتل پهو یارم    باریچهخاوریستاددربارسوم

پهمخ ښایستهئی ښکلیسلوکی    پرشاوخوا دی دحسن کوکی
بلبلان ستائی، تاپهگلزار کښې    طوطیدیستائیپهسریمبوکی

* ابراهیمخان دپښتانه شعراء لوسړیتوك (۸۸م) شاعردی .



ACKU

# اخوند گدا

ددې شاعر نوم نه معلومیږي، خو په گدا مشهور دی. په اشعارو کښې هم خپل نوم گدا راوړی گدا پخپل عصر کښې یو عالم او فاضل سړی و او خصوصاً په دینی او مذهبی علوموکښې پوره تخصص او پوهانده درلوده. گدا د نافع المسلمین په نوم یو دینی کتاب چه په اخند گدا مشهور دی د پښتو په نظم سره تصنیف کړی او سره ده غه نوري بدلی او اشعار هم لري. کلام ئی عشقی او صوفیانه دی دده داشعارو څخه ښرگندیږی چه دی د مغلو ترزمانی و روسته دسدوزو په وخت کښې تیر سوی دی .

دگدا دغه بدله سو ږ د نمونی په ځیر دلته لیکو :

ددلبرو درخسار په اوریم سوی　　لکه تو ری زلفی تو ریم تو ریم سوی
دناصح په نصیحت می سوی زیا تیږی　　په پو کل سره تازه شوم سکو ریم سوی
بیاسی څه دبیلتانه په لمبه سیزی　　ستادغم په لمبه پروت نسکو ریم سوی
ستادیدن لکه باران راباندی بند شو　　په صورت شوم وچ گیاه سمسوریم سوی

زه «گدا» کله په سود باندی راضی یم
شمع مخ دی پروانه په اوریم سوی

یادونه :

* اخوندگدا دپښتانه شعراء لوسړی تهوك (۹۸م) شاعر دی .
* داخون گدا (ناقع المسلمین) په ۱۳۰۲ هجری قمری کال په ډیلی کښې چاپ شوی دی .



ACKU

# جان محمد

دي د پيښو راو ننګر هار دخوا دپښتو شاعر دی. داحمدشاه بابا په دوره کښې ژوندی و اود (۱۱۷۰ هجری) په حدود و کښې ئی حیات درلود. دجان محمد دینی اشعار ډیر دی. یو کتاب ئی نورنامه سطبوع پاته دی. ددهطبعه په پښتو شعر کښې مقتدره وه. دده دیوان سوزنده دی (لیدلی) له عشقی اشعارو څخه ئی دایوه بدله زسو ږلاسته راغلی ده چه لاندې ئی لیکو :

| | |
|---|---|
| بد لښکر دبیلتا نه راته ولاړشو | پر دغه زما زړه دښهرو یجاړ شو |
| دوصال له ډیره قدره دی خبر کړم | چه سی زړه ستا هر بیلتون باندی لتاړشو |
| دوصال بهار سی تسوی شو پر زمکه | چه راپیښ دجدایی تو دا هاړشو |
| هیڅ اخلاص سی بی لباسه تری بیانه سو ند | یارسی تګ دبنګالی او یا کراړشو |
| چه سی تل دزړګی غوښی خوری عالمه | دخپل یار بیلتون همیش را ته ولاړشو |
| دبیلتون په سخر دی ولی و یشت اشنایه | «جان محمد» چه سینه ماته دتالاړ شو |

یادونه :

* جان محمد دپښتانه شعراءدلو سړی تولك (۱۹م) شاعر دی چه هلته دده دژوند زمانه د (۱۱۵۰ هجری) کال حدود دښو دل شوی دی. ښاغلی زلمی هیوادمل (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) کښی هم دغه نیټه راالخستی ده .



ACKU

# عبدالکریم کاکړ

ددی شاعر پر ته د«جلات خان او محبو با» دقصی چه دپه پښتو ژبه نظم کړې او چاپ شوی نو رادبی اثار او اشعار یی نظر ته ندي راغلی داسی بریښی چه دی دپیښور د ډ ډی دی ـ او دغه بیتونه دده دغه کتاب څخه دلته دنمونی پر ډول و لیکل شوه .

نعت شریف

چه پیدائی محمد خیر البشر کړ — غوره تاج درسالت ئی ور په سر کړ
ښه خلعت ئی دلو لاك کړ و ر په غاړه — داسلام تو لی په ده ئی منو ر کړ
تاریکی دجهان لاړ ملك روښان شو — چی دعوت دنبوت زسو ړتن پرور کړ
سر دفتر شو دهمه وو سر سلانو — په لو ئی کښی تمام جهان خبر کړ

یادونه :

* عبدالکریم کاکړ دپښتانه شعراء دلو سړی ټو ك (۹۲م) شاعر دی ،مگر هغه بیل او دابیل شاعر دی .هغه عبدالکریم (۱۱۵۱-۱۲۳۵ هجری) دکندهار له علماو و څخه و چه عربی «عین العلم» یی په پښتو اړولی او «زین العلم» نو ملی دی دجلات خان او حبو باد کیسی ناظم، عبد الکریم دپیښو ر ددډی دی ،مگر تر اوسه لانه ده ثابته شوې چه دی په څنه کاکړ یابل څوك دی؟ دی دسیدابوعلیشاه (۱۸۳۳-۱۹۰۳م) دزمانی شاعردی .دجلات خان اوسحبو با کیسه په پیښو ر کښی چاپ شوې ده .سو نږددې کیسی دشاعر پیژندنه په پښتانه شعراء،څلو رم ټو ك کښی تر (۳۹۳م) لمبر لاندې کړې ده .ښاغلی زلمی هیوادمل هم په(فرهنگ ژبان و ادبیات پښتو) کښی داعبدالکریم بیل،او عبدالکریم کاکړ بیل ښو دلی دی.

ACKU

# پیښوری برهان‌خان

ددې شاعر دژوندانه تورو قایع پوره ندی ښکاره ،مګردده دخپلو اشعار او دمشهو رفرانسوی مستشرق(ډار مستتر )دتحقیقاتوځخه مع ضدو نه معلو میږی چه‌دی دنادرخان زوی او داعلیحضرت احمدشاه‌بابا معاصر او دپیښور دسر حد هزاره په‌وړکه کښی اوسیده،ده‌ځینی تاریخی‌وقایع لکه‌داحمدشاه‌بابادپانی پت‌د فتح واقعه اودخواص‌خان او افضل‌خان ختك جګړه اوآدم خان اودر خانی‌قصه په‌سلی‌لهجه او وزن‌سره نظم کړی .

بر هان‌خان یوسلی شاعر دی او په‌سلی اوحماسی اشعارو کښی خوراسبك‌او اقتدارلری‌ـدده‌دغه‌تاریخی چهار بیته‌چه دپښتو دتوریالی شهنشاه (اعلیحضرت احمدشاه) دپانی پت په فتحه‌ئی ویلی سوبئی دلته دنمونی‌پر ډول لیکو :

دکلام نمونه

احمدشاه پادشاه په جارو وویله ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ دغزا په نیت و ځمه له کابله

پښتنی سغلی لاندی کړی کفارو ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ داخبر مسی په زړه وګرزید له

یا به‌قتل کړم کفار په هندوستان کی ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ یابه‌بایلم ککری پری باندی خپله

امیران وزیران واړه‌تری چاپیر وو ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ دغزاپه مهم خوښ‌شوه‌یوتربله

یودیرش‌ورځی‌ئی نیته په‌سینځ کښیښوده ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ په‌ړونبی‌ورځ پیش‌خانه‌ئی وویشتله

چه‌دیرشمه ورځ پوره شوه پادشاه سورشو ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ په‌ډیراوښوئی خزانه ولیږدوله

دپادشاه دری لکه‌لښکر همه‌سواره وو ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ هندوستان‌په‌لاری تله‌واړه‌خوشدله

پادشاه خوورځی مقام په پیښورشو ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ داخون‌بابه(۱)په‌زیارت‌پروت‌دعائی‌غوښتله

---

۱ مطلب‌اخوند درویزه‌دی

داتك پەسيندئی دوەپو له تيار كړل　　پادشاهپر يووت پەسانجەئی ميشته كړله

هر سپاهی ئی له برېخو (۲) نه كم نەوو　　درو تاس كوټئی بی جنگەو اخيستله

احمد شاه بادشاه غازی او هم سخی و　　تو له جثه ئی لكه شمع بليد له

دباهو، نەلكه پوځ و رپسی راغی　　شپه او ورځ ئی خالی نەوه لەسز له

باهو و يل پښتو ن زمادځو اب نەدی　　ده په زړه كښی لو ئی ډيره تير يدله

ځامخ شو هنگ ئی جو كړ پەسيدان كښی　　دو ر خه ئی تو پخانه و چلو له

سمند رخان،ؤ من خان دو اړه شهيدان شول　　احمد شاه د زړگی ستن و نړيدله

اوه و رځی وه تيا رەبيارنابی شوه　　دباهو (۳) تنه په ځكه نغړ يدله

سر يتی پەلو ر دغم ناری سو ری شوی　　پښتانه تو ر ه ئی هاله وسنله

پادشاه جنگ وگټه هر څوك پری خو شحال شو

بيا «بر هان» ، ئی مدام ستائی له پەغزله

يادو نی :

* بر هان خان، دپښتانه شعر اء لو سړی تو ك (.۹م) شاعر دی .

* دبر هان خان دشعر حاشيی دتذكرة الشعراء دسو لفا نو دی چه په پښتانه شعر اء لو سړی تو ك كښی هم عيناً دغه حاشيی راغلی دی .

* دانظم پښتانه شعر اء لو سړی تو ك «دپښتو نخو ادشعر هار و بهار» څخه اخستی دی مگرله نهم نه تر اتلسم پو ری بيتو نه يې پری ايښی دی . پەدې بيتو نو كښی د څمكنو دسياعمر صاحب يادو نه هم شو ې ده .دځمكنو سياعمر صاحب داحمدشاه بابا پير او مرشد و .

---

(۲) فتح خان برېځ او دده سلگر ی پښتنو كښی پەشجاعت مشهو ر دی.

۳- باهولكەدسر يتو كو م سر دار و و.



ACKU

# الپوري حافظ

حافظ د پېښور د مشهورو شاعرانو څخه دی. نوم ئې معظم او د الپوري په کلي کښې زوکړی. الپوري د سوات د کاناغو ربند د روڅخه یو کلی دی داسې ښکاري چه حافظ د اعلیحضرت احمدشاه بابا معاصر او وروسته د اعلیحضرت تیمورشاه په عصر کښې هم ژوندی او د ډیر عمر سړی و. لکه چه وائي:
برګ سیوه سی تو ی شوه د پیري خزان لغړ کړم

تیر لکه بر ښښناشوی د ځوانی اردی بهشته

د حافظ دیوان په ۱۳۰۲ هجري کښې چاپ شوی. حافظ صوفي مشر به شاعر دی. ابیات ئې عشقي او اخلاقي دي. دی په عوامو کښې ډیر مقبول او خلق د ده په ویناخو را معتقد دی.

د کلام نمونه

هغه اشنا چه له ما تللی دی بیا را به نه شي    که د رست جهان پرزوانی کړم پخلا به نه شي
سینه زما چه سوخته نه شوه د هجران په شګو
    که ئې په بلو لنبو نیسمه جلیا به نه شي
اشنائي کوز کړ تو ر لحد ته زه حیات ګرځمه
    د مینې لافه چه دروغه ده رښتیا به نه شي
هغه طوطي چې چغیده ه چهارا وس و لی نه کا
    مرګي ئې مهر په خوله وواهه ګویا به نه شي
سپین کته بازمی په سنګول ناست د ناخا په والوت



ACKU

کەدرست جهان پسی پره کړمه پیدا بەنەشی
پەهره شپەپسی صباقرین پیوست را دروسی
پەمادهجر شپه رابره شوه صبابەنه شی
هغەحلقونه چەترخه وودهجران پەزهرو
کەئی خوایه پەتندنباتو کړی حلوابەنه شی
دازه حافظچەسرورله خپه یاره گرځم
خوك چه سبق دعاشقی وانی ملابەنشی

یادونی :

* الپوری حافظ،دپښتانه شعراء دلرمړی توك (۹۳م) شاعردی .

* پەپښتانه شعراء لومړیتوك کښې دالپوری حافظ داوسیدوځای (الپوری چەدسوات دغرودکاناغر بنددری څخەیوروکی سالیدی) ښودلشوی‌دی یعنی،دد ری‌نوم‌دلته(غوربند) اوهلته(غربند) راغلیدی .(غوربند) صحیح دی

# قاسم علی اپریدی

قاسم‌علی په کام‌اپریدی،او دهندوستان دفرخ آباد په‌ښار کښې زو کړی،له (۱۱۵۰) هجری څخه تر (۱۲۰۰) هجری پوری ژوندےو، دقاسم‌علی دیوان ورك دی،تش‌دو نه‌ښکاری،چه‌ده عشقی بدلی‌و یلی ،او دتصوف خواته مایل‌دی. سو ږدده لاندی‌بیتونه دنښې‌په‌توگه لیکو :

دنصاراؤ را تگ هندته :

نصارا په هندوستان حکومت کاندی چرته‌ولاړ هغه‌خوانان شمشیر ننگی

بقالان‌اوس‌شپاهی‌په هندوستان‌شوه دروږه کاندی‌اشراف چونگی‌چړ ڼکی

دیلتاڼ ناروغ :

خدای دی نه کا ندی‌بیلتون ددوو یارانو

په‌بیلتون عاشق په‌روغ صورت بیماردی

تصوف :

تر هغه‌سړ شوی‌نه ئی‌پیش‌له‌سرگه فقیری باطله‌وگڼه نادانه

بار په سر ږدمه عبث د نفس دپاره

کله نه کیږی و نمو نځ ته تیته سلا

په‌بندگی سی‌په دریا له‌خولې بهیږی

تر غر سی نه‌ستړی کیږم په‌قلبه

هرچه دروسی په‌هیڅ رنگ به‌نه جاروزی

دغه اسم دد یبادی شه نیکخو

یادونی :

قاسم علی اپریدی دپښتانه شعراء لوسوی توك( ۳۹۳ ) شاعر دی .

# خواجه‌رزق‌الله

دچپر هار درود په‌قلعهٔ شیخ کښی په(۱۱۰۹ ه) زو کړی ،او دزلمی‌توب دو ره‌ئی په کشمیر ، قندهار، هرات بخارا کښی تیره کړی ،دسپین ږیر توب‌پر وخت‌بیر ته خپل‌سسکن ته‌راغلی.اوهو ری‌وفات او ښخ شویدی.خواجه‌رزق‌الله یو ناز کخیال اوستی شاعر دی،ډیر عشقی‌او په‌سلی‌وزن اشعارلری ،اخلاقی اجتماعی، مضامین ئی هم‌په‌شعر کښی لیدەشی .

دخواجه‌رزق‌الله حماسی او وطنی اشعار هم‌خو راتاو ده‌او د(قدروړدی) چه یو ه نخبه‌ئی‌لاندی راوړو :

پښتو :

| | |
|---|---|
| دبلاغشی سی خیژی له پښتو | زه‌خواجه رزق الله‌نه‌پر یږدم پښتو |
| چه‌خبر شوم‌دحملی دکوم‌غلیمه | دغیرت خولی‌سی ښاڅی له‌و یښتو |

عشقی

| | |
|---|---|
| ستادزلفو په‌تناو خه‌سری شوم | سره لمبه لکه‌گیاه تر ککری شوم |
| که‌سی‌ډو به بیړی‌و کاړی‌له‌بحره | زه‌اخته په‌کشالواو په خواری شوم |
| سر و سال‌سی‌په‌یو دوله‌چنگه‌ووت | چه اشنادستا دعشق په جواری شوم |
| په‌نصیب‌به‌له‌دی کاره‌بیرته‌وو زم | چه‌غړی په‌خوله ددی بدی‌زسری شوم |

زه‌خواجه دعشق‌له‌او ره امان‌غواړم

دنصیب له‌لاسه بند په‌بیماری شوم

## حماسی

خو چه سړ شو لم په تو ره — نده سو ر راباندی بو ره
زماشــا دلیــدو نــه ده — مخامخ راځه تر بو ره
ته کافر او زه مسلم یم — تینگ به‌نه‌شی بی‌شعوره
که‌په‌بل و طن کښی گر ځم — راپیښ شو ی له ضر و ره

## وطنی

خو ار غر یب او بی‌نو ا و ای — خو و طنه ستاپه‌خو ا و ای
و اته غو اړمه له‌هنده — چه‌و طن بر خه زما و ای
څو ژو ندی یمه تر مر گه — هم‌هاغه آب و هو ا و ای
میشته خو ښ‌یم په‌و طن کښی — نه‌چه هند و اړه زما و ای
نه‌دی هندشی نه‌دی نو م‌شی — هماغه بدې‌بیدیا و ای
چیر هار کښی کلاشیخ و ای
ر ز ق‌الله او مشعو لا و ای

یادو نه :

* خو اجه‌ر ز ق‌الله دپښتانه شعر اء لو سړی‌تو ك (۹٥ م) شاعر دی

# ملافرح الدين

نسلاًعرب او داعلیحضرت احمدشاه دعصر له مشهوروا ولیا وو او علماووڅخه دی . دی په سنه ۱۱۵۹ ه زیږیدلی او په ۱۲۴۱ ه په قندهار کښې دعمر په ۸۲ کال وفات شوی، دهرات په جامع بازار کې ښخ دی . ملافرح الدین اخنددخپل عصر ادیب او مؤلف هم ؤ . ده په اخلاقو او تصوف کښې تالیفونه کړیدی یو منظوم کتاب ئې تعدادالکبائر نومیږی په دی کتاب کښې ده اسلامی اخلاق او عقائدبیان کړی او کبائر یې شمیرلی . دا کتاب تر دوزرو بیتو پورې رسیږی . دده د کلام نمونه:

بل حلال حلال گڼل دی هر حرام حرام منل دی
شفقت پر مسلمان کړه له هرچا سره احسان کړه
په ښادی دده ښادس شه هم په غم دره غمجن شه
چه د کفر موجبات دی په دوه کونه مهلکات دی
له همه وو احتراز کړه بیاوشرعی ته اعزاز کړه
که افعال وی که اقوال وی یاچه نور باقی احوال وی
محرم داشرعی وی
پروارددلیل قطعی وی

یادونه :

* ملافرح الدین ،دپښتانه شعراء لومړی توک (۹۶م) شاعردی او هوری دده مدفن (دهرات بازارجامع) ښودل شوی دی .

# مسعود گل پاسنی

مسعو دگل دپښتو یو رزسی‌شاعر دی.داسی‌ښکار یږی‌چه داشاعر دسقر په‌حدودو اوسیده . مسعو دگل داحمدشاه بابا په عصر کښې زوشوی او د ( ۱۲۰۰ ه )په خواوشا کښې ژوندی و.ده دخپل سرشد په‌ستاینه یو او ږدمثنوی په‌پښتو ویلی او یو ژوندی اثر ئې سو ږنه پر یښی.ددی مثنوی نسخی لږدی او د رضوانی په قول یوه نسخه‌ئې دلندن په‌سوزیم کښې شته . دده اشعار پاخه اومتین‌دی‌او په رزسی برخه کښې پوخ ویونکی ؤ.په‌دی برخه کښې ده داحمدشاه‌بابا جنگی کارناسی ښودلی . دده‌خو بیتونه چه دطبعی اقتدار او روانی مخنی ښکار یږی د نمونی په‌ډول رانقل شو ل :

| | |
|---|---|
| جان محمد د را نی‌دا رنگ‌حکایت کا | حکا یت د ا حمد شا ه د ولایت کا |
| اول کال چه‌دی‌داخل‌په هندوستان‌شو | د پنجاب د ملکه تیر گیتی‌ستان شو |
| اراده ئـی وشـوه بـیا د قـنـدهـار | اوسهم‌ئـی کـړ موقـوف دهندوبار |
| چه داخل په قندهار د شه قدم‌شو | نو رهرات ته عزیمت پ‌ه‌هغه دم‌شو |
| په قشون ئی وویشلی سیور سات | د تسخیر عزم ئی و کړ د هرات |
| له فراه چه پادشاه وکړ عبور | هراتیا نو وی مونږه شو محصور |
| که‌تری‌تښتو په‌هیڅ‌لو ری‌نه‌خلاصیږو | په کلا کښې که کښینو نو حصار یږو |
| گه‌ئی مخی‌له ووځی بی اعتبار دی | سو ږسغل دوی درا نی د قندهار دی |

دوی څو ورځی وو پر اته پدافکر و نه — چه‌چاپیر شو تر هرات د شاه‌فوجو نه

د هرات مشغل‌شو وا ړه کلابند — و لی‌ډیر و هغه کوټ محکم بلند

تر ی چاپیر د پښتنو خښی‌سور چی شو ی — د هر چاپه‌لاس‌تو پك نیز ی‌بر چی‌شو ی

یو پلو دتو پخاني و دندو کار — بل پلو دنیز ه بازو ګر کهار

دشاهینو شترانو څه نه وایم — شیر بچه او غمباری به‌ئی څه‌ستایم

دشاه پوځ به‌موج و اهه لکه دریاب — په دریاکښی داکلا لکه حباب

یادو نه :

* مسعو د گل پاسنی دپښتانه شعراء لو سړی تو ك (۹۷ م) شاعر دی .

# عظیم رانی زی

عظیم په خټه رانی زی او د پلار نیکه وطن ئی سوات دی خو د کورنی جګړو له کبله د پیښو ر په تاکال کښې ئی استوګنه غوره کړیده. دی په ۱۱۶۷ ه سوات کښې زو شوی او تر شپږیاو ه اتیاکاله ئی عمر تخمینو. داسی معلومیږی چه ده سر وچه کتابو نه لوستی او دهغه وخت پوره ملااو عالمو او تا کال کښې په امامت او تدریس مشغول و،او په آخر عمر کښې ئی په شعر او شاعری بنا کړی ده. عظیم صاحب په کلام کښې ئی د رحمان بابا پیروی کړی اوددیو ان مضامین ئی عشقی عرفانی او مواعظدي .تنقیدی افکار هم لری. کلام کښې ئی معنوی مزایافصاحت او بلاغت وارہ شته. ددهٔ د کلام دوه نمونی چه په رومبی کښې د تجنیس سکر او وروستی کښې دلزوم مایلزم صنعت بکاری دلته رانقل شوي :

چه مسکن زما دزړه شو ددلدار دار بیلتا نه رابانډی راوړ په یو واروار

بی صبری سی وشلوه میل دپتی او س په غاړه سی بسته کړو داظهار هار

په دی سربه هر ګزنه وم اقرار شوی باری څه و کړم چه نه شی په انکار کار

خپل صورت به پس له مرګه په محشر کښې کړم به یاره متا دمخ له لاله زار زار

زه عظیم چه شوم قبول دیار په در کښې

څکه شو په ر قیبا نو غم دوبار بار

نن‌سی گله په‌صورت بیازلزله ده      را پسی دمفسدانو غلغله ده
ساوی نن خو به‌سی پر یږدی برقراره      پرون تو له و رځ‌سی کړی ولوله‌ده
که‌شیرین دی نیشکر په‌نزد دخلقو      په نظر دعاشقا نو نل نلسه ده
دادرنه‌دي چه‌په مخ زما مځلیږی      دازما دسپینو او ښو سلسله ده
یادو نی :

* عبدالعظیم رانیزی ، دپښتانه شعراء لوسړی توك (۹۸ م) شاعر دی .

* دعبدالعظیم رانیزی دیوان خوځله ،له‌هغه جملې څخه په‌۱۹۵۹ م کال په‌پیښور کښې دښاغلی نصر الله‌نصر په‌زیار او مقدمه چاپ شوی دی .

* «عظیم بابا» په‌نامه رساله دعبدالعظیم رانیزی پیژندنه‌ده‌چه‌مرحوم نصر الله نصر لیکلی او په ۱۹۵۱ م کال په‌پیښور کښې چاپ شوی ده .

# ملاحسن اسحق زی

دی په ختیه اسحق زی او دتلو کان د کلی چه قندهار کښی دی او سید و نکی و دخپل عمر په ۶۸ کال (۱۲۴۰ ه) کښی وفات شوی . مرحوم ملاحسن دخپل عصر ډیر لوی عالم زاهد او بزرگوار و. دی په پښتو یو بشپړ دیوان لری .

نور تألیفونه ئی هم کړی دی. یو پاړسو دیوان هم چه تر پنځه زره بیته پوری رسیږی لری چه په سنه ۱۲۱۰ ه کښی ئی له نظمه فارغ شوی دی . دده پښتو کلام ډیر خوږ او تاثیر ناك دی . رباعیات ئی په ابتکار او سلاست او شورانگیزی کښی لوړه درجه لری : د کلام نمونی ئی دادي .

رباعیات

دسهار باده، خسو شبو نسیمه احوال سی یو سه دیار دیار ترسیمه
و رته سی عرض که دخدای دپاره په صورت ایری شوم په زړه دو نیمه

***

یاره چه ته ئی پرهغه لوری غم خودی نه وی ښادی دیا وری
دعشق بر یښنادی یو وار ښکاره که چه ښه جمال دی خواران و گوری

غزنه

هغه چاری چه زما په خاطر اوری شیخ ئی نه وینی په خوب ملا په توری
ماویل زه به دیدن کړم دیارانو زه چه راغلم یاران نسته سپنی توری
سپینی ښنی سی درباط پر پوتی وسوی خپل اشنای په تش نظر نه راته گوری

چه‌چندنړلره و رځی خپل سر به‌بایلی          داپی مارانو (۱)ځای دچندڼ میوری
دچند نوونی وسو لیدی ولاړی          دابناخونه یې کساپه دحق پرلسوری
«دحسن» برخه دغه شوه له‌ازله          چه همیش دبنایسته ومخ ته گوری

«دحسن» زړگی هغومعشوقو یوور
چه‌مدام تر پلولا ندې ستر ئی توری

یادونی :

* ملاحسن اسحق‌زی ، دپښتانه شعراء ـ دوهم ټوک (۲۰۱م) شاعر دی.

---

(۱) اپی ماران ـ افعی‌ماران ـ کپچه ماران .

ACKU

# ملا صالح محمد داوی

ملا صالح محمد په کام داوی او د اعلیحضرت احمدشاه بابا او تیمورشاه (۱) معاصردی. دخپل عصر له پرهیزگاره علماو څخه دی.دی په روانه طبع لری .

ملا صالح محمد ددیوان خوندد ی او زیات اشعار ئی د حمد او نعمت دی دده د کلام نمونه

کشکی زه نن ددلبر تر روضه جارشوای
دغه پسه‌ئی بیاخاوری دد ربارشوای
په بانیوسی کړای جاروددحرم غولی
په ژړاسی او پاشی دراو دیوارشوای
طوا قونه سی مدام پر پنجرو کړای
دبلبل په شان له شوقه په چغار شوای
په‌شهبر دعشق طائر دلاسکان شوای    په‌لیندی‌دخپل محبوب دسینی ښکارشوای
چه‌روزی سی‌شوای زیارت‌د حرمینو    مشرف دهغو اړو په مزار شوای
زه صالح په‌زړه کښی نه‌لرم ارمان
که‌روزی می ددلبر دمخ دیدارشوای

یادونی :

ملا صالح محمد داوی ، دپښتانه شعراٌ دوهم توک (۳۰۱م) شاعر دی.

(۱) په‌خطی نسخه کښی د (تیمورشاه) په‌ځای‌هم (احمدشاه) لیکل شوی دی چه‌دا د لیکنی اشتباه ده او موتږ دپښتانه شعراءدلیکنی له‌مخه‌تصحیح کړ .



ACKU

# رحمت

رحمت په کام داوی او د اعلیحضرت شاه زمان معاصر و، او اصلاً دقندهار دی رحمت د پښتنو په شاعرانو کښې شهرت لری او نور ادبائی هم پیژنی لکه چه عبدالله پوپلزی دی ستائی :

بل رحمت داوی کتاب لری دلکشه گمان نکړم چه بی ځو ک لری د فتر رحمت یو د شعر دیوان لری چه متاسفانه ورک دی او نسخی ئی بیخی کمیابی دي، دده یو بل مهم اثر چه اوس قلمی میندل کیږی دلیلی مجنون کتاب دی چه دشاه زمان دسلطنت په در یم کال ده په پښتو منظوم کړی او دهغه پاچا په نوم ئی اهداء کړی دی چه سوړ ئی دلته ځو یتونه دنمونی په ډول لیکو :

د کلام نمونه

غمو ملک را باندی تنگ کړ زړه مـی ځکـه دا آهنگ کړ
چه پښتـو لیلی مجنـون کړم بنائی غم له زړه بیـرون کړم
په فـارسـی هـر چـا و یلی پښتـو نـه ده چـالـید لـی
ځکـه زه پـه پښتـو ژبـه دا قصـه کـمـړم عجـائبـه
پښتون هم خو ښ باندی زړه کا او د عـا وساتـه و کـسـا

( او اوه نور بیتونه )

یادو نی :

* رحمت داوی ، دپښتانه شعراء دو هم ټو ک (۱۰۷م) شاعـر دی .

* د رحمت داوی دیوان دهمیش خلیل په مقدمه او زیار په ۱۹۸۰م کال په پیښو ر کښې د دیوان منتخبات یی په (ورکه خزانه لوسړی ټو ک) اود (سره غره گلونه) اود رحمت لیلی مجنون په ۱۳۶۰ هش په کابل کښې د مصطفی نژدې په زیار او مقدمه چاپ شوی دی.

# دمتوزو میا نعیم

میانعیم د شیخ محمد شعیب زوی په نام خلیل دی چه په سهمندو کښې زیږیدلی دی. دی د پېښور په خلیلو کښې استوګه درلوده او د شاه زمان په عصر کښې ژوندی ؤ وه لکه پخپله وائی :

نوکری کوم د یار په عاشقۍ کښې ⠀⠀⠀ منت بار دسدوزی شاه زمان نه یم

دی محسانته دبدلو دیوان لری چه په ۱۲۳۰ ه کښې ئی لیکلی او چاپ ته نه دی رسیدلی، دده خواږه اشعار ټول عشقي او تصوفي دی او سره ددغه ډیر سوزناک او پستې تشبیه ګانې او استعاری پکښې شته ددغه بد له دده د روانې طبعې ښخه ده چه دلته و لیکله سوه .

د کلام نمونه

په وصال کښې سی ز یاتیری شر و شور بیا
ستاییتون را باندی و لگوی اور بیا

دابر و ستاع که غوارم په یاری کښې
پـه سودا کښې ستادمینی شوم سرتوربیا

که په سینه کښې تهمت په ساوا یه شی
دعشق کار سی پخته کیږی په پیغوربیا

که هر څوئی پـه اسید و رشم تر ز لفو
لگوي سی خوله پر زړه باندی سنگور بیا

په ژړاسی هیڅ پر واد ښکلو نه شی
په باران دباغ گلو نه شی سمسور بیا

لکه سوم ئی و یلی کیږم د سخ نو رته
په وصال کښې را ښکاره کا هسی زور بیا

چه ئی خیال دز نخدانو زړه ته تیر کړم
په کوهی کښې سی گوزار کاندی نسکور بیا

که نعیم ته ځان ښکاره لکه آفتاب کړی
لکه گل هسی ئی زړه سی ورته خور بیا

یادونه :

* میانعیم متی زی ، دپښتانه شعرا دوهم توک (۸۰۱م)شاعر دی .

# بیټنی عبدالنبی

ملاعبدالنبی د محمد اسماعیل زوی په قام بیټنی دی او د کندهار د ذاکر په کلی کښې اوسیدی،چه اوس هم د ذاکر د غره په خوا کښې ئې زیارت معلوم دی.

ددی شاعر د ژوندنو ر لودن نه دی معلوم، مگر دده د قلمی دیوان څخه چه طبع نه نه دی رسیدلی دو نه څرگندیږی چه دی د هجرت د دیارلسمی پیړی په اوایلو کښې ژوندی و. ملاعبدالنبی صوفی ډو له یو شاعر دی او کلام ئې ټول عشقی او عرفانی دی، دغه بیتو نه دده د کلام نمو نه ده چه دلته و لیکله سوه :

چه د کن فیکون حکم د معبو دسو — له عدمه کل ممکن و اړ مو جو د سو
بر ابر ئې پر قضا قسمت واقع سو — د څنو په برخه زیان د څنو سو دسو
انقیاد ئې په نصیب د ملائک کړ — د شیطان په برخه کبر له سجو د سو
منعمان د بنه ایوان په سوری خوب کا — د ملنگ په سر سایه د دو هی دو د سو
د آدم له پشته واړه ظهور و کړ — دیو ه لقب مسلم د بل جهو د سو
د جمال له اقتضاء مسلم پیداسو — د جلال د اقتضاء گو ره سر دو د سو
په وحدت کښې سر اله کیف و چون دی — په کثرت کښې ئې د فیض ډیر و رو د سو
لو ن لون کالي ر نگ سوه له دی خمه — څینی سره شوه څینی ژ یړ څینی کبو د سو

انا الحق ئې مبدل په هو الحق سو
پر «نبی» دا د معنی و ر چه کشو د سو

یادو نه: عبدالنبی بیټنی ، د پښتانه شعر اء دو هم ټو ك (۹ ۰ ۱ م) شاعر دی .

# پیښوری مطیع الله

ددي شاعر دژوندانه احوال داسې ښه ښکاره نه دی اداده دقلمی دیوانخخه دونه معلومیږی چه‌دی په‌قام پیره خیل او داعلیحضرت تیمورشاه معاصر و .او دپیښور دباسین پرغاړه یی استوګه درلوده .

مطیع‌الله یو مستانه شاعر دی اودده خواږه اشعارټول عشقي دي .دغه بدله دده دروانی طبعی څخه‌ده.

غزل

لکه زه یم په‌تنور کښې دهجران وریت ‏ ‏ ‏ هسی رنګ‌به کباب‌نه‌وی‌په‌دکان‌وریت
داسرخی چه‌دغروب په‌وخت لیده‌شی ‏ ‏ ‏ دازمالهٔ آهه سخ شو دآسمان وریت
ته‌ګمان ددروغجن رباندی مه کړه ‏ ‏ ‏ زه‌مجنون‌غوندی‌په‌عشق کښې‌یم یکسان‌وریت
بلبلان په سحر څکه کوکی کاندي ‏ ‏ ‏ چه‌ئې‌زړونه‌دی‌په‌غم کښې‌دخزان‌وریت
دائی څکه داغیار ترخنګه دروسم ‏ ‏ ‏ چه‌زړګی‌شی دعاشق‌راته‌ښه‌شان‌وریت
چه دشپې استخاره و کړم دلبرد ‏ ‏ ‏ ستادسینی په‌اورو ینم‌خپل‌ځان‌وریت
نه او نرنه لیونی یمه عالمه ‏ ‏ ‏ خودیارله‌سینی ګرځم‌په‌بیابان وریت
لکه وچ سپیلنی‌واچوی په‌اورکښې ‏ ‏ ‏ اوردسینی می‌زړه هسی کړ اسان‌وریت

په‌دنیا کښې په‌عشق ډیرسوي سوخته شته
مطیع الله غوندی بل‌نشته په‌جهان وریت

یادونه :

* مطیع الله دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۱۰ م) شاعر دی .

# کندهاری ملازبردست

ملازبردست پهختهه کاکړ دکرم خان زوی دقندهار د شاوخوا اوسیدونکی وو. دی د اعلیحضرت احمدشاه باباسعاصر او د خپل عصر ښه عالم او متقی و اودشعر طبعه ئی هم درلوده. یو دینی او اخلاقی کتاب دروضة النعیم په نامه تصنیف کړی چه دغه بیتونه دروضة النعیم څخه دلته دنمونی په ډول نقل شو.

من طلب وجد

مطلب مومی طلبگاره
ده په خنلوی که په وار،

په اخلاص چه څوك طلب کا
رب حاصل ور ته مطلب کا

بي مطلبه نه پاتیږی
نه کاشکې چه څو که پوهیږی

من لم یرحم الناس لم یرحمه الله

هغه څوك چه نکړی رحم
نه لری پر مظلوم فهم

خدای به رحم پرو نه کا
هر هغه چه هسی کړه کا

رحم و کړی ء رحم دلو
پر مخلوق دخدای عاقلو

مهر کړیء که مهر غواړیء
او که نه وي تل به ژاړیء

من لم یظلم لم یظلم

څوك چه ظلم پرچا نکړی
کله ظلم څوك پرده کړی

چه بد نکړی بد نه مومی
نیکان کله بدي مومی

کښته خپله هر څوك لو کا
خپلی کرلی هر څوك درو کا

نیکو کاره نیك رفتار کړه
دهر چانیکی اختیار کړه

یادونه

* ملازبردست کاکړ، دپښتانه شعراء دو هم ټوك (۱۱۱ م) شاعر دی.



ACKU

# گل محمد

داشاعر دپیښور دهزاری دډ و ډیال دعلاقی یوسلی شاعر و چه پرسلی ډول ئی بدلی او قیصی ویلی : گل محمد د(۱۲۵۰ ھ) پهشاو خوا کښی ژوندی و. دلتهسو پر دشداد دباغ قیصی نهچهده پهپښتو نظم کړی دغه خو بیتونه دنمونی پر ډول لیکو :

جنتشو پهاتهځا یه بناحکم درب‌و
شداد چهجوړوه پدی دنیائی سبب‌و
شداد چه جوړوه په دی دنیا دائیو خیال

جنت‌به کړم پوره زه پههرخه باندی سمبال
اجړاو وو پری یاقوت چهدسر سروئی دیوال
بیاښی حوری حوران پکښی ساتلی مقرب و
بیاښی‌حوری‌حوران‌پکښی بی‌ثانی چینی حوضونه
دشاتو به لښتی پکښی بهیده لکه سیند ونه
دسرو زروسانی ښی چیوتری ښکلی تختونه
شاباش پهاستا کارشهچهجوړ کړیئی عجب و
شاباش پهاستا کارشه ده جنت کړه وله ساز
دسرو سپینوئی ونی خپل هنر یی کا آغاز
دسرو زرو سرغانو پرې دپاسه کاپرواز
ښیښی شش محلونه هر یو تخت ئی سرکب، و

تختو نه رنگارنگ و و استا کار جوړ کا جنت

شداد ته ئی تیار کاو رله وئی کامحنت

شداد چه دی جنت ته ننو تو ته وکانیت

دروازه کښې کا حصار دوه ملائك ليږلي رب و

ملايك وړه راغلي و و له پاکه مهر بانه

جنت ئی کا غائب خوشی دنیاده له ارسانه

سرگی ور پسی گرځی اسان غواړی له هجرانه

دوستی په چا کښې نشته سائی ډير کړی طلب و

دوستی په چاکی نشته خوشی سه کو ه لباس

له بدو توبه گارشه له یاری و کاږه لاس

ددی زمانی خلق چه هر سړی دی په وسواس

«گل محمد» غواړی سد دله هغه ذاته چه عرب و

یادونه :

* گل محمد دپښتانه شعراء دو همتوك (۱۱۲ م) شاعر دی . هلته یی پر ژوند زیاته رڼا اچول شوی ده او (ه) غزلی او یو شمیر رباعیات یی ثبت شوی چه داچاربیته هلته نشته .

# سپينه

دا پښتنه شاعره د نور محمد خان الکوزي لور وه چه هرات کښې اوسېده، هغه کال چه ايرانيانو هرات کلابند کړ (۱۲۵۵ هـ) او پښتنو په سړانه د هرات په ساتلو کښې برخه واخسته، دا شاعره ژوندۍ وه. دې د پښتنو سړانه په يوه منظومه قصه کښې ښودلې ده، دا قصه د هرات د محاصرې منظوم تاريخ بالهشي. د دې قصې کښې د تورياليو پښتنو او د شهزاده کامران او وزير يار محمد خان سړانه ښتې. اشعار ئې خوراسليس او روان او حماست نه ډک دي. دلته څو بيته دې منظومې قصې نه د نخښې په ډول رانقلوو:

يار محمد وائي پښتنو زما زمرو ... تول ه را وزئ وسله دار له کوره
پر غليم وکړئ يو هجوم ګړندی ... هرات له لاسه په ژوندون مه باسئ
دا زمونږ کور دی زمونږ وطن دی نه ... دا زمونږ تا توبی زمونږ ماسن دی نه
کفن په غاړه داوطن وساتئ ... زمونږ د پلرو ښکلی مدفن وساتئ
دلته پراته دي ننګيالي نيکه ګان ... دلته بهيږی وينې تل د افغان
هرات زمونږ دی زمونږ کور دی نه ... زمونږ نغری دی زمونږ ګور دی نه

يادونه:

* سپينه، د پښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۱۳ م) شاعره ده.

ACKU

# گل محمد کاکړ

دی دخپل وخت یو زاهد عالم و، چه تر ۱۲۰۰ و روسته‌ئی قندهار کښې ژوندون کاوه ـ ده په شرقي علوسو او فقه او تصوف او اخلاقو کښې ښه مهارت درلود. دی په پښتوبدلی هم لری چه ځینې ئی دشمس العابدین په پای کښې لیکلی شوي .د ده آثارتول قلمي او نادر دی اوداسی ښکاري چه‌دی‌یو متصوف او اخلاقی‌شاعر او درحمن‌بابا پیرو و ـ دابیتونه دده دشعرد نمونی په‌ډول له قلمي شمس العا بدین څخه غوره شوه.

زما دسرو شونډو دښو تمناده — داد زهرو ډك جاسونه دي پرځه ؟

ولی‌نه‌گوری‌دلبره‌داځه‌حال دی — زمـاسوی آوازونـه دی پـرځه ؟

که‌شیدا نه‌یم دلبره راتـه‌وایه — داد اوښو دریـا بونه دی پرځه ؟

«گـل‌محمد» له‌هغه غمه نـه‌خلاصیږی

ستالا نورسوی دا غونه‌دی پرځه ؟

یادونـه :

* گل‌محمد کاکړ، دپښتانه‌شعراء دو هـم‌ټوك (۲۱۱ م ) شاعر دی .

# سردارپردل خان

دی دمشهو رسر دار پاینده محمد خان زوی او داعلیحضرت دوست محمدخان وررور و. په ۱۲۰۰ ه کښی زوشوی او دعمر پر (۴۵) په شنبی سلخ د میانی ۱۲۴۵ وفات شوی او قندهار کښی د حضرتجی په ادیره کښی ښخ دی . پردل خان هم په پارسو هم په پښتو شعروایه ده چه په پښتو کوم اشعار ویلی تو له په سلی لهجه او دپښتو پر خصوصی بحور وسم دی .دا اشعار ئی تو له عاشقانه دی سلي سبك ئی ژوندی کړی .

کسر

وي گوریء دگل په شان سی ژړ رخسار د یار دی* عالم بی تمه دار دی
ایو دی بوی د گلاب راغی زړه سی په تاپ راغی

پروت په بیغمی وم یو بشرسی په خواب راغی*پرمخ سی سیلاب راغی
و ینن ئی کړم له خوبه بیاپیری که انسان راغی*اوپرمخ ـ مخ سی باران راغی
پری خو به ئی نه ړدم چه په سینه کښی سی یار دی ـ عالم بي تمه دار دی
ښه صفت دي رنگار نگ کوم ـ هوادی د پالنگ کوم
ستا پر تورو زلفو درقیبه سره جنگ کوم ـ منگولی به پری رنگ کوم
او داسی پیغورنه دی که شړی در پسی لنگ کوم ـ او ترشا به نام وننگ کوم
نی لرم پروا «پردل» دعشق په تهمت بار دی عالم ئی طمعه دار دی
یادونه :

* سردار پردل خان دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۱۵م) شاعر دی .

# سردارمهردل خان مشرقي

سردارمهردلخان دسردارپاینده محمدخان زوی ، دی، د۱۲۱۲ ھ دمحرم په میاشت زیږیدلی او دعمر په ۵۰ کالو په ۲۷ ددریمې خور ۱۲۷۱ ھ وفات شوی، او قندهار کښې دحضرتجي باباله مزار سره ښخ دی .سردار دپښتو لوی ادیب اوعالم وپه پارسو یو ښه دیوان لري چه ترپنځو زرو بیتو پوری رسیږی او په زرو بیتو کښې ئې دمولینا روم دمثنوی لمړی بیتونه شرح کړي، یو بل کتاب په نامه د«جمع الجمع» تصوف کښې لري په پښتو هم «مشرقي» تخلص متفرق اشعار لري خو نسبت فارسي ته لږدي ـ او دااشعار سره ورك دی . دده دپښتو کلام خوږ او روان دی ادبي ښیګړی لري او رشاقت او بدایع ډك دی ـ دلته دایوه غزله چه پوره تجنیس وو رته وایه شي دنمونې په ډول غوره شو .

| | |
|---|---|
| پلو او اخله لهمیږوسې مخه سپرمنې | ستا بې مخه راته شپې دی و رځې سپینې |
| ستاله و رهتلای نسوای هوری دو ری | د رته ناست یم په درباو پری مې دی سپینې |
| درست بدن مې دېلتون په اور کښې وریت سو | په ګوګل کښې مې ویلیږي تو ری سپینې |
| راته وګوره رقیب سپك په خه شان کړه | خدای دی سپك کړی ستا په مخ ودی وزی مسینې |
| زه پښتون یم نه ویریږم له رقیبه | ورته ویه کړه بیانې سپینې سپینې |
| «مشرقي» دی په تیاره دبیلتون ژاړی | ورته مخ ښکاره کړه په مخ سپینې |

یادو نه :

سردارمهردل خان مشرقي دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۱۶ م) شاعر دی

# میرزاحنان

میرزاحنان دمحمد حسن زوی دقندهار دسرت کلا په کلی کښی هستوګه کوله او په خپل عصر کښی ښه غوره اومنلی ادیب اوشاعر واو دده ښکلی اشعار په‌خوږوالی او بلاغت سره ممتازدی .میرزاحنان په‌پښتوکښی ځان‌ته دغزلو مردف اومرتب دیوان‌لري‌چه طبعي‌ته‌ندي‌رسیدلی اودده اغلباًادبی بدایع‌او تشبیهات اوشاعرانه استعاری او تخیلات دپښتنو لزی ادیب د ډېرو ری حمید بابا‌ته ورته دی ، لکه چه‌دی وائی :

دحمیدد‌خوش نظمی په‌زراعت کښی داحنان ئی دی دشعر خوشه چین
دحمیدد شعر بحر ته حنانه یوڅو څاڅکی دی لو پډلی ستاابیات

حنان د . . (۱) معاصر اومسلماً په ( ه (۲) کښی وفات شوي دائی دکلام نمونه :

غزل

هغه‌خولک چه‌جام دلبو د دلبر خوري هغه‌هم په‌دادنیا آب کوثر خوري
چه سیالی کوی دیاردشوخوستر ګو همیشه‌لکه بادام کانی پرسر خوري
چه‌ارمان‌دیار دخولی لری‌په‌زړه کښی دغنچی په‌شان‌مدام خون جګر خوري
دلنشین چه‌ئی شی خیال دبانهوګانو هغه‌هرساعت‌پرزړه باندی خنجر خوري
چه‌سیاه‌بخته‌شی‌په‌عشق کښی‌مقصودموسی لکه‌زلفی دزنخ دسیب ثمر خوري

ګرداګر دیی پر خوله خطنه دی حنانه
موږچه‌ګان سره تپول‌شوي دی‌شکر خوري

یادونی :

* میرزاچنان دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۱۷ م) شاعر دی .

* دحنان بارکزی دیوان په ۱۳۳۷ ﻫ، ش کال دښاغلی محمددین ژواك په مقدمه او زیار په کابل کښې چاپ شوی دی .

* دالحاپونه په خطی نسخه کښې همدغسی پاته دی .

میرزاحنان بارکزی، په ۱۲۰۰ ﻫ، ق کال کښې ژوندی او دسردار سهردل خان مشرقی معاصر او له هغه سره بی ډیره سینه علاقه او ارتباط درلود.

دی په سپین ویرتابه په کندهار کښې وفات شوی دی. دسردار سهردل خان ویرنه بی لیکلی ده. سهردل خان د ۱۲۷۱ ﻫ، ق کال ددریمی خور (جمادی الاول) په ۲۷ سه مړشوی دی، نوتردغی نیتی پورې دحنان ژوندیقینی دی .

میرزاحنان بارکزی په پښتوکښې دهندی سبك یوتکړه شاعر دی .

# صدیق آخندزاده

صدیق آخندزاده پهقوم هوتك‌او د کندهار په ښکار پو ر بازار کښې اوسیدی‌ء دی‌دنو سوړی سر دار «سهر دل» خان‌معاصر او دهغه ادیب او علم منونی سر دار په ادبی سر کو کښې شامل‌و. صدیق آخندزاده دخپلی زمانی مشهو رعالم‌او سپیڅلی ادیب او شاعر دی او دده پاخه او طبیعی اشعار ډیر خو اږه او خو نده و ر دی ،او دی پخپل عصر کښې دشعر اوو استاد باله شی لکه‌چه پیاوړی میر زا حنان دی داسی ستائی :

او س صدیق اخندزا د ه ښه شعر و ائی ـ ډ یر ښه پوه دی دبیتو په انبلو او برسیره‌ددې‌آخندز اده‌فکاهیات‌هم‌لری متأسفانه‌چه‌دده‌دفلسفی‌ډك‌دفكاهیاتو د بو ان‌دده دمر گه و روسته و رك شوی . مگر ځینی فکاهی اشعار ئی تر اوسه په‌قندهار کښې دخلقو یادی زده دي ـ صدیق‌آخندزاده داسیر دوست محمدخان معاصر او مسلماً د (١٣٠٠ ه ) په حدو دو کښې و فات شوی،دغه رنګینه‌بدله دده دروانی طبعی څخه‌ده :

| | |
|---|---|
| سر به‌تری قر بان کړم که‌دماسره‌یار یاروخوت | دو دمی له‌پر هارو خوت |
| سر به تری قر بان کړم که‌زما تللی‌نگار راغی | دحسن په سینگار راغی |
| نوی‌شگوفه شوه چه‌بو را دلوی سحار راغی | بیا نوی بهار را غی |
| زاغ په‌گلو گرځی دبلبل له‌سینی خارو خوت | دو دمی له پر هارو خوت |
| شپه‌دبر ائی ده چه‌له یارسره خلوت کښېوما | گله په څه نعمت کښېو ما |
| سرویږدي‌سپین مړ وندوسینه تخت پرون‌جنت کښېوما | ډیر په ښه عزت کښېو ما |

هجران را باندې ورغ که چه شپه تیره سوه سحار وخوت　　دو دمی له پر هاره وخوت

مخ می دنگار و لیدله شمسه تجلی کوي تل　　زړه می تل ولا کوی تل

مینه می غالبه په دیدن ئی مخ تالا کوی تل　　حسن ئی صلا کو ی تل

تور خط ئی په مخ راغی په اسلام باندې کفار وخوت　　دو دمی له پر هارو وخوت

له ازل برخه می داده چه مدام آه و فریاد لرمه　　سوی زړه نا ښاد لرمه

عشق په خال و خط تړلی ، ښار لکه صیاد لرمه　　خان او مال برباد لرمه

تل ژ اړه صدیقه چه خپل یاردر ته اغیار وخوت　　دو دمی له پر هارو وخوت

یادو نه :

* صدیق آخندزاده دپښتانه شعراء د دویم ټولګ (۱۱۸ م) شاعر دی .

ACKU

# فیض‌الله

فیض‌الله‌دقندهار دمشهوروشاعرانو څخه‌وچه ددهعشقی اشعارتراوسه‌په‌قندهار کښي شهرت لري اوخلق ئی په عمومی مجلسو کښي وائی او اکثره‌ئی سپری بدلی دی.

فیض‌الله‌پس‌له (۱۲۰۰ ه) دقندهارپه‌خاك ریز کښي زیږیدلی او دمحمد زو په لوسږی ذوره کښي وفات شوي او په‌ارغنداب کښي ښخ دی ـ دغه خو بیتونه دلته ددهٔ داشعارو څخه‌دنمونی پرډول ولیکله شوه.

دکلام نمونه

ژړی گل‌می پری کاوه فسادراوسو بوستان څه‌سو ؟

خپل بلبل می لوباوه پرالواته سو جانان څه‌سو ؟

هغه‌سرای چه‌ساتیار کیء دنابودی دنیا کال‌پر کال‌می گلاوه‌پر نړیده‌سو بناخه‌سو ؟

هغه‌باغ چه‌ساتیار کیءدژړو گلو نو پر نو می‌اوباوه پر و چیده‌سو باغوان څه سو ؟

هغه‌جام چه ساتیار کیءدسرو لبانو ـ لاس پر لاس می گرځاوه پرخړیده سو ساقی څه‌سو ؟

یادونه :

* فیض‌الله، دپښتانه شعراء دو هم ټوك (۲۱۰م) شاعر دی.



ACKU

# رښاخیلی عزیز خان

عزیز خان چه په قوم رښاخیل او د هرات دپښتنو څخه څرګندیږی ،دده اشعار سلی رنګ لری او احساسات یی دتوریالی تو به ډك دی ـ عزیز خان دسدو ـ زود پاچهی په پای کښی ژوندی وه او داسی بریښی چه عزیز خان دهرات په سلی جنګو کښی دشهزاده کامران او وزیر یارمحمد خان سره شامل و او ده دهرات دجګړو او کلابندی تاریخ په ملی لهجه نظم کړی دی .متأسفانه چه پرته ددغه بیتو چه دلته رانقل شو نورڅه لاس ته نه دی راغلی .

ښکلی دی بیا آسمانه سری دی پاس په هرات دو یرناری دی

یارمحمد یرغ کړ په لښکر باندی سیدان بی اور کی ،پر غجرباندی

کامران وی راسه یارمحمد وروره ته یی په خان زمو ږله خپله کوره

خدای دی رسوالری چه تانه منی دپښتنو توره سپانه منی

سوړ ته یافتحه یا کفن بویه ورخ دمساته دوطن بویه

غیرت څرګند کړی ،په خنجر باندی

یارمحمد یرغ کړ په لښکر باندی

یادونه :

* عزیزخان رښاخیل ،دپښتانه شعراء دوهم ټوك ۱۶۱ م شاعر دی .

# مرادعلی صاحب

داجناب دجلال‌آباددکاڼې قدوة السالکین حضرت‌عبدالله‌جان‌السیلانی مشهور پەفقیر صاحب چەد افغانستان‌دفخر یو مقدس‌او روحانی عالم دی زوی و وچه (۱۲۲۰ ه) پەحدودو کښی تولد شوی او دخپلی زمانی مشهور عالم دی‌مراد علی‌صاحب هم‌پە عربی‌اوفارسی او پښتو کښی دتصنیف او تألیف خاوندی سره دهغه پە پښتو کښی فصیحه طبعه‌لری چەځنیی‌دینی‌او اخلاقی کتابونەئی پەپښتو سره نظم کړی چه سوږدده دغه‌څو بیتونه تیمناً دلته‌د نمونی پر ډول لیکو :

عالم نه فکرو نیسه بیاگوره
قبله دهر چا بیله بیله ور وره

قبله دتن پرورو خوب‌خوراك
قبله دعا قلانو فکر اوا دراك

قبله د دنیا دارو سیم وزر
قبلـه دپادشا هانـو تاج افسر

قبله دعا فلانـو جان او مـال
قبله د ذاکر انو ذکر او حال

قبله د حر یصانو دمـال جمع
قبلـه دصابر نـو اصبـر او قنع

قبله‌د سرو دیانـو دی رباب
قبله دزاهـد انو دی محراب

قبله دگمر اهانـو دی تلبیس
قبله دعالما نـو دی تـدریس

قبله دجا هلانـو دی بدکار
قبلـه دسالکـانـو دی اسرار

قبله دکافـر انـو دی زنار
قبلـه دعاشقا نـو مـخ دیـار

قبله دمشر کانو دی ضلال
قبلـه دعار فا نـو دی و صال

پەباطن‌اوسه آشنااو پە ظاهر کښی‌بیگانه شه

پەښکاره اوسه‌خالی او پکښی ډکه پیمانه شه

ACKU

داعجب روښدي وروره که پوهيږې تل پرې دروسه
پهظاهر دانه دسيو پهباطن کښې دردانه شه

يادوني :

* سرادعلي صاحبزاده د پښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۲۲ م) شاعر دی
* سرادعلي صاحبزاده د «تفسير يسير» په نامه دقرآن شريف تفسير پهساده پښتو ژبه ليکلی دی چهزيات شهرت لری ددهدعلمي او قلمي خدمتونو په ویاړ سونږ د ۱۳۴۹ کال دد لو په (۳۰ مه) په کامه کښې دده په مزار علمي سيمينار دایر کړ چهدده او دده دکورنی ادبي خدمتونه پکښې وخيړل شول
سراد علي صاحبزاده د ۱۲۹۷ ه ، ق کال دربيع الاول دمياشتې پهدولسم په (۷۳) کلنی کښې وفات شوی. دده دوفات د قمري کال دتاريخ ماده
د(ياغفور) لهعبارتهراووځي
دزياتو معلوماتو لپارهوګورىء:
ـ څېړندوی عبدالله بختانی خدمتګار ـ سراد علي صاحبزاده ـ کابل مجله
د ۱۳۵۰ ه ، ش دثور ګڼه .

# سلیم زمینداوری

سلیم علی زی دقندهار په ملی شاعرانوکښی لوړمقام لری ،دی دزمین‌داور په ښنوبښوکښی لکه بلبل لوی شوی ، اوتر ( ۱۲۰۰ ه ) وروسته لاژوندی و. سلیم په ملی شعراوملی بحروکښی ډیر اشعارجوړ کړی دی‌چه دسپرو بدلو په ډول ویلی‌شوی دی اوتر اوسه ئی دغه ځای پښتانه وابي :

سپره بدله

بی‌اعتباره په‌دنیا کی یم شرمیږم — کوره پر ما نظر صنمه !
تمې‌ې ناسورپه‌وینوسور کله‌رغیږم — زخمی دزړه په‌سر صنمه !

* * *

که وفا داریې زما یار ئی — په‌خیره یووارسم وگوره
بنه می زیږه پرسیخ دوړه — زما زړه لکه قلم و گوره
په زړه رنځور ،سینه تنور — زسافر یادو نه‌هردم وگوره
سریض یم شپه اوورځ ویلیږم — نه کوی باور صنمه !

* * *

ولی ساتنه سم نه گوری        درب دپاره مرم د رپسی
ته بی پروا خو پرسا زوری        دزړه‌و ینه‌زه‌خورم‌درپسی
هیڅ دی **طلب** پر لبرو شوری        شتاب شتاب لرم درپسی

* * *

لکه بورادگل په‌مخ باندی پر یږم        ناری می تل دی سر صنمه
دعشق له‌تاوه‌می‌ناری‌ځی له‌دهانه        داخه کانی راوشوی په‌ما
خبر می ولاړی‌تر ډیرو او تر ملتانه        داخه پیښی راوشوی په‌ما
پخپل آشناپسی‌دی کرم‌سینه‌سوزانه        داخه چاری‌راوشوی‌په‌ما
ستد رې وایسم تسل ږغیږم        ناری می پر هرو رصنمه

یادونه: زمین داوری سلیم ، دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۲۳ م ) شاعر دی

# نورالدین

نورالدین دپښتنو دملی او رزمی شاعرانو څخه دی ، چه د اعلیحضرت امیر دوست‌محمدخان په وخت کښې ژوندی وو، وائی چه‌تر (۱۲۰۰ ه) کاله وروسته ژوکړی‌دی . نورالدین درزم شعرونه اوعاشقانه‌بدلی‌او نوراشعار ډیر لری .

دیارمحمد خان جنګک له سیدسره :

راغی امیرخان سرداره دربه‌کړمه‌زر لەماسره روان شه‌یوسفرزو ته‌بر ابر
سیدرانه ملك‌وا خیستر الەوګټه‌دفتر زرپاخه‌روانیږه سستی‌مه کوەسر داره
روان شو یارمحمد سیدو باسی له پنجتاره

سر دارو یل وطن‌بەدرله وګټم امیره لاسونه سی‌له‌تاسره‌راشکلی دی پەزیره
ذانه‌بەدسید کړمه‌له‌هنده هواګیره پەسخ کښې‌پیش‌خانەسباله کوچ کوم‌له‌ښاره
روان شو یارمحمد سیدو باسی له پنجتاره

روان شو یارمحمد لەامیرخان سرەیارانو
تو پونه تلەپەګاډو زنبورك پەشترانو
پەشاو خوا کې وەیوەتولی دسردارانو
ډیره شوه پەنوښارستر ګی بی سری‌وی‌لەخماره
روان شو یارمحمد سیدو باسی لەپنجتاره

سردارديوسف‌زوسره معلومی کړی‌خبری
پټ پټ‌سره جرګه قصی‌یی واورويدی حاضری

یوسف زوو رته ویی سیا، به کړو له ځانه لیری

چپاو یی پهسنګرو که هی هی چه پهقلاده

روان شو یارمحمد سیدو باسی له پنجتاره

بیابل به پیاوانه‌شی سیدمحمد غونډ‌ی سر داره

دو رورګنه بهو کا دهرچا پری اعتباره

ځوان پری‌باندی راغی شو په ښکه تار په‌تاره

راځی به‌دوست‌محمد پسی رحمدل له‌قندهاره

روان شو یارمحمدسیدو باسی له پنجتاره

قاصد یی د لیږلی پیرمحمد پسی له‌وخته

رادرومه په‌جلدی خبره پیښه‌شوله سخته

ناوړه یی یارمحمد لګه دسرو ګلو نو لښته

بلبلی سری سنګولی سرو ړی و روان شولی دلباره

روان شو یارمحمد سیدو باسی له‌پنجتاره

یادونی : * نورالدین ،دپښتانه‌شعراء دوهم توك (۳۲۴ م) شاعر دی .

* د « تذکرة‌الشعراء» په خطی نسخه کښی دڅهاربیتی دوه لوسرئی بندونه . دنورالدین دشعر دنمونی په‌توګه‌او ځلورورو ستی بندونه دسلیم زمینداوری پسی لیکل شوی‌وی‌چه ضرور دادلیکنی‌سهوه‌ده او سونږهر څه سره‌په‌ځای کړل.

* « نورالدین څهاربیتی » دښاغلی نصرالله خان نصر په زیار او مقدمه په ۱۹۵۸ م کال په‌پیښور کښی چاپ شوی‌دی .

«دپښتو نخوادشعراهارو بهار کښی لیکی: «نورالدین د پیښو ردبر بر دسیمی دسکهانمو د سلطی دوخت شاعر چه بتګرو».په نوسوړی کتاب کښی داڅهاربیته په‌بوره ډول چه نه بنده ده ،ثبت ده .


ACKU

# دوست محمد ختک

دی په اصل دپیښور او دخوشحال ختک د کورنی څخه دی خو دځینی کورنیو اختلافاتو پ‌ار ددهٔ ورنیکه محمدزمان خان قندهار ته راغلی او دی هلته په قندهار کښی زیږیدلی .ددهٔدتولدتاریخ د ۱۲۳۰ ه حدود تخمین کیږی ، دوست محمد برسیره په‌شعري مضامینو پښتو نثر لیکونکی فاضل دی او ډیر علمی او دینی آثار په نثر کښی هم لری . دی یو متصوف او فاضل عالم ؤ او ډیر اخلاقی ، علمی، اعتقادی او تصوفی مسائل ئی په‌خپله ملی ژبه نظم کړی دی، پخپلو اشعارو کښی سردار محمد یعقوب خان دامیر شیر علی خان زوی چه‌دهرات نائب الحکومه وستائی او صفدر علیخان دقندهار نائب الحکومه هم یادوی . د شعر سبک ئی خوږ او روان دابیتونه ددهٔد کلام نمونه دقلمی بحر العلوم له‌خاتمی څخه رانقل کیږی:

| | |
|---|---|
| دا کتاب بحر العلوم دی | پکښی هرشی ښه‌معلوم دی |
| پکښی ډیر نصیحتونه | له هر قسمه حکمتونه |
| ښه‌گو هرپکښی تابان‌دی | تر آفتابه درخشان‌دی |
| هر لولؤئی‌منورد ی | رشك له‌رو یه‌دقمر دی |
| کان‌ددرود یاقوت‌دی | هر گفتارئی‌دزمقوت‌دی |
| آیا تونه حدیثونه | پکښی‌ډیر دی‌دلیلونه |
| دنبیانو دولیانو | ښی قصی‌دی همر اهانو |
| دهر رنځ شفابحښینه | دهر درد و دوا کړینه |

یادونه :

* دوست محمد ختك دپښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۲۹ م) شاعردی .



ACKU

# شمس الدین کاکړ

دشمس الدین ددیوان دپښتنو څخه معلوميږي چه دی پس له ۱۱۸۰ ه دقندهار قليچ آباد کلی کښې زيږيدلی او هوری لویسوی دی. خو دځينو عو املو په سبب خپل وطن ئې پريښی او لاهور او پنجاب کښې ئې وخت تير کړی دی. دشعر يو بشپړ ديوان لری چه تر (۵۰۷۰) بيتو پوری رسيږی. دی دشعر په ټولو فنو کښې لاس لری ـ دهر راز اشعار: غزليات، قصائد، رباعيات، ترجيع بند، معشر مثمن، مسدس، مخمس، مثنوی او نوردا سی اشعار لکه غير منقوط، قبيح او مليح شعر ونه ويلی. په پارسو او عربی کښې ئې هم اشعار شته. و يناڼي بليغه او خوږه ده او دپير محمد په سبک تللی. شمس الدين دخپل عصر دسر وچه علوسو پوره عالم دی. په فقه، تفسير، حديث، رياضی او فلسفه کښې کافی معلومات لری. دکلام نموته ئی داد ه:

غزله

نه به ګل وی ستادمخ په څير خوشرنګه
نه به څولهوی دغنچې داهسی تنګه

سر دزلفو چه دی شو دبل په لاس کښې
سررشته سی داقبال لاړه له څنګه

چه سی چين ستاد جبين په ستر ګو وليد
مدام سرلکه ابشار وهم له سنګه

په ژړاسی داشنای لهتوره خطه
آئينه دزړه صيقل نه کړه له زنګه

زړه تر څو به کړی حذر دیارله ستر ګو
دلاوره کله تيښته کړی له جنګه

رقيبان کانګ وعارزما له قتله
خلاص ئی کړه پهيوه تيغ اله دغه ننګه

له کمانه بيرته نه ځی تر زړه خيژی
ځانبه څوک وړیسلامت لهدی خدنګه

لەهوسە بەئی طی دبرق پەشان کړم کەزساو یارترسیان وی سل فرسنگە
خوك چەوسپاری خپل ځان دعشق پەبحر هغە کلە اند یښنە کړی لە نهنگە
پراخ جهان وشمس الدین تەقاف تر قافە ستاغمو کړە لکە سیم دائرە تنگە

رباعیات

صبا خبرشە پەگـر یانی زسـا ویارتە عرض کړە پریشانی زما
روح دی لەتنە راڅخە یوور نورە بە څەوی زندگانی زما

* *

کلە بـە راشـی زمـا دلبـرە زړگی مـی چـوی ستالە سفرە
روح مـی خپل ځای درتە خلاص کړی *کە یوځل راشی زما تربرە

یادونی :

* شمس الدین کاکړ دپښتانە شعراو دوهم ټولك (۱۲۵ م) شاعر دی .
* دشمس الدین کاکړدیوان پە۱۳۳۳ هـ ، ش کال کښی دپښتوټولنی لە خوا چاپشوی دی .

# علامه حبیب الله کاکړ

علامه حبیب الله د فیض الله آخوندزاده زوی په قوم کاکړ دی، چه په ۱۲۱۳ ه کال په قندهار کښې زوکړی او علمی تحصیلات ئې په هند او ایران کښې ګړی او د خپل عصر یو معروف عالم او محقق و . چه په علمی مرتبه ئې په هند او ایران کښې هم شهرت درلود او د ده علمی تالیفونه تر (۵۰) پورې رسیږی چه په عربی، پارسی پښتو ئې لیکلی دي . علامه په (۱۲۶۵ ه) د عمر په ۵۲ کال دروژې په میاشت وفات شوی او په قندهار کښې ښخ دی . په عربی او پارسو او پښتو ډیر اشعار لری چه د پښتو شعر و نو یوه نخښه ئې دغه ده :

عالم

علم ډیر عظیم دولت دی ... چه دوو نړیو عزت دی
ښه عزیز نفیس ګوهر دی ... قیمتی صافی جوهر دی
د هر فضل و هنر کان دی ... د جهان په تن کښې جان دی
قوت د زړه، قوت د روح دی ... سرمایه د هر فتوح دی
په مثال آب حیوان دی ... چه سبب د روح ریحان دی
لکه لوی پکښې هنر دی ... هسې رنګ ئې لوی خطر دی
که سودونه تری پیدا شي ... هم زیانو نه ځنې وړه شي
ګاهې زړه لړه د شي ... ګاهې د ی دلاري سد شي
ګاه د وصل شي دلال ... ګاه حجاب شي دوصال
ګاه نوتر شي ... ګاه لطف، ګاه قهر

چه په زړه اثر کا یارشی　　　چه په‌تن زور و کړی سارشی

دیر عظیم ئی منفعت وی　　　چه مدار د عبادت و ی

ددین کار و اړه په‌ده شی　　　چه‌سو لا پری پیژانده شی

آئینه دزړه بلا کا

چه‌له زنگه ئی صفا کا

یادونه :

* محقق قندهاری علامه حبیب‌الله کاکړ ،دپښتانه شعراء دو هم توك(۱۲۶م)

شاعر دی .

# مولوی عبدالمجید کاکړ

دی په‌قوم کاکړاو په‌مشرقی سروجوعلوسو کښی معلومات درلوده سر بیره ددی دی‌یوښه خطاط هم‌وو. عبدالمجید په قندهار کښی په (۱۲۲۶ ه) زوشوی، له‌ده څخه یو پښتو «سیرت نبوی» پاته‌دی چه‌تر پنځلس زرو بیتو پوری رسیږی چه‌په ۱۲۸۶ ه کښی ئی نظم کړی. دده د کلام نمونی دادی.

دحنین دغزایوه واقعه

رو ایـــت دی چـــه سرور　　　غو ښت روان شی دی پیشتر
کړه غـاتـره ئـــی هیـبـت　　　و دښمن تـــه پـــه سرعـت
نـور عبـاس او بـو سفیـــان　　　نه پریښو چـــه شـــی روان
او ویـــل بـــه پاك نبـــی　　　بـــی پـــروا پـــه داگـــړی
زه نبـــی لا کـــذب یم
ابن عبدا لمطلـــب یم

*مولوی عبدالمجید کاکړ، دپښتانه‌شعرا دوهم ټوك (۲۰۷ م)شاعر دی.



ACKU

# نورشالی

دی د اشنغرا وتر (۱۲۰۰ه) ژوندی و،نورشالی یو حماسی،قصصی ، عشقی شاعر دی، ډیري بدلی یی په سلی لهجه لري د هغو له جمی څخه د بنیر د جنګ او بله د نیمبولا قصه او یوه عشقی سندره لاس کښی شته. کلام کښی ئی د عشق سوز او گداز ښکاریږی

د نورشالی یوه بدله

ماز یگر راشه په تلوار که زما یار ئی* برگو درله څونه چه سلگر ی شو دلاری

ماز یگر راشه

ماز یگر راشه په تلوار یمه بلبله لـه جینکـو نه پاتـی شـوم ستالـه کبله
تاچه خبره د کوکی راته کوله راځه چه درکړم سپینه خوله زلفی تارتاری

ماز یگر راشه

زلفی تارتار سی غوړولی راته گوره سړوندسی نیسه مه شرسیږه له پیغوره
چه سی دادا وزی سهارسالی له کوره راسره کښېنه په دی پالنګ قلاری

ماز یگر راشه

راسره کښېنه پدی سره پالنګ دپاسه سورکی لبان به درکوم د زړه له خلاصه
سینه سی بندپه بند ماتیږی ستاله لاسه حسن سی باغ ته ئي طوطا که په گلزاریی

ماز یگر راشه

حسن سی باغ دی پکښی شته دی ژړ گلونه درله در تلی نه شم ستازلفی دی شپلونه
دادری څلوردی پهلهدی زنی خالونه نورشالی غواړی ستانری شونډی آبداری

یادونه : ماز یگر راشه

* نورشالی،دپښتانه شعراء دو هم ټوك (۱۲۸ م) شاعر دی چه« دپښتو نخوا دشعر هارو بهار» څخه اخستل شوی دی .

# ولی محمد

ولی محمد د سوات دخوایو پښتون ملا و، چه تر (۱۲۳۰) وروسته زیږیدلی او تر ۱۲۹۵ لاژوندی و - یو کتاب ئی د مثنوی په ډول چه تر دوه زره بیتو پوری رسیږی، دخپل مرشد پر احوال او سوانحو لیکلی د اشعارو څخه ئی معلومیږی چه په عربی علومو او فقه کښی به عالم و . دی کتاب کښی ئی دغزا کوم حال چه دده په عصر کښی پیښ شوی لیکلی . دلته څو بیته د نمونی دپاره څینی را نقل شول.

دغازیانو صفت

په وسلو سره وو پر په په دستور ... الول باندی ها خوری زلفی دخو ر

تیر ې توري ئی په ملا کښی اویزاندی ... چقماقی توپک یی پاس په اوږو باندی

کمربند سره وي ملاد دوی تړلی ... او سری سترگی ئی په وینو وی لړلی

په دبدب سره راغلی وو دوی مست ... ددښمن به پر توگا بن شو ورته سست

په غوته کښی و چالاکه لکه باز ... نری سرغی غوندی دښمن کاوه پرواز

یادونه :

* ولی محمد ، د پښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۳۰ م) شاعر دی .

# نیازی

دی‌په‌نامه‌نیاز محمد او په «نیازی»مشهو رؤنیازی په کام‌سلارزی او دباجسو ړدجار په
کلی کښې‌اوسیدیء ده‌تر (۱۲۰۰ھ) و روسته ژوند کاوه او په
ملی لهجه‌یې ښکلی اشعاردرلوده .دشعریوه نمونه یې‌داده :

سره‌گلو نه همیشه‌در باندی‌سو ال کالیلي

چه‌اخر ئی در نه‌تیر حسن و جمال کالیلي

ر ب‌دپاره مالیکه که په‌غلام‌باندی خدمتگار یمه قسم‌دی په کلام باندی

هر ساعت در ته‌و لاړیم‌په‌سلام‌باندی بې‌او هې‌دی راکوه‌په‌خې او لام باندی

باری‌سېرشوی‌ستادسرولبوپه جام‌باندی غیر دینه‌شوی راو اوره‌په‌ا سلام‌باندی

قتلو ل به‌دې کول په‌سمه‌لام‌باندی چه‌ښکاره‌دی‌په‌بورجل کښې‌ورته‌خال کالیلي

سره‌گلو نه همیشه‌در باندی سو ال کالیلي

یادو نی :

* نیاز محمد ، دپښتانه شعراء دو هم‌ټوک (۱۳۱ م) شاعر دی .

* داشعر په‌پښتانه شعر اء کښې‌نسبتاً په‌پوره ډول‌راغلی‌دی .هلته ددریم‌بیت
دوهمه‌مصر ع داسی‌ده : (زی او نون دې راکوه‌په‌خې‌او لا م‌باند ې .بیاپه‌حاشیه
کښې‌و رته‌لیکلی‌دی :(یعنی‌ز نه‌ذقن) په‌خوله کښې‌راکوه)ـدلته‌د(زی‌او نون)
پر ځای (بې‌او هې) ده ، نو ددې‌معنا باید (بوسه) شی . څرنگه چه‌شاعراولسی
شاعر دی . دهغه شعر د سند رغا ړو یا دبل چاله‌خوا ښایی چه په شفا هی توگه
دروایت‌په‌دغه‌تغیرسره ددواړو کتابونو مولفا نو ته رسیدلی‌وی .



ACKU

# ګجر

په قام ترکانی او دبا جوړ دجنا ول دوړکی یړملي شاعر و چه دده ملي اشعار تر اوسه دیر کنړ او اسمار په ګلو کتبی دخینو سپین ږیرو په یاددی او خلق ئي په ډیره مینه اروي .. دی تخمیناً اتیا کاله پخوا تیر شوی او دده دغه بدله چه دموال او خواب په خیر دده له ذمو نی پر نول ولیکله شوه :

مینی دی ستی ډیمه غرځ دی اتیاتی کړمه

مادر ته نیولی په امید هیله لس ده

مه کوه ناپسنده

مینه دی دریاب وینم                خان په ډنبی غرقاب وینم

درله دی راغلی یم چه و نه وایی مېورِ ی جنی   *   بد بدراته ګوری جنی

ګورم در ته بدهلکه تابه کړمه رد هلکه                مه راځه پالنګ له زمابل واری به شور وکم

خبره به په مور و کم

ستادلبو تیرنه یم .. ستاپه کوکی سیر نه یم                تادآموخته د یدنه پاتی قیامتی کړمه

میني دی ستی کړمه

کله سی شرلی یی .. زلفو می خورلی بي                ناله می دارو دی ددی لندی زنی سر هلکه

مه کوه خطرهلکه

ولی و ایي نیره په مالیره شنده دو یره په ما                زه دی هسی بر نا حقه و ایستم له ژو تده

مه کوه نا پسنده



ACKU

سپینه‌خو له‌سی غو اړی‌ځله‌ـ بر ناحقه‌ژ اړی ځله
محه‌چیر ته‌سو دمنه گو ره‌اپسی خو اری مه کوه
بیار اته‌ز اری‌مه کوه

نه‌در ته ز اري کوم نه‌درسره یاری کوم
ستانه‌به‌سو دمنه چیر ته گو رم‌یو په لسه‌جنی
سپك‌دی کړم دخسه جنی

سپك‌لکه‌وزرشو ی یاره اوس په‌ځان‌خبرشو ی یاره
سیال می‌چیر ی‌نشته‌دی‌په‌شام‌په ر و م‌په‌مصر مکان
نه‌په‌دار اهیسته‌تر کان

چیر ته دی ثانی نشته ـ سیال‌دی‌در انی نشته
بلخ په بخار ا نه‌په کابل‌نه‌په‌ایلبند کښی‌شته
نه‌په‌سمر قند کښی شته

تو ل‌به کړی‌ر ایت‌هلکه ـ ستاسنی‌حکومت هلکه
حکم دی چلیږی استمبو ل تر سمر قنده
مه کوه ناپسنده

حکم دی سلطان منلی ـ بیاتمام جهان منلی
تاپسی ر ایت جړی ، گو پال ، تیر اغجر کړه‌جنی
تو ل‌دی مسخر کړه جنی

ز ه په‌تو لو باندی‌یم ـ نه‌دچانه لاندی‌یم
حکم‌می چلیږی تر مشهد عر بستانه پو ری
د عن‌تر کستانه پو ری

تابه کړم تاراج هلکه ـ ستا کوم علاج هلکه

و ممظالمکاره ننگیالی خدا یخیر انی کړمه

سینی دی ستی کړمه

بمده چمسر داره شوی ـ دیره ظلم کاره شوی

عامو خاص عالم بمدر ته تولو ائی رنده

مه کوه ناپسنده

قربان‌دی دخبر وشم ـ لو گی‌دی دسلدر وشم

گجره تابه‌ړشی شعر بمچاتمو رلمغاړی شي

لالو چمو رنه لاړشی

لالو چمرانمتلی وه ـ ستمای ختلی وه

گجر به ستانی غوا ړی له اجمیره ترسر هنده

مه کوه‌ناپسنده

یادونه :

* گجر ، دپښتانه‌شعراء دو همټوك (۳۲ ، م) شاعر دی .



ACKU

# د کنړ د مروري محمد ولي

محمد ولي په قاماسوندا او دخپلي زماني يوسلي او خبرلوخي شاعر وچه تراوسه لا په بر کنړ کښي دده دشعراوخبرلړ ښتيا صفت کيږي دی تر(۱۲۵۰ هـ) وروسته زوکړی اودغه بيتونه دده د کلام نمونه ده :

ستا په ديدن پسي سوري وهم بيمارشوسه — ای ليونيه ! په پردی سال پسی ژ اړی خه له
ستا په ديدن پسي په زړه باندی سوداگرځمه — لکه رنځور ردرو غو خلقونه جداگرځمه
کچکول په لاس بندی په سر کړمه گداگرځمه — خوب وخندامي نشته فکر په سوداگرځمه
زاره مي وچاوده په زړه باندی اوگارشوسه — ستا په ديدن پسي سوري وهم بيمارشوسه
سپيني کوکي ته دي سلگي وهم ميزوب يمه — ستااندېښني مي ژړوي په غم کښي ډوب يمه

* * *

که لږ نظر وکړی دلبر بند په قلوب يمه — فکر دځانه سره کړم پکښي مطلوب يمه
د بيلتانه له لاسه څکه ناقلارشوسه — ستا په ديدن پسي ناري وهم بيمارشوسه

* * *

د بيلتانه له لاسه هر سړی نتلي دي — دعا شقانو ئي صورت سره او دلي دی
خلق ئي لوټ کړه تاوصال ورسره سوندلي دی — په تور اور بل باندی مي گل د رله ساتلي دی
«محمد ولي» لالي کوی راسره اکاړی(۱) خله — ای ليونيه ! په پردی سال پسی ژ اړی خله
یاد و نه :

* محمد ولي د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۳۳ م) شاعردی اوداچهار بيته هلته پوره راغلي ده .

---

(۱) اکاړی: مخالف ضديت

# حضرت علی خان

په قام ترکانی او د اسمار د نوموړی خانانو څخه دی چه د شعر طبعه ئې هم درلوده او تر ۱۲۵۰ هـ وروسته ژوندی و. حضرت علی خان د دیارلسمې صدی نوموتلی شاعر پیژانده کیږی . د غه بیله د ده د روانی طبعې څخه ده :

خبر د دیدن را کړه مسافر د بل وطن یمه
ورکښې دی ولاړیم که دی سپی زمانه کوری کړی

ستا په منه مست یم لکه څوک چه شراب نوش کا
نه ځمه له تانه سادو هې درته وهلی ده

د عشق په بناوېست یم لکه لوی دریاب چه جوش کا
دا دنیا خو نه مې پدنا باندې سیز لی ده

سر و مال په قسمه یم ستا دیدن به مې بېهوش کا
بې د محبته مې د روڼ سینه وینځلی ده

پروت د ره دیو خای په نیالی او په بړستن یمه
خبر د دیدن را کړه مسافر د بل وطن یمه

پام کړه میز وېه ته د چا په زور خبری کړی
ورکښې دی ولاړیم که دی سپی زمانه کوری کړی



ACKU

زەچەستاسیز و ب یمتهو ل و پارسي(۱) دیستاصنم

څکهکښ خو اړه کړم که پدی سترګو لیدهکو م

زهٔی یو ګنمه کهاتهدی کهاتیا صنم ،

زو رمیدی دتاپه هر ځای چهګر ځیدهکو م

نهو ایم دروغ پهعشق کښی و ایمه رشتیاصنم

تهمیو یرو ی څکهدو یری ر ییږدیده کو م

مینهدی خیمهده زهدمینځ دخیمی ستنیمه

خیر دد یدن راکړهمسا فر دبل وطن یمه

یادونه:

* حضرت‌علی خان دپښتانه شعر اء دو هم‌ټوك (۱۳۴ م) شاعر دی .

---

(۱) ، پاره تجارتی اعتبار دکو ر اسباب او اثار . (پښتانه‌شعر اء)

# گل محمد

گل‌محمد گلزار زوی په‌قام ابدالی (درانی) دگرشك دسا لگیرد کلی نورزی‌دی.
گل‌محمد د پښتنو په‌شاعرانو کښې‌ښه‌غوره‌او سلی‌شاعر دی اودده‌اشعار په‌خوږوالی او بلاغت سره څرگند او ممتاز دی . گل محمد داعلیحضرت تیمورشاه معاصر او دشاه‌محمود ترعصره‌پوری ژوندی و . او دی څانته دغزلو دیوان هم‌لری چه‌طبعی‌ته‌ندی رسیدلی .دااشعار دده دي .

ای زما روح روانه له‌سامه څه — زمازړه زما چشمانه له‌سامه څه
ته‌چه‌او س‌راځخه څی کله به‌راشی — تر لیمو راباندی گرانه‌له‌سامه‌څه
تر همه ووښایسته ووښایسته یې — ای‌دواړو کښلیو جانه له‌سامه‌څه
په بانو دتو روستر گو دی تپی کړم — آزما دزړه درمانه له سامه‌څه
و دید ن ته‌دي ډیر تږی یم دلبره — دتازه پسرلی بارانه له سامه‌څه
دبیلتون په‌تو ره‌شپه کښې‌دی‌پیر یږم — د وصال ماه تابانه له سامه‌څه

«گل‌محمد» به‌دی‌پر تخت دزړه‌پاچا کړی
ای زما دلبر سلطانه لـه سا مه‌څه

یادو نه :

* گل‌محمد پښتانه شعراءدو هم‌توك (۳۵ م)شاعر دی‌چه‌هلته‌یی دشعر په‌نمونه کښې(د شداد قصه) لوستی شو و .

# عبدالله

دارستمر دعبدالله فقط یوه بدله راوړی ده چه پدی بدله کښی دانگریزانو حمله پر کابل او دامیر محمد یعقوب خان او وردک محمد جان جنگونه او حوادث ذکرشویدی داسی معلومیږی چه عبدالله دننگرهار له سلی شاعرانو څخه و، او تر (۱۲۵۰ هـ ق) وروسته ژوندی و. سو پرده دهغی بدلی څخه څو بیتونه دنمونی پر ډول لیکو.

د کابل جنگ

راجمع شوی لښکری پـه نیت باندی دجنگ

روانی شوی بالفور

جوړی کاگدام ترلی لام محی برابر

کمناری ئی دی افسر

راجمعه شوه فوځونه سواره پلی آخونه

کابل ته روان شونه

پـه خیبر کښی میرآخور ورته ترخی وکړی خبری

راجمعه شوی لښکری

* ددی عبدالله نوسی شاعر پـه دو وکرښو کښی لنده پیژندنه زلمی هیوادمل پـه(فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښی کړې ده .

داچهاربیته پـه پوره ډول دډارمستتر (د پښتونخوا دشعر هار و بهار ـ پاریس د ۱۸۸۸ چاپ) کښی شته .(له هغه ځایه سادتوربریښ ـ کابل ـ د(۱۳۴۷ هـ ش ـ چاپ) ته رانقل کړې ده. دهغی روسی ترجمه دوکتور ف . گیرس پـه ( د پښتنو تاریخی سندری ـ مسکو ـ ۱۹۸۳ چاپ) کتاب کښی له یوې تبصرې سره خپره کړې ده .(۸۰-۸۱-۸۲-۸۳-۸۴-۹۳ مخونه ) .

# سیداحمد

ددی‌شاعر دژوندانه وقایع چندانی‌پورەخرگندنەدی‌فقطدډار سستېر دتحقیقاتو څخەدونه ښکارە کیږی چەدی‌تر (۱۲۵۰ ھ) وروستەژوندی ودغه بدلەدده دطبعی څخه ده.

غزل

زړەسی دم‌پەدم غوځیږی‌پەجفادجانان وړو وړو

لەچشمانومی‌بهیږی اوښکی‌تل پەگریوان وړوو ړو

عمر دارنگه تیریږی ،عاقلان‌بەپرې پوهیږی

لکه څوزچەلمرڅرگندشی، پاس‌پەسردآسمان‌وروو رو

کەسوداکړی‌ئن‌دی واردی‌ددنیاگرم‌بازاردی

هلته ځای‌دسو دانشته، رخصتیږی کاروان‌وروو رو

عالم‌واړه په خندادی، که پادشاه دی کەگدادی

«سیداحمد»باندی‌وریږی‌دغمو تور باران‌وروو رو

یادونه:

* سیداحمد،دپښتانەشعراء دو همټوک (۱۷۳ م) شاعر دی.چەهلتەیی‌دژوند زمانه د (۱۳۰۰ ھ) پەشاوخوا کښی‌تخمین‌شوی‌دی.



ACKU

# پېښوري صالح محمد

ددې شاعر پر ته د يو ې قصې څخه چه د ه په پښتو نظم کړې نو ر آثاراو اشعار ئې چيري ذكر شوي نه دي نو ددې قصې نه ئې دو نه څر گند يږي چه صالح محمد يو عالم او قصصي شاعر د ی .

د کلام نمو نه

| | |
|---|---|
| يو ه شپه حضرت او ده و په سحر | چه عتاب پرې ملك راو ړله اكبر |
| اي سرو ر ه ته په خوب ښايسته نه ئې | ته به ښكاري په خدمت دپاك اكبر |
| پيدا كړې مې ئې خاص ددې د پار ه | چه پيشوائي داست په لوی محشر |
| ته چه دار نگه پيغمه شوې سرو ر ه | استيان به دې دا خل كړم په سقر |

يادو نه :

* ددې شاعر يادو نه په (فر هنگ زبان و ادبيات پښتو ) كښې شو ې ده .



ACKU

# کمال

کمال دقند هارپه‌سلی شاعرانو کښې ډیر شهرت لري دی (۱۲۵۰) ه په شا و خوا کښې د تیری ددرو یشان په کلي کښې اوسیدی‌ء دائی د کلام نمونه :

در کړی‌ربجوړآبدی * ستایو دیدن ثوابدی * خوارعاشق په‌اورکبابدی،

په‌اورسوی ئی بدن دی

په کارئی‌ستالیدن‌دی

اول‌دیډ کوه عاشقه ـ که‌دې یارمنیر ملا یقه ـ په کلوور څخه ورکـه

ترسینځ تیرسوه ډیر کلونه .

ښیندمسر او مالونه

زما سر او مال چه ستادی ـ ترتاپوري‌وړیا دی ـ ته‌ئی‌بوله‌بې بهادی ـ

په‌زړ کی‌می ارمان‌دی .

ښکاره‌رنځ می‌په‌ځان‌دی

دارنځ ی استی دی ـ دلبرمی باوری دی ـ ښکارمشعرمی جاری‌دی ـ

مجازندی حقیقت دی.

نیولی‌می الفت‌دی

الفت‌می‌دو نه ډیردی ـ ترشمار ترحساب تیردی ـ آخرد وران می تیردی

صنم‌گله‌دامی‌حال دی

نتلی‌دې کمال‌دی

یادونه :

* ددې‌شاعر یادونه ښاغلی‌زلمی‌هیوادمل په (فرهنگ زبان‌و ادبیات‌پښتو) کښې کړی‌ده‌ی‌چه‌د ۱۲۶۰ هیه‌شاوخوا کښې سړدی او په(کمال‌با با) مشهورو.

# برخوردار

برخوردار پسله ۱۲۵۰ ژوندکاوه او دقندهار دپاشمول په کلی کښی اوسیده ، ددمسپری بدلی تراوسه دخلمو دمجلسو نو دجوش وسیله دي، لاندی دده څو بیته دنموني په ډول رانقل شوی دي :

دیاردغمه ی پر زړه باندي پرهار دی وای
دخان په وینو داسی سورلکه انار دی وای

دیارله غمه چه پرما غریب تیر یږی
زمچه بانو پر بانو ډدم نه سی هیر یږي

چه راپه یادسی غم ئی دم په دم زیا تیږي
دالغیاث ناری وهم دامی رو زگار دی وای

دیارله غمه شپه ورځ وهم فکرونه
او ربه پسی کم د دنیاپه روز گارونه

زړه راته وائی چه مخ و نیسه پرغرونه
چه ستاوصال ی هغه غرماته گلزار دی وای

یادونه :

* برخوردار ، د پښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۹۷ م ) شاعر دی او دابدله بی هلته په پوره ډول راغلی ده .

# ننگنهاري صفت خان

صفت‌خان دمهمندخان زوی په‌قام دولت زی‌دمشرقي‌د چپر هار دمشهو رو تو کمار وشاعرانو څخه‌دی .صفت‌خان‌د ساده‌او روانی طبعی څښتن‌و . دی‌دول دول اشعارلری او پرسلي‌سبك بدلي‌وائي اود غزلو ديوان هم‌لري چه‌طبعي‌ته نه‌دی رسیدلی .دی‌په (۱۲۸۳ ه) کښی زیږیدلی او په ۱۳۲۰ ه کښی سراو څپرهار کښی ښخ دی .دغه‌بیتونه ددهٔدکلام نمونه‌ده .

ښائي‌هر بیت‌مې‌ز رچراو په‌سر غلر وشي — بنه‌القاب‌سزه کاچه‌اسیل‌دښو خبر وشي

زمسنم‌هغه‌چه‌دز ړه‌وینی په‌هر بیت‌ښتی — نه‌سنم‌هغه‌چه‌په سجلس کړی‌و بل‌چتی

کیسی

ساد اسی شی‌لید لی څیلمیو کسوی زور — مسوه ئسی بی عسزتسه

په‌جوش کښی‌څه کم‌دی داسی‌سو ردی‌لکداور — شیرین دی لـه شرینه

* * *

مادا‌سی‌شی لیدلی‌دی پرون‌په تورو غرو کښی — لـوړیز ی بـې امکـانـه

چه‌و خت‌دمنی‌راشی‌دی و لاړدی په‌سزو کښی — ډیرخـو ږ دی بې‌پرسانه

غلط‌نه‌شی‌شاگرده ، انگورنه‌دی په‌باغچو کښی — څواب غـو ارم له تانه

که‌داڅواب را نکړی‌خدای‌ږواوس‌دی کرم‌نسکور — و هـسـم دی پـه لغـتـه

یادونی:

* صفت‌خان ، دپښتانه شعراء دو هم‌تو ك (۱۳۸ م ) شاعردی او هلته‌یی دشعرو نو نو رې نمونی‌شته .

* دصفت خان دد یوان په‌باره کښی پښتانه شعراء لیکی‌چـه‌دصفت‌خان‌نه ، نه کوم دیوان‌پاته‌شو ی‌ا و نه یې‌چاته‌قلمی‌اثار لاس‌ته و رغلی‌دی» او دیته لولوچه «دغزلو دیوان‌هم‌لری‌چه‌طبعي‌ته‌نه‌دی رسیدلی» .



ACKU

# حاجی ملا جمعه

په‌قوم بارکزی او دقند هار دزاړه‌ماشورپه کلی کښې اوسیده، دی داعلیحضرت دوست‌محمدخان معاصر او دخپلې زمانې یو متقی او پال ساتی عالم‌او شاعر و چه‌ځان ته‌ یې رتب‌او مردف دیوان لری چه‌چاپ‌ته‌ندی رسیدلی ـ دده‌بدلې اغلباً‌عشقي‌او تصوفي‌دي‌چه‌سو یې‌دده دغه‌بیتونه دلته‌دنخښې‌پرډول لیکو :

دسهار باده په څه هوا یې
تەرا الوتی له کومی خو ایې

له کومه راغلې ترکومه‌ځاځې
مطلوب‌دی څو کی‌دی طالب‌دچایې

تر کومه حده تر کومه رده
په چا دی کار دی په‌چا اشنایې

دم دمسیحه ! وو ایه ریحه
په‌تا ژوندی شوم حیات زمایې

دده پرسیمه ورسه نسیمه
دعا سلام به وربا ندی وایې

پس‌له‌سلامه داورته عرض کړه
لا به تر کومه له ما جلا یې

که‌خوبان‌ډیردی‌ترحساب تیردی
تر همه کښلیو پر ما زیبا یې

فرمان چه‌ستا دی پرما قبول‌دی
زه‌دی مرییم ته می آغایې

زه«جمعه» ژ اړم و صال‌دی‌غو اړم
زماژوندون‌یې په‌دم‌عیسی‌یې

یادونې :

* حاجی‌جمعه،دپښتانه‌شعراء دو هم‌ټو ک (۱۳۶م) شاعر دی.

* دحاجی‌جمعه‌بارکزی دیوان، دزلمی‌هیواد مل په‌زیارچاپ ته‌تیار او ۱ پوهاندعبدالشکو رشاد په‌سقد مه‌په ۱۳۶۰ ه، ش کال‌د افغانستان‌دعلوم اکادمی له‌خوا چاپ‌شوی دی

# بنیری دوستم

یوسلی شاعر دی ، دده بد لی تولی خوږی او عشقی دی - دوستم پر ۱۲۰۰ ه
زیږید لی او په بنیر کښی اوسیدی ، دده دغه بدلهٔ دنمونی پر ډول دلته ولیکله شوه :

پټه دی که صنمه سپین رخسار بیا
دغه نمر دی په دوستم که نیزه وار بیا

دغه نمر دی نیزه وار که په ... باندی  آسمان زمکه دی په ما کړه لاندی باندی
طبیبان کله دارو درنځور کاندی  چه ویشتلی دی دستر گو په گزار بیا
یو گزار راباندی وکړه دریغه دریغه  اندرون زړگی می غوڅ شو بی له تیغه
متاله غمه نه به کله شم فارغه  که یو غیږ راباندی تاو کړی دوبار بیا
یو وار غیږ باندی تاو کړی جانانه  هله و بل مین می نشته بیله تانه
په د یدن پسی دی ژارمه یکسانه  په ... لبار دی وږی پروت یم رو یدار بیا
په د یدن پسی دی دایمه را غلی  چیر ته وی چیر ته زه راغلمه ... کومه
پاڅه غم د ... خرت کوه دوستمه  اخر وران شی ددنیا ښکلی بازار بیا

یادونه :

دوستم ، دپښتانه شعراء دوهم توک (۱۴۱ م) شاعر دی چه «دپښتو نخوا دشعر هار و بهار» څخه اخستل شوی دی . په نوموړی کتاب کښی لیکی «دوستم دبو نیر عمر خوړلی شاعر» . دغه کتاب په (۱۸۸۸ م) کښی چاپ شوی دی .



ACKU

# میرهزار

دی د ګلزار زوی د چپرهار په کنډیباغ کښې اوسېده . میرهزار نږ ۱۲۵۵ و روسته زیږېدلی او د ۱۳۰۰ په خوا و شا کې وفات شوی او هلته ښخ دی . دی یو ملي شاعر و . دده ملي او چهاربیتي چه په ملي لهجه ئې ویلي دېرې مشهورې دي دلته ئې څه د نمونې په ډول ولیکل شوې :

لیلی مخ دی آسمان دی ، ستاري دي شنه خالونه ـ سور ټیک دی لکه لمر
وربل دی لکه وریځ دلمر د پاسه غرونه غرونه ـ تیاره شوه سراسر

* * *

لیلی مخ دی آسمان دی نري و روځې دي هلال ـ غاښونه دي ږلۍ
بریښنا دي د پېزوان عاشق ته وښوه د مشین خال ـ په سر دې سلاري
که دریشي بیګاله چه څپه نه کې د لال ـ ته واوره وربلي
دستا له لاسه بار دي پرما باندي ډېر غمونه ـ عالم شو تول خبر
یادونه :

* میرهزار د پښتانه شعراء دوهم توک (۱۳۰ م) شاعردی او هلته دا چهار بیته په بشپړه توګه لوستی شو و .

# کریم جلال آبادی

دی دسلطان زوی پهخته شینواری او دخواږه شعر خاوند دی .تر ۱۲۵۰ ه وروسته ژوندی او د کابل غزانی پخپلو سترگو لیدلی او پیښی ئی دهغی زمانې په نظم لیکلی دی. دلوړو اوملی احساساتو خاوند او دخپلی زمانی نومیالی شاعر دی .
دده داشعارو څو بیتونه لاندی رانقل شول :

قادره ذوالجلاله بې شریکه بی مثاله
ایمان می خطا کړی فرنگ ورك کړی له کابله
زاری می نشته بله
فرنگ راغی له هنده که راغله ولړه تنده
په هیڅ ئی پروا کړیء وطن ټول کانیء پایمال
وهیء ئی سر او مال
پر نگ ته ئی ملاماته وه پخپلی کړراتیر
اسلام ئی سپك کړدیر

یادونه :

* فرانسوی ختیځ پوهاندډارمستتر دغه چهار بیته په بشپړه توگه «دپښتو نخوادشعر هارو بهار» کښی رااخیستی دی اودهغی په پای کښی دشاعردنامه پهځای لیکلی دی: (جلال آبادی شاعر) . ساهم په «تور بریښ -۱۳۴۷ ه ، ش کابل» کښی دغه

چهار بیته کټسټ په همدې ډول را اخیستي ده .ښاغلی دو کتو ر گ . ف گیر س دشورو ی اتحاد د علوسو داکادمی دختیځ پیژندنی د انستیتوت علمی غړی په خپل کتاب (دپښتنو تار خی سندر ی ـ مسکو ـ د ۱۹۸۳ م چاپ) کښې په روسی ژبه ددې چهار بیتی منظو مه ترجمه چاپ کړی ده (۹۵ ـ ۹۶ ـ ۹۷ مخو نه) د شاعر نو م یې ( دجلال آباد نـا معلـو م شاعر ) لیکـلی دی او ددار مستر او ز ساحو اله یې و ر کړې ده .

ښاغلی گیر س دنو سو ړی کتاب دتبصر و په بر خه کښې لیکی :

«دو ر و ستی په عقیده ،ښایی چه شاعر دغر یبی په تخلص له بتی کو ټ څخه و ی . چه دمحمدجان خان دستاینې چهار بیته هم و ر پو ې اړه لو ی .» (۱۹۶ م مخ) .

ر ښتیاتر او سه پو ر ې چاته ددې جلال آبادی شاعر نو م او شهر ت نه و معلو م . غر یبی خو بیل شاعر دی چه د هغه شعر و نه هم په «هار و بهار» «تو ر بر یښ» او «دپښتنو تار یخی سندر ې» کښې ر اغلی دی .

د کر یم نو ر شعر و نه هم په « هار بهار » کښې چاپشو ی دی او په دغه اساس « کر یم » نو سی شاعر پیژندنه دپښتانه شعراء دو هم ټو ک ټر (۱۶۹ م) لمبرلا ندې شو ې ده .داخبر ه ز ړه ته پر یوز ی چه دپښتانه شعراء او هار و بهار کر یم ، همدغه کر یم جلال آبادی و ی .چه یو شعر یې د هار و بهار سو لف دجلال آبادی شاعر په نامه ثبت کړی دی . غر یبی خو دبتی کو ټ دی ، نه دجلال آباد .

# حمید ګل

دی د پېښور د ګلی د ترنګړی په علاقه کښی استیده. او تر ۱۲۵۰ وروسته ئی ژوند کاوه، حمیدګل یو مشهور ملی شاعر او د صوات صاحب په ملګرو کښی و. څو بیته دده د کلام د نمونی پر ډول لاندی وکښل شو:

د بنیر جنګ

ته صاحب ته بری ورکړی پروردګاره　　معامله جوړه شوه د کفر و اسلام

د انګریز پلټنی راغلی ملکتی ته

ورسره خپنی سیکان د بل ګوره وو

پښتو ورته ویل چه پرځای کښېنه

بنیر وال واړه د ملک په تراره وو

چملی وال وائی مو به خلاصیږو دینه

دښمنان ئی په ملکا باندی ښکاره وو

هوری لوټ کړی نه ویریږی له کفاره　　مجاهدین ورکوی سر د رب په نام

یادونی:

* حمیدګل، د پښتنانه شعراء د وهم توک (۳۷۱م) شاعر دی او هلته یی د شعر د نمونی په توګه یو داستان له هار و بهار څخه اخستل شوی دی.

* د ګلی د حمیدګل دا څلور بیته په بشپړ ډول په «هار و بهار» کښی راغلی ده او له هغه ځایه بیا ما په «تور بریښ» کښی را اخستی ده. ښاغلی ګیرس بیا هغه په روسی نظم اړولی او «د پښتو تاریخی سندرې» کښی چاپ کړې ده.

ACKU

# نواب خان

دی دښیر دجګړو په وخت کښې ژوندی و (۱۲۰۵ ﻫ) ده دقتل ګړ مشهور جنګ په یوه ملي بدله کې نظم کړی - دلته څو بیته دهغې بدلې غوره او رانقل شول:
په سر د قتل ګړ پرنګی ډیر ښا وه ارمان
په ستر ګو ئې تیاره شوه چه لیدل به ئې غازیان * غم راغی سراسر ور پسې

په سر دقتل ګړ پرنګی جمع کړه فوځونه　　　دی لام تړي په پوړته
له ورایه به راتلل پسې ښېر وال لکه بازونه　　　اریان ئې شوه زوړته
چاپیره د زلمو وې سرې پټې چغر ډالونه　　　جلی به شوې هرلورته
ګولی به دریغلو وریدې لکه باران　　　راتلل به برابر پسې

یادونې:

* نوابجان ، دپښتانه شعراء څلورم ټوک (۳۷۹م) شاعر دی.

* دنواب جان یانواب خان شاعر دغه چهار بیته په «هار و بهار» کښې ګډه ورته چاپ شوې ده . د پیښورا کادمی د پښتو مجلې د ۱۹۶۳م کال په او وسه ګڼه کښې هم خپره شوې ده . ددو اړو متنونو د مقابلې نه ما چهار بیته سمه او په «تور بریښ» کښې په بشپړه توګه چاپ کړې ده او بیا په پښتانه شعراء څلورم ټوک کښې دشاعر دشعر دنمونې په توګه را اخیستې ده ..
داچهار بیته بیابیاغلی دو کتور ف . ګیرس په روسي نظم اړولی او په ۱۹۸۳م کال (د پښتنو تاریخی سندرې) کښې چاپ کړې ده .

# طالب گل

دی په (۱۲۵۰ ھ) او سیده، دده نور څه احوال نه دي معلوم. دو مره ویلای شو چه د پېښو ر له خوا اوو دی، ده د پنیر د جنګ واقعه په نظم کړې ده. دو بیته د هغه نظم نه لاندې و لیکل شو ه.

معامله جوړه شوه د کفر، د اسلام　　پکښې توی شوه د حضرت د باغ ګلو نه
دا نګریز لښکری را غلی له لاهو ره　　ځینې تو پې، غنبارې، ځینې هاتیان وو
خو لګ خبرنه وو، نه دی کافر له زوره　　ځنې خره ځنې تټوان، ځنې سیکان و و
د یدبه ئې وه خو ره پر هر ه لو ره　　و ر سره د پښتنو ښکلي سپاهیان و و
له ډیلۍ نه ئې راپو ر ته کړ څپل قام　　په ملکا باندې ئې جمع کړل فو ځو نه

یادو نې:

* طالب ګل، د پښتانه شعر اء خزا نې (۳۸۸ م) تو ک شاعر دی.
چهاربیته په بشپړه تو ګه په «هار و بهار»، «تو ر بریښ» پښتانه شعر اء خزانې تو ک نښې او د هغې ر وسی منظو مه تر جمه (د پښتنو تاریخي سندرې) کښې چاپ شو ې ده.

ACKU

# علی جان

دننګرهار یو ملي شاعر دی. ده دژوندانه نیټه د ۱۲۵۰ ه په حدودو کې لیکلې دی په شعر کښې یو رزمي اوقصص شاعر معلومیږي، لاندې دوه ټې دچارمیسي دجنګ دقصې نه څو بیته نقل کړی هغه دادي:

له چارمیسي نه څه ښایسته ښایسته ګلان لاړه
توتې توتې په رنو تورو شهیدان لاړه

ملاخلیل وګوره څو سره وو اثر و رسره
چه خبر یده به عالم تله برابر ورسره

دالاس نیوی ونه کادي سیان حیدر و رسره
پلې سپاره وه و رسره د خالو خان لاړه

ملاخیل وګوره څو سره خواري ئې وکړه
کلی په کلي ګرځید وه نت زاری ئې وکړه

لښکر ئې تول کا د لښکر جمع واری ئې وکړه
جنګ ئې ونه کا نوز ړه ډکي په ارمان لاړ

* دعلي جان ددغه چاربیتي پورته« دپښتونخوا دشعر هار و بهار »او «تور-بریښ» کښې او دهغې روسي ترجمه «دپښتنو تاریخي سندرې» کښې لوستې شو و.



ACKU

# غریبی

دننگر هار دبتی کوټ و. د ۱۲۵۰ ه و روسته ژوندی، و دغازی محمدجانخان پر سرگ ئی سر ثیه و یلی‌ده. داسیر عبدلرحمن خان زمانه ئی هم لیدلی ده.

دغریبی دبدلی خو بیته دادی:

محمدجان خان غازی شهیدله دنیاتیر شونه

سر کاا سیر په تیگی گیرشونه

| | |
|---|---|
| محمدجانخان چه داسیر سره نوکرشونه | و اړه عالم په داخبر شونه |
| تو پچی باشی او د جنگ افسرشونه | پر و ت په دی که تینگ په خیبر شونه |
| جنگ یی بنا که کمناری پری زورشونه | بر په تو ره کم ئی لښکر شونه |
| اسلام پری لاړچاود کفرتر ی چاپیرشونه | سر کا ا سیر په تیگی گیر شونه |

یادو نی:

* غریب، د پښتانه شعراء دریمتوك (۲۹۰ م) شاعر دی. هلته‌دی یو خو ر ژبی او لسی شاعر معرفی‌شوی، چه‌خلك یی د «غریبی» په نامه هم پیژنی او د شعرنمونه کښی یی بله‌چهاربیته راغلی‌ده، چه‌په کسر کښی یی خپل نوم (غریب) راوړی‌دی:

بیلتون ایښی دی شمشیر

د (غریب) په‌غاړه‌باندی

* داچهاربیته په‌پور ه‌دول دپښتو نخوا دشعر هارو بهار کښی راغلی‌ده‌او په کسر کښی‌شاعر نوم د(غریبی) په‌تو گه راغلی دی: «زه«غریبی» په‌زړه‌زخمی جاری سی شعرشو» کیدی شی چه د دواړه یو تن یا بیل بیل شاعران وی

# پا یاب

دی د پښتو ر د هزاره په دوهم نیمایي کښې استیدلی دی او ژوندون وخت ئې د ۱۲۰۰ هـ تخمینیږی د پایاب د هغه منظومی څخه چې د انگلیسانو کابل ته راتگ او نورو وقایع د هغه عصر ئې نظم کړی څو سطری د نخښې په توگه را اوړو:

پر نگ لا ړ شو په قار اختیار کوی دجنگ ـ فوځونه ئې کړه جمع
کابل کی شو ایسار      خاوند کړه تار په تار
انگریز شو تول روان ـ دځان کوی سامان ـ کړده ی پښیمان
«خواص» واخیستی بلهی د انگریز و کوی ننگ
اختیار کوی دجنگ
«خواص» شو بلهی خور ـ نه شرمیږی په پیغور ـ خپل خدای ته ئې مخ تور
کمتری ته ئې ویل چه زه به ستاو کومه ننگ
اختیار کوی دجنگ

یاد و نې:

* پایاب د پښتانه شعراء دو هم ټوک (۲۰۳ م) شاعر دی چه هلته یې دشعر بله نمونه له «هار و بهار» څخه اخستل شوې ده.

* دا څلور بیته په بشپړه توگه په «هار و بهار»، «تو ربر یښ» او د هغه روسی ترجمه «د پښتو تاریخی سندرې "» کښې لوستی شو.

# مقصودگل

دی‌دننگرهار یوملی‌شاعر و .دارزسی شاعر دانگریزانود کابل په‌جنگونوکی ژوندی و .داعلیحضرت شیرعلیخان دعصرآخرنی‌حوادث ئی‌په سترگو لیدلی . لاندی‌څو بیته دغه‌دکلام دنمونی‌په‌ډول رانقل‌شوه :

د کابل جنگ

جوړیی کاگدام‌تړلی لام‌رکمنای بره‌څی

جان‌جان ـ ځنگ،جنگونه په کابل کیږی

جوړئی که‌گدام‌تړلی‌لام‌چه پسی سم‌شونه پیښ‌ورته لوی غم‌شونه

لاړعلی‌مسجدته‌میراخور ورته‌محکم‌شونه واړه کارئی خم شونه

څلورگذاره‌ئی و کړه‌اوس‌په‌ساته‌دخیبره‌ځی

جوړئی کا گدام تړلی‌لام کمناری بره‌ځی

دځو رځو لاردمیراخور په‌یوسنزل کیږی

جان‌جان ، ځنگه جنگونه په کابل کیږی

یادونی :

* ملا مقصود د پښتانه شعراء دوهم توك (۱۷۸ م )شاعر دی .هلته‌دی‌د پیښبو ربهادرکلی‌ته‌نژدې‌دکیږ و لې‌اوسیدونکی‌په‌قام خلیل‌موسندگنل‌شوی دی.

دلته‌داهم‌لیکی : «دارمستتر فرانسوی په‌خپل کتاب «د پښتوتخوا دشعر و بهار» کښې‌دی د«مقصود‌جان» په‌نامه یاد کړی‌دی .اودده څوبدلې‌یې نقل کړی‌دی . مقصودجان‌یې ا صلی‌نوم معلومیږی .«فرهنگ زبان وادبیات پښتو» لیکوال‌هم دغه‌مطلب تائیدوی .په‌دواړو نوسوړو ماخذ ونوکښې‌دی «ملا» یعنی ددینی علوموعالم او تعلیمیافته گڼل‌شوی‌دی.



ACKU

په لومړي ماخذ کښې، د سلا مقصود يوه عشقي بيد له چاپ شوې ده

په دوهم ماخذ کښې د هغه دې سندرې سر (مطلع) را اخستل شوی دی. د دار ستر «د پښتو نخوا د شعر هاروبهار» شلم لمبر چاربيته (۵۰م مخ) د غه ده چه دلته (تذکرة الشعراء) کښې يې سر او لومړی بند راغلی دی. د هغې په کسر کښې شاعر خپل نوم (مقصود گل) راوړی دی:

«سل روپۍ د پلې د مقصود گل د کال په لمن کيږی»

مگر د چاربيتې د جوړښت قافيې او وزن له مخه، داسې فکر کيږي چه هلته د قلم يا چاپ اشتباه شوې ده، نو ځکه ما په «تور بريښ» کښې داسې ور کړی دی:

«سل روپۍ د پلې د کال من د مقصود گل کيږی

چه ور پسې سر داسې لگيږی:

«جان جان ځنگ، جنگونه په کابل کيږی.

د هاروبهار (۲۱م لمبر) شعر، د (مقصود) نومي شاعر دی چه په کسر کښې د شاعر مقصود گل او هم هارنگ، د هاروبهار مولف ددې شاعر نوم هم (مقصود) ذکر کوی د مقصود گل په باره کښې د هاروبهار مولف ليکي: کسب يې دوړی (جولايي) او د هغه د لاسله په «تور بريښ» کښې موږ د اد وا ړو نوم مقصود گل راليکلی دی. چه د هاروبهار د مولف د ليکنې له مخه «جولا» دی نه «سلا»، نو کېدای شي چه دواړه يو تن وي. مقصود گل بيل شاعر وي او سلا مقصود بيل.

د مقصود گل دواړه چاربيتې په «هاروبهار» کښې راغلې دي او هم د غه چاربيته (جوړيې کاگدام...) د نورو منابعو له مخه او د شعر د جوړښت په دليل لږ و اصلاحاتو سره او بله چاربيته عيناً په «تور بريښ» کښې هم لوستی شي. دواړه و روسي ترجمه، له تبصرې سره «د پښتنو تاريخي سندرې» کښې چاپ شوې دي.



ACKU

# ملا اکبر شاه

د خپل عصر عالم او د ښیر په جنګ کې شامل و، دده د ژوند وخت تر ۱۲۵۰ و روسته تیا کو، دلته غوښته دا کبر شاه د نمونې په ډول لاندې و کښل شوه :

راغله غازیان د پرنګي په دغه ګرباندی — اوري قتل ګربا ندی
راغله غازیان غزا له و اړه لور په لور عالمه — ګډي کړه په شور عالمه
دا شاد و سخي خدای ور کړي دي په کور عالمه — اخلي به تري خور عالمه
تورې ئي نه وهه زني ور کړه په لور باندی — اوري قتل ګربا ندی
تورې ئي نه وهه دولیا نو کرامت و ر سره — ډیر يې وقوت و ر سره
مولا به حوري ور له ور کړي په جنت و ر سره — مرګ د شهادت و ر سره
ملایان ډېره شوه غږیږي خور شو په کنر باندی — اوري قتل ګر باندی

یادوني :

*** ملا اکبر شاه، د پښتانه شعراء خلورم ټوک (۳۷۷م) شاعر دی.**

* دا چهاربیته په پښتو ټوګه په «هار و بهار» او «تور بریښ» کښي او د هغي منظومه روسي ترجمه «د پښتنو تاریخي سندري» کښي چاپ شوي ده. هو! د شعر کومه برخه چه دلته راغلي ده د هغي دوه روستي بیتونه (مولا به حوري . . .
تر پایه) په پښتانه شعراء کښي نشته. ښایي چه بل ځل چاپ او ترجمه کښي له دي ځایه استفاده وشي.



ACKU

# علی خان

داعلیخان پرته له هغه علیخان دی چه دخوشحال خان له کړوسی څخه دی او پخوا سوتر دی دهغه ذکر کړی دی تر ۱۲۵۰ ه وروسته دپیښور په خواوو کښی ژوندی و . عشقی اشعار لری .

دعلیخان پدله

خوب ویښم عالمه چه یی څوک راکی ماته
مرمی دی په غیرکی دجانان پر زنگانه

خال دی دی دوروځو ترمیان پروت پاچهی کا
لښکری تری چاپیر کا لکه مار پرخزانه

ماله خپله یاره سره مهرو محبت کـا
بیل کړم غماز انو یارله ماشو بیگانه

راشه خان مجبور په سره مهرو محبت وکړو
زلفان په مخ خوری پرسپین جبین یی کاشانه

راشه علیخانه خان په یار پسی ملنګ کړه
ښه شوی چه ملنګ شوی په آخره زمانه

یادونه :

علیخان مدپښتانه شعراء دوهم توک (۳۸م) شاعر دی چه له «هارو بهار» څخه اخیستل شوی دی .

# میر افضل

دپکلي ددېشانو په‌علاقه کې‌اوسیده‌د. ۱۲۰۵ ه په‌حدود کې ژوندی و قصصي اشعار ئې ویلي. دکلام نمونه‌ئې دا ده:

زمار به معشوقي شوی‌تګړی — عاشقان ژړا کوي هره ګړی
په کشمیر کې‌ځیني‌داسې‌بشري‌خېژي — چه‌زلفې‌ئې تاڵ‌و هې‌لکه ناړی
سراسر په‌مظفر آباد کې حسن‌نشته — دېمبو ړو جو نه‌و اړه دې‌رانې
په‌بالا کوټ کښې‌اصلي‌دچندن‌لښتي — له‌خپله یاره‌سره‌دي غاړه‌غړې
دپکلي‌جړې نه‌قبیح دی‌رنګ‌ئې‌نشته — هېڅ بنګې‌کوتاه قدي‌ړو کړي
دبغي‌جو نه کړي له خیاله‌ګر ځي — ساز دیګر اوبوله‌ځي‌جوړي‌جوړي

یادو نې:

* میر افضل، دپښتانه‌شعراء دوهم‌ټوک (۳۴۲ م)شاعردی چه‌له «هارو بهار» څخه‌اخستل‌شوی‌دی.

* دمیر افضل داڅهاربیته په‌پوره‌ډول‌او یوبل‌داستان‌یې په‌نیمګړی‌توګه‌د پښتو نخوا دشعر هارو بهار کښې شته‌چه‌دو اړه شعر ونه‌له هغه‌ځایه‌پښتانه‌شعر اء ته‌هم‌رانقل شوی‌دی.

# شاه‌گل

دپښتو راوسید ونکی دژوند دوره‌ئی تر ۱۲۵۰ ه وروسته ده،د ینی افکار لری‌خو بشپړحال‌ئی‌نه‌دی معلوم .د کلام نمونه‌ئی داده :

غم کړم غرقاب په سربالا    نفس وشیطان زموږهمراه

غم کړم غرقاب

څوک‌چه‌چاندی زر کاندی‌جس    کافر مطلق دی‌بت پرس

شریك پیدا کادالله

غم کړم غرقاب په سربالا    نفس وشیطان زموږ همراه

دز ما نی احوال شو نور    خاوندهٔتا ته مسی سخ تور

کاسیر شوغل امی‌ملا

غم کړم غرقاب په سربالا    نفس وشیطان زموږ همراه

یادونه :

* شاه‌گل ، دپښتانه شعراء دو هم ټوك(۳۴۱م) شاعردی‌چه پیژندنه‌او دشعر دغه‌نمونه‌یې«دپښتونخوا دشعر هارو بهار» څخه اخستل‌شوی‌ده .په‌پورته ماخذونو کښی داپارچه‌بشپړه‌راغلی‌ده .

# عیسی اخندزاده

دقندهار د کاکړو له پښته یو مشهور شاعر ،عالم او ادیب و چه تر (۱۰۵۰) ه و روسته ژوندی ،او په علمی ډلو کښی ګڼو ،عیسی اخندزاده دپښتو په لمړی ډله شعراو و کښی دپای درجه لری ،دده کلام عاشقانه اوغزلیات دي او یو مدون دیوان هم درلودی ،چی: تاسفانه اوس و رک دی. له هغه دیوانه اوس دغه یوه بدله زموږ څخه سته :

دعیسی بدله

په تمام جهان په ده وي بل رسواخوك — نه به بل وی کښیرتلی په بلاخوك

دعشق او ر را باندی بل دی په ور تیږم — خدای دی نه کاندی په دی اوربتلاخوك

لیونی دی ډیر دعشق دریاب لاهو کړه — څنی گرځی لا یعقل ،او دی شیداخوك

و یر دسینی سی تاخون په زړگی کښیښو — نه سی وینی بی ژړ ا بی و اویلاخوك

خدای دی راوله زما ښکلی شهیه — سترگ تو رنشوه دلته هغه دغه داخوك

ته دزړه تو کر کی ئی دسینانو

بی تانه لری په زړه ویر جن عیسی خوك

یادو نه :

* عیسی اخندزاده،دپښتانه شعراء لومړی توك (۳۴م) شاعر دی .

# عبد الغفار

داشاعر دپیښو ردخوادی ،چه‌تر (۱۲۰۰ ه) وروسته ژوندی و. دده اشعار دینی او تبلیغی رنگ‌لری دغه‌بیتونه دده د کلام نمونه ده.

نعت

ز یا یاد یږی خلقه شیرین بشر دنبی    دریغه‌پیداوی هلته،چه‌وی نو کردنبی

محمایادیږی مدام ،زړګی‌می‌نه کاآرام    پاس‌په‌آسمان کااسلام شمس‌و قمر دنبی

اول‌ئی‌یاردی‌صدیق هم‌ده‌دی کړی‌تحقیق    دی‌ئی‌دی‌دسختو رفیق،دهرسفر دنبی

دوهم‌ئی‌یاردی‌عمر ،په‌بل‌چاسکړه‌باور    له‌ده‌دی هرخوك خبر دی‌و یاردنبی

دریم‌ئی‌یاروعثمان‌په‌بل‌چاسکړه‌گمان    وولا په هغه زسان نیولی وردنبی

«عبدالغفار» عالمه‌شو تو به‌گار عالمه

څلورم یارعالمه ، علی‌حیدردنبی

یادونه :

* عبدالغفار ، دپښتانه شعراء دو هم‌تو ک (۱۰۵م) شاعر دی چه‌له«هارو-بهار» څخه اخستل شوی‌دی .

# امانت ملیار

دا شاعر تر (۱۲۵۰ ه) وروسته د پېښور د هزارې دا باخېلو په کلي کې اوسېدی او پېشه ئې باغواني وه. امانت یو ملي شاعر دی او د ده اشعار اغلباً عشقي دي.

دغه ئې د کلام نمونه ده:

تیاره بېلتون زما د خوږ زړګي تلاخخه دی        چه راوستوله مې د یار یې ربار خلهځي
سا په ربیار و تا اعتبار څکه مې ځان ونه لید        شیرین صورت مې په ګلرنګي یو ځان ونه لید
شینکی خال مې الول په زنخدان و نه لید        د لېدو مې سر یکا رژوند مې د ځان ونه لید

زړه مې بند شوی نن له دې تورې بلاخخه دی
تیاره بېلتون زما د خوږ زړګي تلاخخه دی

چه له سینې نه ئې بو بو نه د بلغار خلهځي        چه راوستوله مې د یار پېسې ربار خلهځي
زه په نارو ګله شوم ښا روته په سیلو تښې ګرځي

ده باغ دی زیات دی د سرسرو په قلعو تښې ګرځي
شو لې سر داره د خوبانو رسالو تښې ګرځي

زماله قصه په زړینو دوشالو تښې ګرځي
وګه تبار پښې مې مر په لارې ستاخخه دی
تیاره بېلتون زما د خوږ زړګي تلاخخه دی

یادونه:

* امانت ملیار د پښتانه شعراء دو هم ټو لګ (۱۳۴۳ م) شاعر دی چه له «هار و بهار» څخه اخستل شوی دی. د (فرهنګ ز بان و ادبیات پښتو) د لیکني له مخه نو موړی شاعر د (شهزاده دل افروز) قصه لیکلې ده.



ACKU

# بهرام

د پښتو د شاعرانو څخه دی چه ځینی عشقی بدلی یی ویلی دی تر (۱۲۵۰ هـ) وروسته ژوندی و، دده دغه بدله د نمونی پر ډول دلته ولیکله شوه.

بدله

| | |
|---|---|
| معمور نشوم زه په وصال د دلبر | شوګیرېږي کړم مدام په سی شمه او تر |
| سپین مخ دی ګلزار، توری زلفی سنبل | مرواری دې دندان دواړه لب دی احمر |
| ستا مقام دی په ښار خبردار شه ښارو | زه مین په تا یم که ته و کړې باور |
| سپین مخ دې آئین زنخدان دې ګبین | ته ول صورت دې مهین، تجلی تا دلبر |
| سپین مخ دی چراغ، زما زړه شو په داغ | مانیونی دلبار، ستا په وخت د سحر |

چه عاشق دی «بهرام» ستا صفت یی کلام

په کلام دی مدام که ته و کړی نظر

یادونه:

* بهرام، د پښتانه شعراءدو هم توک (۱۰۱ م) شاعر دی، چه له «هار و بهار» څخه اخیستل شوی دی.

ACKU

# ليوني شاعر محمدجي

د پېښور د يکلي اوسيدونکي، يو ليوني شاعر و چې ملي لهجه ئي د خوندوره کي خوږې او خورا اغېزه‌ناکي بدلې يلي دي : دی په (۱۳۰۰ ھ) حدودو کښې ژوندی و دغه بدله دده د روانې طبعې ښخه ده :

چه ماز ديگر شي شاه‌دخان په جوړول و لگي
او رسي په گوگل و لگي
چه ماز ديگر شي شاه په غاړه‌به امېل کاندي
تو لي جينو سيل کاندي
په بخملي و ربل لگيا وي تو رفليل کاندي
زړه زما غليل کاندي
د گل غنچه‌شي لکه زانې په کل و لگي
او رسي په گوگل و لگي
د گل غنچه‌شي چه‌دامو رسالو په‌سر کاندي
بر يښ لکه لمر کاندي

يادونه :

* ليوني محمدجي ، د پښتانه‌شعراء دوهم ټوک (۳۳۷م) شاعردی چه‌له «هار و بهار» ښخه اخستل شوی‌دی .

# برامت

ددی‌شاعر نو ر دژ و ندانه و قایع‌ښه نه‌سعلومیږی، مگر دو نه‌بر یښې‌چه‌دی‌د جلال‌آباد دعلاقې دی او تر (۱۲۵۰ ﻫ)و روسته ژ و ندی و او دغه لاندی‌بدله دده ده.

دسپینې خو لې‌دی‌شم قر بان　　　　پسو رتــه کړه‌چــشما ن
سرله پالنگه کړه را پو رته　　　　درته و لاړ دی عاشقان
پو رته کړه چشمان
مخ دې‌افتاب او دمهتاب‌په‌شان‌بلیږی　　　　بل‌دي‌په‌پو زمسو رپېز و ان
پو رته کړه چشمان
ژسادلبره شمس‌و قمر ه　　　　په‌مخ را پر یږده تو ر زلفان
پو رته کړه چشمان
زه«براست»چه‌رنځورپر وت‌یمه کړیږم　　　　که‌یو ځل راشی خپل‌جانان
پو رته کړه چشمان

یادو نه :

* بر امت دپښتانه‌شعر اء دو هم‌تو ك((۲۵۱م) شاعر دی‌چه، پیژ ندنه‌یی (دپښتو نځو ا دشعر هارو بهار) په‌حو اله شو ی‌او دغه‌شعر هم‌له هغه‌ځایه‌ر انقل شو ی دی :

دپښتو نخوا دشعر ها و بهاد کښې دشاعر نوم (برآمد) ذ کر شو ی او دشعر په کسر کښې یې‌نوم دغسې‌راغلی‌دی :«زه‌برآمدچه ر نځور پر و ت‌یمه کړیږم» .

# ملامیران

ملامیران داحمد خان زوی پەقام پوپل زی چە د (۱۲۵۰)ه و روشـــه ژوندی او دقند هارد داسان پەکلی کښی اوسیده، میران دخپلی زمانـــی مشهور شاعر دی او ځان تە دغز لو دیوان هم لری چە چاپ تەندی رسیدلی سو ړدده دغه بدله دلته دنمونی پەډول لیکو.

الهی لږ سازپه سوزد محبت را — پەدا او رلکه پتنګ هسی طاقت را
دمجازپه بت‌خانه کښی بت‌پرست‌شوم — اخلم‌بار دعشق مجنون غوندی‌قوت‌را
پاك لەغیره سی‌وجود ترآئینه کړه — حب او شوق د دلبرانو د قربت را
دمجاز پر پل ولاړ خیری‌گریوان‌یم — حقانی سینه بې غشه بې علت‌را

یادونه :

*ملامیران دپښتانه شعرا دوهم تو ك (۱۶۳م) شاعر دی.



ACKU

# اکرم جان

په‌قام ترکا نی او د جلال آباد په اسمار کښې اوسیده.دی بوسلی شاعر و او تقریباً (۱۳۰۰ ه)دمخه سړ شوی . دغه بیتو نه دده دي .

شاهٔمحبوبه شوه را ښکـاره له بنگـلی
پلـوئـی سخـی ته د شـال نیو لي
(سره بمی تنکی کړوی په سخ تجلی
لکه ښاماړ خوله کښې یې لال نیو لی)

شاهٔمحبو بی را ته ښکاره که هیکل — سپینې د انې دمر غلر و پکښې
سپینه کوکی یی ده پتاله د صیتل — عالم خو ند دی د شکروپکښې
بیکادرځم اوس ئی کوسه تکل — هیڅ حاجت نشته د خبر و پکښې
نو ر یې په زنه نه کوده هیلی — سائی په‌غاښوکښې شین‌خال نیو لی
شاه محبو به شوه را ښکاره له بنگلی

. . . . . . . . . . . . . .

نن محبو بې چه‌و ربل خور کنه — لکه په‌شنه آسمان چه وریځ راشی
بـلبلان وا ړه ګـله په شور شو نه — لکه د ګل غنچه په خیز راشی ؟
تمام آسمان ئی په سا او ر کنه — چه محبو به په ناز مکیبز را شی
په‌اکرم جان خله کوی تسلی — ما ین مضبوط د زلفو تال نیو لی
شاه محبو به شوه را ښکاره له بنګلی

. . . . . . . . . . . . . .

یادو نه :

« اکرم جا ن ، د پښتا نه شعرا ددوهم توک (۱۵۳م) شا عردی

# احمدگل

احمدگل د وسیمگل زوی، په قام‌حسن‌خیل د جلال آباد د گلایی سهمند دی چه په (۱۲۵۸) هجری کښی زیږیدلی او په ۱۳۱۳ ه کښی وفات شوی چه‌اوس ئی مزار د چپر هار په للمه کښی دی. احمدگل د خپلی زمانی یو مجاهد او متبحر ملا او نوموړی ادیب او شاعرو، چه دده علمی او اجتماعی اشعار او ملی ترانې او غزلې تر اوسه د خلقو په یاد دی. احمدگل د چمر کنډه په‌غزا له‌جناب قدوة‌السالکین غوث زمان حضرت هډې صاحب علیه الرحمه په مجاهدینو ملگرو کښی شامل او په هغه غزا کښی د تبلیغ او علم برداری وظیفه دده‌ وه لکه چې‌دی پخپله وائی:

نه به بیرغ له لاسه کیږدم ... نه به دی‌نوم په دنیا پرېږدم
نه‌یم‌په‌خود کښی‌د رته‌ریږ دم ... ستمگار عمر سمزی لښکر دی
خلقه جهاد په چمر کنډه دی

ددغه مړنی شاعر ځینی آثار چاپ شسوی مگر اصلی دیوان ئی‌چه (دیوان احمد) په نامه نوموړی او تاریخی شی دی تاسفانه طبعی ته‌ندی رسیدلی بلکه ورک او لا درک دی. دده دغه بدله دلته دنمونی پرډول ولیکله شوه.

چه په وړا نکو ئی دځمکی سر رو ښان دی
خپله واوره هغه علم او عرفان دی

که مطلب دې معرفت دالهی وی
دامشکل محض له دې لاری آسان دی
دجاهل به څه رسوخ چه نیکنامی وی
ناپوهی له اوربتر جهان سوزان دی
د هغو غشی رساپه نخښه نښلی
چه په لاس ئې دعرفان په خیر کمان دی
«احمدګل» په علم هرچا پیژندلی
ننګرهار دی که کابل که هندوستان دی

یادونې :

* احمد ګل ، د پښتانه شعرا دوهم ټوک (۶۰ م) شاعر دی .

* (داحمد ګل شاعری) تر عنوان لاندې یو قلمی کتاب چه دنوموړی شاعر زوی ، ملامحمد ګل دللمی (۱۳۱۰ - ۱۳۷۰ هق) په ۱۳۲۵ هش کال لیکلی دی زما په کتبخانه کښې شته چه هلته دشاعر پیژندنه او شاعری باندې مفصله رڼا اچول شوې ده او په زړه پورې آثار یې ، لکه د کوتوال قصه ، د نیمبو لا او ملابهادر قصه ، دحضرت موسی قصه او نورې قصی او د شاعر فارسی شعرونه هم هلته شته .

* دملا احمد ګل د زیږیدو کال (داحمد ګل شاعری) په کتاب کښې «دبعضی قراینو او اشاراتو چه د ده د آثارو او تالیفاتو نه څرګند یږی په (۱۲۷۰ ه) کال» ښودل شوی دی .

# دافریدو میرا

دا شاعر په نام افریدی دی او د پېښور په سپینه ډیره کښې اوسېده چه تر (۱۳۰۰) هجری پوری ژوندی و.

میرا د خپلی زمانی مشهور شاعر دی، د ده اشعار اغلباً عشقی او تصوفی دی دغه بدله د ده د روانی طبعی نخښه ده.

سترگی بیا که که په لاره سمه شه    غنیم نه شا که ورته په رده شه

* * *

حرص دی د بردی خه خو تری کمه شه    چشمان د رون که په خپل گریوان کښی
له تا قربان شم زما دلبره    بیشو اسی ته نی پاکه سرو ره
خونسی جدا شو د زړه له سره    مکان دی تشته زمین آسمان کښی

* * *

مرگ دی پسر دی «میرا» فقیره    شتی بدو خوری په زړه تاو گیره
آخر به لاړشی لدی جاگیره    غشی نیولی د رته کمان دی
بدونه:

* میرا، د پښتنو شعراء دوهم ټوک ( ۳۵۱ م ) شاعر دی.

# توکل

توکل په قیام صافي او د کوړ کمړ دیوه دیالي په کلي کښې اوسیده او تر (۱۲۵۰ ه) وروسته ژوندی و. دی د مشرقي د نومورو او مشهورو شاعرانو څخه دی. که څه هم د توکل دیوان موجود نه دی اما ده په سوو تو غزلې ویلي او د خلقو یاد دي او په سرندو کښې ویل کیږي. توکل په غزلو کښې وتلی او معروف استاد دی او د ده ساده او طبیعي بدلې ځانته بلاغت او اسلوب لري چه ډیرو شاعرانو ته میسر نه دي. دغه څو ره بدله د توکل د رواني طبعي څخه ده.

توري زلفې چه په مخ د جانان لګي — خوشبوئي ئې په هر لوري د زلفان لګي
بلبلان ورته ډیر د شوه د شاخ لاندې — عاقبت به یه ګلو نوي خزان لګي
عنبر بویه ، سنبل مویه ، مه جبینه — ستا د حسن نښان پاس په آسمان لګي
خلافسه کانده و عده دې خبر دار شه — ستا خلاف لکه ګواښ د اسمان لګي

« توکل » د زړګي سر قلم قلم شو
زړه له سوخته ئي ناري په آسمان لګي

یادونه :

* توکل ، د پښتانه شعراء دوهم ټوک ( ۱۳۹ م ) شاعر دی چه هلته یې پیژندنه د کابل مجلې له ( ۱۱۵ ) مې ) ګڼې د قیام الدین خادم له لیکنې څخه اخستل شوې ده ، خادم صاحب لیکلي دي «توکل په سوو غزلې جوړې کړې دي خو که چیرې یې څوک ټولې کړې نو ځلور دیوانونه ترې جوړیږي. » . کاشکې داسې څوک پیدا شي !

# د پیښور محمود

محمود د پیښور د سردار په سرغز کښې او سیدئ او تر (۱۲۵۰ ه) وروسته ژوندی و . د ده په سلي لهجه بدلي و یلي او اشعار ئې قصصي رنګ لري .

په خو ادیابا آدم له زمانې نه په یقین تیارد وه په زمین
په ستر ګو خه لیدی نه شو زمکه و واندیر ډنه و نه و و چاپیر
یو ستوری و د قطب چه ربدی که راحضور ړندو نه شو له دور
دا نور د پیغمبر نبي سرو روسا سعانو دروغ نه دی یارانو
رڼا شوه په هر لوری د دی ستوری له قوته قربان ئې له صفته
له نوره پیدا کړی الهی د ده صورت و لوی حسن د حضرت و
په سخ د محمد رسول د نیا شو له و دانه په خو اوه له دی و رانه
پیدا شو ه پیغمبر جسد ئې ډ که و له نوره دنیا شوه پری معموره
یادونه :

* محمود ، د پښتانه شعراء دو هم توک ( ۱۷۰ م ) شاعر دی چه له «هار و بهار » څخه اخستل شوی دی .



ACKU

# پیښوری مجیدشاه

ددې شاعر دیوی پدلی خخه پرته نوراشعارئی نظرته ندی راغلی .
دی‌تر ( ۱۲۵۰ ه ) وروسته ژوندی و . دغه بدله دده ده :

سخته په ساده خدایه | له ماجدا دلبر شو
دتور خاورو لاندی | هغه‌شیرین بشر شو

* * *

رنگ‌ئی تک‌تور کاهجران | ونیو آشنا گورستان
وسی لیدیء خپل جانان | جورپه‌مااختر شو

* * *

اختر کوی دا عالم | چه‌په‌زړه‌نه‌لری غم
خاځی‌له سترگو سی‌نم | غوځ پکښی ځیگر شو

* * *

غوځ پکښی ځیگر دی | ژاړه‌تل سی ویر دی
په‌ما همیش شوگیر دی | خبن‌په‌زړه خنجر شو

* * *

زړگی زماشو انگار | په‌قدقامت کښی دیار
هیڅوك سی‌نه‌شو په‌کار | غم‌سی کل په‌سرشو

* * *

غم‌سی په سرشو هرلوز | مقصودسی ونه‌شو نور
پکښی گلونه ستسور | سراوی باغ صدرشو

یادونه :

* مجیدشاه ، دپښتانه شعراء دوهم تیوك ( ۱۳ م ) شاعردی چه له « هارو بهار » خخه اخستل شوی دی .

# میر عبدالله

دا ي‌شاعر دژوندانه وقائع بشه‌نه‌معلو میږی مگر دو نه‌بریښي چه‌دی‌دپښو ر ـ بزی دی اوتر ۱۲۵۰ هـ و روسته ژوندی و. دغه ئي د کلام نمونه:

بدله

روب شوم زمستا په‌مینه — غم‌دهجران دی نه
په‌مخ سی اوښي خیخه — لونډسی گړیوان دی نه
ستا په سودا شوم مجنون — روان دژړه‌سی خون
دی راپسی دی بیلتون — عمر‌سی گران‌دی نه
پتنگ دعشق له جوشه — پروت دی سرگرم بیهوشه
خوښي په‌اور کښي توشه — سخت‌ئی گزران دی نه
میر عبدالله شو ایسار — ستادو خال تمه‌دار
شو په عذاب گرفتار
هی‌هی ارسان دی نه

یادونه:

* میر عبدالله، دپښتا نه شعراء دو‌هم ټوك (۱۵۶ م) شاعر دی چه‌له «هارو بهار» څخه اخستل شوی دی.

# میارجب

د پېښور د پړی د ملي شاعرانو څخه دی چه تر ۱۲۵۰ هـ وروسته ژوندی و
د غه بدله د ده د کلام نمونه ده :

تن دی زخمی کړی د ضمیر په ګذار ویم
خمه په نارو یم

ماه سی شوه بیرون صنم د ستا په عاشقی کښی     بېګناه وهلی زه په تیغو کتار ویم
خمه په نارو یم

حسن د لیلی لری غوږ دی په عالم کښی     زه لکه مجنون د رپسی ګرځم په میر ویم
خمه په نارو یم

حسن خال و خط لري څه عجب زینت لری ـ سخته ده یاری کوم زاری په شو ګیر و یم
خمه په نارو یم

هر څوک چه آشنایی کړي مدام په غم کښی اوسی ـ زه رجب رټلی د بې نیاز وستر ګو سرو یم
خمه په نارو یم

یادونه :

* میان رجب ، د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۵۷ م) شاعر دی چه له «هارو بهار» څخه اخستل شوی دی .

# اشنغری محمدخان

محمدخان په اشنغر کښې تر ۱۲۰۰ ه و روسته اوسیدی ءاو عشقی بدلی ویی یلی. سو ر دده دیو ی بدلی څخه دغه بیتو نه دلته را نقلو و .

شین رنګین ئې و اغوست دو پټه ئې کړه په سر صنم
را غله برابر صنم

شین رنګین ئې و اغوست محبو باګل خندانه شوه
و رو و رو رارو انه شوه ـ داد ګل غنچه وه رابیر و نه له بوستانه شوه
بیه راته عیانه شوه

سخ ئې له حجابه راخر ګند کا په هنر صنم
را غله برابر صنم

شین رنګین ئې و اغوست محبو با غنچه د ګلو ده
اوس د بویو لو ده ـ زنه آلو چه ساتی ـ سو چه لو ر دغلو ده
خان له دساتلو ده

ګل زیو ر یې و اغوست چه راتله په اشنغر صنم
را غله برابر صنم

یادو نه :

* محمدخان ، د پښتانه شعراء دو هم ټو ک (۹۰۱م) شاعر دی چه له «هارو بهار» څخه اخستل شوی دی .



ACKU

# شیر محمد

شیر محمد د ولی محمد هوتك زوی دی او دقندهار دسنه بحصار په کلی کښی ئی استوګه درلوده .دی‌د خپلی زمانی عالم او متصوف پوشاعر و ،چه‌دده اشعار عشقی او تصوفی دی او دی‌خاتته‌سر تب او سر دف د یوان‌هم لری چه‌طبعی‌ته‌نه‌دی رسیدلی .ملاشیر محمد په ۱۲۳۳ ه زیږیدلی او په ۱۳۰۳ وفات شوی‌دی‌او س پخپله قریه کښی‌ښخ دی ـ د کلام‌نمونه‌ئی داده

| | |
|---|---|
| پرد اغلی مخکه نه‌سی کورو کلی | خه‌به تو ان کا د هجر ان لمبوو هلی |
| نام و ننګ په‌عشق کښی‌خو سر ه‌لو ګناه‌ده | په‌مذهب دعاشقا نو دی‌د رو هلی |
| هسی غم‌نه‌دی‌چه‌خو لك ئی‌په‌سرو اخلی | دغه بارد ی‌د عاشق په سر تړلی |
| که‌دی‌چیر ې‌په‌خیال‌ګرځی‌چه هو س‌دی | دعشق‌او ر دی تر تمام‌جهان‌و تلی |
| که لمبه د بیلتا نه د ې په سر راشی | بیا به‌نه‌و کړی‌هوس سادی لیدلی |

سال و ځان‌سی دآشنا په مخ فدا شو
شیر محمد دی دغه‌سو دو زیان منلی

یادو نه :

* شیر محمد ،دپښتانه شعر اءدو هم‌تو ك (۱٦٥م)شاعر دی .



ACKU

# قندهاري حاجي عبدالله

حاجي عبدالله د عطا محمد خان زوی د قندهار په بالاده کښي هستوګه درلوده ـ دی په (۱۲۵۷ ه) کښي زیږېدلی او په ۱۳۳۳ هجري کښي وفات شوی ـ حاجي صاحب د قندهار یو نوموړی عالم او شاعر دی ـ د ده اشعار عموماً اخلاقي او تصوفي او عشقي دي ـ په پښتو کښي خاتمه سربېره دیوان هم لري چه چاپ نه دی رسالي د غه بیتونه د ده د رواني طبع څخه دي :

غزل

په څه غم شوم مبتلا د زړه له لاسه — چه ئې نه کړي ژړا د زړه له لاسه
په سرو وینو کښي د زړه غوټۍ وهمه — رانه سلک شو کړ بلا د زړه له لاسه
په ظاهر کښي ساز و باز کوم له خلقو — په باطن کړم واویلا د زړه له لاسه
هر څه ظلم په ما میږې هغه کاندي — ځکه زه یم شوم رسوا د زړه له لاسه
په هوس د هر ګلرخ شوم د ترسو ترسه — عزت پرولم (۱) بې بها د زړه له لاسه

دنیا باتر سنز له تیر شو لي نیکه شوی
لا و پیری عبدالله د زړه له لاسه

دا دوه بیتونه هم د ده دي :

د آشنا په خیال بیده وم رقیب و یښ کړم — د جنت په میان کښي حار شو راڅرګند
ستا په هجر جهان وارې کربلا شو — خو د به اچوی آسمان هر سحر وینې

یادونه :

* عبدالله پوپلزی، د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۲۰۸ م) شاعر دی .

(۱) پرولم = پلورم .

# سوراج

دی په‌اصل هند واو دپښتو په ژبه کښې شاعر دی سوراج تر ۱۲۵۰
دور وسته ژوندی و، دغازی د لا ساخان دجگړی قصه‌له سیکانو سره کړی
وه‌په پښتو ژبه نظم کړی سو پدده د هغه تاریخی منظوسی خو بیتونه دلته
دنمونې پر ډول‌ولیکل .

غزائی نه‌گا فر وسره ډیری وکړی ریه
په ورځ دآخرت دلا سه خلاص کړی له‌عذابه

سکهو رته ویل چه راوتلی یم‌په ننگه*نور خلق سی‌رعیت کړه
دلاسه ته‌خم په بلنگه پیسه به‌را کوی کوټ*او کلا به‌دی کړم رنگه
که‌لږ کی ورنژدی شو دی به کړمه سینه کباب

غازی دلاساوی سیکه له‌تانه‌نه‌ویریږم

تندی سی د رنه ونیوپه غزا دی خو شالیږم
نظر دی د پیرانو په کافرو دل بریږم

یو کس به‌دی پری نږدم ترانکه تر پنجابه
سبکهاو رته ویل دلا ساسکړه سلاسی شه

دجنګ طاقت دی نشته په‌آشتی کلاسی شه
راجه ته‌سلام وکړه په توبه په‌عاجزی شه

داملک به تا ته بخشش کړم له بنو تر نیلا به
غازی دلا ساوی‌زماپه کار نه‌دی ملکونه

غزا درسره کړم په کارسی نه‌دي منصبونه

که چیری شوم شهید الله بەرا که جنتونه

دنیاو اره فانی ده چه پیدا یونه ترابه

یادونی :

* سوراج په پښتانه شعراء دریم ټوک کښې تر (۳۳۲) نمبر لاندې پەیوه نیمه کرښه معرفي شوی دی او اصلاً هندو بلل شوی دی.

* داروسستتر د پښتو نخوا د شعر هارو بهار په مقدمه کښې ددې شاعر پەباره کښې لیکی :

داشاعر هم هندوو او د سکهانو په مقابل کښې یې ددلاسه خان دهغه میرانی ستاینه کړله چه د بنو په جگړه کښې یې کړې وه. ددې شاعر پخوادسکها نو میرانه هم ستایلی وه». په هارو بهار کښې داچار بیته پەپوره ډول راغلی ده، خو په کسر کښې یې دشاعرنوم د(سراج) په شکل ثبت دی :

«سراج وایی پښتو نه په هندوانو عادتي و»

داچهار بیته سا په «نوربربیش» کښې اخستی او په کسر کښې دشاعرنو دنامه لەمخه دچهار بیتی پەبابای کښې سي هم دهغه نو ... دی.

خبره د لتەدەچه که دشاعرنوم (سوراج) وی نو هغه هندو دی او که نوم یې (سراج) وی بیا نومسلمان دی. په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښې دانوم (سراج : یاسوراج) راغلی دی او (دپښتو تاریخی سندری) کښې (۳۱-۳۳۱ مخونه کی هم «سراج (سوراج)» لیکل شوی دی.

# حسن خان

دی د پښتو قصه نویس شاعر دی، په اصل کښې اخوندخیل او په «پچگی» کلی کښې چه د پېښور د توابعو څخه دی استیده ، حسن جان پر ته له شاعرئ څخه د خپل عصر عصر عالم هم و. ده خپل بو کتاب د «گلزار حیدری» په ۱۳۱۲ ه تمام کړی. په کلام کښې ئې تصنع او تکلف نشته.

د کلام نمونه

په بوستان چه گل تازه شی — د بلبو آو ازه شی
خوند کوی دانو بهار — دگلونو په گلزار
بوراگان په زیړو گلو — سیر صفا کړی د بلبلو
چه طوطیان په باغ ورك شی — خوار خسته هلته بیلتون شی
چه تازه شی نوبهار — بلبلان کوی چغار
دا د نیاستال د باغ دی — دا بیلتون لکه د زاغ دی

یادونه:

* حسن، د(فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) په(۳۰۱م)مخ کښې په لنډه توگه معرفي شوی دی.

* د (پښتو کتاب ښود ـ کابل ـ ۱۳۵٦ ه، ش چاپ) په (۸۸م) مخ تر (۱۳۳۳ی) گڼې لاندی د(حسن، اخوندخیل خلیل) تر نامه لاندې دده قصه یی آثار: «گلزار حیدری ـ حملۀ حیدری ـ جنگنامه حضرت علی حضرت علی» ښودل شوی چه په لاهور کښې چاپ شوی دی.

# ارسلا

دا شنغر له یوسفزو څخه و. تر ۱۲۵۰ وروسته زو شوی او تر ۱۳۰۳ پورې ژوندی و. دی د پښتو ډېر ښه شاعر دی. ډېرې قصې ئې نظم کړې عشقي بدلې ئې لري.

د کلام نمونه ئې دا ده:

په تورو څڼو ولاړم ننواتې
یار ئې د کن له ته پخپله ئې لا یاتې
په تورو څڼو

په تورو څڼو ورته ودرېدم سر تور ه  و وته ئې د نوم جوړې چه دی نه کوره
سوال ئې قبول کړه ورته وایمه په اور  د په کار ئې نه دی که نواب به از رباتې

په تورو څڼو

ورته ویل ئې زما خبره ئې د رمز جان دی * تا نه یم و روسته پاتې څه په هندوستان دی
ښه «ارسلا» کوشر کښېنه سهر و یان دی * د شونډو ئې به وکو مه سرې ئې لاتې

په تورو څڼو

یادونې:

* ارسلا د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۶۶ م) شاعر دی چه له «هار و بهار» څخه اخستل شوی دی.

(۱) از رباتې د هشتنغر د ابادۍ مغنی صورت دی (پښتانه شعراء).

# محمد یار صاحبزاده

دی د کلات له توخو ښخه و هلته او په قندهار کښې ئې استوګه درلوده، صاحب زاده په سل ۱۲۵۰ هـ زوکړی او تر ۱۳۱۰ هـ وروسته په قندهار کې وفات شوی دی. یوستړی، روحاني سړی و. په سلي لهجه ئې د پرعشقي اشعار ویلي. اوریدل شوي دي چه ده د اشعارو غټ دیوان درلود، خو اوس ورک دی، ځینې اشعار ئې چه د سپري بدلي په ډول ویل کیږي لاسته راغلي.

د ده د کلام نمونه داده:

جانانه و دی سوم د هجر په انګاره — خاوري شوم ستا په دربار ه
کشکي زه نه وای پیدا یا په تانه وای شیدا — یاله، تانه وای جلا
زما صبر ز سا برخه، پاته نه ؤ ای ستمګاره — خاوري شوم ستا په دربار ه
کشکي ګل نه غوړیدای یا ئې بوی نه لګیدای — یا بیانه ژړیدای
یا نه وای داخزان، او همیشه وای نوبهار — خاوري شوم ستا په دربار ه

یادونه :

* د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې د دې شاعر تذکر نشته. یوازي (په فر- هنګ ژبان و ادبیات پښتو) کښې د ده له نه یادونه شوې ده.



ACKU

# محمد اعظم پوپلزی

دی د. ۱۲۰۰ په حدودو کښی زوکړی او دکرزپه کلی کښی اوسیدی، محمداعظم یو خوږ ژبی شاعر و. دامیر شیرعلیخان نا کامی داعلیحضرت محمد یعقوبخان بندی گرت او دبناغلی سردار محمدایوبخان میړانی او جگړی ئی لیدلی او دغه ناگوار حوادث ئی په نظم لیکلی. خوبیته دهغی منظومی دنخښی په دول لاندی لیکو:

محمد یعقوبخان دی ارمان نه لری دخدا عالمه
چه داسی ورو رنی پاته سوی تر شا عالمه
محمد یعقوبخان ویل چه زما سپاهیان جنگونه کوی
حوری دعرش پر کنگره باندی سیلونه کوی
دشهیدانو نوری و یتی پر خالونه کوی
سر کی پر حق دی یا نی نن یائی سبا عالمه
کفرسات کړ شیرعلی سو ورته تم عالمه
دده هرکور باندی ئی جوړ کړنوی غم عالمه
د تلکتی خخه لښکر سو د کفر سم عالمه
یوه ئی نه سوله رو زی دواړی خطا عالمه
محمد یعقوبخان ویل زه چه داسی ورور ترشا لرم
که په دکن سمه بندی زه خه پروا لرم
که سی خدای خلاص کی هغه جنگ هغه سپا لرم»
که ورورژوندی وزما هیڅ نسته پروا عالمه

یادونه :

* د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې ددې شاعر تذکر نشته . په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښې د محمد اعظم کندهاري د شاعر یادونه شوې ده چه ۱۳۰۰ هق کښې یې په ملي وزن نوشعر ونه ویل او په «طلوع افغان» کښې یې شعر و نه خپاره شوي دي .

# قاضي عبدالرحمن

د پېښور په اباز و ګړي کې تر ۱۲۵۰ هـ وروسته زېږېدلی او وروسته ئې تورو کې استوګنه کړېده . دی قصص یو شاعر دی «فسانه دلپذیر» چې د روزرو بیتو ته رسیږي لیکلی دي. کتاب کې خای په خای بدلي هم شته. د نمونې په ډول دا لاندې بدله نقلوو .

چه خزان راشي بلبل ژاړي ګلزار کې — چه خراغ بل شي پتنګ سوځي انګار کې

په طوطیانو بور اګانو دي داتم — چه د ګلو بوی ورکړي په اشجار کې

دبا غچو ګلونه واړه پژمردشي — طوطیان د ږ وسی دزاغانو په قطار کې

عاشقان هم د هجران په لمبو سوځي — چه محبوب ترسکونت کړي بل دیار کې

چه نقاب دبلتانه په سنځ کې راشي — عاشقان ئه حصاروي په سرد نار کې

له هغه بدبخت به بل په دنیا نه وي — چه دي ناست وي یار ئې ګرځي په حسار کې

یادونه :

* د پښتو شاعرانو په تذکرو کښې د دې شاعر ذکر نشته. په (فرهنګ زبان وادبیات پښتو) کښې د هغه له نوم پېژندنه شوې ده او په (پښتو کتاب ښود ۱۳۵۶ هـ ش چاپ کابل) کښې د دې شاعر دغه چاپ شوي کتابونه ښودل شوي دي .

۱ـ سیر السالکین ـ دادیو حناد انجیل ترجمه ده چه دا ترجمه یې له پادري تېمو مامسره په ګډه ترسره کړې ده او په (۱۸۷۷ م ـ ۱۲۹۵ هـ ق) کښې په امرتسر کښې چاپ شوې ده .

۲ـ قصه جان عالم المعروف به فسانه جالب ـ (لیدی شي چه دا همدغه دافسانه دلپذیر) وی . چه په دې نثاب کښې یاده شوې ده . ۱۳۷۳ ق چاپ ـ پېښور

۳ـ نوبهار دل افروز (د شعر مجموعه) د لاهور چاپ .

# نور صاحب

پەقومدرانی او دروغانو پە زلی کښې چە دننگر هارد مزینی کوزه غاړه دە زیږیدلی دی پە (۱۲۶۹) و روستەتر ەم کالو د کورنیو جگړو لاملەبغداد تە تللی دی.د روانی طبعی خاوندو ، اشعارئی خواږه ،روان او طبیعی دی دەډیر ې قصې نظم کړیدی چەخلق ئی مجلسو نو کښې وائی .

دده د کلام نمونه :

| | |
|---|---|
| پلو کړه لەمخ لیری رب د پار ستمگاری | بنکاره کړه بیو ستر گی خماری |
| دالارد معشوقو کله وفا کله جفا کړی | نن هغه سبا دا کړی |
| پەزړه کښی دی و یشتلی یمخدنگی گل نکاری | بنکاره کړه بیو !ستر گی خماری |
| زه زړ پەعاشقی کښی دمعشوق لەلوری بس دی | تیری پر دی هوس دی |
| دیدندی کەپەکاردی لمن نیسه درو پیاری | بنکاره کړه بیو !ستر گی خماری |
| محی دی پەخنجر دمیەنی غوغ کړیم کړم کړ | رسوا دی پەعالم کړ |
| دیدندی کە یەکاردی لمن نیسەدرو پیاری | بنکاره کړه بیو !ستر گی خماری |

یا دونی :

* نورەبیب دپښتانه شعراء دوهم ټوک (۲۰۵ م) شاعردی . پە (فر هنگ زبان و ادبیات پښتو)۶۲۵ م مخ کښی دهغەیادونە شری دە او دنتە «تذکرة الشعراء» کښی دراغلی شعر (مطلع) یی دشعر پەنمونەکښی ښودل شوی دی .

* لکه چه گورو دلته په تذکرة الشعراء کښې د پاسنی شعر په اثر (مقطع) کښې د (سخی) نوم راغلی دی سخی د ننگرهار مشهور سندرغاړی شاعر تېر شوی دی. زیاد و رو کتوب او خوانی تر وختونو پورې سندرغاړو دده سندرې ویلی. سخی د پښتانه شعراء دریم ټوک (۲۱۲ م) شاعر دی چه هلته دده په وینا نو سوری «د روغانی وال (مشهور شاعر) شاگرد» بلل شوی دی. ښايي چه روغانی وال همدغه نورسیب روغانی وال وی.

په پښتانه شعراء دریم ټوک او (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښې د پاسنی شعر کسر د سخی د شعر په نمونه کښې په دې ډول لیکل شوی دی چه وایی:

سخی دې په خنجر د مینې غوڅ قلم قلم کړ
رسوادې په عالم کړ

یو ځل په خوله کښې ور کړه دوا یې لبې ابدارې
ښکاره کړه بیو ستر گې خمارې

نو د دری وارو استاد و له سخه دا شعر د سخی کیږی. مگر په پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۷۶ م) کښې بیادا نور ل غزل په پوره ډول د نورسیب په سی لیکل شوی دی او کسر یې هم د هغه په نامه ده چه په الفاظو کښې د تذکرة الشعراء له دې غزل سره څه توپیر لري او دلته یې عینا رانقلوو:

پیلو کړه له سخ لیرې ربدیاره ستمگارې
ښکاره کړه بیو ستر گې خمارې

دا لارد معشوقو کله وفا کله جفا کړی — نن هغه سبادا کړی
په زړه کښې دې د دښتنی هم خندنگی گل نگارې — ښکاره کړه بیو ستر گې خمارې



ACKU

جامې يې په تهمت کښې شولې رنګې د دلبر
زخمې د زړه په سر

په سپين کميس يې لاړې د زړه وينې لارې لارې
ښکاره کړه ببو! سترګې خمارې

په چېرې عاشقان دي خيله خند شوسه د تهو لو
ريشخند شوسه د تهو لو

يو خل په خوله کښې را کړه دوايي لب ابدارې
ښکاره کړه ببو سترګې خمارې

تو رسيب دې په خنجر د مينې غوڅ قلم قلم کړ
رسوا دې په عالم کړ

ديدن دې که په کاروي لمن نيسه د ربيارې
ښکاره کړه ببو سترګې خمارې

# عنوان الدين

په‌قوم کاکاخیل او تر ۱۳۰۰ و روسته دسرحدی صوبی په‌ایبټ آباد کښې زو ندی و.دی‌یو قصه گوونکی شاعر بلل کیږی . ځو بیته دهغه‌داشعارو دنخښې په دول دلته‌و لیکل‌شوه :

| | |
|---|---|
| راشه وا وره د ابیان | چه تول سوا تشی در عیان |
| سراسر پری گر زیدلی | دا پخپله دی لیدلی |
| د یوسف دی دا اولاد | اکوزی باباءی شی یاد |
| یو درده سراسر | سیند په مخ کښې برابر |
| په‌شمال تری‌خوازوزی‌دی | په جنوب تری بایزی دی |

یادونی :

* عنوان‌الدین کاکاخیل دپښتانه شعراء دوهم توک (۱۷۵ م ) شاعر دی

* دعنوان‌الدین کاکاخیل داشعر چی(دپښتو نخو ادشعر هارو بهار) دلیکنی له‌مخه د ۱۸۸۲ م دسوات حالات پکښی لیکل شوی دی (۵۳) بیته‌لری او په‌بشپړه توگه په‌نوموړی کتاب کښی‌ثبت‌دی‌چه‌له‌هغه‌ځایه پښتانه شعراء هم راخستی‌دی .

# عجم

تېر (۱۲۵۰ ه) و روسته په بحیر کښې اوسیده. په ۱۳۰۱ وفات شوی.

ده عشقي بدلۍ ویلې. د کلام نمونه ئې داده :

نن زما دیاره نه اسیل په غاړه راخه

له هیبته غورځیږه لستوني دواړه راخه

نن زما دیاره ته زلفانې شوري که      د سوزې سره په هر زمان جګړې کړه

داجانې دی و اړه په تهمت زیږی که      د خاطره سی هوسی د عقل لاړه راخه

له خاطره سی هوسی د عقل ملی ده      مستانه پیرزه سی سره لښتی لیدلی ده

عر غوره سی لږ انه کی لګېدلی ده      په کالو که خان منبال محبوبی و اړه راخه

په کالو چه خان منبال کړې زینتنا که شی      نه له نور و جنو زباته شیره نا کا شی

د عاشقو لږ انه لږه مهینا که شی      چه بور جل لره راخی اسنی نغاړه راخه

چه بور جل سره راخی عالم خبر که ته      په زلفانو و رته پوری مشک عنبر که ته

یو خل خو په « عجم» خان برابر که ته      چه موز یانو کره بندشو ژ اړه ژ اړه راخه

یادونه :

* عجم ، د پښتانه شعراء د دوهم ټوک (۱۶۷ م) شاعر دی چه له دغه شعر سره

(د پښتو نخوا د شعر هار و بهار) له کتابه اخستل شوی دی.

# زاهدخان ابراهیمزی

دی دهرات له پښتنو شاعرانو څخه دی . دهرات د . . . . د مشهور جنګ قصه په پښتو نظم کړې ده . زاهدخان پورزړی شاعر دی حماسی افکار او اشعار لری . دادبی قدرت او دروانی طبعی خاوند دی .

یادونه :

* ددې شاعر ذکر دپښتنو شاعرانو په هیڅ تذکره کښې نشته . د کلام نمونه یې ددې کتاب په خطی نسخه کښې ثبت ده .



ACKU

# ملاله

دا یوه ننګ هاري پېغله وه چه د میوند په خوا او شا کښې استېده. دا پښتنه شاعره په ۱۲۹۸ هـ کال کښې د میوند په مشهوره غزا کښې د خپل ننګیالي مېړه سره د زړورۍ په خېر جنګېده. په هغه جبهه کښې چه دا ښځه او مېړه سره جنګېده د غلیم زور و او زیات وه و چه غلیم بری بیا مومی. دلته مېړه ملاله د غازیانو پام کښې و درېـ یده. سور بیرغ ئې پورته کړ او دا ټپه ئې په خورا اثرناکه غږ و ویله:

خال به د یار په وینو کښېږدم — چه شینکی باغ کی ګل ګلاب وشرموینه
توری وهه بری به مومی — که بری نه وی ځوانان تل په تورو سرینه
په تورو تورو کښې تور شی لالیه — د بې ننګی رغ دې راستنه تر وطنه
که په میوند کښې شهید نه سوی — خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتنه

د ملالی دا رغ پښتنو غازیانو د پاره هاتفی رغ و، او ائې چه دا بری تو له د ملالی
د میړانی اغېزه او ددی ملی ادبی شاهکار نتیجه وه.

یادونه:

* د ملالی ذکر د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې نشته په (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) کښې یې یادونه شوې ده.

دلته باید و وایو چه لنډۍ د پښتو د فولکلوری سندرو یوه په زړه پورې نوعه ده چه که هر پښتون یې جوړه نه کړی نو د هر چا یو یاخو لنډۍ زده دی.



ACKU

# غلام

دی د حضرت علی خان زوی په ... کال نرکانی دی اسعار ئی ئی استوګنه لرله او .

۱۳۰۴ هـ و روسته مړشوی دی. د یوه قیمتی دیوان خاوند هم دی اشعار ئی نر و خی او کلاسیکی او بنه رو انی او جاذبیت پکښې لیدل کیږی :

د ده د کلام نمونه

تن می بیا د زړه له سره ارمان وخوت — له سینی نه می او ګی د نیران وخوت

یار مستانه جدائی کښی لاصبور یم — خپل قسمت می ازلی نن زمان وخوت

ملامت د کړ رو کلی می قبول دی — ناخوښ می د ځانه عالمه! تاوان وخوت

ای دلاله! دا سینه غنچی می وا کړه — ګوره سوری پری ننګه د خزان وخوت

چری نه چه دا سینه ګلمی مسو رشی — دا اجل می ګوره بیر له ګمان و خوت

خپل قفس ئی دعشق او ر بانای ایری کړ

«غلام» روح سره الفته آرام خوت

یادونه :

* داشاعر ... پښتو په تذکرو کښی نه دی معرفی شوی .

# خدای رحم اکاخیل

تر ۱۳۰۰ هـ وروسته د کلات په لتو د سیوري د ملیزو په کلي کې اوسیده او د امیر عبدالرحمن د سلطنت په اخیرو وختو کې وفات شوی او د سوري په غرو کښې ښخ دی. دی په شعر کښې طبیعي لهجه لري او له بدلو څخه ئې ادبي قدرت څرگند یږي. دا ئې څو بیته د نمونې په ډول رانقل شول:

خوږن خرازي سترگې دي نن بیا کړي د زړه ښکارونه
زانگو دي واچول پر غاړه د سپوږمۍ دامونه
گلانو و اغوستل د شربته د غنچو سرونه
صنمه جور او جفا کوه آزار به و اخلي
ترپو لا دي غشو بتر د نیمو شپو آهونه

یادونه:

* خدای رحم، د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۹۸ م) شاعر دی



ACKU

# محب الدین

دی له‌متاخرینو شاعرانو څخه دی‌او دبردی مشهوره‌قصیده‌ئی له‌عربی څخه په‌پښتو ترجمه او نظم کړې‌ده او دامنظومه ترجمه دعبدالقادرخان ختک او ملا۔ شرف‌الدین دترجمو څخه‌خوږه‌راښکلې او خوندوره ده ۔ څوبیته‌ددی منظومی‌لاندی دنمونی په‌ډول رانقل کیږی :

تهٔ‌چه‌فریادونه واویلا کوی هردم　　همتاوده آهونه اوسیلی په هرقدم
و وایه ومانه‌ستاپه څه دی دردوغم　　یاخو دی‌یادشوی‌دی‌یاران ددی ــ
گډی و ږی دروسی له‌څپږو سوا و ښی‌هردم

ای عاشقه راشه رانه‌وایه دزړه مراد　　ولی‌هرساعت کړی‌په‌افسوس‌آه‌وفریاد
یاخو پښ‌رازونه‌دو صال‌شوه‌درنه‌یاد　　یاو الوته په‌تاد کاظمی له لوریه‌باد
یاپه‌تو ره شپه کی‌بر یښناو یی داضنم

* محب الدین د (ادبی ستوری ۔ لومړی ټوک ۔ ۱۳۵۳ ه ، ش چاپ ۔ کابل) (۵۰ م) شاعر دی .ددې ماخذدلیکنی له مخه‌دنوموړی‌شاعر دقصیده برده ترجمه په ۱۳۴۵ ه ، ق ۔ ۱۹۲۷ م کال په لاهور کښی چاپ‌شوې ده .

# شهنواز

دی دښی روانی طبعی خاوندی اوشعر ئی خوږ او خوندور دی. شهنواز د پښتو ر په څېر اووکی تر ۱۳۰۰ هـ وروسته ژوند کاوه دده د کلام نمونه :

هرچه زړه ئی نافلا روی څه به خوب کا     دوب په غم دخپل دلداروی څه به خوب کا

دلیدو په انتظارشی سترگی سپینی     منتظر چه د دیداروی څه به خوب کا

خوك آرام دیودداغ له سوزه نه کړی     چه داغونه صدهزاروی څه به خوب کا

او ریبلتون چه دعاشق د سردستاروی     چه په سر داو ردستاروی څه به خوب کا

دعاشق په پتوستر گو غلطانه شی     دهغه چه زړه بیداروی څه به خوب کا

اخوك څه پرېښتی له خوبه په فراق شی     حال دمرگ چه په بیماروی څه به خوب کا

نو ر په لور غشی ویشتی شی داجل     چه دهسی لیندوبنکاروی څه به خوب کا

خوب خندا دی بی دردان کا شهنوازه

هرچه باغوانی انگاروی څه به خوب کا

دادونه :

* شهنواز د پښتنانه شعراء دوهم توك (م ۱۷۳ م) شاعر دی.



ACKU

# شاه افضل

دی د پېښور د دربو د خوګی (۱) دی چه تر ۱۳۰۰ هـ وروسته ئی ژوند کاوه پښتو اکثر کتابونه چه پېښور کی لیکل شوی ده لیکلی.

د کلام نمونه

غوټوی مې د چشمانو په خدنګ زړه — یاره سخت بې چر تا نه وی ستا په رنګ زړه
بالا صلحه ستا لیدلی کوم مه و رخ ده — چه د ابره او س خفه یم ستا په رنګ زړه
چه خدای تنګ وی ساعت تیر شی چه زړه ارت وی — ګدړن کله شی بې پرده چې وی تنګ زړه
چه بهر مې اېښی سر دی ستاله غیرې — نه مې لګی په بستر او په پالنګ زړه
نسکور پریوځمه په خاورو کی بیهوشه — نیو ی نه شم یو ساعت له تا په څنګ زړه
چه په څنګ د رخنی شم زړه مې ورانیږی — ستا په غم مې شی پاره پاره څر رنګ زړه

په صیقل به دو صال دا ابره صاف شی
د «افضل» د غه هجران و هلی زنګ زړه

یادونی:

* شاه افضل د پښتانه شعراء دو هم تو که (۱۰۲ مـ) شاعر دی.

---

(۱) دد ې کلی نوم (چوکی درب) دی.

# عبدالله نورزی

دی تر ۱۳۰۰ هـ وروسته ژوندی و او ارغنداب کې ئې استوګنه لرله. دی سپیری خوږې او روانې بدلې لري. ددهٔ د کلام نمونه داده:

زه مین پر تا یم تاخو ئې دی صنمه — خوږ یې د زړګی دی آخر درپسې مرمه
زه مین پر تا یم غم دی راتازه سو — چه و لاړې خانه کړو چه غم دی یو په دوه سوه
رود د ارغنداو دی و مخ ته واقع سو — بندی ئې سوم پر غاړه مدام ناری وهمه
زه مین پر تا یم داسې وصیت دی — چه مړ سمه نه پاتېږم لتاڅخه سې فرقت دی
قبر له بیا راسه ئې ولي ئې الفت دی — غماز ظالم ته وایه دیار قبر له څمه
زه مین پر تا یم خپل طالع سی تور دی — کباب دی کړمه بی اوره د مینې داسې زور دی
نورشا بار د یار دی پر مین بار خوږنې خور دی — **حقیقت** به سره و ایو نانې ئې په و ینمه

یادونه:

عبدالله نورزی د پښتانه شعراء د ریم ټوک (۵۳۳ م) شاعر دی.

# نوروز

لەاټکله داسې معلومیږي چه پس له ۱۲۵۰ هـ زو شوی او تر ۱۳۴۰ هـ کې ژوندی وو. د ده ژوند یقیني دی. نوروز د پښتو ر دخالصی په کالو خیلو کې استیده. دده دیوان طبعي نه رسیدلی دی او هغه را ګو نه چه نوروز پکښې غزلې ویلی دی دیوان کې اشاره ور ته شویده. دده تو له بدلی عشقی دی او هر یوه ئې د رقص سرود او د حاضر بنو دمستو لو دپاره لیکلی او پښتو شعر ته ئې د هندی موسیقی ګانه ور اغوستی.

د کلام نمونه

اوربل دی تورپه اورخوخور خه عنبری مزه کا	بل دی شین خال بنا یسته سنبال نیلوفری مزه کا

تیلك په جبین خال مشکین داسې جلوه کا مدام	لکه قمر سره زهره یا مشتری مزه کا

قد وقامت ئې کا زینت چه شی روان خراسان	لکه په باغ کې چه باسر و سیپاری مزه کا

خورشید پیکر نازك کمره پری رویه صنم	نازك بدن بل پیراهن پری احمری مزه کا

چه وی عاشق په زړه صادق لری مطلب د دلبر	شی خاکستر یار د درد غه خواری مزه کا

شعر د نوروز شو دل افروز وایی هر بیت په ملو کت	هر یو غزل خوا ږه وبل بنه اثری مزه کا

یادونه :

* نوروز ، د پښتانه شعراء دوهم ټوك (۱۸۲ م) شاعر دی .
* دیوان نوروز ، په ۱۳۳۰ هـ ، ق کال په لاهور کښې چاپ شوی دی .
* په «ګلشن نوروزی» او «بهار نوروزی» نوموجموعو کښې د نوروز ډیر شعرونه چاپ شوی دی .

ACKU

# غلام محمد پوپلزی

د پیښور په چارسده کې استېده. ای دښې احساساتو خاوند او دقام په ویښولو کې ئې زیار کښلی او پر دې لاریې تالیفات کړی. ده دمولینا حالی مدا وجزر داسلام په ښه ډول په پښتو نظم کړی. و روسته ئې د مولینا بل کتاب چه د تربیت په موضوع کې دی په نظم ترجمه کړی او دپالغانو دخوانده کولو دپاره د پښتو قاعده کښلی ده. ښه روان طبعه لری او دملت دښېګړی دپاره ښه خوا یداشعار وائی دلته خوبیته ئې د مدوجزر د ترجمی څخه دنمونی په ډول لیکو :

لهٔ بقراط حکیم نهٔ وکړه چا پوښتنه — چه هوښیا ره د کامل عقل خښتنه

کوم یو رنځ دی چه سړی پر هلاکیږی — په دنیا کې ئې داروته پیدا کیږی

وی یې داسې ناجوړتیا په دنیا نشته — چه دار و ئې مینده نه شی هورته نشته

که ویړیا دی که آسان دی که مشکل دی — هر مرض له پیدا ئی ی خدا ی درمل دی

بې له هغه چه اسان و رته ښکاریږی — چه طبیب ښئی علاج و ایی تر بیری

که د رنځ نخښی سبب و رته څرګند کا — په خنداشی په طبیب پوری ریشخند کا

نه دارو خوری نه پروایی په پرهیز شی — په ورو ورو هغه کمزوره مرض تیز شی

دطبیب له نزد یکته ئې نفرت شی — تر هغه چه له دنیا څخه رخصت شی

دغه حال به په دنیا دهغه قوم وی — چه په سپنه رنیا و رځ و یده په نوم وي

یادونه :

* غلام محمد پوپلزی د پښتانه شعراء دو همتو ك (۱۸۹ م) شاعر دی .



ACKU

# میر احمدشاه رضوانی

دی د پښتو ردی او دده دتالیفو نو او تصنیفو نو څخه معلومیږی چه داسړی د ښه علم او فضل خاوندی . پر ته دډیر و تا لیفو نو دشعر دیو ان هم لری . میر احمد شاه د ۱۳۰۰ په حدودکښی ژوندی و . دکلام نمو نه ئی دا ده :

ستا په سپین تندی ای جانه داشین خال دی
که اذان ته د سحر و لاړ بلال دی

تو ری زلفی دی ښامار دی چه تاو یږی
که دزړو نو دمر غونیولو جال دی

هره ستر گه د ی دحسن په چمن کښی
ته بهو ائی چه نر گس دی یاغز ال دي

یادو نه :

* میر احمدشاه د پښتانه شعر اء دو هم تو که (۱۹۹ م ) شاعر دی .

* دمیر احمدشاه ر ضو انی( بهارستان افغانی ) چه دنظم او نثر انتخابی مجموعه ده په ۱۸۹۸ م او دنو سو ړی (شکرستان افغانی ) چه د ا هم د پښتو نظم ا و نثر ا نتخا بی مجمو عه ده په ۱۹۰۵ م کا ل په لا هو ر کښی چاپ شوی دی .

# طالب

د ۱۳۰۰ پهخواوشاکی قندهارکی استیده، دده اشعار پهملی لهجددی اوخورا مشهوردی دکلام نمونهئی داده :

کسر

پورته کهله خوابه چشمان ژاړی عاشقان پسه ار مان
سترگیدی پهناز کړی توري لمبی دی پر ماخوار کړی پوری
راسه دعاشق پر لوری بوی دی څی دمشک وریحان
ستاد عشق پرمادی تاخون ماله بایده نه دی ژو ندون
حال دی کیء زما دمجنون نه راځی پر لورد جانان
وایسم دا غزل عجبه راسه راسه دزړ سطلبه
غم دورکه دخوار«طالبه» ته کسه پر له پوری لبان

یادونه :

* طالب ، دپښتانه شعراء دریم توك (۲۵۳ م) شاعردی .

# ملاشیر محمد پښین

دقندهار په خواو شا کی شهرت لری تر ۱۳۰۰ و روسته ژوندی و دی په ملی لهجه سوزان اشعار لری .

دملا غزل

الهی دحقیقت مسته پیاله را — دارنگین شراب دعشق په میخانه را
خرابات لره چه تلم اله ناخاریه — اوس وساته اقامت پر صومعه را
مدام دوب یم دغمو نو په دریاب کی — ستامددلویه عطاپه هر دسه را
چه سی نوش کی عاول جام زړه سی خوشنودو — دو هم جام ساقی لذ یذ په میکده را

تل دغم تر غبار لاندی «شیر محمد» یم
درحمت ابر پرسر زماسایه را

یادونه :

* ملاشیر محمد ، د پښتانه شعراء دریم ټوك (۲۶۰م) شاعر دی .

# عبدالودود ستریانی

دی د میر هزار زوی دی، تجارت ئی کاوه ۱۳۰۰ ه په خوا وشا کی ژوندی و.
په ۱۳۲۳ ه ق په پیښور کی وفات شو، دی د یو نفیس دیوان خاوند دی،
په پښتو او پارسو کی یی وانه طبع دی لوده.
دلته دده د سپرو بند لو ځخه څو مسری د نخښی په ډول و لیکل شوې.

زلفی دسته، خوله پسته لب دی شور و نه کوی
چشمان مغول ایرغ بسته ظلم و جبر و نه کوی

مخ دی بوستان، خط دی ریحان دامشکین خال دی باغوان
شکر طوطي دی زبان به گفتار و نه کوی

یادونه:
* ددې شاعر ذکر د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې نشته.
په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښې یی یادونه شوې ده.

# ملاخواجه محمد

دقندهار دشعراو وخخه دی او تر ۱۳۰۰ و روسته ژوندی و دده . دبدلو څخه څو مسری لاندی لیکو :

تل په سرو ستر گو ژارم تللی جانان دینا
در بځی غوارم وحدت ویرمی په ځان دینا

سین دیار پر کاته ـ زړه ئی زما وناته ـ په بند تر کوولاړم ـ پرملک یاغی و خواته په بند دتوروزلفو ـ هزارلانورډی پراته ـ ته ئی دیوه دمجلس ، پتنګان کی الواته تابه کی هلته پیدا ـ که ئی ځان نه و ساته ـ کته په سر دمیدان ـ نه په ارمان دینا
سین دیار پر زلفان ـ پر مخ وهی تالونه

یادو نه :
* ملاخواجه محمد ، دپښتانه شعراء دریم توک ( ۲۶۱ م ) شاعر دی .

# ملاعبدالرحمن زميندا وری

دقند هارد زميندا ور ، په‌قوم علی زی و،چه پسله (۱۳۰۰ ه) په قندهار او سیده او په ملی سپر و بدلو کی یی‌ښه طبع در لوده،دلته خو مسری له هغو بدلو څخه لیکل کیږی .

سپره بدله

پروت دې لو نګین پرڅیګر بوی ئې‌ی څپی د مشکو عنبر
تل‌درته کو سه‌زاری‌ـ راغله پرماداسی خو اری
پورته که چشمان خماري وکه پر سا با ندی نظر
زلفی‌دی‌پرمخ کړی شانه‌زړه دی کی‌ءزما کشاله
زه ستاپه‌وصال خوشحاله راکه سره لبان دشکر
ماﺍوستاتر منځ دی‌بیلتون‌ـساله‌بایدنه دی ژوندون
حال‌خوزماسودمجنون‌خاوری زما نن سوی په‌سر
تاویل‌خوله‌به‌درکم‌سهارـ زه‌دی کرم‌له‌خوبه‌بیدار
زه درو لاړ سوم په تلوارـ راځخه وکی‌ء سفر

سرمی تر جانان دی قربان او ښکی می‌راځی په‌ګریوان
زه یمه سوالی عبدالرحمن غو اړمه له خدا یه دلبر

یادو نه :

* عبدالرحمن زميندا وری دپښتانه شعراه دريم توك (۲۳۶ م) شاعردی

# محمد ایوب بړیځ

دی پسله ۱۳۰۰ ه دقند هار په‌خواوشا کی اوسیدیء ده ډیری سپری بدلی و یلی ـ دکلام نمونه‌ئی داده.

کسر

تن راته اور ، زمین آسمان دی　　فکرمی ستاله‌لاسه وران دی
خودبه‌افسوس کړم چه پرتیرساعت ارمان دی
تن راته اور زمین آسمان دی

تن می پر زړه لبی بلیږی　　دهجران اور دی رالګیږی
دسترګو تور دزړګی سرمی نه‌هیریږی
تن‌می ترسترګو مترګو کیږی

یادونه :

* محمد ایوب ، دپښتانه شعراء دوهم ټوك ( ۳۰۲ م ) شاعر دی .



ACKU

# اندړی ملازاهد

دغزنی دشلگر ،په‌قام اندړو، د(۱۳۰۰ ﻫ) په‌خواوشاکی‌ئی ژوند کاوه او لیو ئی شاعرو، په‌ملی لهجه ئی بیحسابه اشعارویلی دي.

د کلام نمونه‌ئی‌دا ده

کسر

چه دیارمخ می لیدلی دی　　هیڅ طاقت می نه شی
دعشق او ر ر الگیدلی دی　　نمه سی کیږی تسوان
تور چشمان بانو خد نگه　　یار دی کسر نخور
شاپیری‌ته‌نور ری په‌شر نگه　　لیمری کسړه حجاب
شو مه‌مجنون غوندی‌ملنگه　　عمر می خراب
خوب‌خوراك مانه‌تللی دی　　ځای می تور ځنگل شو
له‌ماپاته کوراو کلی دی　　گر زم سر گر دان

یادو نه :

* ددي شاعر پیژندنه لاپه نورو تذکرو کښی نه‌ده شوې .



ACKU

# محمددين

تر ۱۳۰۰ دمخه دنوبنار دتپلی‌په‌لتوکی (۱) استیدیء دی. دسپرو بدلو دیوه مخصوص سبك مبتکر دی دکلام نمو نه‌ی داده :

کسر

کله به راشی‌په‌پو بنتنه دملنګ

کړې رانه‌ئی څنګ - لېر ی کړه زنګ زه شو مــه رنګ

ستاپه‌تهمت کښې

کله به راشي چه‌دی وکړمه دیدارسهار زړه‌ی پر هار

شو مه‌په‌غم کی ستا دمینی گرفتار - دیارله‌لاسه ډیر دی -

په څاراوسم په تار

انکار - رانه چاپیر دی

آخر به‌تیرشی دنیمګړی دنیا وار - په‌خوار - ماخله آزار

بیما ر - په زلفو گیر دی

مخ دی خراغ دی پری راځم لکه پتنګ

په‌شرنګ - لیری کړه زنګ - زه‌شومه رنګ - ستاپه‌تهمت کی.

یادونی :

* محمد دین ،دپښتانه شعراء دوهم ټوك ۱۸٦ م شاعر دی .

(۱) محمد دین تیلی کسبگرو . تیلی هغه چاته وایی چه له غوړ لرونکو دانو لکه شړشم ،اوری ، کوکنار ، زغر ، پنداني ،کو نځلې او نورو نه دتیلو په گانۍ چه په غو یانو یی گرځوی تیل و باسی. تیلی محمد دین دخپلو ځینو شعرونو په کسر کښې خپل نوم (تیلی محمددین) یا (محمددین تیلی) یاد کړی دی او کله یی (محمددین ) په یوه مصرع او(تیلی) یی په بله کښې راوړی دی، لکه :

محمد دینه جدایی سری ډیر کا سودایی

تیلی که گدایی په لوی سحر سیل که دمنجرو

پاس په متن کښې (دتیلی په لتو کښې استیدیء) دعبارت پرځای ، داغوره دی چه و وایو ، (دی دکسب له مخه تیلی و ) .

په هارو بهار کښې دی دنو ښار تیل خرڅو ونکی گنهل شوی دی .حال داچه تیلی تیل ایستو نکی ته وایی چه ضرور تیل خر څوونکی هم وی . هغه دکاندار یاسوداگر چه پخپله تیل نه و باسی او له نورو تیلیانو نه یی پلو ری بیایی پیری تیلی نه گنهل کیږی .

# سید کمال

دجلال آباد د کنړ د علاقې د سیاګانو په کلي کښې اوسیدی سید کمال په قام میاا و د مشرقي د مشهورو نومو روشاعرانو څخه دی چه ده په سلې لهجه د لهخونده ډکې او خوږ ا اغیز منې بدلې و یلې چه تر اوسه دده خواږه اوعشقي اشعار دخلقو په ژ به ناست دی او په سر ندو کښې ویل کیږی ـ دده دغه بدله دلته د نمو نې پر ډول و لیکله شوه .

صبحدم په وخت او به لکه شبنم شه    د ګلو نو په دهان کښې خو بښ خرم شه
خفقان مه کوه له بیخه خوشحالی کړه    په خندا صبح صادق د صبحدم شه
د توکل پښه په پښو کړه پسې د رومه    ویره مکړه د مطلب په طرف سم شه
خادمان د ښکلیو ډیر دی «سید کماله »
خپل جانان ته د هرچا نه مقدم شه

یادونه :

سید کمال دشګی ، دپښتانه شعر اء دوهم توک (۱۷٦ م )شاعردی

# محمد اکرم

محمد اکرم د پیښور د ډېرو عشقي شاعر دی چه تر (۱۳۰۰ ه) وروسته ژوندی و. سوږدده دغه یوه بدله دلته دنمونې پرډول لیکو :

زما په زړه ئې نن داغونه دستم ایښی دی
گمان مې دادی چه داتول زما صنم ایښی دي

ناصحه مه وهه ناري صحت مې اوس موندلی
په خوږ خاطر مې محبوبا اوره مرهم ایښی دی

ماچه اوس ایښی دي داغونه یاره ستا د مینې
هو سره داغونه نه در خوږه خان آدم ایښی دی

سرود و همه شراب څکم نور مې له بدو تو به
دوا ړه لاسونه په تندی «محمد اکرم» ایښی دی

یادونه :

* د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې ددې شاعر تذکر نشته. په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۳۶ م مخ ) کښې یې یادونه شوې ده.
دې شاعر په اولسي آهنگو نو شعرونه ویلي دي چه «بهار نوروزي» کښې هم چاپ شوي دي.

# خدا بخش

دپیښو ردمشهو رو شاعر انو څخه دی،چه په ملی لهجه ئی ښه اشعار و یل او
په و ینا کښی روانی اوسا ده گی ښکاریږی تر (۱۳۰۰ ه) ژوندی و .
دا ئی د کلام نمونه

زړه می پر هار شو دیار په غم کښی
سترگی می تل وي په او ښکو نم کښی

تل می له سترگو او ښکی سیلاب ځی روانی و ینې لکه دریاب ځی
ژړا قر یاد کړم په صبحدم کښی

ژ اړم له درده زړه می ناسور شو گو نه می زرده حال می هم نو رشو
ناخلی خبر می، پر وت په ماتم کښی

ناخلی خبر می پر وت یم بی تابه مخ راڅر گند کړه ته له نقابه
ثانی دی نشته عرب عجم کښی

زه خدابخش یم عاجز غریب ردیف الفاظمی دی په تر تیب
مساز و غزل کړم په زیر و بم کښی

یادونه :

* خدابخش ، دادبی ستو ری لومړی ټوک (۳۹ م) شاعردی .

# شاه‌عالم

داسماعیل‌خان‌دډیری په‌گنډاپورکښی‌اوسیده او تر ۱۳۰۰ ه وروسته‌ژوندی و ،دشاه عالم اشعارعشقی دي دغه‌ئی دکلام نمونه ده:

نن مې ولیده بلبل په زړه نا شاد | په‌چمن کښی په‌چغار او په‌فر یاد
ماوی زار شمه بلبله ولی ژاړی | کوم‌ظالم‌دربانذی کړی دی بیداد
بلبل و وې‌څه په‌وایم هغه کس ته | چه‌له‌عشق له‌درد و غمه وی آزاد
ماوې زه‌له درد او غمه خالي‌نه‌یم | چه‌لوتلی‌یم‌یو هسی پری زاد
خوار بلبل وی‌یاره زه‌هم هسی ژاړم | دگل‌مینی په‌ما کړی‌دی فسا د
طریقــه دژړا و ښایه وماتــه | زه شاگرد یم په‌داباب ته‌مې‌استا د
طریقه‌مې دژړا له‌بلبل زده کړه | ژړوی مې‌اوس هردم بیلتون جلاد
شاه عالم گنډا پور حال له مړو بتردی | چه‌په‌بر خه‌ئی شو یارستم‌ایجاد

یادونه :

* شاه‌عالم ،دپښتانه شعراء دو هم‌توك (۳۰۲م)شاعر دی چه‌په‌او لسی‌آهنگو نو يې شعر و نه‌و یلی دی .

# خیری

داشاعر دپیښور دعلاقې دی او تر (۱۳۰۰ ه) ورو سته ژوندی و ، دده اشعار اغلباً عشقي دی دائی دکلام نمونه ده :

زړه سی دم په دم غو ښیری په جفادجانان و رو ورو
دچشمانو سی بهیږی او ښې سرې په ګر یوان ورو ورو
عمر دارنګې تیر یږی عاقلان به پری پو هیږی
لکه لمر چه راخر ګندشي پاس راځي په آسمان ورو ورو
ددنیاګرم بازار دی که سودا کړې نن دی وارد ی
مخ کښې ځای دسودانشته رخصتیږی تاروان ورو ورو
بلبلان چه په چغارشی هغه تیر ساعت یې یادشي
تو یوي غنچې دګلو په باغچو کښې خزان ورو ورو
عالم ګل واړه سودادی که پاچادی که ګدا دی
په «خیری» باندی وریږی دغمو نو باران ورو ورو

یادونه :

* ددی شاعر نوم خیر الله دی او دپښتنو له دودسره سم دده دتصغیر تحبیبي نوم (خیری) د (ر) په زوراو سلینه (ی) کیږی . نوموړی په ۱۸۵۸ م په سوات کښې زیږیدلی او په ۱۹۰۸ م مړشوی دی . د ده پیژندنه دعبدالحلیم اثر په (تیر هیر شاعران ـ پیښور ـ د ۱۹۶۳ م چاپ ) کښې شوې ده .

ACKU

# د پیښور دلتو دکلی اعظم الدین

د اشاعر تر ( ۱۳۰۰ ه ) وروسته ژوندی او دده اشعار اغلباً عشقی دی، دغه بدله دده در وانی طبعی ښخه ده:

اراده سی روح لری درفتن وروو رو - اوس زمانه پاتی کیږي وطن وروورو بدنصیب به زیات له سانه بل خوک نشنه - چه خوشحال نه شم ديار په ديدن ورو رو

بلبل کړی آ و فریاد اوچت دګل شو
چه ګذار شو د زاغانو مسکن وروورو

خوک دی ورشی چه خبر آشنا ته و رکړی
چه تیار کړی اعظم دین ته کفن وروورو

یادونه:

* ددې شاعر پیژندنه د پښتنو شاعر انو په تذکرو کښې نه ده شوی اوپه (فرهنګ زیان و ادبیات پښتو) کښې یې یادونه شوې ده.

# ملانظر محمد کاکړ

دملا شیر محمد زوی د خپلی زمانی له ښو علماو څخه و چه ود(۱۳۰۰ه)

په ښا و خوا کښی ژوندی او د کندهارد زنگاوات په کلی کښی اوسیده

ملانظر محمد په پښتو او په فارسی شعر وایه او څان ته د غزلو دیوان هم

لری چه چاپ ته ندی رسیدلی دائی د کلام نمونه ده

که ته یو دم دخپل حسن لمر اظهار کړی

عاشقان به د منصور په دود په دار کړی

زه یو نه یم چه له غمه ورپه ور شوم

خلقی دی له دی غمه تارپه تار کړی

بی له یاره خندا کاردی دهلکا نو

که ته خاندی په دنیا کښی څان به خوار کړی

ای «نظر محمده» سر په زنگون کیږده

په آشنا پسی تل ژاړه چه ئی یار کړی

یای و نه :

* نظر محمد کاکړ ، دپښتانه شعراء دو هم ټوک (۱۷۹م) شاعر دی.

# سواتی عجب خان

دملك زعفران زوی دسوات دډېی دمشهور و شاعرانو څخه دی. ده سره دهغه چه عشقي بدلی او اشعار هم لري دغوث الاعظم صاحب مناقب او سوانح په پښتو ـ ژرو بیتو کښې دمثنوی پر ډول نظم کړی. عجب خان تر (۱۳۲۶ ه) وروسته ژوندی و دغه غزل له دده د کلام نمونه ده:

که تمول عمر د چاشم قربان هسی دنیکی په ځای تریږو ینمه زیان هسی
که هر څو له چاسره نیکی کومه له هغه سړی نه گورم تاوان هسي
داعمل گوره پښتون ته خپل رسیږی په یوکور کښې وروڼه وی د ښمنان هسی
مو ر دلو ر دلاسه تل په سر گزار خوری پلار دزوی دلاسه شی په داشان هسی

عجب خانه نیک عمل دی دڅان سل کړه
په قیامت کښې چه ته نه شی پښیمان هسی

یادونه:

* ددې شاعر پېژندنه په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۳۳۰ مخ) کښې شوې ده او په نورو تذکرو کښې یې تذکر نه دی شوی.
* د(پښتو کتاب ښود) دښودنې له مخه ددې شاعر دا کتابونه چاپ شوی دی:
ـ جنگ یعقوب علیه السلام به معه عملاق بادشاه. لاهور ـ ۱۹۳۳ م ـ ۱۳۵۲ هق.
ـ خاورنامه کلان المشهور به جنگنامه شیر خدا حضرت علی ـ لاهور.
یسوانحمعری صلاعبدالرحمان المطلب احمان بابا دی ـ لاهور
ـ قصه شهزاده زمردشاه و شهزادپری پیکر ـ لاهور
ـ قصه شهزاده نوشاد و شهزادگی سرو بانو لاهور ـ ۱۹۳۳ م ـ ۱۳۵۲ ق.
ـ گلدسته کرامات ـ مناقب غوث پاک را ولپنډی ـ ۱۹۲۸ م ـ ۱۳۴۷ ق.

# ملا احمد

په‌اصل کی دسپینی ډیری دی ، د پښور د داود زوډ تپې په پچگی کی استېده.دی په پښتو کی ډیر تالیفات لری چه زیات ئی مثنوی نظمونه دی جواهر الانبیاء د جمجمي قصه، انیس الواعظین ، مراة المسلمین دده له‌تالیفاتو څخه دی ، کلام یې ساده ، سلیس او له هر قسم تعقید.خالی دی ملا احمد پس له ۱۲۵۰ زوشوی او تر ۱۳۰۵ ه پوری لا ژوندی و. د ده د غزلو نمونه

اي بلبله چه‌په گلو دارنگ خیال کړی
وایه داخیال ته دکوم گل په جمال کړی
زړه نه صبر یوری بوي د هر گل اخلی
داکار و نه وایه ته ، په څه منوال کړی
خو شحالی که آوازونه‌دم په‌دم کړی
له یو ځایه الوا ته په بل نهال کړی
بلبل وی چه قایمی دی داعادت دی
که غوږ ایږدی ته زما په ښه مقال کړی
چه‌عاشق یم په‌هر گل باندي له‌شومه
په‌داکار باندی‌له‌مانه‌ولی سوال کړی

یادونه:

* احمد دپچگی دپښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۸۷م)شاعر دی .

* احمد، ملااحمد ، احمد جان په نامه دپښتو ډیر شاعران تیر شوی دی‌چه کله کله تذکره لیکونکی د دوی په‌ښودنه او دآثارو په انتساب کی‌اشتباه هم کوی . په دې برخه کښې بایډ ډیل کار وشی .

# ملاشرف

د دې شاعر نور ادبي آثار او اشعار لیدل شوي ندي، مګر د ونه ښکاریږي چه میاشرف ته عربي ورته ده. ده د بردې شریفې قصیده د پښتو په نظم سره ترجمه کړې، سو بړ ده د منظومې څو بیتونه د لته د نمونې پر ډول لیکو:

ایا مکر له یادو د جیران د ذی سلم څخی او ښې و ینې دوار ه دې له ستر ګو و بله ضم
یا باد د کاظمې د څمکې والوت په داد یار * یا برق په تاریکې کښې په تاد ی من الاضم
آیا ګنې عاشق چه انګتام به شې د عشق          غماز چه دې لرې آتشین آه د ستر ګو نم

* میاشرف د عروضو پوه شاعر تیر شوی چه په عروض و زنو نو بې زیات شعر و نه ویلي دي. د ده تذکر د پښتنو شاعرانو په تذکرو کښې نشته.
په (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) کښې بې یاد ونه شوی ده. د میاشرف پښتو عروض په ۱۳۳۴ ه، ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی او د دغه په مقدمه کښې د شاعر پیژ ندنه هم د پوهاند صدیق الله رښتین له خوا شوې ده

# ملامیر یحیی

داشاعر په خته پوپل زی او د کندهار د خاکریز دشگوپه کلی کښی تر ۱۳۰۰ ه ژوندی و او د پښتو پسه‌ملی بدلو کښی روانه طبع درلوده او دغه بدله د ده ده :

تر زړګی می‌وینی‌داري‌سوی درب‌دپاره سرمه
دبیلتون په‌سلک کی ناري‌سوی درب دپاره سرمه
دواړه‌سترګو سی پړسوبنن دهجران له‌اوره وکی ء
دډیر رنځه‌اوس بیماري‌سوي درب دپاره سرمه
چه‌په جام دی اموخته کړم اوس دی رانکی‌ءافسوس دی
دا دعشق ډلی خماري سوي دخدای د پاره سرمه
«میر یحیی»ته‌چه‌په یاد شوي ستاچشمانی خړي‌بوری
دا دو یرمسری تیاری سوی د خدای دپاره سرمه

یادونه :

* ملامیر یحیی ،دپښتانه‌شعراء دوهم توك (۲۰۶ م ) شاعر دی .

# شاه پسند

داشاعر دپیښور د خوا دی چه عشقی بدلی و یلی او تر ۱۳۰۰ هـ و روسته ژوندی و دائی د کلام نمونه ده:

نن زما ژړګیه ولې داناری کړی　　　　راپه یاد دې دی کوم وخت خطری کړی
عمر و اړه دی شوتیر نه شوی خوشحاله　　　　دآشناغمو نسو لاذری ذری کړی
پـه تیره چـاره دچالـه لامه سرشوی　　　　دهجران په اور نی لاخاوری ایری کړی
بوه و رځ دصحبت په ځای و لاړ وم　　　　په چمن کښی می دګلو ننداری کړی
ناګاه هلته ګښی سوری دزړه په سرشوم　　　　چه شاستی په سپین مخ زلفی خوری کړی
بې ګناه قتل کوی څه ترس ئی نشته　　　　له عاشقونه ئی ډکی ادیری کړې

د آشنا زړګی به نرم لکه موم شي
«شاه پسنده» ته چه داسوی مسرې کړې

یادونه:

* شاه پسند دنوښار دی او دپښتانه شعراء دوهم توك (۱۸۸ م) شاعر دی.

# ملا نعمت الله

ملا نعمت الله د پښتو د متأخرینو شاعرانو څخه دی. دی د پیښور په نوښار زوکړی دی او په پښتو کی خورا ډیر تالیفونه لری

تر ټول تالیفونه ئی نظم دي :

د کلام نمونه‌ئی دا ده

ای فلکه په ما مکړه ظلم زور   د هجران طاقت می‌نشته باقی نور
زه دی وو یستم فلکه په‌و یجاړه   ننګ ناموس شرم حیا را ځنی لاړه
ای فلکه نورمی‌مه پریږده په غم کښی   پس له‌دی به‌څه رنګ ګرځم په عالم کښی
ا ، فلکه یاسی‌وصل کړه له یاره   یا مرګ راوله زما خواری دپاره
چیرته کښینم چیرته پاڅم ای فلکه   تا د غم جنډه په ما باندی کړه لکه
چیرته وګورم هغه اشنا دمینی   چاته توی کړمه داوښکو په خای‌وینی
موسی خان‌چه‌ولی‌خان‌یوویرتر کوره   حصارنه شو په‌ستنه راغی فی‌الفوره

یادونې :

* ملانعمت‌الله د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۸۱م) شاعر دی.

* د (پښتو کتاب ښود) کښې دده دیرش اثره ثبت دی چه دپیښور دقصه خوانی دبازارد کتابونودناجرانوپه‌فرمایش په‌مکرروول په پیښورلاهوراود هلی کښې چاپ شوی دی . هغه دادي :

احادیث‌سیدالمرسلین‌معروف‌به‌رفیق‌الواعظین، تذکرة الغوثیه‌و تذکرة البخاری، درمجالس ،آرایش محفل مشهور به‌حاتم طایی افغانی ،قصه اخترمنیر و شهزادی مهرو ، قصه اکبر بادشاه و بیربل و زیر ، الف‌لیلی ، باغ و بهار افغانی المعروف به‌چهاردرویش ، دپیشواو د مړی‌قصه ،جنگنامه چترال ، جنگنامه حضرت علی وګلدسته نادری وطلسمات وخاور نامه جدید و شجاعت نامه حیدری ، جنگنامه حسنین و بی بی‌سکینه ،جنگنامه‌رستم وسهراب ، جنگنامه میرحاتم جدید معروف به‌جنگ مقاتل ، خراب‌نامه کلان ، قصه شهزاده رعنا و زیبا شهزاده جلا وطن ختن، قصه‌سوهنی مهنیوال ، شاهنامه ( دفردوسی له شاهنامی نخخه ترجمه ) ، قصه شیرین وفرهاد ، قصه فتح خان قندهاری، قصص الانبیا معروف به جواهر الانبیاء ، ګلزارشایقین ، قصه دلیلی اومجنون ، مجموعه مکتب نامه ، مقدمه نظم رقعات عاشقانه ، قصه مهتاب جان وبیګم جان ، مناقب پیرانو پیرغوث الاعظم ، موسی خان‌او ګلمکی ، نیمبولا او تیمبولا او هشت بهشت یعنی‌هفت پیکر

* دښاغلی زلمی هیوادمل په کتابخانه کښې د ملانعمت الله (۵م)اثره موجود دی .

* د (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) دلیکنی له‌مخه ملانعمت الله په ۱۲۷۵ ه . ق کښې زیږیدلی دی .

# ملا احمدجان

دپښتو رد مشهور وشاعرانو څخه دی.ده دشهزاده بهرام او نوروه یری قصی او حکایتونه نظم کړیچه طبع ته رسیدلی دی.دی تر (۱۳۳۲ هجری) پورې دپښتو رپه‌سر دانه کښی اوسیده :

دائی د کلام نمونه

رباعی

دژوندون طمعه سی ورکه شی دخانه
سره گلونه چه او ربل باندی قطار کړی
چه غوږیږی په وفا دسهرو یانو
لیونیه حدجانه خان به خوار کړی

(بدله)

خدایه څه‌توری بلاسره رهبر شوم
بی پروا له خپله خانه ناخبر شوم
مستغرق شوم دغمونو په‌څپو کښی
چه‌دعشق په‌دریا به گله بی گدر شوم
لکه بازپه هوا تلم پرواسی نه‌وه
چه‌عاشق شوم که پردار ومه بې پر شوم
څوک ئې نشته فریادی لاړشمه چاله
په ودان کلی کښی خلقه مسافر شوم
مرو ریم گله من له‌خپله یاره
«احمدجان»دلوئی لاری قلندر شوم



ACKU

یادونې :

* ملا احمد جان ، د پښتانه شعراء دوهم ټوک (۱۸۳م) شاعردی .

* د(پښتو کتاب ښود ) کښې د ملااحمد جان دیارلس اثره ښودل شوی دی چه ځینې بوځل او ځینی مکرر دپیښبور کتابونو دتاجرانو په خواپه پیښبور ، لاهور او دهلی کښې چاپ شوی دی ، دغه دادی:

قصه د چنی او شهزاده سندی، قصه شهزاده بلند اقبال و شهزادی قمر جبینه قصه شهزاده بهرام گور و پری حسن بانو ، قصه شهزاده شیرویه و ملکه سیمین غدار ، قصه شهزاده جها ندارشاه ، قصه شهزاده فلک نازو شهزاده خورشید افرین ، قصه شهزاده قمر الزمان ، قصه شهزاده ممتاز ، قصه شهزاده ورقه وگلشاه،طوطی نامه یعنی قصه طوطی مینا، گلدسته حیدری مشهور به جگنامه حضرت علی ، قصه یوسف زلیخا و مجموعة الخطب چه یوازی وروستی اثر موعظه یی خطبی دی او نوري قصی دی .

# سید حسن

سید حسن د پښتو د ډېرو زړو شاعرانو څخه دی. ده د حسنینو د شهادت او واقعات د «جنگنامهٔ حسنین» په نامه نظم کړی چه چاپ شوی هم دی. دغه څو بیتونه د ده د دلته د نمونې په توګه ولیکل شول.

فلک کاڼدی داسې کړو ډی مسخری　　دهر کاڼدی په د اهمی رنگ پری

تن اقبال ورته په مسته جوی روان کا　　سیاسات کاپه لاسونو فواری

بوه ورځ نی خوله خوره کاندی په شهدو　　بیانی د که کړی په خاورو په ایری

یادونه:

سید حسن، د پښتانه شعراء څلورم توک (۱۵۳ م) شاعر دی چه «شمایل نامه» یې په ۱۱۲۱ ه، ق کښې لیکلې ده او خطي نسخه یې د هند د رامپور په رضا لایبرېری کښې شته او بیل شاعر دی.

سید حسین د پښتانه شعراء څلورم توک (۳۸۷ م) شاعر دی چه (جنگنامه امامین) یې په نظم لیکلی او چاپ شوی ده. د دې سید حسین یادونه په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښې او د جنگنامه امامین یادونه په (پښتو کتاب بود) کښې هم شوې ده.

کیدی شي چه د تذکرة الشعراء دا سید حسین هماغه د جنگنامه امامین شاعر سید حسین وی چه په دې صورت د شاعر د نامه غلط لیکل باید دلته وښو. دا توجیه ما ته ډېره حده پورې سمه ښکاری. ځکه چه «جنگنامه حسنین» او «جنگنامه امامین» یوه معنا لری. سره د دې هم د دې احتمال نه چورانکار کولی نه شو. چه دا سید حسن بیل شاعر او هغه سید حسین دې بیل شاعر وی.



ACKU

# دننګرهار د مهمند درې صالح محمد

دی په قوم مهمند او د خپلې زمانې په ملي شاعرانو کښې یو نوموړی او مشهور شاعر دی، چه د ده خوږې بدلې او خوندور اشعار یې تر اوسه د خلقو په ژبه ناست دي صالح محمد د زرګرۍ پیشه درلوده او تر ( ۱۳۵۰ هـ ) وروسته ژوندی و، د ده بدله د ده د رواني طبعې څخه ده .

ملي بدله

لیلی بانډې د نښتر و په شان — ډول دې زیات دی له رنګینه سره
سپینه سینه لري د زرو په شان — سره کوې له لونګینه سره
لیلی کوڅې لګي په ملا باندې — تالو نه خوري خو سره او ږدې دي نا
شونډې دې راپه بسم الله باندې — د مهتر لام صاحب خوردې (۱) دي نا
ییګا راځه زما ملا باندې — نوسي خالونه ایښي درې دي نا
دوه روخو خال سي د بخرو په شان — همسي شغلې کړې له جبینه سره
زه مېنه رسکان سي اوردې نجلۍ — زړګی بتر دی له انګاره زما
راپورې ستاد یارې توردې نجلۍ — ته نه ویریږې له آزاره زما
دماغ کړې غول دې نوردې نجلۍ — زړګی یې خوږ دی له پرهاره زما
صالح محمد سي د شاعر و په شان — ټکری وهي له نورالله نه سره

یادونی

* ددې شاعر یا دونه یوازې په (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) کښې شوې ده. هلته دې د کاسي او سیدونکی ګڼل شوی دی. کامه او سهمند د ره سره نژدې ځایونه دي. دېدې شي چه شاعر په دواړو سیمو کښې او سیدلی وی.

(۱) خورده ـ دارادت خاو ندان د خینو زیار تونو د قبر خاوره دخینو ناروغیو دپاره داروبولی او خوري يې. داخاوره (خورده) بولي چه د (خوردن) له مصدره څخه (دخورالو وړ) په معنا ده.

دپیرانو، بزرگانو دلنگر ډوډۍ هم سریدان خورده بولي.



ACKU

# پیښوری رحمت

ددی‌شاعر نو رآثار پر ته‌د یر ه کتاب‌چه‌د «جنګنامهٔ زیتو ن» په نامه‌د پښتو په‌شنوی لیکلی او په ( ۱۳۳۰ ه ) کښی چاپ شوی . سو ړ دهغه کتاب څو بیتو نه‌دلته دنمو نی پر ډو ل لیکو :

د کتاب لو مړی بیتو نه

اول وایمه ثنا دپاک سبحان — دهغه خالق را زق‌د کل‌جهان
پر او بو ئی فر ش دځمکی په‌قدرت — غو ړو لی دی‌په‌**خپل** کامل‌حکمت
له مشر قه تر مغرب پو رې آفتاب — دی ر و **ان**دده‌په حکم په‌شتاب
ز ینت‌دا ره‌ئی په‌ستو ر و کړ آسمان — هم‌پیدائی کړل له‌خاو ر و آدمیان
شنه‌باغو نه سره‌ګلو نه ده‌پیدا کړل — **بلبلان او بو را ګان**ئی پر شیدا کړل
هسی‌ر نګه‌نو ر ئی‌شمع کښی‌پیدا کړ — چه پتنګ‌ئی‌پری‌سوخته‌سوی‌جلیا کړ

که پتې په‌خیر سی‌ز ر ژ بی پیداشي
یو ذر ه و صف‌ئی له‌ما کله ادا شی

یادو نه :

* ددې شاعر یاد دپښتنو شاعر انو په تذ کر و کښی نشته . په(فر هنګ‌زبا ن و ادبیات پښتو) کښی‌دده او په ( پښتو کتاب‌ښو د ) کښی د ده دجنګنامه‌زیتو ن یادو نه شو ی ده .



ACKU

# سید محسن

سیدمحسن پەختەدپښین دسیدانو څخه و تحصیل او ژوندون ئی دقندهار په ښار کی کاوه .د کابل دقاضی گلاب‌شاه‌صاحب‌خپل‌و ، په۱۲۸٦ ه کی زو کړی و او پر (٥٥) کال پەقندهار کی وفات شو .

ددەد کلام‌نمونه

لاتر کومه !

پر اسلام‌ډیر اضطراب دی لاتر کومه — هم‌ددین حالت‌خراب دی‌لاتر کومه

هم‌راحت موسدالباب دی‌لاتر کومه — ظلم جورتل‌کامیاب دی لاتر کومه

تول وطن بەمست‌دخواب دی لاتر کومه

عاقلان بەموتر کومه سر پەجیب‌وی — چەمدام بەدوی پەصبر پەشکیب‌وی

داغیارو بەتر کومه مکروفریب‌وی — دغرض پر پښو بەزغلی دابی زیب‌وی

موږ بەغرق دخوروخواب یو لاتر کومه

یادونی :

* سیدمحسن ،دپښتانه شعراء دریم توك (۲۸۳ م) شاعر دی .لەپورتنی شعر څخه يي‌خرگندیږی چەدەدغەشعر دانگریزی‌استعمارگرانو پەخلاف ویلی دی . کشکی دامخمس پەپوره ډول‌او پەدي‌بر خه کښی‌ددەنور شعر و نەهم گوتو لەراغلی‌وای . «دی‌دخپل وخت‌لەمشهورو ادباء و څخەو . پښتو آثار یی په سراج الاخبار کښی خپاره شوی دی . » . په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ) کښی هم‌دده پەباره کښی معلومات شته .



ACKU

# فضل ربی

فضل ربی داسرارگل زوی دپیښور د قصه‌لیکونکو شاعرانو څخه دی ده دشهزاده استانبول په‌نامه یوه‌قصه لیکلی‌ده‌چه ۱۶۰۰ بیتونه رسیږی. کتاب د ښنوی په‌رقم لیکل شوی‌دی چه په کښی‌غزلی‌هم‌شته دائی د کلام نمونه ده

چه‌دغم غبارسی راشی په‌زړه باندی

چه په لاری ځم راپریوزم سرد لاندي

چه‌یو ځل‌شم‌راار تاوخوزیدی‌نه‌شم

دواړه‌پښی‌سی‌شی‌په‌تلوکښی‌وروسته‌وړاندي

چه‌رایادی‌شی دیارخوږی خبری

ځکه‌سرسی په کتاب کښی اویزان دی

څه‌غزلی ستاپه‌جوش وایم دلبره

چه ته نه‌گوری وساته زړه سی‌وران دی

فضل‌ربی ته‌چه‌رایادسخ ددلبرشی

زه ژړاکومه خلق‌راپوری خاندی

یادونی :

* ددې شاعر په‌باره کښی د پښتنوشاعرانو په‌تذکرو کښی څه تذکر نشته. په (فرهنگ‌زبان و ادبیات پښتو) کښی‌یی یادونه شوې‌ده‌چه‌د ۱۳۰۰ هـ، ق په‌شاوخوا کښی په‌چارسده کښی ژوند کاوه.

* د ( پښتو کتاب ښود) کښی ښودل شوی‌چه‌دده ذکرشوی‌قصه (قصه شهزاده استنبول وشهزادی فارس) په‌لاهور کښی‌چاپ‌شوې‌ده.



ACKU

# ابراهیم‌شاه

ابراهیم‌شاه د تیر وخت د پښتنو شاعرانو څخه یو شاعر دی چه تر (۱۳۰۰) ه وروسته ژوندی و، اشعار وته ئې د روانی‌او سپکوالی د حیثه د دریمې درجې په پای کښې ځای ورکولای شو ای – نثر لیکونکی هم دی ځنې تو کې تاکې هم ځنې راپاتې شوی دي د کلام نمونه یې داده:

دبدری دقصې د ښاپیر و په ښار کښې .

بدری شوه په دغه ښار باندی ډیره   ښاپیر و ئې د ښری کړه ننداره
ښاپیری وا ړه راجمعه شوی د ښاره   تماشائی د بدری کړه د رخساره
هره جل لکه د شمعه بلید له   دآفتاب په شان رڼا به تر ینه تلله
ښاپیری وی بدری خه دی پرز ړه باندی   راته وو ایه چه وکړو ستا د وړاندی
تو ری زلفې دی خوری دی په او ږه نن   ته را غلی په څه کار یې میلمه نن

یادونه :

* ابراهیم دکالوخان اوسیدونکی دقتل‌گړدجنګ قصه لیکلی‌ده (په‌سردقتل گړپیرنګی واړه شووتمام‌دیرقتل‌شووافسر-) داشعرپه «توربریښ» کښی راغلی‌اوشاعریی په(۱۲۸۰ ه، ق) کښی ژوندی ښودل‌شوی‌دی .ددې‌شاعر پیژندنه په‌پښتانه‌شعراء څلمورم ټوک کښی تر (۳۷۶) لمبرلاندی‌شوی‌ده . په‌پای کښی یادونه‌شوې‌ده‌چه‌دکالوخان دابراهیم‌شاه‌په‌قلم‌دشهزاده‌بهرام‌د (قصه‌ترابان) په‌نامه په‌لاهورکښی‌چاپ‌شوې‌ده .په (پښتوکتاب‌ښودد) کښی دابراهیم‌شاه دوه‌چاپ‌شوی‌قصی (۱) دیوترابان اوبیربل‌نامه او (۲) قصه ترابان سعه‌شهزاده بهرام ښودل شوی‌دی .

د (فرهنګ زبان وادبیات پښتو) لیکوال دقتل‌ګړ دچهاربیتی جوړونکی او دقصه‌دیوترابان لیکونکی یوسړی ، ابراهیم شاه بولی .

زماغالب‌ګمان هم‌دادی چه‌داټول‌دتذکرةالشعراء دابراهیم‌شاه په‌شمول همدغه یوشاعروی .

سربیره‌پردې‌دابراهیم‌په‌باره کښی و ګوری :

دکلیدافغانی‌تعلیقات - دخیرندوی‌ښختانی‌خدمتګارلیکنه - کال - د ۱۳۵۶



ACKU

# قندهاري سيد محمود

سیدمحمود یو ملی‌شاعر دی او تر (۱۳۲۰ ﻫ) ژوندی و، دائی د کلام نمونه ده.

کسر

ای‌ماه‌تابانه ـ سر مه‌بی‌تا ـ سر مه‌بی‌تا ـ سر مه بی‌تا ـ ای‌ماه‌تابانه ـ سر مه‌بی‌تا

ته چه‌رقیب کړی له مانه جدا　　عاشق غمگین‌دی غماز په‌خندا

ورسه روی باره و یار ته سبا　　بیا ورته وایه چه‌سکړه جفا

راسه پر ما ـ راسه پر ما

زه«سیدمحمود »یم چه‌غوارم‌انعام　　راکړه جانانه دسر ولبو جام

زه پروانه‌یم چه‌ سوزم مدام　　هیڅ‌طاقت‌نشته‌چه‌نه‌وی‌گلفام

یم په‌ژړا ـ یم په‌ژړا

یادونه :

ددې‌شاعر یادونه په (فرهنگ زبان و ادبیات پښتو) کښی شوېده او په نورو تذکرو کښی‌يې تذکر نشته.

# مولوی غلام محی الدین خان افغان

پسله ۱۲۹۰ په‌قندهار کی زوشوي او پیښور په خواوشاکی لوی‌سوی او هلته‌ئی تعلیم کړی، دمولوي په‌پارسو، پښتو، هندی، انګلیسی ښه زده و ه دامیر حبیب الله‌خان په‌عصر کی ددار المعلمین مدیراو یوفاضل غیور وطنخواه روڼ فکره سړی و. ده لمړی پلا په کابل کی دپښتو تحریک شروع کړ.دی د کلاسیکو شعر او وپیرودی، تخلص‌ئی افغان او د کلام نمونه‌ئی داده:

بی کمال دبا کمال کله همسر دی — هم‌قیمت کله گوهرسره حجر دی
با کمال سړی په‌مثل د پادشاه دی — په ظاهره‌که مفلس اوقلندر دی
که‌لباس دبی کمال وی د زربفتو — دائی ځل‌وی‌دحریراوهغه خر دی
که‌لباس دبا کمال وی د کرباسو — کمال‌ده‌ار ه‌خلعت هم‌زیور دی
څوك چه‌نه‌لری کمال‌واوره «افغانه» — که غني‌وی‌خوله‌تانه مفلس‌تر دی

یادونی:

* مولوی‌غلام‌محی‌الدین‌خان‌افغان دپښتانه شعراء دریم‌ټوك (۲۵۸م) شاعر دی چه‌هلته‌یی د زیږید و نیټه ۱۲۷۹ ه، ق کال او دوفات نیټه یی د ۱۳۰۰ ه،ش داسد یوولسم ښودل شوې ده.

* دمولوی غلام‌محی‌الدین افغان په‌باره کښی په ۱۳۶۰ ه، ش کال د کابل پوهنتون دادبیاتو پوهنځی له‌خوا یو علمی سیمینار وشو. په‌دې سیمینار کښی دغه‌چاپ شوی کتابونه‌دتوجه وړ دی:

- دغلام‌محی الدین افغان افکار او آثار، دښاغلی زلمی هیوادمل‌تولونه‌اومقدمه د ۱۳۶۰ ه، ش چاپ - کابل
- دافغان یاد - دسیمیناز دمقالو مجموعه - دښاغلی هیوادمل په‌زیار.



ACKU

# سردار عبدالرسول خان

لەمشهور و ادباو ښخه شمیرەشی، دی پە ۱۲۹۶ پەمزار شریف کی زیږیدلی او پە ۱۳۱۳ ھ پە کابل کي وفات شوی. پەآخرنی عمرکی ددهلی افغانی جنرال قونسول وءدە پەفارسی خوراجگ او پاخە اشعار و یلی او د افغانستان فارسی مه و جز رئی لەادبی شاهکار و ښخەدی. لاندی بیتونەئی د پښتو دشعر دنمونی پەډول را نقل شو :

پینه راشه په سرو اړوه گگون ساغر | چه ژ سی تیر شوی راغلی د جمشید اختر
پ گلستان کی پەراتگ د نوی کال | دجلوس طاق دنصرت تړی قوس دقزح ساز یگر
دعنادل دی هغه هر کله راسی ناری | چه کړی سامعه محسوسه د داؤد داثر
و ز کړی داد دفصاحت دبلبل تقریر | گوته په ښا غوله حیرته ، شکسپیر

یادونه :

* ددې شاعر یادونه د پښتو شاعرانو پەیوه تذکرەکښی هم نەدەشوې.

# ملاعبدالعلی مستغنی

په‌قوم هوتك او د پښتو نخو اله‌نو سو ړو شعر اوو څخه دی . دی‌په ۱۲۹۳ هـ په کابل کښی زو شوی اوپر ته دفارسی اشعار وځخه چه‌ده ویلی‌او په هغه کښی یی دنوم خاو ند‌بو لو په پښتو کښی همخو را زیا ت اولوړ اشعار لری او د پښتو په‌شعر کښی ښایسته دلوړی مر تبی خاو ند دی .

د کلام نمو نه یی دا ده : ،

بی له‌علمه به‌څه غو اړی په‌دنیاخو کڅ — که‌عاقل‌وی که‌هوښیار وی که‌داناخو کڅ
تردي‌ښه‌متاع پردی‌د کان کښی‌نشته — سو د به‌وکا که کوی دغه‌سو دا خو لئ
د رست‌جهان قر بان‌دعلم‌تر گوهر شه — دغه و ایم که سی و پوښتی‌رښتیاخوك
علم سل خر و اره ثقل په هوا کا — د رولی شی یوښه په هوا ځوك
چه‌دعلم د طبیب‌دار و و نه خو ری — له مرض د جهله‌نه سو سی‌دوا ځو ك

که بلاده‌په‌جهان کښی بی‌علمی ده
خدای دی‌نه کامبتلا په دابلا ځوك

یادونی

* عبدالعلی مستغنی د پښتانه شعراء دریم‌تو ک ۲۹۷ مشاعردی او لیکلی‌چه عبدالعلی مستغنی د ۱۳۱۲ هـ، ش دحوت په ۲۱ مه مړشو ی‌دی .

* نو سوړی شاعر عالم ، معلم او دعلم‌او معارف‌ستایو ال و.نو څکه‌سو نږدعلم‌د فضیلت په‌باره کښی‌داخو بیتونه ددەله یو ې قصیدې‌څخه‌چه په پښتانه‌شعر اءدر یم تو ک کښی چاپ شو ی‌ده راواخستل‌اوخپل کار سودعلم په‌ستاینه پای‌ته‌و رساو ه .

# د پیښور د اخوندخیلو احمد

په اشعارو کښې ډیر غښتلی او مقتدر شاعر دی ـ ده د میر حمزه صاحب قصه د پښتو په ښه اسلوب او بلاغت سره نظم کړی چه طبع سوی دی سو ږد ده د کتاب د غه خو بیتونه د ده د نمونې پر ډول لیکو :

راوی وائی چه امیر فراغت بیاموند     د بادشاه سره په ښهر کښې عشرت بیاموند
نور حکیمانې و باله ټر خپله خوا یــه     بــاد شاه وویای حکیمه روښن رایــه
میبایــه د عــامــو خلقو څنی بیل شو     هلــه پسه د ښرابــو پــه خــوړ ل شــو
اول زه دو یــم عمر امیر د ریم وی     خــلور م بزرجمهر بختک پنځم وی
نــور دوی لاړه پینځه تنه له حرمــه     پــه معــاش کښې ســره کښینا سته بیغمه

یادونې :

*احمداخون‌خیل، د پښتانه شعراء دو هم توک ( ۱۸۳ م ) شاعر دی.

* د احمدنو سی شاعر ، چه اغلباً همدغه احمد اخون‌خیل دی ، د امیر حمزه داستان په لاهور کښې چاپ شوی دی .

## د یادونو ماخذونه


- محمد هوتک ـ پټه‌خزانه ـ ځلورم چاپ ـ ۱۳۵۶ ه، ش ـ کابل .

- پوهاند عبدالحی حبیبی او د پښتو تولنی نور غړی ـ پښتانه‌شعراء لومړی‌ټوک ـ ۱۳۲۰ ه، ش کابل .

- پوهاند صدیق الله رښتین او د پښتو ټولنی نور غړی ـ پښتانه‌شعراء دوهم ټوک ـ ۱۳۲۱ ه، ش ـ کابل .

- د پښتو ټولنی د تاریخ او ادبیاتو څانګه ـ پښتانه‌شعراء دریم‌ټوک ـ ۱۳۴۲ ه، ش ـ کابل .

- څېړندوی عبدالله بختانی خدمتګار ـ پښتانه‌شعراء څلورم ټوک ـ ۱۳۵۷ ه، ش ـ کابل .

- څېړندوی عبدالله بختانی خدمتګار ـ د کلید افغانی تعلیقات ـ ۱۳۵۶ ه، ش کابل .

ـ ځیرندوی عبدالله بختانی خدمتګار ـ توربریښ ـ ۱۳۴۷ هـ، ش ـ کابل.
ـ حبیب الله رفیع ـ ادبی ستوری لومړی ټوک ـ ۱۳۵۳ هـ، ش ـ کابل .
ـ حبیب الله رفیع ـ ادبی ستوری دوهم ټوك ـ ۱۳۵۹هـ، ش ـ کابل
ـ حبیب الله رفیع ـ پښتو کتاب ښود ـ ۱۳۵۶ هـ، ش ـ کابل .
ـ زلمی هیوادمل ـ فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱۳۵۶ هـ، ش ـ کابل .
ـ همیش خلیل ـ ورکه خزانه لومړی ټوك ـ ۱۹۶۰ م ـ پیښور
ـ همیش خلیل ـ ورکه خزانه دوهم ټوك ـ ۱۹۶۰ م ـ پېښور.
ـ جیم دارمستتر ـ دپښتو نخوا دشعر هار و بهار ـ ۱۸۸۸ م ـ پاریس .
ـ ګ ـ ف ـ ګیرس ـ دپښتو تاریخي سندری ـ ۱۹۸۳ م ـ مسکو
ـ و ـ و ـ کوشیف ـ دختیځ پیژندنی دا نستیتوت دقلمی نسخو فهرست ـ ۱۹۷۶ م ـ مسکو ـ اونورهغه آثار چه په یادو نو کښی یادشوی دی .

دمقدمی ماخذونه :

ـ عبدالروف بینوا ـ اوسنی لیکوال دوهم ټوک ـ ښاغلی سعید ـ ښاغلی ـ صالح محمد ـ ۱۳۴۱ هـ، ش ـ کابل .
ـ پوهاند عبدالحی حبیبی ـ دمرحوم مولوی صالح محمد کندهاری دپښتو مثنوي مقدمه ـ ۱۳۵۰ هـ، ش ـ کابل .
ـ ښاغلی محمد نبی سعیدو فایی ـ دمرحوم سراج الدین سعید ژوندلیك ـ قلمی یاد داشت (له دوی څخه په ډیر مننه) .
ـ ځیرندوی عبدالله بختانی خدمتګار ـ پښتانه شعراء څلورم ټوک ـ مولوی صالح محمد ـ ۱۳۵۷ هـ، ش ـ کابل .
ـ ښاغلی عبدالخالق واسعی ـ دپښتو ټولنی افتخاری غړی مولوی صالح محمد مرحوم ـ کابل مجله ـ د ۱۳۳۹ هـ، ش لسمه ګڼه.

# تعلیقات

دا تذکرة الشعراء کابو څه د پاسه څلویښت کاله د مخه تالیف شوی او د هغه وخت د معلوم، نو په بنا لیکل شوی ده. د دې تذکرې د پښتنو شاعرانو په باب دغه معلومات هغه وخت ارزښتمن وو، مگر د وروستیو څلویښتو کلونو په جریان کې د دې تذکرې د ځینو شاعرانو په باب نوی خبرې او نوی معلومات ترلاسه شوی دی. اوس چې دا تذکره چاپیږی نو لازمه ایسی چې څه توضیحات هم ورسره مله شي. که څه هم د دې تذکرې ښاغلی محشی ځیړندوی بختانی خدمتگار ځای ځای د تذکرې له ځینو برخو سره کتوری یادونی ملی کړی دی، او په ځینو برخو کې یې نورو باوری او نویو ځیړنو ته حوالې ور کړی دی، خو دا چې دا کتاب بنایی د محققینو تر څنګه عادی لوستونکی هم ترلاسه کړی او یا له هیواد نه د باندې د چا لاس ته ورسی. محققین به د دې کتاب په یادو نوکی یادو شویو مراجعو ته رجوع وکړی، مگر عادی لوستونکی یا دغسې کسان چې مراجعو ته یې لاس نه رسی، نو به له دې کتاب څخه د استفادې په وخت کې په تیاره کې پاتې شي، او په ځینو برخو کې به له نیمگړو معلوماتو سره مخامخ وی. د دې لپاره چې مو له دغسې لوستونکو سره مرسته کړی وی، نو مې دا تعلیق د ښاغلی خدمتگار صاحب په خوښه پر ولیکه.

ACKU

زه په دی تعلیق کی ددی تذکری پرهغو شاعرانو بحث کوم چی ډېر لیکل پر لازم دی :

۱ - شیخ بیټنی: په تذکرة الشعراء کی د پښتو تذکرة الاولیاشیخ بیټنی د بیټ نیکه په نامه معرفی شوی دی ،او ورسره یی داهم ویلی چی دی د قیس عبدالرشید زوی دی، داخبری له تاریخی واقعیتونو سره سمون نه لری اودا ځکه چی دمورخانو د کښنو له مخی قیس عبدالرشید په ۴۱ ه ق کال مړ دی . (۱) که دغه شیخ بیټنی چی پاړ کی یی په تذکرة لاولیا او بیا په تذکرة الشعراء کی راغلی دقیس زوی وګڼو نو بیا به دغه سړی دلوسړی هجری پیړی سړی وي ،حال داچی شیخ بیټنی ددریمی پیړی سړی دی. لوی استاد پوهاند حبیبی یی دژوند زمانه د (۲۵۰-۳۰۰ ه ق ) حدود وړه شاوخوا کی ټاکلی ده (۲) دغه نظر نورو زیاترو سور خنیوهم تائید کړی دی .

لەدی سر بیره له کومی منبع چی د شیخ بیټنی پاړ کی زموږ ادبی څیړ نو ته لاره پیدا کړی ، اوله هغو ځایو نود دی تذکری مولفینو هم اخیستنی په هغه اصلی منبع کی د دی سړی نوم شیخ بیټنی دی (۳) اودایی نه دی ور سره کښلی چی د ی د قیس عبدالر شید زوی دی (۳) شیخ بیټنی په هیڅ صورت دقیس عبدالرشید زوی نەشی کیدای .

---

(۱) کاکاخیل ظفر ، بهادرشاه ، پښتانه دتاریخ په رڼا کی د۱۹۶۵ ع چاپ یونیورستی بك ایجنسی ۱۲۶۸ مخ

(۲) حبیبی ، عبدالحی (علامه ) تاریخ مختصر افغانستان (لوسړی ټوک) د۱۳۴۶ ه ش کال چاپ دولتی مطبعه ۱۲۵-۱۲۶ مخونه .

۳ - هوتک ، سلیمان ، تذکرة الاولیاء ، اکادیمی علوم افغانستان ۱۳۶۱ ه ش کال دولتی مطبعه دعکسی چاپ لوسړی پاڼه .



ACKU

۲ ـ شیخ اسماعیل په تذکرة الشعراء کی ویل شوی چی شیخ اسماعیل تر(۵۰۰ ه) وروسته ژوندی و ، دده هغه شعر چی په تذکرة الشعراء کی راغلی هغه یی له تذکرة الاولیا څخه اخیستمی دی ، نوبی ویلی چی دده نور اشعار مو پرته نه دی ښکاره دلته باید زیاته کړو چی : که شیخ اسماعیل د شیخ بیټنی زوی وی ، نو بویه چی دی د ۵۰۰ ه ق د حدودو سړی وی . د شیخ اسماعیل یو بل پارکی د پټی خزانی فاضل مولف محمد هوتك (۱۰۸٤ ه ق زوکړی) هم په خپله تذکره کی راوړی دی (۴)

۳ـ شیخ عیسی مشوانی : په تذکرة الشعراء کی دده هغه دری بیته راغلی دی چی پښتانه شعراء راوړی دی. دده شرح حال په پټه خزانه کی هم راغلی دی . (۵)

۴ ـ ملا الف : په تذکرة الشعراء کی دملا الف هوتك یوازی یو کتاب بحرالایمان یاد شوی دی ، حال دا چی په پښتانه شعراء (٦) کی دده بل اثر نصیحت نامه هم یاد شوی دی .

۵ ـ میرزاخان انصاری : په تذکره الشعراء کی دده نوم فتح خان او په قوم یوسفزی یاد شوی دی او دایی هم ویلی دی چی ده لومړی پلا په پښتو کی عرفانی او تصوفی اشعار ویلی دی. دا خبری ـ تولی سمی نه دی ، د میرزاخان نوم فتح خان نه دی او نه دی یوسفزی دی. دده نوم میرزا پلاریی نورالدین نومیږی ، چی د بایزید روښان

---

۴ـ محمد هوتك پټه خزانه (عکسی) د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۳۵۴ ه ش کال چاپ دولتی مطبعه ۹ـ ۱۰ مخونه

۵ـ پټه خزانه ۳۲ مخ .

٦ـ حبیبی عبدالحی ، پښتانه شعراء (لومړی ټوك) پښتو ټولنه ۱۳۲۰ هش کال چاپ عمومی مطبعه ۷۴ مخ

زوی واوهم مرزا لومړنی سړی نه دی چی په پښتو کی یې عرفانی اشعار ویلی دی ، ځکه په روښانی شاعرانو کی ترمرزا ، ارزانی دمخنی او مشر سړی دی (۱۰۱۰ هـ ق حدود ) هغه په پښتو کی دروښانی تصوفی لاری له موازینو سره سم پښتو شعرونه ویلی دی ، د اشعارو کلیات لری چی تراوسه نه دی چاپ او خطی نسخی یې شته اما که په عام دول په پښتو اشعارو کی دتصوف ریښې او عرفانی اشعارو پلټو ، نودا ریښې خو سړی آن دشیخ متی (۶۲۲ - ۶۸۷ هـ ق ) په مناجات کی پیدا کولی شی .

۶- دولت : په تذکره کی ددولت ژوند تر ۱۰۵۸ هـ ق کال پوری یقینی بلل شوی دی ، داخبره سمه نه ده ددولت ژوند تر ۱۰۶۹ هـ ق پوری یقینی ښکاری .

۷- امیر : دامیر دتجوید یوه خطی نسخه پخوا دارګ په کتابخانه کی وه ، اوس دغه نسخه دافغانستان دملی آرشیف په خطی کتابونو کی ساتل کیږی (۷) اودلی یې ځکه یادونه و شوه چی دغه کتاب زموږ په معلوماتو لاس ته راغلو کتابونو کی پخوانی کتاب دی ، په تذکره کی ددی کتاب دختم نیټه ۱۰۳۲ هـ ق ښوول شوی ، سمه نه ده د تکمیل نیټه یې ۱۰۲۳ هـ ق کال دی .

۸- اشرف خان هجری : په تذکره کی راغلی دی ، هجری په ۱۰۹۴ هـ ق کال دمغلو دلښکرو په لاس کښیو تلی دی ، داخبره سمه نه ده ، اصلی نیټه یې ۱۰۹۲ هـ ق کال دی . دڅور وروستی ورځ یا دجوزا

۷- نجرابی ، مشتری عبدالقدیر ، فهرست نسخ ، خطی پښتوی آرشیف ملی افغانستان ، کمیته دولتی کلتور ، د ۱۳۶۵ هـ ش کال چاپ دولتی مطبعه ۷-۸ مخونه .

لومړی نیټه چې دمې دمیاشتې له ۲۱ یا ۲۲ نیټې سره سمون لري (۸).

۹ ـ عبدالقادرخان: په تذکره کې دده ژوند تر۱۱۱٤ هـ ق پوری یقیني بلل شوی. داخبره سمه نه ده، دعبدالقادرخان ژوند تر۱۱۲۰ هـ ق پوری یقیني دی. دهمدې بحث دیاد ونو په برخه کې باید زیاته شي چې: دهمیش تدوین: دیوان عبدالقادر دوه ځله: یوځل په ۱۹۶۷ ع او بل ځل په ۱۹۷۲ ع کال په پېښور کې چاپ دی. دده یوسف زلیخا تر تولود مخه په ۱۲۸۸ هق کال په دهلي کې بیا په۱۲۹۸ هـ ق کال په دهلي کې په ۱۳۱۰ هـ ق کال په کابل کې او په ۱۳۳۱ هـ ق کال په لاهور کې چاپ ده. په پېښور کې نه ده چاپ شوی (۹) نور چاپونه هم لري. د ده گلد سته لومړی ځل په ۱۹۶۱ ع کال او دوهم ځل په په ۱۹۸۱ ع کال دپېښور دپښتوا کیډیمی له خوا چاپ شوی ده (۱۰) دچهل حدیث خطي نسخه یې دپښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندی ده.

۱۰ ـ سکندرخټک: ددغه شاعرد په باب دتذکرې دمتن دلیکنو او یادونو په برخه کې دغه زیاتونې لازمې ایسي:

ـ د سکندر ژوند تر۱۱۱٦ هـ ق کال پورې یقیني دی.

ـ دسکندرخټک دیوان دوهم ځل په۱۹۶۲ ع کال چاپ شوی (۱۱).

---

۸ ـ کامل، دوست محمد (استاد) خوشحال خټک اداره اشاعت سرحد، د ۱۹۵۲ ع کال چاپ، پېښور ۲۰۳ مخ

۹ ـ رشاد عبدالشکور (اکاد میسین) دگلشن روه مقدمه، اطلاعات او کلتور د۱۳۵٦ هش کال چاپ، دولتي مطبعه ۸۹ ـ ۸٦ مخونه.

۱۰ ـ هیوادمل، زلمی، فرهنگ ادبیات پښتو (دوهم ټوک) کمیټه دولتي طبع ونشرد ۱۳٦۵ هش کال چاپ، دولتي مطبعه ۱۷۳ مخ.

۱۱ ـ (بریښ) پښتو کتاب پوه، بیهقي د۱۳۵٦ هش کال چاپ دولتي مطبعه ۱۹۷ مخ

- دسکندرختیك ددیوان بشپړه خطي نسخه دمصري خان له دیوان سره یوځای دپیښور د پښتو اکیډیمۍ په خطي مجموعه کښې ساتل کیږي ، دده موجود چاپي دیوان نا قص دی.

- دسکندر ختیك دوی مثنوی :شمایل نامه او پند نامه په یوه مجموعه کې دزلمی هیواد مل له خو گندو نو او سریزې سره په ۱۳۶۳ هـ - ش کال دافغانستان دعلوموا کاډیمۍ دپښتو ټولنې لەخوا چاپ شوي دي.

۱۱- صدر خان ختك: دتذکرې ددغه شاعر په باب باید زیاته کړو چې: دمرحوم عقاب ختك ( ۱۹۸۰ عیسوی کال مړ) دڅیړنو له مخې صدرخان په ۱۰۶۰ هق کال زوکړی (۱۲) موریې یوسفزۍ ده، دده نور آثار دادي: جنگنامهٔ شیرعلي چې خطي نسخه یې په کوټه کې د پرفیسور سیال کاکړ په کتابخانه کې خوندي ده. بل اثر یې دحضرت محمد (ص) معجزات دي (۱۳) دده ټولي دولس غزلي په چمن بې نظیر کې خوندي دي (۱۴) چې دوی یې په کلید افغاني کې (۱۵) اته غزلي یې په

---

۱۲- عقاب، سرفراز خان ، خوشحالیات د ۱۹۷۵ ع کال چاپ پښتو ر ۳۸- ۳۹ مخو نه

۱۳- خوشحال ختك، فراقنامه دزلمی هیوادمل تعلیقات د ۱۳۶۳ هش کال چاپ کابل پوهنتون دعالي تحصیلاتو مطبعه، اته دیرش - یو څلویښت مخونه .

۱٤- سیکنزي دبریټا نیا دکتابخانو دپښتونسخو فهرست، د ۱۹۶۵ ع کال چاپ لندن، ۹٤ مخ .

۱۵- هیوز کلید، افغاني دڅیړندوی پښتانی له تعلیقاتو سره، اطلاعات او کلتور د ۱۳۵۶ هش کال چاپ دولتي مطبعه ۳۷۲-۳۹۹ مخو نه.

گلزار روه (۱٦) کی او دوی یی هم د پښتو غزل (۱۷) نومی کتاب کی چاپ دی. یوه قصیده یی دانشمند بریښ په ادبی ستوری کی چاپ کړی ده-(۱۸) دده ژوندتر ۱۱۲٤ هق کال پوری یقینی دی.

۲۱- عبدالرحمن مومند : د تذکرو د دی برخی پر یادونو باید زیاته کړو، چی عبدالرحمن بابا مومند د استاد رشاد د څېړنو له مخی (دمحمدهوتک یاد، رحمن بابا په کوم کال مړدی؟ دزلمی هیوادمل په زیار ۱۳٦۲- هش) په ۱۱۲۸ هق کال مړدی. د عبدالرحمن بابا کلیات په ۱۹۸٤ ع کال ۳. ٦ مخه په پیښورکی چاپ شوی دی. دا کلیات په انتقادی او تحقیقی بڼه مرحوم کاکاجی صنوبر حسین (۱۸٦۷- ۱۹٦۰ ع ) مرحوم استاد کامل (۱۹۱۵ - ۱۹۸۱ ع ) او استا دقلندر تهیه کړی دی.

۲۳- عیسی اخونزاده : ددی شاعر باب باید وو وایوچی : ددی شاعر اته پاڼی جیمز دار مستشر فرانسوی (۱۸٤۹-۱۸۹٤ ع ) د پښتو نخوا دشعر هارو بهار کی راوړی دی (۱۹) دده نوم دار مستشر دعیسی گل

---

۱٦- هیوادمل، زلمی، گلزار روه، دافغانستان د علوم اکاډیمی د ۱۳٦٤ هش کال چاپ کابل دولتی مطبعه ۷۹-۸٦ نومره پاڼی کی

۱۷- رضا، افضل (پروفیسر) پښتو غزل، پښتو اکیډیمی د ۱۹۷۸ ع کال چاپ پیښتور ۹٤-۹٦ مخونه.

۱۸-(بریښ) ادبی ستوری دوهم ټوک، دکلتور او هنر ریاست، د ۱۳۵۹ هش کال چاپ دولتی مطبعه، ۳۱۹- ۳۲۰ مخونه

۱۹ - جیمز دار مستشر د پښتو نخوا دشعر هارو بهار د بریښ په زیار پښتو ټولنه د ۱۳۵٦ هش کال چاپ کابل د ښوونی اوروزنی مطبعه ۷٦۵-۷۸-۸۰-۸٤-۱٤۱-۱٤۵ مخونه.

اخونزاده په نامه یاد کړی دی. کړنه سندره یی چی پهدی تذکره کی راغلی دهارو بهار په مجموعه کی تر ٦٤ نومری لاندی چاپ ده .

٤١ـ شاه حسین هوتك : دحاجی میرویس هوتك زوی په ١١١٤ ه ق کال دکلات په سیوری کی زوکړی دی. دپښتو پهاولسی اوزانو او پهدیوانی فورمونو کی یی اشعارویلی دی.چی اولسی بدلهیی پهدیتذکره کی اودیوانی غزل یی پهپټهخزانه کی راغلی دی. ده داشعارو دیوان درلود چی محمد هوتك تنظیم کړی و. د نارنج په مانی کی یی ادبی دربار بنا کړی و، او کتابخانه یی جوړه کړیوه. دیر پښتو کتابونه دده پهغوښتنه لیکل شوی دی ،لکه : پټه خزانه ،اوډیروخپل کتابونه دده نامه تهمنسوب کړی دی ، لکه د نورمحمد غلجی نافع المسلمین.

٥١ـ بابوجان: پهتذکره کی چی دبابوجان یادونه شوی ده، هوری ورسره دلغمان ذکرهم راغلی اوورسره بله داچی دتذکری ددیبرخی لیکوال چی پهشکرستان کی دبابوجان کوم منتخبات لیدلی هغه یی رسانظمونه بللی دی، مگر بیایی چیدده ددیوان کومه نسخهلیدلی هوری دده آثاررور ته مقفی نثرونه ښکاره شوی دی، نویی شك ښکاره کړی چی بنایی دا آثار دد وو کسانو وی ، یادیوه کس ؟

پهدی برخه کی باید عرض شی چی بابوجان نه دلغمان دی، او نه دپلورستان د سیمو ، دی دمحققینو د تحقیق له مخی یوسفزی د ی دیوسفز وپه باب وایی :

پهافغان کی یوه سفزی شریعتی دی
خیرات کما سخا وتی دی

دده قبردصوابی تحصیل دنوی کلی اوتولاندی جنوب کی له ترکی نهختیزتهواقع دی(٢١) دیدیو ولسمی پیړیداواخروشاعردی، اودشك په

---

٢١ـ خلیل ، همیش ، ورکه خزانـه لومړی ټوك د.١٩٦٠ع کال چاپ پیښور ٥١٣ مخ .

باب باید وو ایو چی په قدیمو ادبیاتو کی تر اوسه همد ایو بابو جان معلوم دی، خوخبره داده چی دده دیوان لوست ځینی خطا باسی ، او گمان کوی چی دا به نظم نه ، بلکه مقفی نثروی ، د اخبره سمه نه ده دده ټول آثار نظم دی (۲۲) .

ددی برخی د یادونی په دی خبروچی دده دآثار و خطی مجموعه په لنینگراد کی موجوده ده، باید زیاته کړوچی د بابوجان د کلیاتو دوی ډیری ښی نسخی یوه په گوټه کی د پروفیسور سیال په کتابخانه کی ، بله دهند درامپور په رضالایبریری کښی (۲۳) شته. له دی سربیره په پېښور ، کوټه کابل او د نړی په نورو کتابخانو کی د بابوجان د آثارو خطی نسخی پیدا کیږی ، چی تفصیل یی ددی ځای کار نه دی.

۱۶ ـ مسعود : په تذکره کی د مسعود د ژوند زمانه د. . . ۱ ه ق شاوخوا ښوول شوی ، دا خبره سمه نه ایسي. دده یو پاڼ کی ما په یوجونگ (۲٤) کی لیدلی دی چی هوری یی داورنگزیب ( ۱۰٦۸ ـ ۱۱۱۸ ه ق ) یادونه کړی ده .

---

۲۲ ـ استاد رشاد دبابوجان دنورو په گمان نثرونه نظم بللی او دنورو غلطی یی سمی کړی دی ، استاد رشاد په خپل کتاب (پډ گلشن روه کی دبابوجان منتخبات نثرنه دی؟) کی په دی باب ښی خبری کړی دی .

۲۳ ـ هیوادمل ، زلمی دهند د کتابخانو پښتو خطی نسخی ، دافغانستان دعلومو اکاډیمی د ۱۳٦۳ ه ش کال چاپ ، د ښوونی او روزنی مطبعه ۲۳۲ مخ .

۲٤ ـ دغه جونگ اوس دافغانستان دعلومو اکاډیمی په کتابخانه کی خوندی دی ، دغانگل شعرونه هم پکی شته دی .

۱۷ـ افضل خان ختک : په تذکره کی د افضل خان ختک د راغلی حال په باب باید زیاته کړو چی افضل خان په ۱۰۷۵ هـ ق کال زوکړی دی (۲۵) دیر پښتو آثار دده په غوښتنه ترجمه شوی دی، لکه قلب السیر، اختیارات بدیعی، او تاریخ اعثم کوفی. دخپل نیکه آثاریی هم را تول کړی دی .

په تذکره کی تاریخ اعثم کوفی هم دده په تالیفاتو کی شمیرل شوی دی، داخبره سمه نه ده، دا تاریخ د افضل خان په پرمایښت محمد مظفر داخوند اسمعیل زوی په ۱۱۲۶ هـ ق کال ترجمه کړی دی (۲۶)

۱۸ـ عبدالحمید مومند: زمونږ په زیاتر و پخوانیو خیړنو کی عبدالحمید مومند، د حمید ماشوخیل په نامه معرفی شوی دی. دد غو ناسمو معلوماتو په بنا د تذکری مؤلفینو هم داسړی د حمید ما شوخیل په نامه معرفی کړی دی. په نسبی لحاظ دی مومند او درا ورتی په قول په مومندو کی خدریـزی دی، او د سیمی په لحاظ عبدالحمید د ماشوخیلو د کلی اوسیدونکی نه و، بلکه د ماشو گگر د کلی اوسیدونکی و. دی د راورتی په قول په ۱۱٤۵ هـ ق کال کی مړدی، د زیږیدو کال یی د ۱۰۷۵ـ۱۰۸۰ هـ ق کال شاوخوا اټکل کیدای شی، دده قبر اوس د ماشو گگر د کلی د بهلول زو په هدیره کـی دی. (۲۷)

---

۲۵ـ تاریخ مرصع دڅیړ نو په بهیر کی، دزلمی هیواد مل په زیار کابل پوهنتون د ۱۳٦۵ هـ ش کال چاپ .

۲٦ـ رښتین، صدیق الله د پښتو دادب تاریخ، پښتو ټولنه د ۱۳۲۵ هـ ش کال چاپ عمومی، مطبعه کابل ۷۸ـ۷۹ مخونه.

۲۷ـ هیواد مل، زلمی دعبدالحمید مومند ددیوان مقدمه پښتو ـ ټولنه د ۱۳٦۳ هـ ش کال چاپ گوندی مطبعه ٦ ـ ۲۱ مخونه .

۱۹ - قلندر: کوم شاعر چې په تذکره کې د قلندر را پر یدی په نامه معرفي شوی دی، دا هماغه قلندر دی چې له میراسره سینه لري دا قلندر راپریدی نه دی، دده اپریدی توب کوم سند نه لري. دی د حمید له مکتبهٔ فکر نه متاثر دی، او په رباعیاتو او توتو کې د خانله سبك خاوند دی. د ژوند زمانه یې ۱۱۵۰ ه ق اټکل کیږي. دا قلند ر د سوات د سیمو معلومیږي. تریور چیچلي پلاوډن د کسلید افغاني په ترجمه کې دا سړی د سوات بللی دی، او یو روایت دا سې دی چې دی اکوزی یوسفزی دی. البته دا باید هیره نه شي چې زموږ په قدیم ادب کې د قلندر په نامه بل شاعر هم لروچې د هجري معاصر و، او ویل کیږي چې هغه مومند و.

۲۰ - شیدا: د تذکرې د کاظم خان شیدا په برخه باید زیاته کړو چې دی د ۱۱۳۰ - ۱۱٤۰ ه ق کلو نو تر منځ زیږیدلی دی، ژوندیې د هند په سیمو کې تیر کړی دی او د عمر زیاته برخه یې په رامپور کې تیره کړې ده. دی په ۱۱۹۳ ه ق کال وفات شوی دی، دده د دیوان د رامپور د نسخې پر حاشیه چا شاعر کښلي دي:

د شیدا په اشنا یا نو جهان تریخ شه
د کباب غوندې کون و مکان سیخ شه
درست بدني گویا زړه و په معنی کې
د لنظیر د کاظم خان د مرگ تاریخ شه (۲۸)

۲۱ - محمدي: د تذکرې د دې برخې او یادونو په برخه کې باید زیاته کړو چې د محمدي دیوان اوس ورك نه دی، دا دیوان (۳۳٤) مخه په ۱۹۸۰ ع کال په پیښور کې د قلندر مومند په همت چاپ شوی

---

۲۸ - شوق، احمدعلي خان، تذکره کاملان رامپور، ۱۹۲۹ ع کال چاپ، دهلي، ۳۳۵ مخ.

دی. دده د زوکړی کال دتذکری ددی برخې په یادو نوکی ۱۱۰۹ هـ ق کال ښوول شوی دا خبره سمه نه ده . د محمدی دديوان پهمقدمه (۲۹) کی پهعلم دلايلو دا نيته رد شوی‌ده .

۲۲ ـ علی خان : په تذکره کی له علی خان سره دخټك نسبی نسبت هم تړل شوی دی ، داخبره چی‌علی خان‌دی خټك وی،هيڅ دول ثبوتی دلايل نه لری،دنورو معلوماتو له مخی دی‌دهشنغراوسید ونکی و. دديوان دداخلی شهادتو نو له مخی يی‌ژوند تر ۱۱۸۰ هـ ق کال پوری يقينی دی،مګراشرف غمګين په خپل کتاب دهشنغر ادب (۳۰) کی ليکلی دی چی مادده دقبر لوحه پيدا کړی ده، هوری يی‌دزوکړی کال ۱۱۵۰ هـ ق‌او دمړينی‌هـځی ۱۱۹۵ هـ ق کال راغلی‌دی.وايی‌چی علی‌خان محمدزی و،د هشنغرپه‌زوړ کلی منګلی کی زوکړی‌دی ،ددوی خبری‌کوم اساسی سند نه لری‌ترهغی چی کتيبه نه‌وی ليدل‌شوی،پردی تاريخونواعتماد نه شی کيدای.

۲۳ ـ خوشحال خان شهيد : دتذکری پردی برخه‌چی‌کومه يادونه کښل شوی، هوری دفرهنګ ادبيات پښتو دلومړی ټوك په حواله دده دمړينی کال (۱۱۶۶) هـ ق کال شا وخوا ښودل شوی دی ، مګر کله چی څيړنه وشوه دامړی په ۱۱۷۲ هـ ق کال وفات دی . (۳۱) علی اکبر اورکزی دده پر مړينی يو رثائيه قصيده و يلی ده چی ،ما دپښتوداد‌بی تاريخ خطی منابع په پنځمه برخه کی اخيستی ده .

---

۲۹ ـ قلندر ،حبيب‌الرحمن، دمحمدی دديوان مقدمه ،د ۱۹۸۵ ع کال‌چاپ پيښور، ۵ مخ .

۳۰ ـ غمګين ،محمد اشرف ،دهشنغر ادب،هشنغرادبی ټولنه،د ۱۹۸۰ ع کال چاپ پيښور ۲۰ مخ .

۳۱ ـ فرهنګ ادبيات پښتو ج ۲ ص ۳۱٤.

۲۴ - کاظم ، عثمان ، عبدل ،اشرف ، علیم ، فاضل ، ابراهیم ، فضیل ، عصام ،غفور ، فتح علی اوصمد: ددی تذکری داشا عران گرده له پښتانه شعراء لومړی توك څخه اخیستل شوی دی ، پښتانه شعراء دوی، په کلیدافغانی کی دهغوی دراغلومنتخبو غزلوله مخې معرفـی کړی دی . دد غوشاعرانود یوانونه تراوسه نه دی پیدا شوی ، مګر متفرق پارکی یی دیر لیدل‌شوی ،لکه دد غوزیاتروشاعرانوخطی پار کی په‌چمن بی نظیر ، دحسیب ګل میا (۱۳۰۵ هـ ق مړ) بیاض ، دانځر ګل میا (۱۳۰۳ هق مړ ) په‌چمن بی عدیل و ګلشن بی تمثیل ، اومحینو نورو خطی آثارو په حاشیوکی خوندی دی .مګردا باید زیاته کړوچی ددغو شاعرانو نوری غزلی اوس له کلید افغانی پرته په: ګلزاروه : پښتو غزل، پټ ستوری‌اوادبی ستوری کی چاپ دی . د اشرف‌خلیل منتخبات دورکی خزانی فاضل مولف هم راوړی دی . (۳۲)

۲۵ - معزالله :دتذکری دمعزالله‌پربرخه باید زیاته کړو چی : معزالله خان دعبدا لله‌خان‌زوی دمحمد خان لمسی او دمستجاب خان کوسی دی ،دی‌محب خیل مومند و، ژوندیی تر ۱۱۸۲هـ ق کال‌پوری یقینی دی. (۳۳)

۲۶ - مهین :په تذکره کی چی دمهین کوم شرح حال خوندی دی پرهغوددی لاندی یادونو زیاتول ضروری دی :

مهین‌ددولسمی پیړی په حدودوکی دپیښور په شاو خوا سیموکی آباددو . ژوندیی تر . ۱۱٤ هق کـال پـوری یقینـی دی .دی دشیخ

---

۳۲- خلیل، همیش، ورکه خزانه لومړی‌توك ۳۴۷ -۳۲۵مخونه.

۳۳ - هیوامل ،زلمی نګاهی به اشعار دری معز الله‌خان مومند، خراسان شماره(۳۰)سال ۱۳٦۵ ص ۳۳۰ .

ابراهیم خلیل مرید و ، دده پیرد کبروپه طریقی پیروو، مهین له‌تذکرهٔ ابرار سره‌بیره چی دری نسخی یی موږته معلومې دی الف نامی هم لری ،دری الف نامی یی هم موږ ته‌ښکاره دی ( ۳۴ )

۲۷ ـ حسین: دا حسین چی په تذکره کی معرفی‌شوی‌دی،ددیوان‌خاوند حسین نه دی . دا حسین دمردان دصوابی تحصیل دشاه‌منصور کلی اوسید ونکی و(۳۵ ) . دده غزلی هیوز په کلید افغانی کی اخیستی دی او دهمدغوغزلو له مخی پښتانه شعراءهم معرفی کړی،چی له پښتانه شعراءنه یی د دی تذکری پانوته هم لاره پیدا کړی ده .

۲۸ـ عبدالرحیم هوتك : په تذکره کی چی دعبدالرحیم هوتك کوم شرح حال راغلی ددغه شرح حال اویادونو په باب‌یی باید زیاته کړو:

عبدالرحیم هوتك‌د پښتوله نومیالیو شاعرانو څخه‌دی ،چی‌د کلات دسیوری‌په ښه بولان کی‌زوکړی دی. په دری‌کلنی کی‌یی له خپلی کورنی سره کندهار ته راغلی دی،اوه کاله‌یی په کندهار کی تیر کړی‌دی او په لس کلنی کی له خپلی کورنی‌سره نیشاپورته تللی دی بیا له نیشاپوره تهران‌اورامین ته‌تللی دی. لس کال‌یی په‌دی زمکو کی تیر کړی دی ـدعمر په شل کلنی له‌دی زمکو بخارا ته تللی اوډیوند تر پایه هوری پاتی شوی‌دی، هماغته‌مړاو ښخ دی .

دی‌داتو ملیزی زوی او دملك سلطان نمسی دی، لکه چی خپله‌یی ویلی‌دی :

---

۳٤ ـ هیوادمل ، زلمی دهند دکتابخانو پښتو خطی نسخی ،دعلومو اکادیمی۱۳٦۳ه ش کال‌چاپ‌دپوهنی اوروزنی‌مطبعه ۵۲ـ۲٦مخونه

۳۵ ـ هیوادمل زلمی فرهنگ زبان‌وادبیات پښتولومړی‌توك، تالیف اوترجمه د۱۳٥٦ه،ش کال چاپ دپوهنی اوروزنی مطبعه ۱۳۳ مخ .

دملك سلطان نمسی یم داتوملیوی زوی یم

گلرخا نویم خوار کړی ، اورسی درست پهڅان بلیږی

دده دژوند د زمانی په باب زموږ پهادبی څیړ نوکی په اتکلی ډول خبری شوی دی. دده دزو کړی کال ۱۱۴۰ هق کال بنوول شوی دی ، اوژوند یی ورته تر ۱۲۲۰ ه ق پوری یقینی گڼلی دی (۳۶) مگر دعبدالرحیم هوتک ددیوان پهیوه خطی نسخه کی یو یادښت ماداسی لیدلی دی: ( دیوان عبدالرحیم هوتک قندهاری متوفی سنه ۱۱۶۲ هق مدفون دربخارا) په همدی نسخه کی بل یادښت داسی دی: (دیوان عبدالرحیم هوتک قندهاری اغلباً متوفی سنه ۱۱۶۲ هجری مدفون درشهر بخارا) کهدا لیکنی حقیقت ولری نو دزوکړی اوژوند زمانه یی یو بل تحقیق تهاړه لری چی دایی ځای نه دی .

لهعبدالرحیم څخه په پښتوکی یو بشپړ دیوان موږته راپاتی دی چی داشعارو سبک یی زموږ دمشرانو پوهانو دڅیړنو له مخی دعبدالرحمن باباموسند دسبک تابع دی (۳۷) .

دعبدالرحیم هوتک دیوان تراوسه نه دی چاپ شوی دغه لاندی خطی نسخی یی ما لیدلی دی .

۱- دافغانستان دعلومو اکادیمی نسخه: دده دیوان پهټولو نسخو کی ترټولو گرانه او قیمتی نسخه ده .

۲- دا سلامیه کالج نسخه: په ۱۱۷۹ هق کال کی لیکل شوی ده ، ټولی ۳۰۷ غزلی پکی راغلی دی. دا نسخه په دی کتابخانه کی په ۱۹۶۷ نومره

---

۳۶- ( بریښ ) د سره غره گلونه ۱۳۵۷ هـ ش کال کابل دولتی مطبعه ص ۳۳۰

۳۷- دپښتو ادب تاریخ ص ۸۰ .

خو ندی ده، او او مو لوی عبدالر حیم مرحوم یی هم په خپل فهرست کی لناوه معرفی کښیلی ده (۳۸).

۳-د لیننګر اددختیځ پوهنی دانستیتوت نسخه: دا نسخه ترټولو بشپړه نسخه ده.

۴-داستاد بینوا نسخه: دا نسخه ماد ګران وروردانشمند بریښ په وسیله لیدلی ده ناقصه نسخه ده. ټولی شل بشپړی غزلی تری ترلاسه کیږی دا نسخه په ډیر بدخط لیکل شوی ده .

دعبدالرحیم دديوان منتخبات لوی استاد مرحوم علامه حبیبی (۱۳۲۸-۱۴۰۴ هق) په طلوع افغان کی نشر کړی دی. او دانشمند بریښ دده پنځه ویشت غزلی دسره غره ګلو نه نومی مجموعه کی چاپ کړی دی.

۹ ۲-سعادت خان: په تذکره کی چی دسعادت خان په نامه کوم شاعر معرفی شوی دی، په دی نامه زموږ په قدیم ادب کی کوم شاعر نشته. دمیا فقیرالله جلال آبادی (۱۱۹۵ هق مړ) آثار په غلطه ده ته منسوب شوی دی .

په تذکره کی چی دسعادت خان په نامه د کلام کومه نمونه راغلی .

ربه ستا ثنا به وایم خو ژوندی په دی دنیا یم
تـر پـا یـه

هغه دمیا فقیرالله (رح) داسماء الحسنی لوبړنی بیتونه دی (۳۹)

---

۳۸-عبدالرحیم (مولوی) لباب المعارف العلمیه د۱۳۱۸ هق کال چاپ، اګره ص ۳۷۸.

۳۹- فقیرالله (میا) اسماء الحسنی دزلمی هیواد مل تدوین، کابل پوهنتون د۱۳۵۹ هش کابل چاپ دعالی تحصیلاتو مطبعه ۱ مخ .

۳۰- پیر محمد کاکړ: د تذکرې دد ې شاعر په باب باید زیاته کړو :
چې حسیني محققین ده ژوند تر ۱۲۱۶ هق پورې یقیني گڼي. دی په اصل کې
د بلوچستان د سیمې دهندو یاغ و. په پښتو او پارسي ژبو کې یې آثار کښلي
دي. دده په آثارو کې د هدایت المبتدي په نامه دیویل اثر زیات تون هم
په کار دی، هدایت المبتدي پیر محمد کاکړ په روان دري نثر کښلی
دی، په دې کتاب کې یې ددین ابتدایي مسایل بیان کړي دي. (۴۰)

۳۱- قاسم علي اپریدي: په تذکره کې چې د قاسم علي کوم شرح حال
راغلی دېشپړ تا په لپاره یې لاندې خبرې راوړل په کار دي:

قاسم علي اپریدی د برهان خان زوی په ۱۱۸۳ هق کال دهندوستان
په فرخ آباد کې زوکړی دی.

متداول علوم یې لوستي وو، په پښتو، پارسي، هندي، کشمیري، عربي
او انگریزي ژبو پوهیده. د ژوند په یوه موده کې یې سپاهیتوب هم
کړی دی، دی په تصوفي کړیو کې شامل سړی و. په مشرب کې قادري و.

قاسم علي اپریدي د ۱۲۴۱ هق کال د جمادی الاول په پنځلسمه نیټه
ددوشنبې ورځ د سهار د نمانځه په وخت له دنیا سترگې پټې کړې دي.

له قاسم علي څخه یو کلیات راپاتې دی چې دغه آثار پکې شامل دي :

- رساله اپریدي: تاریخي رساله ده چې په پارسي نثر کښل شوې ده.
- شفاعت نامه اپریدي: د قادریه طریقې د مشرانو احوال دي چې
په پارسي نظم یې کښلي دي.
- هندي دیوان: دا دیوان په ۱۹۷۱ ع کال د پېښور د پښتو اکیډیمې له
خوا چاپ دی.

---

۴۰- هیوادمل، زلمی، یک متن ناشناخته زبان دری، هدایت المبتدی
پیر محمد کاکړ: خراسان شماره (۲۹) سال ۱۳۶۰ هـ ش- ۶۸-۷۹ مخونه.



ACKU

-افریدی نامه: داد پنځه ژبو یو فرهنګ دی، چی ۱۳۳۰ لغتونه یکی راغلی دی.

- دقاسم علی پښتو خوابنامه او پښتو دیوان. د قاسم علی کلیات تراوسه نه دی چاپ، خطی نسخی یی ډیری پیدا کیږی (٤١)

۳۲- مسعود گل: دی دمیاعمر چمکنی (۱۱۹۰هق) په مریدانو کی شامل دی، ده د خپل مرشد په مناقبو کی په پښتو مثنوی یو کتاب نظم کړی دی، چی مناقب میامحمد عمر چمکنی په نامه په ۱۲۹۹ هق کال ۸۰، مخه ددهلی په فیض عالم مطبعه که چاپ شوی دا کتاب لمه یوی مقدمی اوخاتمی سربیره نه پنځوس مناقبه هم لری، ددی کتاب یوه نسخه له ما سره شته.

۳۳- میا نعیم متی زی: په تذکره کی راغلی دی (دی په قام خلیل دی چی په سومند و کډیږی) داخبره سمه نه ده، دغوریا په خلو وزا منو کی یو زوی خلیل دی، خلیل اودولت یار سره ورونه دی. سومند بیاد دولت یار په اولاد کی شامل دی، دمیا نعیم ددیوان منتخبات هميش په ور که خزانه لومړی توک کی چاپ کړی دی، دیوان یی د عظیم شاه خیال بخاری له خیړنو سره په ۱۳۶۶ع کال د پیښور د پښتوا کیډیمی له خوا چاپ دی د خیال بخاری د خیړ نو له مخی میا نعیم د پیر انو پلوسی په کلی کی زوکړی دی (۳۲).

۳۴- مطیع الله په تذکره کی راغلی چی مطیع الله د پیښور دا پاسین په غاړه استوګنه درلوده دا خبره څه دقت غواړی، دی د کوهاټ د سیمو اوسیدونکی و، د دیوان یوه خطی نسخه یی د افغانستان په ملی آرشیف کی خوندی ده.

---

۱۳- دهند د کتابخانو پښتو خطی نسخی، ۲٤٦-۲۵۲ مخونه.
۲۳- دمیا نعیم دیوان د خیال مقدمه ۱۹٦٤غ کال چاپ، پیښور.

۳۰- ملا زبردست : په تذکره کی چی دده په باب شـه راغلی دی پـه هغو خبرو دی لاندی خبروزیاتون په کاردی :

ددی ناظم نوم حاجی زبردست دی چی خپل ځان په دی توګـه پرموږ پیـژنـی :

نوم زمادی زبردست    کم طاعت خالی می دست
بولم ځان زوی د کرم    یم ترخدای پوری ډیر ګرم
هم نمسی یم د جلال    نفس شیطان کړ مه ملال

دده عادت ښه دی چی د خپل هر کتاب په پای کی ځان معرفی کوی لو ړ بیتونه ساله روضة النعیم څخه را نقل کړل د ذخیرة القراء په پای کی بی ویلـی دی :

گنهگار نوس پرست یم    په معصیت کی زبردست یم
زه یم زویـه د کرم    په تحقیق تر الله گرم
زه له اصله ښتی زی یم    د جلال مرحوم نمسی یم (۳۳)

په پښتا نه شعراء دوهم ټوک (۳۴) کی دی کاکړ بلل شوی دی، په ادبی ستوری اومړی ټوک (۳۵) او دمخارج الحروف په تعلیقاتو کی بی دی ښتی زی بللی دی. اکادمیسین عبدالشکور رشادویلی دی چی ښتی زی په تورو

---

۳۳- رشاد، عبدالشکور (اکادیمسین) د پښتو تجوید ونوتاریخچه ص ۲۵ د افغانستان دعلوموا کادیمی ۱۳۵۹ هش کابل، دولتی مطبعه .

۳۴- رښتین، صدیق الله ( پوهاند ) پښتانه شعراء ج ۲ ص . ۳۳- ۱۳۴ پښتو ټولنه ۱۳۲۱ هش کابل عمومی مطبعه .

۳۵- پر بش، ادبی ستوری ج اص ۱۰۲ پښتو ټولنه ۱۳۵۳ هش دولتی مطبعه .

ترینو کی یوه پښه ده، حاجی زبردست پخپله د کنز القراء په مقدمه کی ویلی دی (حاجی - زبردست ترینی افغان بتی زی )

دده دژوند دزمانی په برخه کی باید وو وایو چی ، د حاجی زبردست بتی زی دژوکړی او مړینی دنیټو سم تاریخونه نه دی معلوم ، خو تر ۱۲۲۶ ه ق پوری یی ژوند یقینی دی د اوسیدو سیمه یی پښا یی د پخوانی لوی کندهار شاو خوا سیمی وی .

دده دغه لاندی آثار موږ ته معلوم دی :

۱- ذخیرة القراء: د قرآن عظیم تجوید دی، ټول پنځه ویشت فصله لری او د بیتونو شمیره یی ۱۹۲ ته رسیږی ، د مثنوی په قالب کی نظم شوی دی ددی کتاب خطی نسخی ډیری دی، دوی نسخی یی د افغانستان دعلومو اکادیمی په کتابخانه کی یوه نسخه یی په ملی آرشیف کی ، دوی نسخی یی زما په کتابخانه کی ، دغه رنگه د استاد رشاد ، دانشمند بریښ پروفیسور سیال کاکړ په کتابخانو کی یی هم نسخی شته. یوه نسخه یی د پیښور پوهنتون په کتابخانه کی هم خوندی ده ، خو په ټولو خطی نسخو کی یی پخوانی نسخه هغه ده چی په لیننگراد کی ساتل کیږی .

ذخیرة القرا په دهلی اولاهور کی چاپ شوی هم دی. پخوانی ماته معلوم چاپ یی د ۱۲۹۵ ه ق کال دی چی په حاشیو کی یی د تجوید دوی نوری کوچنی تی رسالی هم چاپ شوی دی .

د تیر هیرشاعران مولف د حاجی زدست ذخیرة القراء فیض الله اخونزاده او هم احمد ته منسوبه گڼلی ده (٤٦) دا یوه تیروتنه ده.

۲ کنزالقراء: داهم یوه تجوید دی ، چی حاجی زبردست په ۱۲۲۰ ه ق کال په پارسی ژبه کښلی دی ، ددی کتاب په مقدمه کی یی د خپل

---

٤٦- تیر هیرشاعران ص ۱۲۵ ص۲۵۷

پښتو تجوید یادونه هم کړی ده ، د کنزالقراءیوه خطی نسخه داستاد رشاد په کتابخانه کی ( ۲۷ ) بله د پرو فیسور محمود شیرانی (۱۸۸۱ - ۱۹۴۶ع ) په کتابخانه کی( ٤۸) دوی یی ماپه هندوستان کی لیدلی وی:یوه علیگړه دمولانا ابوالکلام آزادلایبریری په حبیب گنج کولکشن کی او بله دبمبی دجامع جومات په کتابخانه کی .

۳ - روضة النعیم: دحاجی زیردست پښتو بله مثنوی ده ،چی دنبوی احادیثو پښتوتر جمی وړاندی کوی ، دغه کتاب د معرفی په باب د زبرست خپله ویناداده :

| | |
|---|---|
| نوم یی روضة النعیم دی | جوړ په فضل درحیم دی |
| خزانه د دین دنیا ده | د عقبی توښه دی دا ده |
| تیر سو دی پنځلس زیاته | جمله تول د احدیثاته |
| دا کتاب اوه ویشت بابه | شویو ځای جمع ار بابه(۴۹) |
| اوس خاتمه د دی کتاب | گوره کړی له ثواب |
| وو له هجرته زردوسوکاله | شپږویشت نورهم زمالاله |
| وکړ رب لطف و انعام | چی شه دا کتاب تمام |

ددی کتاب یوه خطی نسخه د افغانستان په ملی آرشیف کی (۵۰) او دوی نسخی یی دپروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړ اودانشمند بریښ په کتابخانو کی خوندی دی (۵۱) .

---

٤۷ ـ د پښتو تجویدونو تاریخچه ص ۲۷

٤۸ ـ حسن ،دکتر محمد بشیر ، فهرست مخطوطات شیرانی ج ۱ د ۱۹۶۸ ع کال چاپ لاهور ص ۷

٤۹ـ روضة النعیم ( خطی ) ص ۵

۵۰ ـ فهرست نسخ خطی پښتوی آرشیف ملی ص ۷۷ -۷۸ .

۵۱ ـ ادبی ستوری ج ۲ ص ۳۱٤

دیا دونی وړده ، چې له‌ماسره د روضة النعیم په نامه یو بل چا پی کتاب هم شته،چی ټول خصوصیات یی دحاجی زبردست له‌روضة النعیم سره یوشی دی ،دا کتاب په ۱۳۰۵ هـ ق کال په لاهور کی چاپ شوی دی ، ټول مخونه یی ۲۸ دی ، خود دی روضه النعیم مترجم او ناظم محمد رفیق دی (۵۲).

۴ـ دړود : دااثرترا وسه دحاجی زبردست په‌آثاروکی نه دی معرفی‌شوی. دامنظوم اثرد مخمس په‌کالب کی نظم شوی دی ، ټول بندونه یی ۱۸ دی. دامنظومه حاجی زبردست په ډیرقوت نظم کړی‌ده. ددی رسالی خطی نسخه دلنینګراد دختیځ پوهنی دانستیتوت په خطی کتابونوکی‌ساتل کیږی. دانسخه له ذخیرة القراءسره مله‌راغلی‌ده . اوتر ذخیرة القرأ وروسته دیوی ځا نګړی رسالی په‌توګه تر بسم الله وروسته پیل شوی ده .

۵ـ مناجات دامناجات د مثنوی‌په‌قالب کی‌نظم شوی دی، دخطی روضة النعیم دپای‌په(۱۵۰ـ ۱۵۴مخونو) کی خوندی دي، دپیل بیتونه یی‌دادی :

الله عرض کړم وتا ته    نظرکړه دلطف‌وماته
جمله‌خواست‌می کړه قبول    په‌خدمت‌دخپل‌رسول

اوپای یی دادی :

دزبردست وکړه بخښنه    روی‌دحضرت‌دی‌زما‌خښننه
خدایه‌پرلطف‌وکرم دادکړه    وجنت وته یی‌آزاد کړه

---

۵۲ـ فرهنګ ادبیات پښتو ج۲ص ۵۱ په فرهنګ کی دحد یشونو شمیر ۱۳۵ چاپ‌دی، چاپی تیروتنه ده.

٦ـ مناجات : دامناجات دمخمس په قالب کی نظم‌شوی دی ، تول دولس بندونه لری او د خطی روضة النعیم په ۱۵۵ - ۱۵۸ مخونو کی خوندی دی ، د پیل بند یی دا دی :

له تا خدایه‌دمغفرت کوم غوښتنه

دخپل حبیب په‌عزت‌وکړی زما بخښنه

داهر کارسی کړه په‌خپل رحمت تښتنه

عفو کړه په عطوفت زما پیښنه

دکلام په روی می وبخښی تښتنه

دانشمند بریښ په ادبی ستوری (۵۳) کی کښلی دی : دپیښور پوهنتون په کتابخانه کی چی دذخیرة القرآ کوسه نسخه شته. دهغی په پای کی هم‌دز بردست بونعتیه مخمس او یومنقب خوندی دی. کیدای شی چی داهم دده دیادو شو وروستیو درو آثارو ودو همی نسخی وی ، او یایی نور ځانګړی منظوم رسایل وی .

۳٦ - میرزا حنان : دحنان بارکزی په شرح حال کی باید دا خبره زیاته شی چی‌دی تر ۱۲۹۲ هـ ق کال پوری ژوندی و ، ده له دیوانه مر بیره‌د شهزاده سلیم جواهری قصه‌هم نظم کړی‌ده ، چی تراوسه نه ده چاپ ، خطی نسخه‌یی په کندهار کی له‌ښاغلی محمد نسیم نوری سره شته.

۳۷ - فیض الله : ددی شاعر یوه خوندوره چاربیته دانشمند بریښ دده له لنډ شرح حال سره په ادبی ستوری کی هم راوړی ده(۵۴)

---

۵۳ - دادبی ستوری ج ۲ ص ۳۷۵

۵۴ - (بریښ) ادبی ستوری لومړی‌توک ، پښتو ټولنه د ۱۳۴۳ هش کال چاپ دولتی مطبعه ۱۹۸ - ۲۰۰ مخونه



ACKU

۳۸- دوست محمد ختك: دده په آثاروکی باید تفسیر بد رمنیر چی د تفسیر حسینی منثوره ترجمه ده، او هم طریقه محمدیه زیات شی. ده تفسیر حسینی په ۱۲۷۵ ه ق کال ترجمه کړی دی په ۱۲۶۹ ه ق کال کی د بحرالعلوم له نظمولو فارغ شوی دی. او په ۱۲۹۶ ه ق کال دعربی اخلاق احمدی له پښتو ترجمی فارغ دی، چی دا کتاب یی طریقه محمدیه نومی (۵۵).

۳۹- حبواخو نزاده: د حبواخو نزاده په پښتو آثاروکی د (منهاج العابدین) په نامه یو پښتو مثنوی شامل دی، چی دا پښتو مثنوی یی دامام غزالی له آثارو په استفادی په ۱۲۳۶ ه ق کال نظم کړی دی.
منهاج العابدین لومړی پلا په ۱۳۰۶ ه ق کال دری سوه مخه په بمبئی کی او دوهم ځل په ۱۳۸۱ ه ق کال. ۲۸ مخه په لاهور کی چاپ دی. (۵۵)

۴۰- ولی محمد: په تذکره کی ولی محمد دسوات دخوایو پښتون ملا بنوول شوی دی. دا خبره سمه نه ده. ولی محمد دسوات دسیمو نه دی خود اچی دی داخوند سوات مرید و، نو ځکه زموږ پخوانیو مشرانو محققینو دی دسوات بللی دی، ولی محمد خپل تاتوبی دامی بنوولی دی:

که په کار د چا زما کلی وطن دی
اتك چچ زما وطن شینکی مسکن دی

پروفیسور رضا دی معضلی ته متوجه دی، او په خپله تذکره کی یی

---

۵۵- رښتین، صدیق الله (پوهاند)، پښتانه شعراء دوهم ټوك د ۱۳۲۱ ه ش کال چاپ عمومی مطبعه ۹۱م - ۹۶م مخونه.

۵۶- (بریښ) پښتو کتاب ښود، د بیهقی کتاب خپرولو موسسه د ۱۳۵۶ ه ش کال چاپ دولتی مطبعه ۸۵ مخ.

دده خای خایکی سم شوو لی دی(۵۷) و لی محمد داخوندسوات (۱۸۷۷ع سږ) په مناقبو او محامد وکی بو کتاب په پښتو مثنوی کښلی دی،چی جدید۔ البیان نومی.یوه خطی نسخه یې د پېښور د پښتو اکیډیمی په خطی مجموعه کی شته چی دسفیدشاه ختک په۱۲۹۶ هق کال لیکل‌ده. جدید البیان ۷۶ مخه په ۱۲۹۸ هق کال په‌دهلی کی‌چاپ شوی‌دی .

۱۳ ـ صالح محمد: په تذکره کی چی‌د پېښوری صالح محمد په نامه کوم شاعر معرفی دی . ددی شاعر په باب عبدالحلیم اثر په تیر هیر شاعران کی د اسی شرح ورکړی ده: دی‌د ملا موسی زوی، دچارسدی په زوړ کلی منګله کی اوسیده، سره له دی چی په خپله ناظم وه خطاط هم‌و، . د څو شاعرانو د اشعارو یوجونګ‌یی تهیه کړی‌دی. ده په ۱۲۶۰ هق کال د شیخ سعدی (رح) گلستان هم خطاطی کړی دی . (۵۸) دده پښتو منظومه حکایت رسول نومی او د حضرت رسول (ص) دیوخوب واقعه یی پکی بیان کړی ده ، دصالح محمد ـحکایت رسول په وارو وارو درشید البیان په حاشیو کی چاپ‌دی .

۲۳ ـ حاجی جمعه بارکزی : حاجی جمعه گرجیزی بارکزی په ۱۲۵۹ هق په بیت الله شریف کی وفات‌دی متصوف سړی و، ددیوان زیاتره برخه یی دعرفان او تصوف په باریکو سرو پیملی دی.

۳۳ ـ میرهزار: دژوند زمانه‌یی په نورو منابعو او دی تذکره کی داسی راغلی ده . تر ۱۲۵۵ هـ ق ـ وروسته زیږید لی اود ۱۳۰۰ هـ په‌شاوخوا کی وفات دی .

---

۵۸ ـ رضا افضل (پروفسور) پښتوری، پښتو اکېډیمی‌د ۱۹۸۳ع کال چاپ شو ۹۸ ـ ۹۹ مخونه

۵۹ ـ تیر هیر شاعران .

مگر د یاد ونی وړ ده چی د شیخ احمد خان په یو پاړ کی
کی راغلی دی:

«خدایه زه‌ویسربیږم سیر هزارله ډیرحکمته»

د پاړکی لوست‌او ورسره پکی‌دا مسری سړی ته‌داولسی شاعرانو تر منځ هغه پخوانی د مقابلو مجالس یادوی اوددغو دوارو شاعرانو معاصرت تری ښکاری. امادشیخ احمدخان په شرح حال‌کی راغلی چی دی‌دتیمورشاه (۱۱۷۶-۱۲۰۸ ه ق) معاصردی. داتناقض سړی دی‌ته رابولی چی باید‌شیخ احمد خان‌د تیمورشاه‌معاصرونه بولی اویا به‌سیرهزار د(۱۲۵۵ - ۱۳۰۰)ه ق حدود و شاعرونه گڼی. زما خپله رایه داده چی‌داولسی شاعرانو د ژوند په باب زیاتره سنی حدسی اوپه روایاتو بنا دی، دشاعرانو د کلام د غسی اشارو ته زموږ تذکره نگاران نه دی متوجه شوی.

۴۴ـ ملا مقصود: داسړی په‌هارو بهارکی دمقصود گل‌په‌نامه‌اوپه پښتانه شعراء(ج ۲ص۶۱۵ )کی دملامقصود په نامه اوپه پټ ستوری (۲۹۰مخ ) کی دمقصودخلیل په‌نامه معرفی شوی‌دی. په‌غالب گمان دامقصود گل‌او ملامقصودیوسړی‌دی‌چی په‌خټه خلیل‌اودپیښور په کڅه‌وله کی‌او سیده. دافضل رضاء په‌قول یی‌ژوندتر ۱۳۲۰ هق‌پوری یقینی دی،په‌تذکره‌کی‌یی‌کښلی چی داشاعر د ننگرهارد خوادی‌داخبره سمه نه‌ده.

۴۵ـاکبرشاه. سیدعمردکوتی په‌گلشن اشعارافغانی کی‌دده‌په‌باب کښلی‌دی: «اکبرشاه‌ملاد کهوناډی په لیك‌نه پوهیږی دشپیتو کالودی موجود دی» (۶.)

---

۶. گلشن اشعارافغانی (خطی) ۵۲مخ داسلامیه کالج‌پیښور نسخه.

۴۶- امانت: تذکره کې راغلي چې امانت د پېښور د هزاري د باخیلو په کلي کې اوسېده، دا خبره د تاسل ورده. امانت د مردان د توابعو د میني د سیمې اوسېدونکی و.

۴۷- احمد گل: په تذکره کې د احمد گل د پلار نوم وسیم گل راغلی او د مړینې تاریخ یې ۱۳۱۳ ه ق. مگر په نورو منابعو کې دده د پلار نوم سمن گل دی. د مرگ تاریخ یې په فرهنگ کې ۱۳۱۰ ه ق دی، مگر په پښتانه شعراء کې راغلي دي: کله چې دی په ۱۲۹۵ ه ق کال خپل پلار نی تا تو بې ته راغی نو بیا ۱۳ کاله پس مړ شو چې په دې حساب یې د مرگ نیټه ۱۳۰۸ ه ق کیږي. په دوا ړو صورتو نو کې ۱۳۱۳ ه ق کال د ده د مرگ سم تاریخ نه دی. مگر ما په فرهنگ کې دده د مړینې تاریخ د پنځو سمو کلو نو په اوایلو کې دده په باب له یوې لیکنې اخیستې دی چې شاید صحت ته نژدې وي. دده په تا لیفا تو کې شاهنامه امیر عبدالرحمن هم یادوشمېرو- ددې شاهنامې یوه نسخه په کندز کې د غلام سرور ناشر په کتابخانه کې خوندي وه.

۴۸- محمد خان: اثر دده په باب لیکلي دي محمد خان د چارسدې د ړاگې د کلي او سېدونکی و د ۱۲۶۰ د شاو خوا سړی دی.

۴۹- حسن خان: په گلشن اشعار افغاني کې یې کښلي دي: چې د سفید ډیرۍ (۱۱۹ سخ) دی.

۵۰- اعظم پوپلزی: په دې برخه کې باید یادونه وکړ م چې د فرهنگ لومړی ټوك محمد اعظم او دغه محمد اعظم پوپلزی په یووالي کې د شك له پاره ځای نه شته، د کره او یا وري اسنادو تر پیدا کیدو پورې باید سوږ - دادواړه یو سړی و نه بولو.

۵۱- قاضي عبدالرحمن: د تذکرې د دې برخې پر یادو نو یوه یادونه داسې لیکو چې: قاضي عبدالرحمن له دې تذکرې سربیره په څلورو نورو تذکرو کې معرفي شوی دی.



ACKU

- دده لنډه يادونه په پښتانه شعراء دريم ټوك کې شوى ده (٦١)
- عبدالحليم اثر يې په ټيرهير شاعران کې يادو نه راوړې ده.
- دانشمند بريښ په ادبي ستورى لومړى ټوك کې.
- اوپروفيسور افضل رضا په پټ ستورى کې.

٥٢ - نوروز: دده په باب بايد دغه خبرى زيا تى كړو: نوروز په ۱۸۵۰ ع كال زوكړى اوپه ۱۹۰۶ ع كال كى مړدى (٦٢)

٥٣ - سيراحمدشاه رضوانى: پەدى برخه کې بايد زيا ته كړوچې: دى له شكرستان اوبهارستان نه سربيره په اردوژبه پښتو گرامر، د اشعارو ديوان، اود تحفة الاوليا په نامه نور كتابونه هم لرى. دى په ۱۲۷۶ هق كال زوكړى اوپه ۱۳۵۳ هق كال مړدى. دده زوكړه په اكبرپوره کې واقع شوى هورى مړ اوښخ دى.

٥٤ - خدابخش: دى د بنودسيمو اوسيدونكى دىٰ نه د پېښور دسيمو.

٥٥ - شاعالم: شا عالم گنډاپور په ۱۹۷۸ ع مړدى (٦٢)

٥٦ - خيرى: دتذكرى دخيرى اوپه ټيرهيرشاعران کې دمعرفى شوى خيرالله خيرى پـه يووالى کې هم څه توپيرونه ليدى شى.

٥٧ - احمداخوندا خيل اوملااحمد: پەدى تذكره کې پەدى نامه دوه شاعران معرفى شوى دى. يو داحمدا خون خيل په نامه او بل داحمد

---

۶۱ - پښتانه شعراء دريم ټوك پښتو ټولنه، د ۱۳۴۲ هش كال چاپ دولتى مطبعه ۸۹۰ مخ.

۶۲ - همدانى رضا، ادبيات سرحد (لومړى ټوك) د ۱۹۵۳ ع كال چاپ لاهور ۲۰۴ مخ.

۶۳ - هيوامل زلمى، دحاجى جمعه دديوان مقدمه پښتو ټولنه ۱۳۶۰ هش كال چاپ ۱۹ مخ.



ACKU

سپین ډیری او پچکی. په آثار و کی یی قصص الانبیاءانیس الواعظین اومراة المسلمین ښوول دی. دغه دواړه معرفی شوی کسان یوسړی دی، چی زموږ په ادبی څیړنو کی دګل احمد، احمد، احمد خیل، احمداخوند خلیل، احمد دسپیدډیری، احمدد تیراهی او احمدد پچکی په نومویاد شوی دی. دا په حقیقت کی دیوه سړی بیلابیل نومونه دی. دا سړی په ۱۲۴۲ ه ق کال زوکړی او تر ۱۳۰۱ هـ ق کاو پوری ژوندوی و. ددی سړی په باب دانشمند بریښ یوعلمی څیړنه کړی ده، اودده کابوشل کتابونه یی ښوولی دی(۶۴).

۵۸ ـ عجب خان سواتی: کوم عجب خان چی په دی تذکره کی دسواتی عجب خان په نامه یاد شوی دی اودملك زعفران زوی د ی دی دسوات نه، بلکه دپچکی اوسیدونکی دی.

۵۹ـ ملا نعمت الله: په دی برخه کی باید دنعمت الله دمړینی کال دلی وښیم: ملا نعمت الله د ۱۹۲۹ ع کال دسپتمبر په ۳۰ تاریخ وفات دی، او په خپله پلرنی هدیره دنوښار په باجوړ کی ښخ دی. دده پسلار عطاءالله نومیده دپوری نوښار په بهرام خان خیل محله کی اوسیده (۶۵) ددی لیکنی په پای کی ددی تذکری پر میتود څو خبری هم بی ځایه نه دی:

ـ تذکره لیکنه یو خاص فن دی، چی له تاریخ ادبیات اونورو ادبی څیړ نوسره یی پولی څرګندی او بیلی دی.

---

۶۴ ـ بریښ یو شاعر او څو نو مونه کابل مجله د ۱۳۶۰ کال ۱۲ ګڼه ۱۳-۱۴ مخونه.

۶۵ـ صابر، سیدا کبر، نعمت الله اخوندزاده دنوښار، پښتو مجله د پیښور پښتوا کیډیمی د ۱۹۸۰ ع کال داکتوبر ګڼه ۳۲-۳۴ مخونه.

په تذکره کې په عام ډول د شاعر په ژوند پېښو، کورنی حال او د آثارو پر ښوولو اتکاء کېږي، ځینې نور مسایل چې د تاریخ او ادبیات او یا ادبي تیوري او نقد په بحثونو کې شاملېږي، هغه په دې ډول آثارو کې تر بحث لاندې نه نیول کېږي.

ـ د یادونې وړ ده چې زموږ د دې تذکرې لیکوالو په ډېرو برخو کې یوازې د تذکره لیکنې معیارونه هم نه دي مراعات کړي، د مثال په ډول له کومو منابعو چې دوی د ځینو شاعرانو شرح حال اخیستی، په اصلي ماخذو کې له تبصرو سربېره د شاعر په ژوند پېښو ډېرې خبرې موندل کېږي، مګر په دې تذکره کې یې حتی هغه اساسي مواد هم نه دي اخیستي.

یادونه: د دې تذکرې منتخب متون او ځینې نورې یادونې هم د نقد وړ دي، چې که پر ټولو اساسي بحث وشي نو د یوې بېلې رسالې لیکل پرې بویه. ما یوازې زما په نظر عمده مسایل د لته راوړل.

په درناوی

ز. ه

PROPERTY OF
ACKU
5815